# انوار المجالس

پښتو

له نویو زیاتونو او تخریج سره

مؤلف


حضرت صاحب المرتبت شیخ القرآن والحدیث پیر طریقت

رهبر شریعت الحاج خلیفه صاحب دم ... مد ظله العالی

خلیفه مجاز


Ketabton.com

جلد اول


خپرونکی

خانقاه عالیه مجددیه عمریه

ډیره اسماعیل خان


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کفایت دینی کتب خانه

په دی چینل کی دټلیګرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجوں کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کړی
https://t.me/kafayat2395

کفایت الله واټس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د الله تعالی د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی کتاب PDf کول خاص دالله {ج}

# د رضا الپاره دی

# د هر لوستونکی او فائده اخستونکی د دعا فه

# هیله

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندنه :

نوم : انوار المجالس .

فرمودات : شیخ القران والحدیث شمس المشائخ خلیفه صاحب الحاج دین محمد مدظله العالیه .

ټولونکی او ترتیب کونکی : مولوي سید محمد عمر فاروقي

کمپوزران : مولوي سید محمد عمر (فاروقي) او طالب العلم (سید) محمد بهار .

وري ځله تصحیح : مولوي سید محمد عمر (فاروقي)

څلورم ځل تصحیح : مولوی ولي محمد (تائب)

د چاپ شمېر او کال : ۲۰۰۰ ټوکه : ۱۴۳۶ ربیع الثاني – ۱۳۹۴ کال دلو،

خپرونکي : خانقاه عالیه مجددیه عمریه (جامعه روح المدارس روحانیه)

د لاسته راوړلو ځای :

افغانستان : ۰۷۷۹۵۰۳۷۰۰، ۰۷۷۷۵۵۹۷۹۱، ۰۷۷۸۳۳۱۳۹۹

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

Scanned with CamScanner

(c) ...etatton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمیره | فهرست | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | دمؤلف دامت برکاتهم العالیه لنډه پېژندنه | ۱ |
| ۲ | دمشانخو کرامو تقریظونه | ۷ |
| ۳ | دجمع کونکي او ترتیب کونکي څوخبرې | ۱۱ |
| ۴ | دپیل خبرې | ۱۴ |
| ۵ | (۱) مجلس / دنقشبندیې طریقه له چاڅخه پیل شوې؟ | ۱۵ |
| ۶ | دابوبکر صدیق رضي الله عنه له نبي کریم ﷺ سره اتحادي نسبت | ۱۶ |
| ۷ | په نورو ښېښو کې یې هم له رسول الله ﷺ سره ورته والی لرلو | ۱۹ |
| ۸ | دنبي کریم ﷺ او حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه رایه هم سره یوده | ۲۰ |
| ۹ | په هرکار کې یې دنبي کریم ﷺ اتباع کوله | ۲۱ |
| ۱۰ | دکورنۍ په افرادو کې یې هم مشابهت و | ۲۲ |
| ۱۱ | دلمسیانو ورته والی | ۲۳ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | له دوازو سره دالله تعالی معامله یو رنګه ... | ۲۴ |
| ۱۳ | له دنیا څخه دتللو پر مهال هم له خواږه پیغمبر سره ورته والی | ۲۶ |
| ۱۴ | نقشبدیه طریقه په عشق ، محبت او اخلاص. | ۲۷ |
| ۱۵ | (۲) مجلس /د اولیاء کرامو بیان | ۳۴ |
| ۱٦ | ولي چاته وایي ؟ | ۳۶ |
| ۱۷ | دمحبت درجې | ۳۹ |
| ۱۸ | ( ولي ) د صوفیاء کرامو په اصطلاح کې | ۴۳ |
| ۱۹ | فناء القلب | ۴۴ |
| ۲۰ | د بقاء بالله یا فی الله مقام | ۴۵ |
| ۲۱ | دفنا اوبقا ترمنځ توپیر . | ۵۰ |
| ۲۲ | د ( ولي ) علامې | ۵۲ |
| ۲۳ | د ( ولي ) تعریف او ولي په غیب علم نه.... | ۶۲ |
| ۲۴ | د ولایت اسباب چې په څه سره پیدا کېږي ؟ | ۶۵ |
| ۲۵ | د اولیاء کرامو اقسام | ۶۹ |


Scanned with CamScanner

(c) ...ptor.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲٦ | داولیاء کرامو پایلې ، انجام او عاقبت دقرآني ایاتو نو اونبوي احادیثو په رڼا کې | ۷۲ |
| ۲۷ | په قبر کې اولیاء کرامو ته زېرې | ۸۴ |
| ۲۸ | داولیاؤ سره تړاؤ او دمغوی زیارت کول کتور | ۸۹ |
| ۲۹ | د ولایت پایله او نتیجه | ۹۰ |
| ۳۰ | توجه په څلور قسمه ده | ۹۷ |
| ۳۱ | (۳) مجلس / له خپل مرشد سره مینه او... | ۱۰۱ |
| ۳۲ | دخپل پیر په اراده دحضرت خضرعلیه السلام | ۱۰۱ |
| ۳۳ | چې له مرشد سره مینه او تعلق وي نو د ....... | ۱۰۵ |
| ۳۴ | یوه دردوونکې واقعه | ۱۰۷ |
| ۳۵ | د یوې لویې هستی د صبر واقعه | ۱۰۹ |
| ۳٦ | دحضرت مجددصاحب رحمة الله علیه لطیفه | ۱۱۱ |
| ۳۷ | دبازار دوړې په نیکو خلکو هم اثر.. | ۱۱۳ |
| ۳۸ | (٤) مجلس / د اولیاء الله تصرفات او... | ۱۱۵ |
| ۳۹ | دیوه مرشد (پیر) د تصرف واقعه | ۱۲۰ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۴۰ | دعبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ دتصرف واقعه | ۱۲۲ |
| ۴۱ | حکايت: | ۱۲۳ |
| ۴۲ | په اول بيعت سره د ولايت مقام ته رسيدل | ۱۲۵ |
| ۴۳ | يو مريد په اوله وظيفه کې کمال ..... | ۱۲۶ |
| ۴۴ | دشيخ صاحب مبارک دخولې خوړې ملغلري | ۱۲۷ |
| ۴۵ | ديوې سيدې کونډې سره د مرستې نه کولو | ۱۲۸ |
| ۴۶ | دحضرت مجدد الف ثانی........ واقعه.... | ۱۳۰ |
| ۴۷ | له مرګه وروسته له مريدانو سره شفقت... | ۱۳۳ |
| ۴۸ | (۵) مجلس / تبرُّک بآثارِ الصالحين | ۱۳۵ |
| ۴۹ | په کوم ځای کې چې کوم ولي وخت تېر کړي دهغه مقام ورته حاصليږي | ۱۳۵ |
| ۵۰ | چې داوښ غوندې ځناور خبرې ورسره وکړې دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزه | ۱۳۷ |
| ۵۱ | په نباتاتوکې دحضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزه | ۱۳۹ |
| ۵۲ | حضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له رحلت نه... | ۱۴۵ |


Scanned with CamScanner

(c) ...btn.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۴۶ | حضرت نبي كريم ﷺ له روضې ....... | ۵۳ |
| ۱۴۷ | مرشدين خپل مريدان هيڅكله نه هيروي | ۵۴ |
| ۱۴۹ | د بني اسرائيلو د يو بدمعاش قصه | ۵۵ |
| ۱۵۲ | خپل مريدان خپل شيخ ته پيش كول | ۵۶ |
| ۱۵۴ | د حضرت نورالمشائخ (قدس الله سره) كرامت | ۵۷ |
| ۱۵۵ | د شيخ المشائخ عنايت الله (كستم) خليفه صاحب كرامت | ۵۸ |
| ۱۵۷ | (٦) مجلس / د جذب ثبوت او د صبر واقعات | ۵۹ |
| ۱۶۸ | د حضرت عبد الخالق غجدواني قدس سره نصيحت | ٦۰ |
| ۱۷۰ | صبر څه ته ويل كيږي؟ | ٦۱ |
| ۱۷۳ | د الله تعالى لوى امتحانات په خپلو پيغمبرانو .. | ٦۲ |
| ۱۷۵ | توله شپه ذكر كول د كتاب د علم د..... | ٦۳ |
| ۱۷۷ | له نفس سره مجاهده كول خورا غوره كار د.. | ٦۴ |
| ۱۸۱ | (۷) مجلس / وخت يو نعمت دى..... | ٦۵ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ٦٦ | دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ په لباس خدای پاک ﷺ فخر کوي ...... | ۱۸۵ |
| ٦٧ | د حضرت علي ﷺ د فقر او غربت واقعه | ۱۸۶ |
| ٦٩ | د حضرت علي رضی الله عنه څه وایي | ۱۹۰ |
| ۷۰ | (۸) مجلس / د طریقت اصول او آداب | ۱۹۲ |
| ۷۱ | دکابل دمتصرف دیو خلیفه صاحب سره | ۱۹۴ |
| ۷۲ | ادب | ۱۹۶ |
| ۷۳ | د مشائخو کرامو نه نسبونو سره احتیاط | ۱۹۸ |
| ۷۴ | درسول الله ﷺ لخوا دیو سید او بزرګ ملامتي | ۱۹۹ |
| ۷۵ | د مشائخو غیبت د فیض د حرمان سبب ګرځي | ۲۰۱ |
| ۷٦ | د سوء خاتمې ( بدانجام ) علامه | ۲۰۳ |
| ۷۷ | نیك خلك په خپلو خدمتګارانو خفه کیږي | ۲۰۴ |
| ۷۸ | دحضراتو لخوا دیوملا صاحب وهل | ۲۰۵ |
| ۷۹ | دحضراتو په راتګ دزمکې بوریدل | ۲۰٦ |
| ۸۰ | داولیاء کرامو سره دګستاخې انجام | ۲۰۸ |


Scanned with CamScanner

(c... on...om: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۸۱ | (۹) مجلس / داهل السنت والجماعت دعلماوو | ۲۱۰ |
| ۸۲ | د اولیاؤالله وو د قبرونو ژوند دنیاوي برزخي دی | ۲۱۱ |
| ۸۳ | له چا څخه چې په ژوند کې د فائدې توقع وي نو پس له مرګه هم شته ! | ۲۱۳ |
| ۸۴ | د زیارت په وخت کې به مخ کومې خواته کول پکارده؟ | ۲۱۶ |
| ۸۵ | وسیله | ۲۱۷ |
| ۸۶ | د مشائخو کرامو په رابطه ډیر لوړ لوړ .... | ۲۲۰ |
| ۸۷ | دنیکو خلکو په یوه توجه دبدو کې .... | ۲۲۱ |
| ۸۸ | دسراج المشائخ صاحب په توجه دیو طالب دخولې دبدبویې ورکیدل | ۲۲۲ |
| ۸۹ | (۱۰) مجلس / شقاوت او سعادت | ۲۲۴ |
| ۹۰ | نیك بختي او علامې یې | ۲۲۵ |
| ۹۱ | بد بختي او علامې یې | ۲۲۶ |
| ۹۲ | دنیکو خلکو په مجلس انسان ته دولایت مقام حاصلیږي | ۲۲۸ |
| ۹۳ | دنیکو خلکو په دعا یو قاتل جنت ته .... | ۲۳۱ |



Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۹۴ | د حضرت نجم الدین کبری یو نظر په ... | ۲۳۲ |
| ۹۵ | خپل کوچنیان له صدقې ورکولو سره اشنا | ۲۳۸ |
| ۹٦ | (۱۱) مجلس / آیا تکلیفونه او مصائب ... | ۲۴۳ |
| ۹۷ | دیو قدرمن پیغمبر یوسف عَلَیهِ‌السَّلَام خونده وره | ۲۴۶ |
| ۹۸ | روغ رمټ خلك به داخیرت په ورځ داتمنا کوي | ۲۵۰ |
| ۹۹ | په حضرت ابوبکر الصدیق رض باندې د خدای پاک ﷻ سلام | ۲۵۵ |
| ۱۰۰ | ۱۲ مجلس / له نیکو خلکو سره مشابهت | ۲۵۶ |
| ۱۰۱ | په نیت باندې دپوره عمل اجر ورکوي | ۲۶۰ |
| ۱۰۲ | د نیکانو سره پېژندګلوي په آخرت کې فائده لري | ۲۶۱ |
| ۱۰۳ | د شجرې د لوستلو فائده | ۲۶۲ |
| ۱۰۴ | د یونیك شخص په واسطه شیدې اوشهد ... | ۲۶۵ |
| ۱۰۵ | د یوشخص اخلاص او د داتا صاحب شفقت | ۲۶۷ |
| ۱۰٦ | (۱۳) مجلس / دباطني مرضونو دعلاج لارې | ۲۷۲ |


Scanned with CamScanner

(c) etalon.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۷ | د امام غزالي ( قدس الله سره ) لنډه پيژندنه | ۲۷۳ |
| ۱۰۸ | حضرت داود طائي د عيبونو دنه په کوته.... | ۲۷۶ |
| ۱۰۹ | حضرت عيسى عليه السلام ادب له چا زده...... | ۲۷۹ |
| ۱۱۰ | کومه خبرچې دزړه له تل نه وي په زړونو... | ۲۸۶ |
| ۱۱۱ | (۱٤) مجلس / دخدای پاک دیادونې دمجلس | ۲۸۹ |
| ۱۱۲ | د ذکر فضیلت د آیتونو په رڼا کې | ۲۸۹ |
| ۱۱۳ | د ذکر فضیلت دنبوي حدیثونو په رڼا... | ۲۹۲ |
| ۱۱۴ | د ذکر فضیلت د علماوو د اقوالو په رڼا... | ۲۹۵ |
| ۱۱۵ | ایا د خدای پاک یادونه په زوره او که په پټه غوره ده ؟ | ۲۹۸ |
| ۱۱۶ | ۱۵ مجلس / د ((لطائف خمسه )) ځایونه..... | ۳۰۶ |
| ۱۱۷ | د زړه صفات | ۳۰۹ |
| ۱۱۸ | دار ومدار د کتبې په ایمان او تقوی سره دی | ۳۱۵ |
| ۱۱۹ | (۱٦) مجلس / د ذکر په واسطه الله تعالی. | ۳۱۸ |
| ۱۲۰ | چې څوک دخدای تعالی تابع او ذاکر شي | ۳۲۳ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۱ | رښتيا ويل د دنيا او اخرت د نجات سبب دی | ۳۲۴ |
| ۱۲۲ | د نېکو خلکو سره کېناستل هم توجه ده | ۳۳۰ |
| ۱۲۳ | (۱۷) مجلس / د نفس مراتب او د اخلاص او .... | ۳۳۲ |
| ۱۲۴ | د حضرت علي رضی الله عنه او قاضي شُريح واقعه | ۳۳۵ |
| ۱۲۵ | له عبدالقادر جيلاني رحمه الله سره خناور | ۳۳۷ |
| ۱۲۶ | څوک چې د خدای پاک تعالی تابع شي مخلوق | ۳۴۲ |


Scanned with CamScanner

(cafetalkon.com: The Digital Library)


# دمؤلف دامت برکاتهم العالیه لنډه پیژندنه

شیخ الحدیث والفقه ومرشد عالیقدر مولوی دین محمد دصوفي صاحب ګل محمد ( دام حیاته ) فرزندګرامي ، په قوم ځدران په سنه ۱۳۴۸ هش کې دتخار ولایت داشکمیش ولسوالي دچشمهٔ ماهیانو په کلي کې یې مبارکي سترګي دي فاني دنیاته راوغړولي اوپه سنه ۱۳۵۹ هش کې یې دروسي اشغال څخه وروسته له خپلې کورنۍ سره ګوانډي هیواد پاکستان ته هجرت وکړاوهلته یې سمدستي په دیني زده کړه پیل وکړ.

اودپاکستان په بېلا بېلو سیمو کې لکه بلوچستان اوسرحد کې له کره جید او مشهورو استاذانو څخه زده کړي وکړي :

دمثال په توګه په بلوچستان کې له شیخ الحدیث حضرت مولانا ګل حبیب صاحب ( دامت برکاتهم العالیه) خلیفه مجاز حضرت خواجه خان محمد صاحب رحمه الله ،شیخ الحدیث حضرت مولاناعطامحمدصاحب رحمه الله ،شیخ الحدیث حضرت مولانا نورمحمدصاحب (دامت برکاتهم العالیه )اوحضرت شیخ الحدیث مولانادادخان صاحب (دامت برکاتهم العالیه) .

اوپه سرحدکې له حضرت مولاناسیدقریش بابا رحمه الله ،قاضي محمدامین صاحب ( دامت برکاتهم العالیه ) ،حضرت مولانا نورمحمدثاقب ( دامت برکاتهم العالیه ) ،حضرت

Scanned with CamScanner

(c) ketabtoon.com: The Digital Library



مولانامحمدنعیم صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ چې په کوڼ اخندزاده صاحب سره یې شهرت درلود علمي نورانیت ترلاسه کړی .

لویه دوره یې له جناب شیخ الحدیث الدکتورشیرعلي شاه مدني (دامت برکاتهم العالیه ) سره په سنه ۱۴۱۲ هـق کې وکړه. اوله فراغت څخه وروسته یې په مختلفومدرسوکې دتدریس وظیفه اجراءکړې لکه؛ بحرالعلوم ،دارالعلوم حسینیه نورک،منبع العلوم اواوس مهال دانهم کال دی چې په جامعه روح المدارس ډیره اسماعیل خان کې دحضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داحادیثومبارکو په خدمت مشغول دی چې په تیرواتوکلونوکې ۷۹۸ علماوو له ده څخه دفراغت سند ترلاسه کړی دی.

اوسږکال لله الحمدبیا ۷۳ کسان ددوره حدیث شرکاء ورسره دي.

اودتصوف کاریې له لویې هستۍ (جناب انوارالمشایخ خلیفه صاحب فضل الدین ( قدس الله سره) چې د ارغندۍ په خلیفه صاحب سره مشهورؤ، چې دکابل دقلعه جواد دحضرت ضیاء المشایخ صاحب ( قدس الله سره ) له طرفه خلیفه مجاز ؤ اودهغه مشاورخاص هم ؤ. ) پیل کړ ترذکرسلطان پورې د هغه له دریابي سیني دده سیني ته داذکاروا وانوارو لړیه جاري وه او استفاده یې وکړه . اوپاتې نورسبقونه یې له جناب قطب المشایخ خلیفه صاحب دین محمد( قدس الله سره ) څخه چې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


مشهور په زرمت خلیفه سره ؤ پای ته ورسول . او جناب بدرالمشایخ ( قدس الله سره )، جناب سراج المشایخ خلیفه صاحب احمدضیاء ( قدس الله سره ) هم ډیرې توجه ګانې ورته کړې دي. اودجناب شیخ المشایخ خلیفه صاحب عنایت الله ( قدس الله سره ) چې دکستهم په خلیفه صاحب سره یې شهرت درلوددهغه په منورو صحبتونوهم ډیرځله مشرف شوی.

او په اخیرکې دقطب المشایخ صاحب ( قدس الله سره ) په حکم جناب فضل المشایخ خلیفه صاحب دادمحمد ( ادام الله فیوضاته علیناوعلی سائرالمسترشدین ) سجاده نشین حضرات قلعه جوادکابل خلیفه مجازحضرت ضیاء المشایخ صاحب ( قدس الله سره ) ته ولیږل شو چې دهغه دمبارکوتوجه ګانواواستخاروڅخه وروسته ده ته په سنه ۱۴۲۰ هق کې دخلافت پګړۍ وربه سرشوه اودفراغت سندیې ترلاسه کړو.

او په ډیرکم وخت کې یې طریقې نقشبندې ته زیات خدمتونه وکړل په زرهاوو کسانو علماوو او عوامو له ده مبارک څخه لاس نیوی وکړ، چې دجناب فضل المشایخ ( ادام الله حیاته ) له لورې ورته دا اذن ( اجازه ) هم وشو چې دکومو مریدانو وظیفې پای ته رسیدلې وي او کیفیت یې سم وي ته ورته دخلافت دستاربندي کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دهغه له فرمودې سره موافق یې په سنه ۱۴۳۵ هق کې دري علماء کرامو ته دخلافت دستار ورپه سر کړ او چپنه یې ور واغوستهاو سندونه یې ورکړل چې نومونه یې دادي:

۱- مولوی نوراحمد خلیفه صاحب. ۲- مولوی عظمت الله خلیفه صاحب. ۳- مولوي حمیدالله خلیفه صاحب.

او تیر کال سنه ۱۴۳۶ هق کې یې یوه شیخ الحدیث مولوی زین العابدین صاحب ته دخلافت خرقه او دستار ورپه سر کړ.

یادونه: قابل قدر والاحترام محترم مؤلف صاحب که څه هم زیاتره وخت مریض وي سړی دده حوصلي ته حیران شي دالله تعالی لوی فضل اوکرم دی ورباندې اوبیا په ځانګړې توګه دخدای جَلَّ جَلَالُهُ دنازولیو بنده ګانو غټې شفقت او نظر دی ورباندې.

دشیخ الحدیث خلیفه صاحب دین محمد (ادام الله فیوضاته علینا وعلی سائر المسترشدین) له پاره په خپل ژوند کې دغه لوی کرامت چې په ګوښې تن داحادیثو لویه دوره په پوره تحقیق او تدقیق سره سرته رسوي کافي دی.

دده مبارک شخصیت علمیت او په خاصه توګه دده پټ اسرار او کرامات زما ماته خوله او مات قلم تر خپلې ولکې لاندې نشي راوستلای، بیا یې هم له دومره تکلیفونو او مصروفیاتو سره قلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندنه دې پرې ایښې او تصنیف ته یې ملا تړلې ده او دتصنیف منوره او خوندوره لړۍ یې جاري ساتلې.

دمؤلف محترم تصنیفات او اثار په لاندې ډول دي:

۱- (ضیاء البخاری شرح صحیح البخاری) درې ټوکه دوه ځله چاپ شوي چې نوره تراوسه لا مکمل نه ده او کار وربانډې روان ده چې انشاءالله پوره کیږي به.

۲- شمس الوسائل شرح شمائل الترمذي یوټوک. دوه ځله چاپ شوې.

۳- ضیاء المسلم شرح صحیح المسلم بیعه. یوټوک. یوځل چاپ شوی.

۴- شمس المقلدین فی التقلید. یوټوک. درې ځله چاپ شوی.

۵- انوار المجالس درې ټوکه. درې ځله چاپ شوی. او څلورم ځل له حوالو او تخریجاتو او نوو زیاتونو سره چاپ شوی.

۶- انوار شمسیه في مقامات صوفیه. یوټوک. دوه ځله په پښتو ژبه کې چاپ شوې. او دوه ځله په اردو ژبه چاپ شوې.

۷- ارشادات المرشد. یوټوک. دوه ځله چاپ شوی.

او الحمدلله دمشایخ عظامو او استاذانو دمقبولو دعاګانو په برکت ددواړو علومو یعنې ظاهر او باطن په خدمت مشغول دی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای تعالی دې خپله رضاورته نصیب کړي اوترمرګه پورې دې الله تعالی ده ته ددین دخدمت کولوتوفیق په کامل اخلاص سره نصیب کړي امین.

دنومورې کورنۍ ډیره پاکه او ددرانه عزت خاونده ده.

دنومورې قبله ګاه صاحب ډیر دعلم او علماوو مُحب ده حتی چې دهجرت په سختو تکلیفونو او مسکنت کې تول تکَلیفونه ده په ځان تېرول اومزدورې به یې کولې خو خپل پنځه زامن یې علم او جهاد ته وقف کړي وُ تردې چې دده مشر زوی مولوی علی محمد صاحب دلویې دوري په کال دروسي پلوه حکومت له خوا په شهادت ورسیده.

او بل زوی یې پنځه ځله تېپي شو چې په آخر کې یې ښی لاس معیوب شو او بل زوی یې قاری صاحب فیض محمد دورې دورې په کال دامریکانو په بمبار کې شهید شو او دوه نور زامن یې شیخ الحدیث خلیفه صاحب او حافظ خان محمد مولوی صاحب په تدریس مشغول دي.

الله تعالی دي والدینو ته هم په جنت الفردوس کې اعلاء مقامات نصیب کړي. آمین یارب العلمین.

Scanned with CamScanner

(c) ...ton.com: The Digital L...


# دمشائخو کرامو تقریظونه

## تقریظ

### جامع المعقول والمنقول خلیفه صاحب مولوي عبدالرحیم اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى وَ سَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى هُوَالَّذِیْ بَعَثَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ.

اَمَّابَعْدُ:

محترم خلیفه صاحب شیخ الحدیث والتفسیر مولوي دین محمد چې کوم کتاب د (انوار المجالس) جوړ کړی، ډېر بهترین او مفید کتاب دی. د علماء حق له پاره یو چراغ ده. مخکې ما له محترم خلیفه صاحب سره ملاقات چېرته نه و کړی. خو تېر کال له ډېرهٔ اسماعیل خان نه تر کویټې پورې د یوسفر ملګري و. واقعاً چې دا محترم د انبیاوو علیهم السلام وارث او د دین له شعائرو څخه دی. دده خدمتونه که د تصانیفو په واسطه دي او که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریرونو اویا دمجالس ذکر په واسطه اویا هم دتدریس په واسطه مسلمانانو ته رسیدلي دي، دده د مقبولیت لویه نښه ده.

داسې طریقه چې دخضراتو کرامو او مُقتدایانو اثرات ژوندي پاتې شي دده تګلاره ده. مدرسه يې دقرآن کریم او نبوي احادیثو مرکز دی. مونږ باید په ټول توان سره دده احترام او خدمتونه وکړو. دده خدمتونه که په انټرنیټ وي او که په بله ذریعه، باید خلقو ته ورسول شي.

په دې هکله دمولوي صاحب سید محمد عمر فاورقي خدمتونه دستائلو وړ دي. الله تعالی دې د دارینو اجرور کړي.

آمین یا رب العلمین

(خلیفه صاحب مولوي صاحب) عبدالرحیم اخنزاده

عفی الله عنه

خانقاه عالیه مجددیه عمریه فضلیه محمدیه زرمت پکتیا

دجمادالثانی ۱۲ / ۱۴۳۲ هجري

Scanned with CamScanner

(c) ...ton.com: The Digital Library



# تقريظ

## شيخ التفسير والحديث خليفه صاحب مولوي سدوزی غريقي

## جانشين خانقاه عاليه مجدديه عمريه فضليه ارغندی کابل

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لله الَّذِیْ جَعَلَ الاِنْسَانَ مَظْهَراً لِكُلِّ الْكَمَالَاتِ وَجَعَلَ الْاِنْسَانَ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ لِتَكْمِيْلِ الْكَمَالَاتِ الْاَزَلِيَّةِ وَ اَفْضَلَ مَادَةِ التُّرَابِ مِنْ مَادَةِ النَّارِ لِاَجْلِ الْمَذْكُوْرَاتِ . لِذَا اخْتَارَ لِخَلَافَةِ الْبَشَرِ لَا الجِنِّ . وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ الَّذِیْ هُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالْوُجُوْدِ ذَاتاً وَ غَيْرُهُ عَرَضاً . وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ خُلَاصَةُ اَثَرِ الْاِخْلَاصِ وَ الْحُبِّ فِى اللهِ الَّذِيْنَ لَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ،

اَمَّابَعْدُ:

ما بنده عاجز د شيخ القرآن والحديث خليفه صاحب دين محمد دامت بركاته د تصنيف انوارالمجالس (اول مجلس) مكمل او (دويم مجلس) سرسري مطالعه كړ، ډېر خوشاله اوزما د خفه زړه درد يې دوا كړ. ځكه چې په تتي پنځلسمه هجري پيړۍ كې شريعت، طريقت، حقيقت، مذهب ډېر يتيمان

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي. حتی چې مصداق د ( سَيَعُودُ غَرِيباً ) گرځيدلي دي. په ننني
نړۍ کې له هر طرفه په طریقت او مذهب ضربې، حملې شروع دي
. نو کـه نـن څوک د شریعت، طریقت، حقیقت، مذهب ( د اهل
سنتو والجماعت ) واقعي سلفي څېړې په عین بڼه ساتي په کوم
تغیر او تبدیلِ عندي او تقلیدي سره تغیر ورنه کړي نو زما په
عقیده به هغه شخص مصداق د دې وي چې ( فَطُوبىٰ لِلغُرَبَاءِ ).

نوزما په شخصي او کم علمه عقیده پورتنی کتاب د ننی
زمانې د سوالونو ښه جواب دی. خداوند متعال جَلَّ جَلَالُهُ دې د
خلیفه صاحب په علم او عمل کې زیادت راولي. او خداوند
متعال جل جلاله دې دده د غه سیاهي په وینو د شهیدانو غالبه
وگرځوي. او دده د تقریرونو راجمع کوونکی مولوي محمد
عمرته دې هم پوره پوره اجرونه ورکړي.

آمین یا رب العلمین

( خلیفه صاحب مولوي ) احقر العباد سدوزی غریقي
خانقاه عالیه مجددیه عمریه فضلیه ارغندی کابل
د جماد الثاني ۱۹ / ۱۴۳۲ هجري

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دجمع کونکي او ترتیب کونکي څوخبري

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَلَاعُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَاِمَامِ الْمُتَّقِيْنَ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ .

اَمَّابَعْدُ:

دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ بې حده زیات حمد او ثنا ادا کوم چې د محترم شیخ الحدیث والتفسیر پیر طریقت شمس المشایخ الحاج خلیفه صاحب دین محمد (مدظله العالی) د تقریرونو دراټولو نو خدمت یې ماته را په برخه کړ . خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې په خپل لوی دربار کې قبول کړي او ټولو مسلمانانو دې د هدایت سبب وګرځوي .

ددې تقریرونو (انوارالمجالس) په راجمع کولو کې تقریباً شپږ کاله تیر شول . جناب خلیفه صاحب دوړې دورې نه تدریس سره سره د خپلو مریدانو دلابنه تربیه له پاره د هرې جُمعې له لمانځه وروسته د طریقت او سلوک په اړه هر اړخیزه هدایات اولارښوونې شروع کړي . نو ما په هغه وخت کې له ځان سره دا فیصله وکړه چې تر خپله وسه به دده مبارک ملفوظات په کیستو (فیتو) کې ثبتووم او کتابي شکل به ورکوم .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې مجلسونو کې د طریقې نقشبندیې په باره کې، د پیر مرید اداب، د ولي تعریف او علامې، د ولایت شرایط او د طریقت مکمل اصول بیان یدل. تر دې چې دا مجلسونه (۶۰) ته ورسېدل. خو د ډېرو مشکلاتو او موانعو سره سره د ملګرو د بار بار غوښتنې سره سره، نوما هم د دوی د غوښتنو په اساس دې کار ته اراده وکړه. او په پوره دوه کاله د دغه مجلسونو تکمیل شو او چاپ ته مو وسپارل. او د دې تقریرونو په اصلاح کې ځو ملګرو لکه مولوي صاحب محمد اکرم (نعماني) مولوي صاحب فضل الرحمن (فضلي) هم پوره همکاري وکړه. خدای پاک دې دا خدمت ورته قبول او د خپلې رضا سبب وګرځوي.

**یادونه :** کله چې موږ دا کتاب اول ځل جوړ ولو نو د پوره امکاناتو د نه شتون له امله مو نشوی کولای چې د دغه کتاب ته حوالې او بنه تحقیق ورکړو، له پنځو کالو وروسته چې دغه کتاب خلکو ته ډېر محبوب شو او موږ هم په دې وتوانیدو چې دغه کتاب بنه معتمد کړو، نو د آیاتو، احادیثو، فقهي مسائلو او د اولیاوو د واقعو مو تخریج (حوالې) او بنه تحقیق وکړ.

او که بیا هم چا ته په کوم ځای کې اشتباه وي موږ دې په هغه ځای باندې پوه کړي، که مخامخ راسره لیدی شي او که د تلیفون له لارې وي ځکه په هر کتاب ز موږ شمیرې موجودې دي.

دیادونې وړ ده چې د دې کتاب په تخریج او تحقیق او تصحیح کې له مونږ عاجز سره ځو جید او کره د علماء کرامو برخه اخیستې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوی ته دالله تعالی دغیب له خزانو څخه داجراو بدلې غوښتنه کوم، چې نومونه یې دادي:

۱- نائب شیخ مولوی صاحب عزیزالرحمن (حقاني).

۲- دوړي دوري شیخ، مولوی صاحب امیرمحمد.

۳- نائب مهتمم جامعه ضیاء المدارس، اکوړه ختک، مولوی صاحب ولی محمد (تائب).

دلته یوه خبره ضرور بولم چې ترخپل وس پورې مې داصلاح پوره کوشش کړی خوبیا هم انسان عاجز دی کیدای شي املائي یا علمي غلطي پاتـه شوې وي نو دهغو نسبت بـه ما تـه کېږي جناب خلیفه صاحب تـه ونشـي اوکه چاتـه کومـه غلطي پـه نظر ورشي نو هیله لرم چې ماترې خبرکړي ترڅو په اینده چاپ کې یې اصلاح وشي، ډېره مننه به مو وي.

الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې دا مجالس دعامو مسلمانانو لـه پاره خصوصاً مُریدانو او مخلصینو تـه دهدایت ذریعـه وګرځوي او الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دې له مونږ نه دغه خدمت په خپل دربار کې قبول او په آینده کې مودې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دین له خدمت څخه نه بې برخې کوي.

آمین ثم آمین په همدې هیله.

خاک پای بزرګان مولوي سید محمد عمر فاروقي (لوګر/خروار)

۲۴ دجمادالثاني ۱۴۳۲ هجري / ۳۰ دربیع الاول ۱۴۳۷ هجري

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دپیل خبري

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَلَّمَ اَوْلِيَاءَهٗ طُرُقَ الْوُصُوْلِ اِلَيْهِ، وَ اَخْرَجَهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ ثُمَّ قَرَّبَهُمْ لَدَيْهِ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ وَ اَوْلِيَاءِ اُمَّتِهِ الَّذِيْنَ هُمْ نُجُوْمُ الْاِهْتِدَاءِ اِلَيْهِ.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ﴾

[سورة النحل آيت:۱۲۵]

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library


# (۱) مجلس

نَحْمَدُه وَنُصَلِّي عَلٰي رَسُوْلِهِ الْكَرِيْم اَمَّابَعْدُ :

## د نقشبندیې طریقه له چاڅخه پیل شوې؟

دازموږ طریقه نقشبندیه چې د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه په واسطه باندې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه رانقل شوېده ځکه یې نسبت هم دده مبارک رضي الله عنه ته کیږي داهغه شخصیت دی چې داهل سنت والجماعت عقیده ده چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په ټوله امت کې بهترین اوغوره مقام لري

اجمع الصحابة واتباعهم علی افضلية ابی بکر ثم عمر ثم عثمان ثم علی

(یعنې صحابه ؤ اوتابعینو رضي الله عنهم په دې اجماع او اتفاق کړی دی چې په امت محمدي کې له ټولو نه بهتراوغوره شخصیت حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دی. له هغه نه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه بیاحضرت عثمان رضي الله عنه اوبیا حضرت علي رضي الله عنه دی )

[ اصول الدين عند الامام ابی حنيفه لمحمد عبدالرحمن الخميس ۱:۴۲ ]

Scanned with CamScanner

(c)...com: The Digital Library



امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: چې په دې خبره باندې اجماع ده
چې له پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته په ټول امت کې ابوبکرصديق
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ افضل او غوره دی. (کشف الباري، فضائل الصحابه، ص: ۱۴۴)

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله دمعراج په سفرکې له سدرة
المنتهى مقام ته ورسيده نوحضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په مقام کې
ورځخه پاتې شو نو کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دغه مقام
څخه لوړ ولاړی نو هلته ګوښی پاتې شو په هغه وخت کې په دی
باندې ډېر دهيبت او ويرې حالت راغی نو ددې له پاره چې د نبي
کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له زړه څخه هغه ډاراوهيبت ورک شي نو خدای
جَلَّ جَلَالُهُ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دحضرت ابوبکرالصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په
غږ باندې غږ وکړيعنې الله تعالى ځېل غږدده دآواز په شان
ورګرځولو ځکه حضرت ابوبکر الصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خودحضرت
محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډېر نيږدې ملګری دی اوښه يې پېژني او دايې
ورته ووېل چې زه الله يم اوته مې بنده يې.

## دابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره اتحادي نسبت

دسيدنا ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې له نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
سره کوم مقام او اتحاد ؤ چې هغه ته معيت کبرى وايي دا مقام او
مرتبه ده مبارک ته دالله تعالى له لوري پيداشوی وه دامقام او مرتبه
دمعيت دده مبارک په ژوند ، فکر ، خدايي معاملو ، اهل وعيال

(c) ketabton.com: The Digital Library


تردې چې دمرګ په حالاتو کې هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مشابهت له ورایه معلومیده ، چې دده دمعیت څو څرګنده او ښکاره مثالونه په لاندې ډول دي:

۱- چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له غار حرا نه بیرته راغی نو خپلې بې بې ( حضرت خدیجې رضی الله عنها ) تسلي ورکوي او ورته وايي : ﴿ كَلَّا وَاللهِ مَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ ﴾

[صحیح البخاری ج ۱، ص: ۲]

ژباړه: هیڅکله نه، قسم په خدای که دې الله وشرموي ته خو خپلوی پالې ، ته مرسته کوې له ( الضعیف المنقطع ) چې په دې کې یتیم هم داخل دی او عیال او غیر له دې ، له مسکینانو سره مرسته کوې دمیلمنو عزت کوې په عامو حوادثو کې چې سماوي افات دي لکه باران زلزله او داسې نور په دې کې هم ته له خلکو سره مرسته کوې

او دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه معامله وګورئ چې کله دی له مکې مکرمې نه حبشو ته روان شو په لارکې دکافرانو سردار ( ابن رغنه ) ودراوه او ورته وې ویل: إِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ ﴾

چې کوم الفاظ خدیجې رضی الله عنها دنبې کریم صلی الله علیه وسلم په هکله ویلې وه هغه الفاظ یو کافر دصدیق اکبر په هکله هم وویل نو معلومه شوه چې ددواړو په اخلاقو کې کامل مماثلت وو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- الله تعالى دنبي كريم ﷺ په هكله وايي:

﴿بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾﴾ [سورة التوبة آيت ۱۲۸]

او نبي كريم ﷺ دابوبكرصديق په هكله وايي: (ارحم امتي ابوبكر) او (ارأف امتي ابوبكر)

۳- نبی كريم ﷺ خپله باره كي فرمايي: (انا اغير ولد آدم والله اغير مني) او حضرت ابن سعد ليكلي: (كان اغير هذه الامة بعد نبيها ابوبكر)

۴- الله تعالى دنبی كريم ﷺ په باره كي وايي: ﴿

وَمَا عَلَّمْنَٰهُ ٱلشِّعْرَ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓ﴾ [سورة يس آيت ۶۹]

ابن عساكر له حضرت عايشي رضي الله عنها نه نقل كوي چي ابوبكرصديق رضي الله عنه نه په جاهليت كي شعرونه ويلي او نه وروسته له اسلامه

۵- دجاهليت په وخت كي شراب څښل عام ؤ نبی كريم ﷺ كله هم شراب نه دي څښلي اوپه تاريخ الخلفاء كي دي چي ابوبكر صديق رضي الله عنه كله هم شراب نه دي څكلي.

۶- دنبی كريم ﷺ په طبيعت كي داخبره پرته وه چي پاكوالی يې ډيرخوښيدلو الله تعالى په قران كريم كي فرمائي. ﴿

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ ﴿٥﴾﴾ [سورة المدثر آيت ۵]

Scanned with CamScanner

(c) ...abtorrent.com: The Digital Library



او همدارنګه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه هم پاکي ډیره خوبنه وه په یوه روایت کې راځي: چې کله به ابوبکر صدیق رضي الله عنه اوزه لوشله اول به یې تیونه ور صفا کړل. اوچې کله به یې پیاله ډکه کړه بیابه یې جامه په سر ور واچوله چې خاورې یا بل شی ور ونه غورځیږي اونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته به یې ورووړله

## په نورو ښېګڼو کې یې هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ورته والی لرلو

۷- یوځل په حرم شریف کې عقبه ابن معیط د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په غاړه کې یې څادر ور واچولو اوراکش یې کړ. او په ابوبکر صدیق رضي الله عنه باندې هم دغه رنګه کفاروحمله وکړه

۸- د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دعا باندې د حضرت عمر رضي الله عنه غوندې لوړ او غوره شخصیت په اسلام باندې مشرف شو او د حضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د ترغیب په وجه د سید الشهداء حضرت حمزه رضي الله عنه غوندې شخصیت ته اسلام ور په برخه شو.

۹- نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی وفرمایل: ﴿ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ ﴾ [سورة التوبة آیت: ۴۰]

صدیق اکبر رضي الله عنه ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یَا أَبَا بَکْر! مَا ظَنُّکَ بِاثْنَیْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا).

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۰- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته الله تعالى فرمايي: ﴿ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ ﴾ [سورة الحجر آيت: ۸۸] نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وايي: ﴿ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ﴾ [سورة التوبه آيت: ۴۰]

۱۱- نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ غږ کولو نو په (رسول الله) سره به يې ورته غږ کاوه. او چې کله به يې صديق اکبر بللو نو د (اميرالمؤمنين) په لقب سره به يې ورته غږ کاوه.

۱۲- دمکې قريشو دهجرت پرمهال دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پيداکولو کې سل (۱۰۰) اوښان انعام منلی ؤ. او دصديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په غوښتلو کې يې هم سل (۱۰۰) اوښان انعام منلي و.

## دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رايه هم سره يوه وه

۱۴- دبدر دبنديانو په هکله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کومه فيصله وکړه، نو دمشورې پر مهال هر يوه صحابي خپله رايه وويله صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دامشوره ورکړه چې له بنديانو نه فديه واخيستل شي او دوی ازاد کړی شي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده په مشوره فيصله وکړه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۵- دحدیبیې دصلحې په مهال حضرت عمر رضی الله عنه ډیر حیران و اوویل یې: چې بدر دغزا پر مهال سره له دې چې شمیره مو هم (۳۱۳) ډیره کمه وه بیا هم نه ویریدو او نن مو ډیر زور ده بیا هم ویریږو ؟! صلحه کوو. لکن دصدیق اکبر رضی الله عنه هغه رایه وه کومه چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم وه.

## په هر کارکې یې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم اتباع کوله

۱۶- دفدک یو باغ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دبنی هاشمو په خوانانو هلکانو او جنکیو مصرفولو، کله چې صدیق اکبر رضی الله عنه خلیفه شو دغه عمل هغه جاري وساته.

۱۷- بنو ثقیف یوه قبیله وه چې هغوی دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه دلمانځه دمعاف کولو غوښتنه وکړه خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ددوی مطالبه یې رد کړه.

کله چې صدیق اکبر رضی الله عنه خلیفه شونوځینې خلکو دزکوة د معاف کولو مطالبه وکړه نوصدیق اکبر رضی الله عنه یې مطالبه رد کړه.

۱۸- نبی کریم صلی الله علیه وسلم له بني قضاعه قبیلې سره جهاد وکړ، دې جهاد ته (غزوسلاسل) وایي کله چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم له دې فاني دنیا څخه سترګې مبارکې پټې کړې او خپل خالق ته خوږه روح وسپارله وروسته چې کله هغه مرتدشول صدیق اکبر رضی الله عنه هماغه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم تګ لاره ورسره غوره کړه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹- حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه كې دلښكر امير جوړېږي او صديق اكبر رضي الله عنه په تول ژوند كې دلښكر مشر او امير ؤ.

۲۰- په (۹) سنه هجري كې صديق اكبر رضي الله عنه دحج له پاره مشراوامير مقرر شواو په لسمه سنه هجري كې رسول الله صلى الله عليه وسلم دحج مشراو امير شو او دحج هغه مبارك مراسم يې ترسره كړل.

۲۱- كله به چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته حضرت حسن رضي الله عنه راغی نو ده مبارك به په اوږو كيناوه صديق اكبر رضي الله عنه چې كله خليفه شو نو حضرت حسن رضي الله عنه به يې په اوږو كرځاوه.

## دكورنۍ په افرادو كې يې هم مشابهت و

۲۲- دنبي كريم صلى الله عليه وسلم زومان (حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت علي رضي الله عنه) چې له ( سابقون الاولون ) څخه ؤ. او دصديق اكبر رضي الله عنه زوم (حضرت زبير رضي الله عنه) هم له ( سابقون الاولون) څخه و.

۲۳- دنبي كريم صلى الله عليه وسلم اونبی له عشره مبشره ؤ څخه ؤ، د صديق اكبر رضي الله عنه اونبی هم له عشره مبشره ؤ څخه ؤ.

۲۴- دنبي كريم صلى الله عليه وسلم اونبی له مهاجرينو څخه و د صديق اكبر رضي الله عنه اونبی هم له مهاجرينو څخه و.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۵- دنبي کريم ﷺ لور (حضرت فاطمه رضي الله عنها) به په جنت کې دښځو سرداره وي او دصديق اکبر رضي الله عنه لور (حضرت عايشې رضي الله عنها) په هکله نبي کريم ﷺ فرمايي چې دامبارکه په نورو ښځو دومره غوره ده لکه د (ثريد) يعنې دشوروا مړۍ چې په نورو مړيو غوره ده.

۲۶- دنبي کريم ﷺ لورفاطمه رضي الله عنها په کور کې غريبي وه په خپله به نې ميچن کوله اولاسونه به ئې پړې ود هم دارنګه دصديق اکبر رضي الله عنه لوراسماء رضي الله عنها په کورکې تنګي وه ميچن به يې په خپل لاس کوله اولاسونه به يې وچودو.

## دلمسيا نوورته والى

۲۷- دنبي کريم ﷺ لمسي حضرت حسن رضي الله عنه ديزيدله بيعت نه انکاروکړ اوهمدارنګه دصديق اکبر رضي الله عنه لمسي حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه هم ديزيد له بيعت نه انکار وکړ.

۲۸- حضرت حسين رضي الله عنه شهيدکړي شو اوعبدالله ابن زبير رضي الله عنه هم شهيد کړی شو.

۲۹- حضرت حسين رضي الله عنه شاميانو په خپله قبضه (ولکه) کې راوستلی ؤ اوابن زبير رضي الله عنه حجاج ابن يوسف په خپله قبضه (ولکه) کې راوستلی و.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰- حضرت حسین رضي الله عنه دشهادت نه مخکې دمغه
،وراره اودخاندان ټول سري شهيدان کړی شول په آخر کې دي هغه
وار راغی . دارنګه ابن زبير رضي الله عنه شهادت نه مخکې دمغه نږدي
خپلوان ټول شهيدان کړی شول په آخر کې ده هغه وار راغی.

## له دواړو سره دالله تعالی معامله يو رنګه وشوه

۳۱- الله تعالی دنبي کريم صلی الله عليه وسلم په طرف باندې
(صاحبکم) په لفظ سره اشاره وکړه ، بخاري شريف کې روايت ده
چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم دصحابه رضي الله عنه کې صديق اکبر رضي الله عنه
ته په (صاحبکم) لفظ سره اشاره وکړه.

۳۲- بيا داسې وخت هم راغې چې څلور رکعتيز لمونځ چې اولني
دوه رکعتونه دصديق اکبر رضي الله عنه په امامت بر سره او دوه ورستي
رکعتونه يې دامام الانبياء حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم په
امامت تر سره شول.

۳۳- نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته کفارومجنون وويل قرآن کريم
ګواهي ورکوي :﴿ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ﴾ سورة الملک آيت ۵۱).

همدارنګه داسلامي تاريخ په يوه کتاب کې ليکلي دي چې
دمکې قريشوبه دصديق اکبر رضي الله عنه په باره کې ويل: (قالواهذاابن
قحافه مجنون) يعني دغه دقحافه زوی ليونی ده.)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۴- له طايف نه د بيرته راګرځېدلو په وخت کې نبي کريم ﷺ ته پناه يو کافر (مطعم بن عدي) ورکړه. او چې صديق اکبر رضي الله عنه کله د حبشې په طرف د هجرت په اراده ووت په بيرته راتللو کې (ابن الرغنه) ده ته پناه ورکړه.

۲۵- نبي کريم ﷺ فرمايي: انااتقى ولد آدم واکرمهم على الله ولافخر) يعنې زه په انسانانو کې ترټولو متقي او مکرم يم اوزه فخر نه کوم.

او صديق اکبر رضي الله عنه ته الله تعالى د (أتقى) لقب ورکوي او فرمايي: ﴿وَسَيُجَنَّبُهَا ٱلْأَتْقَى ۝١٧﴾ [سورة الليل]

مفسرين ټول په دې باندې متفق دي چې له (ٱلْأَتْقَى) نه صديق اکبر رضي الله عنه مراد دی او بل ځای فرمايي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ﴾ [سورة الحجرات آيت. ۱۳]

څوک چې په تاسې کې له خدايه ډير داريږي هغه ماته ډير ګران وي.

۲۶- الله تعالى خپل حبيب ته وايي: ﴿وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰٓ ۝٥﴾ (سورة الضحى) زر ده چې دربه کړي تاته الله تعالى د شفاعت اجازه چې ته به خوشحاله شې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


او صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته الله تعالی وفرمایل: ﴿ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ (سورة اللیل)، چې کوم بشارت هلته ده هغه دلته هم ده.

چې کومو خلکو دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتباع وکړه دهغوی په هکله الله تعالی وفرمایل: ﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ ﴾ [سورة آل عمران آیت ۳۱]

او د صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاس دبیعت کوونکو خلکو په هکله الله تعالی او فرمایل: ﴿ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ ﴾ [سورة المائده آیت: ۵۴]

## له دنیا څخه دتللوپر مهال هم له خواږه پیغمبر سره ورته والی

چې حالاتو ته ځیر شو سړی حیران شي چې څومره تام مشابهت ورسره لري. تردې چې ددنیانه دتللو کوم کیفیت او وخت دی په هغه کې یې هم مشابهت و.

۳۸- نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې له دنیا څخه انتقال کاوه عمر یې (۶۳) کاله ؤ صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې له دنیا څخه انتقال کاوه هم عمر یې (۶۳) کاله ؤ.

۳۹- د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات دزهرو له اثر څخه ؤ او د صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوفات سبب هم زهر ؤ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې په کومه حجره کې نبي کريم ﷺ خښ کړی شوی په هغه حجره کې صديق اکبر رضي الله عنه هم خښ کړی شوی دی.

بهرحال د نقشبندیې طریقې دا سلسله مبارکه چې تر نن پورې راروانه ده د صديق اکبر رضي الله عنه په واسطه له نبي کريم ﷺ نه راغلې ده.

د حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه مناقب او کرنلارې دومره بې شميره دي چې ډير قلمونه يې نشي ليکلی کېدلی شي چې يو لوی درياب به پروچ شي خو دده مبارک محاسن به پای ته ونه رسيږي دلته خو موږ مشت نمونه خروار شي ذکر کړل [ د پورتني معلوماتو د تفصيل له پاره وګورئ: کشف الباري مناقب صحابه ص: ۱۴۲ ]

حکايت: مونږچې په بخاري شريفه کې دده مناقب ويل تو بيا يوه ملګري ويل وايي خوب مې ليدلو چې يو ډېرلوړ غروي نو دهمدې غره په بيخ کې حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه دېر ښناپه شان ولاړ وي نو دغره سرته وخيژي په څنګ پورې مې حضرت محمد ﷺ ولاړ وي او دا توري راته وايي چې د صديق اکبر رضي الله عنه کرامات منئ.

## نقشبديه طريقه په عشق، محبت او اخلاص بنا ده.

ګرانو ورونو! دغه طريقه چې دهغه په واسطه راغلې دا په عشق او محبت بنا ده، چې دده له رسول الله ﷺ سره زيات عشق او محبت و

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیادونې وړه ده: چې الله تعالی دادومره لویه مرتبه څکه ورکړې وه چې له ټولوڅخه دده مبارک رضي الله عنه محبت له نبي کريم صلی الله علیه وسلم سره زيات وڅکه ترټولوخواړه شیان یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه قربان کړي ووچې هغه عبارت له خان،مال، اواولادڅخه دي تردې پورې چې خپله نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي ﴿ ... فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبُو بَكْرٍ، ... ﴾ اجامع الترمذي ج: ۲ ص: ۲۰۷ ابواب المناقب رقم الحديث ۳۶۶۰]

يعنې ماته دهیچا دنیادومره ګټه نده رسولې لکه دحضرت ابوبکر الصدیق رضي الله عنه دنیا.

خوږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمايي ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا لِأَحَدٍ عِنْدَنَا يَدٌ إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا يَدًا يُكَافِئُهُ اللهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ مَا نَفَعَنِي مَالُ أَبِي بَكْرٍ، ... ﴾ اجامع الترمذي ج: ۲ ص: ۲۰۷ ابواب المناقب رقم الحديث ۳۶۶۱]

ژباړه : له حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چې په دنیاکې له ماسره هرچابنه کړي د هغو ښو بدله مې په دغه دنیا کې ورکړېده خو يوازې دصدیق اکبر رضي الله عنه چې له سره یې کړې دي دومره ډیرې دي چې الله تعالی به یې بدله په ورځ دقیامت ورکوي. اوماته دهیچا مال

(c) ketabton.com: The Digital Library


دومره ګټه نه ده رسولې لکه دابوبکر الصديق رضي الله عنه دمال په شان.

خوهغه داطريقه دومره پټه ساتلې وه چې يووخت حضرت جبرائيل عليه السلام راغی او نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته وايي چې خدای پاک زه رالېږلی يم چې زمالطرفه په حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه باندې سلام وايه اووروسته له سلامه يې دمريضي پوښتنه وکړه چې څرنګه يې نونبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت ابوبکرالصديق رضي الله عنه ته وايي چې الله تعالی حضرت جبرائيل عليه السلام رالېږلی دی اودالله تعالی سلام يې درته راوړی دی اوستا دمرض پوښتنه کوي چې څرنګه دی نوده مبارک رضي الله عنه ورته ووېل چې الحمدلله ښه يم نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وايي چې څه مرض دی زهغه ورته وايي چې غاښ مې خوږېږي نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وايې چې څومره وخت کېږي هغه مبارک ورته وايي چې دوه کاله کېږي ګوری دومره عشق چې له محبوب څخه پرته بل چاته يې حال نده ويلی دوه کاله به يې دغاښ دردحال چاته نه ښکاره کېدلو.

حضرت مظهرجان جانان رحمه الله دقاضي ثناءالله فاني پتی رحمه الله مرشد په خپل کتاب (کلمات طيبه) کې ذکر کړي دي چې دحضرت ابوبکرالصديق رضي الله عنه له وفات نه پس حضرت عمر رضي الله عنه کورته ورغی دده کوټې ته ورننوت نودکوټې دچت لرګي يې خای په خای سوي ؤ او تک تورشوي ؤ حضرت عمر رضي الله عنه دد دې دسبب پوښتنه وکړه چې دا څه وجه ده نو دکور خلکو ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل : چې حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه چې په وظيفه ذکرباندې لګياؤ کله چې سهار راپورته کېدلونو دخولې مبارکې څخه يې يواه ووتلو داسې غږ راووتلو چې دهغه غږسره ،سره دکباب غوندې بوی راوتلولکه زړه يې چې دعشق له وجې کباب شوی وي نودده داسويلي هغه ګرموالی دبام په لرګيوباندې پريوتلو نوهغه لرګي ځکه تور شويدي .

[ يواقيت الاعمال ص: ۱۲۵ ]

ډېره پاکه طريقه ده خوداپاکه طريقه يوازې اويوازې په ډېرمحبت باندې رانقل شويده تردې پورې چې مونږخپل مشايخ کرام وينودکوم خليفه صاحب به چې له حضرات کرامو سره محبت زيات ؤدهغه مقام به هم پرنوروباندې لوړؤ

حضرت انوار المشائخ جناب فضل الدين خليفه صاحب چې په ارغندي خليفه صاحب باندې يې شهرت درلود اوډېره لويه هستي الله جل جلاله پيداکړې وه دحضرت نورالمشائخ صاحب نورو خليفه صاحبانو پخپله خوله داويلي وو چې ده ته دادومره لوی مقام چې خدای جل جلاله ورپه برخه کړی ؤ دادده دعشق وجه وه چې دده له حضرت صاحب سره محبت اوعشق زيات ؤ ځکه دده په ټولو مجلسونو کې به دحضراتو دمجلسونو دهغوی دکراماتو يادونه کېدله اوپه دې خبره هم پوهېدل په کاردي چې ترڅوپورې له خپل شيخ سره محبت نه وي کامل شوی ترهغه پورې له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره محبت نه پيداکيږي اوچې له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره محبت نه وي پيداشوی ترهغه وخته پورې له

(c) ...ton...com: The Digital Library


خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره محبت مینه اوعشق نه پیداکیږي نو په دې لاره کې محبت ساتل په کار دي.اومحبت په ډېر تعلق ناسته پاسته کیږي کله چې له خپل شیخ سره محبت ددین په خاطر پیدا شو نودامحبت دپیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمحبت ذریعه اووسیله ګرځي او د حضرت پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محبت بیادپرور دګار جَلَّ جَلَالُهُ دمحبت اوعشق ذریعه ګرځي بیاسړی دفنااوبقا مقام ته رسیږي دامقام چې پیداشونوبزرګي هم سړي ته ور په برخه کیږي بزرګي له دې څخه عبارت ده چې خدای جَلَّ جَلَالُهُ درڅخه خوشحاله شي.

لنډه خبره داچې دعشق داسې مقام ته الله تعالی یوسړی ورسوي نوداډېرلوی مقام دی ځکه الله تعالی خپله فرمایي ﴿

وَرِضْوَانٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ﴾ [سورة التوبه آیت ۷۲]

یعنې لیږرضاکول دالله تعالی دجنتونو،نعمتونوله دنیا اومافیها څخه غوره اوبهتره دي نوپه دې اساس بایدکوشش وکړوچې نیت مود الله جَلَّ جَلَالُهُ درضاله پاره وي محبت اخلاص اوحال بایدخلکوته ونه وایو خپل مقام بایدچاته ښکاره نه کړونوچې مونږاوتاسې دالله تعالی سره مینه اومحبت وکړو اودالله تعالی په دین غیرت وکړو نوالله تعالی خوډېرغیرتي ذات دی ډېر رحیم ذات دی اوالله تعالی بیاسړی یوازې نه پرېږدي لکه په حدیث شریف کې چې راځي ﴿من کان لله کان الله له ﴾چې ته الله تعالی ته ورنیږدې کیږي الله تعالی اودهغه خوږ پیغمبرحضرت

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد ﷺ بیاله تاسره خپلوي کوي اولیاء کرام سره خپلوي بیازمونږ تقصیراتو ته نه ګوري الله تعالی وایي:

﴿ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّهِ، قَالَ: «إِذَا تَقَرَّبَ العَبْدُ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَإِذَا تَقَرَّبَ مِنِّي ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا، وَإِذَا أَتَانِي مَشْيًا أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً» ﴾ [صحيح البخاري ج:۲ بَابُ ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِوَايَتِهِ عَنْ رَبِّهِ ص: ۶۸۳؛ رقم الحديث ۷۵۳۷]

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې نبي کریم ﷺ له الله تعالی نه روایت کوي وایي: چې یو بنده ماته یوه لویشت رانیږدې کیږي زه هغه ته یو ګز ورنیږدې کیږم. اوچې څوک ماته یو ګز رانیږدې کیږي زه هغه انسان ته یو غیږ ورنیږدې کیږم اوچې څوک ماته په قراره، قراره راځي زه هغه ته په منډه، منډه ورځم.

یعنې زما رحمت ډیر نیږدې دی که نه الله تعالی خوښنده نه وهي نوچې اخلاص، عشق او محبت پیداشي بیادلږ عمل ذریعه هم الله تعالی ډیر ثوابونه ورکوي په دې شرط چې داعمل دالله جل جلاله درضاله پاره وي دمثال په ډول که یو سړی دوه رکعته نفل لمونځ وکړي خوچې دالله تعالی او دهغه عشق، محبت او اخلاص پکې زیات وي دادوه رکعته بیاترزرو رکعتونو نفلو څخه غوره دي یوه جذبه دالله تعالی درضاله پاره دټولو انسانانو او پیریانو ترعبادت غوره ده خوچې دخدای پاک درضاله پاره وي نودا په وظیفو باندې لیږدوام همیشوالی پکارده چې لیږ محبت پیداشي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


زمونږ زیاتره ملګري چې دلته راشي نوچې وظيفې ورسره کوونودرېږ، څلوریاپنځه کاله یې دخپلومشائخو سره تعلق نه وي راغلی یعنې په کلونو، کلونوتعلق نه وي ورسره نوتاسې پام وکړئ چې یوسړی په کلونو، کلونوورک وي اوتعلق نلري نوبیابه دده وظيفې څرنګه وشي اوسره له دې چې بیابه له طريقت څخه شکایت کوي اوداشک ورته پیداکیږي چې خدای مکره دازما وظيفې چې نه کیږي نوالعیاذبالله دانوپه طریقت کې څه نشته نولیږکوشش وکړئ چې دهمیشه له پاره ذکروکړو نوځوک چې څومره دالله تعالی ذکراویادونه کوي دومره یې له الله تعالی سره محبت اومینه زیاتیږي دپیغمبر ﷺ یادونه چې څومره زیاته کیږي دومره له پیغمبر ﷺ سره محبت زیاتیږي له اولیاء کراموسره چې څومره تعلق پیداکیږي دومره محبت زیاتیږي اووظائف بیابه کیږي بیانوداعشق دی چې سړی خدای تعالی ته رسیږي داپرته له عشق دالله تعالی څخه نه کیږي نومقصدپه طریقت کې دشریعت پابندي ډېره ضرورده اوپه ذکرباندې دوام،اومحبت د خپلواسلافو اومشائخوسره چې دطریقت غورچان دغودریو ته راوزي نودغه درې لارې که په چاکې پیداشوې هغه انسان خدای پاک جل جلاله لوړو مرتبو ته رسوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (٢) مجلس

## داولیاء کرامو بیان

### دولایت تعریف

### داولیاء کرامو علامې

### دولایت شرطونه

الحمد لله رب العلمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على خير خلقه نبينا وشفيعنا ومولانا محمد وعلى اله واصحابه اجمعين .

اما بعد : قال الله تبارك وتعالى :

﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾﴾

[ سورة يونس آيت : ٦٢ ]

ژباړه: خبردار شئ ! واورئ ! دا خبره چې بېشکه د الله په دوستانو باندې به هيڅ خوف اوويره نه وي اونه به دوی په ورځ دقيامت کې غمجن وي .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان د الله څوک دي ؟ خدای پاک یې صفات بیانوي اووایي : ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي ﴿وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ۝٦٣﴾ او چې ځان یې ساتلی وي له ګناهونو څخه. او له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څخه وویرېدل. نو بیاددغو اولیاء کرامو له پاره څه انعام ده؟﴿لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ﴾ ددوی له پاره زېری ده ﴿فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا﴾ د دنیا په ژوند کې ﴿وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ﴾اوپه ورځ د آخرت کې ﴿لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ذَٰلِكَ﴾ نشته بدلېدل د کلماتو د الله تعالی له ﴿ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ۝٦٤﴾ دا زېری چې د دواړو جهانونو کامیابي ده دا ډېره لویه کامیابي ده

په دې مجلس کې لاندې خبرې يادې شوې دي :

۱ ــ ولي چاته ویل کېږي ؟

۲ ــ اولیاء الله په څو قسمه دي ؟

۳ ــ د ولي څه علامې دي ؟

۴ ــ د ولایت سبب څه ده ؟

۵ ــ د اولیاء کرامو عاقبت څه ده چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیا اولیاوو ته څه ورکوي ؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولي چاته وايي ؟

۱ — ولي : ولي ماخوذ له (وَلِيَ) نه ده، ولي چې مصدر ده هغه په معنا د قرب سره راځي، وليه قرب ته ويل کېږي. والي د اسم فاعل صيغه ده. چې ماخوذ له (وَلِيَ) نه ده دا په معنا د قريب، په معنا د محب ، په معنا د صديق، په معنا د ناصر په دغو ټولو معناوو باندې راځي.

[هکذا فی معارف القرآن لمفتی شفیع (رحمه الله) ج: ۴ ص: ۵۴۸]

علامه قشيري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : چې استاد ابوعلي الدقاق رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : چې ولي په دوو معناوو سره ده : اول: (ولِيّ) د فَعِيلٌ په وزن دی دغه وزن کله دمفعول او کله بيا دفاعل په معنا راځي نودلته په معنا دمفعول دی معنايې داده چې دده دمعاملاتو الله تعالی په خپله نګران شي الله تعالی فرمايي: ﴿ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّٰلِحِينَ ۝ ﴾ [الاعراف ۱ ژباړه : او هم دغه (الله حمايت) ساتنه کوي دصالحانو (او کارونه يې جوړوي).

دوهم:(ولي) فعيل وزن داسم فاعل په وزن سره دايي دمبالغې صيغه ده معنايي داده چې ولي دالله تعالی په عبادت ټول وخت مصروف وي او دعبادت سلسله (لړۍ) يې جاري وي او په دې وخت کې له ده نه ګناه نه صادرېږي . [ رساله قشيريه بحواله الطبقات الصوفيه ص: ۱۰/۱۱]

(ckhabton.com: The Digital Library


اوس دغه ولي چې په معنا د قرب سره شو، دا قرب چې د الله او د مخلوق په منځ کې نسبت واخلو یعنې (ولی د الله) نو دلته دوه قسمه قربونه دي:

**اول قسم:**

اول قسم قرب او نزدیکت د الله مخلوق ته چې تر لاسه کیږي هغه بلاکیف قرب او نزدیکت دی چې دهغه مونږ ته علم نشته، ایجاداو پیدایښت ددغو مخلو قاتو ده الله په هغه قرب باندې چې الله تعالی فرمايي: ﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴾ (سورة ق آیت ۱۶) ددې آیت تشریح بنا بر ظاهر داده موږ بنده ته ورنږدې یو د غاړې تر رګونو اوس دا قرب په کوم قسم کیفیت او صفت دی ددې کیفیت معلومیدل له تصوف څخه پرته ګران کار دی.

دمثال په توګه دتصوف په اصطلاح کې به لنډتفسیر او وضاحت دلته داسې وکړو: څوک چې موجد د یو چا وي، جوړونکی دیو شي وي، مثلاً یو څوک چې دیوې کارخانې جوړونکی وي او په کارونو کې هم ښه ماهر وي نو هغه به خامخا دکارخانې دکارونو په سرته رسولو کې هم ښه تجربه لري.

دی به د هغه شي په نواقصو ښه خبر وي، که په خپله به هغه شی په خپلو نواقصو ښه خبر وي. مثلاً . موټر ده مستري یې جوړوي، دغه مستري ته ددغه موټر ټولې پرزې معلومې دي، او که ددغه موټر کمالات او نقصانونه موټر ته ښه معلوم دي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library


انجینیر ته؟ نو دا انجینیر موټر ته ورنږدې ده د موټر له ځان څخه
څکه چې څومره قرب راځي علم راځي، دا قرب خو ذریعه د علم له
پاره ده. دا انجینیر له موټر نه په موټر باندې ډېر نږدې ده. لهذا دا
یو مثال کافي ده.﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ ۝١٦﴾ (سورة ق)

ژباړه: حال دا چې موږ ډېر نږدې یو ده ته په علم سره له رګونو د
ورمیږ د ده څخه

یعنې الله تعالی خالق د مخلوقاتو ده، نو چې موجد او پیدا
کوونکی د مخلوقاتو په خپله الله تعالی ده، نو ددغو مخلوقاتو
کمالات اوددغو مخلوقاتو نقصانات دا به الله تعالی ته ښه معلوم
وي که په خپله به دغه بنده ته ښه معلوم وي؟ نو (اقرب از من به
منی) ته نږدې یې ماته له ما نه زه خپل ځان ته دومره نه یم رانژدې
لکه ته چې رانژدې یې. اوس نو دغه قُرب علمي ده چې ثمره دهغه
ایجاد ددغه مخلوق ده.

نو یو قرب بلا کیف د خداوند متعال جَلَّ جَلَالُهُ مخلوق ته ده چې
اثر یې پیدا کول ددغو مخلوقاتو دي.

**دوهم قسم:**

دوهم قسم قرب د الله تعالی مخلوق ته قرب د محبت ده، هغه
اول قسم قرب د ایجاد و، دا دوهم قسم قرب د محبت ده، دغه
قرب دمحبت په نسبت سره د مخلوق اود الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ په منځ
کې چې راځي دا بیا یو قرب بلاکیف ده، مکاني نه ده چې په ځای
کې سره نژدې وي خو په علم مکاشفه سره هغه هم متصور کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


په قرب جسماني باندې لکه دوه اجسام چې سره نژدې وي . داسې تمثیل یې راتلای شي په عالم مثال کې په کشف د مشاهدې سره ، ددغه اثر اوعلامه هغه دا توفیق د عبادت ده چې الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورنژدې ده مخلوق ته نو ده ته توفیق د عبادت ورکوي، مخلوق چې ورنژدې ده الله ته نو دالله د اطاعت، بندګي محبت پیدا کېږي. د هغه اثر بیا محبت د الله ده چې د الله دده سره محبت پیدا کېږي، خو دغه قرب د محبت بیا متفاوتې (بېلا بېلې) درجې لري.

## دمحبت درجې

۱- ادنی محبت د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له بنده سره چې پیدا کېږي د هغې کمه رُتبه ایمان ده. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿ ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ [ البقرة آیت ۲۵۷ ] یعنې الله مُحِب او دوست دهغو خلکو دی چې ایمان یې راوړی وي.له کافر سره الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ محبت نه کوي. نو منشاء د قرب د ادنا رتبې دپاره داده چې : سړی به مسلمان وي . [ هکذافی معارف القرآن ج۴ ص:۵۴۸ ]

۲- اعلی دُرجه د محبت هغه د انبیاوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مقام ده. په انبیاوو کې بیا د سید المرسل حضرت محمدرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقام لوړدی ، چې دهغه دمحبت لوړ والی تر معلومې اندازې ډیر لوړ دی له هغه ښخه تعبیر کول هم اسانه کار ندی البته داحادیثو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


په رڼا کې څه ناځه پوهه او علم سړي ته ور په برخه کيږي لکه له لاندې يوه قدسي حديث څخه معلوميږي.

۱۰۰- قال الله تعالى فى الحديث القدسي : ﴿ وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِي بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ، فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ: كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ، وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا، وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ ﴾ احقائق عن التصوف ص: ۳۳۵ رواه صحيح البخاري ج: ۲ ص ۴۱۰ كتاب الرقاق باب التواضع رقم الحديث ۶۵۰۲ ]

ژباړه: الله تعالى په حديث قدسي کې فرمايي: ماته زما بنده په فرائضو رانږدې کيږي، بيا چې نفلي عبادات کوي رانژدې کيږي رانژدې کيږي تردې پورې چې دی زما محبوب شي، زما محبت ورته پيدا شي، او کله چې زما محبت ورسره پيدا شو نو زه دده سترګې شم، چې په ما باندې ليدل کوي، زه دده لاسونه شم چې په ما باندې نيول کوي، زه دده پښې شم چې په ماباندې رفتن (تلل) کوي. که څه رانه وغواړي زه يې ورکوم او که له څه نه پنا وغواړي له هغه څخه پنا ورکوم.

د دوی او دالله تعالى ترمنځ دغه محبت او تړاو داسې مرتبې ته ورسيږي چې دغه مرتبه او مقام دبل له پاره نه وي چې دغه مرتبه او مقام يوازې دالله تعالى نيکوبندګانو ته وريه برخه کيږي

(c) ktabton.com: The Digital Library



اوس دغه بلاکیف قرب د محبت ده چې دخداوند متعال او د بنده په منځ کې نږدیکت داسې مقام ته ورسیږي تر دې چې په یو وجود سره ترینه تعبیر کیږي.

۲- ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: يَا ابْنَ آدَمَ مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي، قَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ أَعُودُكَ؟ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ، قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ، أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ؟ يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَطْعَمْتُكَ فَلَمْ تُطْعِمْنِي، قَالَ: يَا رَبِّ وَكَيْفَ أُطْعِمُكَ؟ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ، قَالَ: أَمَا عَلِمْتَ أَنَّهُ اسْتَطْعَمَكَ عَبْدِي فُلَانٌ، فَلَمْ تُطْعِمْهُ؟ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ أَطْعَمْتَهُ لَوَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي، يَا ابْنَ آدَمَ اسْتَسْقَيْتُكَ، فَلَمْ تَسْقِنِي، قَالَ: يَا رَبِّ كَيْفَ أَسْقِيكَ؟ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ، قَالَ: اسْتَسْقَاكَ عَبْدِي فُلَانٌ فَلَمْ تَسْقِهِ، أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَقَيْتَهُ وَجَدْتَ ذَلِكَ عِنْدِي " ﴾

[تفسير المظهري ج: ١ ص: ٥٠ / مسلم رقم الحديث: (٢٥٦٩)]

ژباړه :له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي : چې الله تعالی به د قیامت په ورځ یو سړي ته ووایي چې: زه مریض وم، ته زما پوښتنې ته رانه غلې هغه به ورته ووایي اې زما ربه! څرنګه دې پوښتنه وکړم ته خو نه مریض کیږې ؟ هغه به ورته ووایي ایا نه وې خبر چې: زما فلانکی بنده مریض و تا یې پوښتنه ونکړه ، که تا دهغه پوښتنه کړې وای زه به دې هلته میندلی وم یعنې زما رضا به دې پیدا کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وږی وم، تا ماته ډوډۍ رانه کړه.دی به ورته ووایي څرنګه ماتاته مړی. درکړي وای ته خورب العلمین یې ؟ ایا تاته دا نه وه معلومه چې زما فلانکي بنده له تانه مړی، وغوښته تا ورنکړه که دې داکار دې کړی وای زما رضابه دې پیداکړې وه.

زه تږی وم،تا ماته اوبه رانکړې. هغه به ورته وایي اې خدایه ته خو رب العالمین یې نه تږی کیږې ؟ الله تعالی به ورته ووایي زما فلانکي بنده له تا اوبه وغوښتې که ورکړې دې وای زه به دې موندلی وم یعنې زما رضا به دې هلته موندلې وه.

الله پاک وایي چې زه یې سترګې شم، لاسونه او پښې یې شم. زه یې ژبه شم. نودا د محبت او قرب هغه متفاوتې ( بیلابیلې ) درجې دي. د ایجاد په لحاظ یې رتبې متفاوتې نه دي. هر مخلوق چې الله پاک جَلَّجَلَالُهُ پیدا کوي ، نو الله پاک جَلَّجَلَالُهُ علم پرې لري، قرب د ایجاد د ټول مخلوق علی السویه دی، خو قرب د محبت هغه بیا متفاوتې درجې لري.

ادنا درجه د محبت په ایمان پیدا کیږي، تردغه نه لوړې درجې بیا دتقوی په معیار تر لاسه کیږي. لکه وروسته به تشریح بیا.دوه وارې وکړو ، په تقوی کې چې څومره زیادت راځي دغومره د قرب د اومحبت په درجو کې جګوالی راځي، چې انسان بیا الله پاک جَلَّجَلَالُهُ ته دومره ورنژدې شي هغه یې غوږونه ، سترګې ، لاسونه او پښې شي بلکې هغه وایي: چې زه دده سترګې شم، زه یې لاسونه او پښې شم او زه دده ټول اندامونه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه تشریح دلفظ دولي دلغت په اعتبار سره شوه اوس د (ولي) تشریح دتصوفو په اصطلاح کوو.

## (ولي) د صوفیاء کرامو په اصطلاح کې

۱- دصوفیانو کرامو په اصطلاح کې (ولی) هغه چاته ویل کېږي چې: دده زړه همیشه د الله پاک جَلَّجَلَالُهُ په ذِکر باندې مشغول او مصروف وي. ﴿ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ ۝ ﴾ (الانبياء) یعنې شپه ورځ د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په ذکر لګیا وي، بیا سُستي پکې نه پیدا کېږي.

۲- : (ولي) د صوفیاء کرامو په اصطلاح کې هغه چاته ویل کېږي چې زړه یې د الله پاک جَلَّجَلَالُهُ له محبت نه ډک وي. یعنې زړه به یې تل د الله تعالی په ذکر مشغول وي.

۳- : ولي هغه چاته وایي چې زړه به یې د الله پاک جَلَّجَلَالُهُ له محبت نه ډک وي، حتی که د بل چا سره محبت هم کوي هغه به د الله پاک جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره وي. لکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ﴿ إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ تَعَالَى : اَلْحُبُّ فِي اللهِ وَ الْبُغْضُ فِي اللهِ ﴾ [زادالطالبين (رواه احمد وابوداؤد) ص: ۱۹، مکتبه رشیدیه]

ژباړه: بهترین داعمالو هغه دا چې د چا سره محبت کوې هم دخدای له پاره او که بغض کوې هم د خدای له پاره نوچې هغه بهترین د اعمالو ده، هغه مقام به بیا ورته نصیب کېږي. لکه نبي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وايي: ﴿ مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَ أَبْغَضَ لِلّٰهِ وَأَعْطَى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدْ اِسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ ﴾ [ زادالطالبین ( رواه ابوداؤد ) ص: ۱۹ ) مکتبه رشیدیه ]

ژباړه: څوک چې له چا سره محبت کوي دالله تعالی له پاره اویابغض کوي له چاسره دالله تعالی له پاره .او راکړه ورکړه یواځې د خدای د رضا له پاره کوي معنا دا چې نېک او ښه سړی ده څکه ورسره راکړه ورکړه کوي، چا چې منع هم خاص د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له پاره وکړه، معنا داچې بد سړی ده په ګناهونو لګیا ده ، که محبت له چاسره کوي او که بد یې ایسه وي هم. یعنې هرڅه یې د الله پاک له پاره وي. نو زړه یې ډک وي په محبت د الله. حتی که دځان سره محبت کوي هم د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ له پاره یې کوي چې زه د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ یو مخلوق یم اوکه د بل سره محبت کوي هم د الله پاک د رضا له پاره یې کوي

[ تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۴۸ ]

## فناء القلب

چې له دې نه په دوهمه اصطلاح د صوفیه کرامو تعبیر کېږي په فنا د قلب سره. چې ددغه انسان زړه د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ په عشق او محبت کې دومره فاني شي چې د بل چا یاد بالکل ورته نه پیدا کېږي. په زړه کې یې یواځې د الله پاک محبت وي بل څه ورته نه پیدا کېږي. چې زړه د الله تعالی په ذکر کې مستغرق شو، ثمره یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

داده چې ددې انسان ظاهر او باطن بیا دواړه په شریعت برابر شي، د ظاهر او باطن اصلاح یې وشي. اخلاق یې په شریعت برابر شي. حسد، ریا، کبر عُجب او نور ځومره مُهلک امراض چې وي هغه بیا ورځخه لرې شي او هغه نېک صفات یې په زړه کې ځای ونیسي. چې ددې نه داهل تصوف په اصطلاح په فنا د نفس سره تعبیر کېږي [ تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۴۸ ]

یو فنا د قلب ده او بله فناء د نفس ده. په ګناهونو امر کونکی، یعنې اماره بالسوء نفس ده، چې زړه اصلاح شو، زړه د الله تعالی په ذکر لګیا شو، د الله تعالی له محبت نه ډک شو نو نفس به یې تابع کېږي، بیا له نفس ځخه هغه اخلاق رذیله ټول ختمېږي ،نفس بیا په نیکو اخلاقو متصف کېږي. نو بیا له دې ځخه تعبیر په فنا د نفس سره کېږي.

## د بقاء بالله یا فی الله مقام

چاته چې فناء القلب او فناء النفس مقام پیدا شي، نو بیا له دې نه وروسته مقام د بقاء راځي. لکه مونږ او تاسې چې خط ښه زده کړو بیا یې که هیرو هم نه هیرېږي ملکه وګرځي ( ملکه یو کیفیت راسخه ته ویل کېږي ) داسې نه چې اول دې یو دوه ټکي زده کړل؛ بیا دې پرېښودل تردې پورې چې هغه دې هېر شول، دې ته بقا نه ویل کیږي، بلکې دې ته ویل کېږي چې انسان بیا په هغو صفاتو باندې رنګ شي، د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ په عشق او محبت کې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګېدل ښايسته کېدلو ته ويل کېږي، په حسنه صفاتو يا الله و
رنګېدل ، معنا داچې متصف وګرځي؛ هغه دده ملکه وګرځي
لکه د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ په حسنه صفاتو رنګېدلو ته وايي لکه الله
پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿ صِبْغَةَ ٱللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبْغَةً ﴾
سورة البقرة: ۱۳۸) دا د الله پاک د دين رنګ ده. مثلاً دغه جومات
مونږ يو رنګ ورکړو هغه په دغه دېوال پورې پاتې وي. نو دغه
بقا ويل کېږي.

اويا بقاء دې ته وايي چې وروسته له فناء څخه کوم تجليات
ورته پيدا کېږي لکه د اضافي صفاتو تجليات يا د ذاتي صفاتو
تجليات يا د ذاتي شيوناتو تجليات يا د رب تعالى د ذات اقدس
بلا کيفه تجليات نو دى په همدغو تجلياتو مزين شي . يعنې دغه
تجليات او انوار په ده کې ځاى ونيسي او دى پرې مُتصف شي.
نو د عالم امر په تصفيې فناء او بقاء سره انسان ته ولايت صُغرى
حاصلېږي، کوم چې ولايت د اهل الله وو دى او ددوى مستقر،
مقام لومړى د صفاتو ظِلال دى او دې کيفيت ته چې لطيفه يا
سالک ورسيږي. يعنې چې سالک کله د اضافي صفاتو تجلياتو
ته ورسيږي نو بيا دې ته (وصلِ مُطلق) وايي او بيا يې چې کله
ذاتي صفاتو ، ذاتي شيوناتو او ذاتي اعتبارياتو ته عروج وشي
نو دې ته هم (وصلِ مطلق) وايي. او بيا يې چې کله ذات بحت ته
عروج وشي .يعنې د باري تعالى د ذات بحت تجليات پرې نازل
شي نو دې ته بيا (وصلِ عُريان) وايي. يا په بل عبارت د خالق او

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخلوق تر منځ اویا زره حجابه (پردې) دي، چې ځینې ظلماني او ځینې یې نوراني دي، د هرې لطیفې په تصفیې سره لس زره حجابه له منځه ځي. یعنې په (قلبي) (روحي) (سِري) (خفي) او (اخفی) لطائفو سره پنځوس زره حجابه له منځه ځي او په قالب یعنې (ذِکر سُلطان) او (لطیفهٔ نفسي) سره شل زره نور حجابات له منځه ځي او په نتیجه کې یې سالک خپل مقصود ته رسیږي.

او په بله اصطلاح باندې د غو پنځو لطائفو او ذکر سلطان او لطیفهٔ نفسي ته اووه ګامه هم وایي یعنې (وصلِ عُریان) ته سالک په اووه ګامونو سره رسیږي.

دا نعمتِ عظمی چې له (وصلِ عریان) څخه عبارت دی انبیاوو علیهم السلام او کاملو اهل الله ؤ ته د ظلماني حجاباتو (چې عالم ممکن دی) او له نوراني حجاباتو (چې د اضافي صفاتو تجلیات، دذاتي صفاتو تجلیات، د ذاتي شیوناتو تجلیات او د ذاتي اعتباریاتو تجلیات) له لرې کېدو څخه وروسته پیدا کېږي. یعنې دا ټول حجابات چې کله لرې شي نو (وصل) راځي، چې د پښتو له یوې مصرۍ څخه هم دا رنګه پټ مطلب او راز ښکاره کیږي.

مصرۍ:

کور دې په شنو ونو کې پټ دی

مړوند را هسک کړه د شنو ونو له سرونو

خو د حجاباتو له لرې کېدو وروسته هم د الله تعالی د مشاهدې څه موانع او اسباب ترسترګو کېږي چې هغه زمونږ د استعداد کمزورتیا ده. دمثال په توګه دخدای تعالی دذات نورانیت خودیر لوړ او عالي دی که لمر ته وګورو چې یو مخلوق دی زمونږ او د لمر ترمنځ حجاب (پرده) هم نشته خو بیاهم مونږ د لمر (سترګه) یا ټیکی نه شو صحیح کولای. ځکه چې زمونږ سترګې برېښني او کمزورې دي او کامل مناسبت مو ترمنځ نشته. لیکن د ظلماني او نوراني حجاباتو له لرې کېدو وروسته د خپل پیغمبر ﷺ په متابعت اود کاملو اهل الله په توجه سره استعداد قوي کېږي او الله تعالی خپل (وصلِ عریان) سالک ته ور نصیب کوي.

مطلب داچې د عالم امر په تصفیې سره چې پنځه لطیفې دي ولایت صُغری ترلاسه کېږي، کوم چې د اهلِ الله ؤ ولایت دی او د دوی د فیض مبدء په ابتداء کې ظِل د صفاتو دی اوپه انتها، کې عین صفاتو ته رسېږي.

اوپه تزکیه د عالم خلق سره چې په واسطه د ذِکر الهي سره چې څه مرتب کېږي دهغه تفصیل په لاندې ډول دی:

په تزکیه د لطیفهٔ نفسي سره چې خُلص او شیره د عناصرِ اربعه رو دی؛ ولایت کُبری مرتب کېږي، کوم چې ولایت د انبیاوو عَلَیۡهِمُ السَّلَامُ دی. یعنې چې د لطیفهٔ نفسي تزکیه راشي، فناء او بقاء حاصله شي او خپل مشرب ته ورسیږي نو ثمره او نتیجه یې ولایت کُبری ده، کوم چې له ولایت صُغری څخه فوق (لوړ) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې په خپل مبارک ارشاد کې فرمايي چې: (خِيارُكُمْ فى الجاهلية خِيارُكُمْ فى الاسلامِ إذا فَقَهُوا).

يعنې دا نفس ناطقه په جاهليت کې چې د انسان تزکيه او تصفيه نه وه راغلې هم سردار ؤ او عالم امر يې د ځان تابع ګرځولی و او دی يې دنائت او پستۍ ته مائل کړی و، لېکن کله چې د انسان تزکيه او تصفيه راغله بيا هم دی (نفس ناطقه) سردار دی، ځکه چې دده په تزکيې سره ولايت کُبرى مرتب کېږي چې د انبياوو ولايت دی. او له ولايت صُغرى څخه ډېر فوق دی، کوم چې د عالم امر په تصفيې سره انسان ته مرتب کېږي او (خِيارُكُمْ فى الجاهلية خِيارُكُمْ فى الاسلامِ إذا فَقَهُوا) پرې صادقېږي.

## يادونه:

دنفس ناطقه دتصفيې له پاره ايمان شرط دی. غيرِ اسلامي فرقې لکه: براهميه، جوګيان اوداسې نور که هر څومره رياضتونه وکړي نو دوی ته د نفسِ ناطقه تصفيه نه حاصلېږي او نه يې کولای شي. ځکه چې دوی ته د وجوبي حقايقو او د اضافي صفاتو، ذاتي صفاتو او ذاتي شيوناتو نورانيت نه شي حاصلېدای، لېکن د عالمِ امر تصفيه کولای شي، نو ځکه په عالم مُمکن کې ځينې کشفيات او تصرفات هم ورته حاصلېږي.

نو د نفسِ ناطقه په تزکيې سره ولايتِ کُبرى مرتب کېږي، کوم چې د انبياوو ولايت دی او د دوی د فيض مبدء او مستقره مقام د حق سبحانه وتعالى اسمِ ظاهر دی. يعنې د انبياوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ د

Scanned with CamScanner

(c) ...com: The Digital Library



فیض مبدء او مشرب د الله تعالی ذاتي صفات دي او د امتیانو یې د باري تعالی د اضافي صفاتو ظلال دي، خو بیا له ابتداء څخه وروسته د واړه عروج کوي آن تر بِلا کیفه قرب د الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ پورې. [مقدمة التصوف ص: ۲۰/۲۴]

## دفنا او بقا تر منځ توپیر

علامه قشیري رَحِمَهُ اللَّهُ دفنا اوبقا توپیر داسې بیانوي :چې دصوفیاکرامو په نزد له فنا نه مراد اوصاف مذمومه لرې کیدل دي. له بقا نه مراد په انسان داوصاف محمودۆ پاتي کیدل دي.

په انسان کې له دوه ولـه صفاتو نه یوصفت ضرورباقي وي اودیوه له نفي (نیستي) نه دبل اثبات ضرور راځي ، څوک چې داوصاف مذمومه نه فناشول په هغه باندې محموده صفات ضرور ظاهره کیږي . اوپه چا باندې چې مذموم خصلتونه غالب شول بیا له هغه نه صفات محموده پټیږي . اودا خو دمناطقه ؤ یوه قاعده هم ده چې اجتماع دنقیضینو هم ناروا او ارتفاع دنقیضینو هم ناروا ده او دغه دواړه صفتونه په خپل منځ کې سره ضدین دي.

اوداخبره یادوساتئ چې په کومو اوصافو انسان متصف کیږي افعال یا اخلاق او یا احوال دي:

۱- افعال: هغه دي چې په هغه کې انسان په خپل اختیار سره تصرف کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- اخلاق : هغه صفات دي چې په انسان کې په فطري توګه باندې وي ، البته دیو صفت له مسلسل عادت جوړولو نه صفت بدلیږي.

۳- احوال : هغه دي چې په شروع (پیل) کې په انسان باندې واردیږي مګر د احوالو دصفایي دار ومدار داعمالو په صفایي باندې دی. په دې اعتبار سره احوال هم اخلاق غوندې شمیرل کیږي ، ځکه چې کله انسان داوصاف مذمومهٔ لرې کولو کوشش پیل کړي نو بیا الله تعالی په ده باندې مهرباني وکړي او دی دبدو او غوره اخلاقو څښتن شي.

همدارنګه چې کله انسان خپل کوشش صرف کړي دخپلو اعمالو تزکیه اوپاکي کوي ، نو الله تعالی په خپل کرم سره دده احوال پاک کړي، بلکې په کمال سره په ده باندې احوال واردیږي.

لهذا چې کوم انسان هغه اعمال پریږدي چې کوم په شریعت کې مذموم اوبد دي دهغه سړي په اړه ویل کیږي چې دی دخپلو شهواتو نه فنا شو. اوچې کله انسان دخپلو شهواتو نه فنا شي نو بیا الله تعالی عبادت او بندګي په ښه توګه سرته رسوي.

کوم انسان چې دزړه له اخلاصه ددنیا له مینې څخه بیزاره شي دهغه انسان په اړه ویل کیږي چې دا ددنیاله رغبت نه فاني شوی. کله چې له دنیا نه بې رغبته اوفاني شي بیادغه انسان په صدق اواخلاص سره دالله تعالی په طرف راجع شي.

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library


او چاچې کوشش پيل کړ له خپل زړه څخه يې حسد (کينه) ،بخل ، غضب ، تکبر او داسې نو مذموم عادتونه لرې کړل نو دده په هکله ويل کيږي چې له بدو اخلاقو نه فناشو .

او چې کله له بدو (مذمومو) اخلاقو نه فنا پيدا شوه نو دی بياپه پاکۍ او صدق کې تل پاتې وي .

نو اولياء کرام او صوفياء کرام د (ولي) تعبير په دې سره کوي چې زړه يې په ذکر او محبت الهي کې مستغرق وي، هغه ددغه آيت معنا ده چې ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ ﴾ (البقره) يعنې هغه کسان چې په الله تعالى تصديق لري خو له دې سره سره داريږي هم. له مخالفت څخه يې هميش ځان ساتي. نو هميش يې الله په ياد وي. په زړه کې يې د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ محبت وي. د ګناه محبت او مينې ته په زړه کې ځاى نه ورکوي .

دا د دې آيت هغه ترجمه ده کومه ترجمه يې چې اهل تصوف کړې ده. کنه يواځې مؤمن ته هم د قرآن کريم په اصطلاح کې (ولي) ويل کېږي. خودا د اولياوو د تصوف په اصطلاح کوشش ده چې سړى يو مقام ته ځان ورسوي. هغه دغه مقام ده.

## د ( ولي ) علامې

چې مونږ يې په رښتيا سره وپېژنو چې دا ولي ده، په ظاهره يې څه علامې دي ؟

د (ولي) علامې :

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ﴿ ذكر البغوي عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ سُئِلَ مِنْ اَوْلِيَاءِ اللهِ قَالَ: اَلَّذِينَ اِذَا رُؤُوا ، ذُكِرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ. ﴾

[تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۴۰ ابن ماجه کتاب الزهد ص: ۴ رقم الحدیث: ۴۱۱۹]

ژباړه: امام بغوی رَحِمَهُ اللهُ له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کړي چې داولیاؤ الله ؤ په هکله ورنه پوښتنه وشوه چې څوک دي؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل: دخدای پاک دوستان هغه څوک دي چې دوی په لیدلو سره سړي ته الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ وریه یاد شي.

۲- ﴿قَالَ البغوي يَروى عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال: قَالَ الله تعالى ان اولیائی من عبادی الذین یُذْکَرُون بذکری و اُذْکَرُهم بذکرهم ﴾

[تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۴۰ ابن ماجه کتاب الزهد ص: ۴ رقم الحدیث: ۴۱۱۹]

ژباړه: امام بغوی رَحِمَهُ اللهُ وایي چې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت دی وایي چې الله تعالی ویلي دي: زما دوستان زما له بندګانو څخه هغه خلک دي چې زما په یاد دوی یادیږي خلکو ته او ددوی په یاد زه یادیږم خلکو ته.

۴- عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ: اَلاَ اُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ ؟ قَالُوا: بَلَى ، يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ: خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا ، ذُكِرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ.

[تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۴۰ ابن ماجه کتاب الزهد ص: ۴ رقم الحدیث: ۴۱۱۹]

Scanned with CamScanner

(c) ... Digital Library



زباړه : له حضرت اسماء رضي الله عنها نه روايت دی وايي : چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه يې اوريدلي دي چې ويل يې ايا زه تاسې ته بهترين دتاسو درونه ښايم ؟

صحابه کرامو ورته وويل بلې : يارسول الله ! ده ورته وويل بهترين دتاسو هغه څوک دي چې کله دوی وليدل شي سړي ته الله تعالى وربه يادکيږي.

يعنې تعبير يې داسې ده چې: د ( ولي ) علامه داده چې ددوی په مجلس سره د انسان په زړه کې د الله پاک سره مينه او محبت پيدا شي. چې ددوی مجلس کوې، ددوی واقعات بيانوې نو اثر يې بيا داوي چې نفسِ مجلس شروع کړې نو له الله پاک جل جلاله سره يې مينه په جوش راشي. تعلق يې پيدا شي.

۴- ﴿ عن عمر ابن الخطاب رضي الله عنه قال قال: رسول الله صلى الله عليه وسلم ان من عبادالله لاناساً ماهم بانبياء ولا شهداء ويغبطهم الانبياء والشهداء يوم القيامة بمكانهم من الله قالوا يارسول الله تخبرنامن هم ، قال : هم قوم تحابون بروح الله على غيرارحام بين هم، ولا اموال يتعاطونها، فوالله ان وجوهم لنورٌ وانهم على نور لا يخافون اذا خاف الناس ولايحزنون اذ احزن الناس وقرا:﴿ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ﴾ [سورة يونس آيت ۶۲، درمنثور ص ۳۱۰ ج ۳، بحواله ابوداود ، ابن جرير ، ابن ابى حاتم ، ابن مردويه ، تفسير قرطبى ص ۳۵۷ ، ج ۸، حليه ابى نعيم ، شعب الايمان بيهقى اوتفسير مظهرى ج: ۵ ص ۳۹]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له حضرت عمر رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي چې دالله تعالی دبندګانو څخه ځینې داسې دي خلک چې په ورځ دقیامت کې به د هغو دحال غبطه انبیاء اوشهداء کوي. ورنه وپوښتل شول چې داخلک څوک دي؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وفرمایل: چې دا هغه خلک دي چې یو له بله سره محبت خاص دالله تعالی له پاره کوي ترمنځ یې هیڅ خپلوي هم نه وي چې کله خلک په خوف (ویره) کې مبتلاشي دغه خلک به په دغه وخت کې دوېرېدلو والا نه وي او چې خلک غمجن وي دوی به غمجن نه وي.

اوبیایې دغه آیت ووایي: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝﴾.

۵- اخرج ابن مردوية عن ابی هريره رضي الله عنه قال سئل النبی صلّی الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ عن قول الله: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝﴾ قال الذين يتحابون فی الله وورد مثله من حديث جابربن عبدالله اخرجه ابن مردويه [تفسير مظهري ج: ۵ ص: ۳۹]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې له نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ددې قول دالله تعالی ﴿ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ الخ ﴾ په هکله پوښتنه وشوه؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ځواب کې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفرمایل : چې داهغه کسان دي چې دوی په خپل منځ کې دالله تعالی له پاره محبت کوي.

۶- حضرت ابودرداء رضي الله عنه فرمايي: چې مادنبي كريم صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې : الله تعالى فرمايي : چې كوم خلک زماپه خاطر په خپل منځ کې محبت کوي زمامحبت دهغوله پاره ثابت شوچې کوم خلک زماپه خاطر په خپل منځ کې ملاقات کوي زمامحبت دهغو له پاره حق شو. چې کوم خلک زماپه خاطر په خپل منځ کې يوله بل سره ناسته اوولاړه کوي زمامحبت دهغوله پاره ضروري شو.

داتول هغه خلک دي چې زمامساجد زما په ذكر باندې آباده وي اوخلكوته دخير تعليم وركوي اوزما داطاعت په طرف خلک رابولي دغه زما اولياء دي چې زه دغو ته دخپل عرش دسورې لاندې ځای ورکوم په خپل قرب کې ځای ورکوم اودخپل عذاب نه يې محفوظ کوم دنورو خلكونه يې پنځه سوه (۵۰۰) کاله مخکې جنت ته داخلوم دوی به دهمیش له پاره په جنت کې عیش کوي.بيا نبی کريم صلى الله عليه وسلم دغه آيت تلاوت کړ ﴿ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ الخ ﴾ ].

رواه درمنثورج: ۳ص: ۳۱۰ ، ترمذی کتاب الزهد باب: ۵۳ ، مسند احمد ج: ۵ ص: ۲۴۷/۲۲۲ ، كتاب حلية الاولياء ج: ۱ ص: ۳۶۷]

۷- حضرت على رضي الله عنه فرمايي : چې اولياء الله هغه خلک دي چې ددوی مخونه دلیږ خوب کولو له وجې نه زیړ وي ، سترګې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دډیرې ژړا له وجې نه جنیجرې وي دډیرې لوږې له وجې نه یې خیټې نرۍ وي اوشونډې یې وچې وي. [ تفسیر قرطبی ج: ۸ ص: ۲۵۸ ]

۸- حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: چې اولیاء الله دالله تعالی ناوې دي اوناوې نامحرم نشي کتلای داناوې دمحبت په پردوکې پټې دي (عام خلک) یې نه په دنیاکې لیدای شي اونه په اخرت کې. [ الرسالة القشیریة / باب الولایة / ص: ۲۹۲ ]

لکه دا په فارسي ژبه کې مشهوره خبره ده: ولي راولي مي شناسد ) یعنې ولي هرسړی نشي پیژاندی بلکې یواځې ولي یې پیژاندی شي.

۹- حضرت یحیی بن معاذ رَحِمَهُ اللهُ داولیاءالله صفت داسې بیانوي: چې دوی دالله تعالی سره اُنس اومحبت دخپل ځان لباس جوړ وي. اودولایت مقام ته درسیدلو له امله دمجاهدې نه وروسته یې له روح سره تعلق راځي. [ الرسالة القشیریة / باب الولایة / ص: ۲۹۲ ]

**فـایده:** اوس دلته بُنیادي خبره داده چې- ددغه (ولي) علامه چې په حدیث شریف کې ذکر شو ، چې دده په لیدلو سره انسان ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورپه یاد یږي ، ددې وجه څه ده؟ چې دا ولي ده، بنده ده ، هغه خالق ده ، الله ده ، دده په لیدلو سره سړي ته هغه یادیږي، دده په مجلس سره انسان ته خدای پاک یادیږي ،نو وجه یې داده چې مخکې ما درته وویل چې: ( وَلِيَّ ) قُرب ته ویل کیږي، قرب د محبت هغه بلاکیف درجه ده، چې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره د خپنو اشخاصو دومره نزدیکت راشي چې معیت ذاتي راشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای پاک جل جلاله فرمايي چې: بيا ددغه انسان سترګې، غوږونه، لاسونه او پښې بلکې هر اندام يې زه شم. او ددغه بنده او خدای پاک په منځ کې داسې قرب بلاکيف راغی چې معيت ذاتي ده نو د يووالی له وجې نه چې اوس مثلاً دواړه لاسونه يو ځای دي، اوس چې يو وينې نو بل هم ورسره ليدل کېږي، چې ښی لاس يادوي چپ هم ورسره يادېږي، چې چپ لاس يادوي نو ښی هم ورسره په خپله يادېږي.

ددې مثال داسې ده لکه : لمر په څلورم آسمان کې ده ، خو چې شيشه ورته مخامخ شوه، هغه رڼا د لمر په دغه ديوال لګيږي ، لمر سره له دې چې د باندې ده ، په شيشه کې نشته يوې کړکۍ ته چې سړی شيشه مخامخ کړي ددغې شيشې رڼا او تجلي هلته په دېوالـه باندې لګيږي، لکه څرنګه چې د لمر رڼا د باندې په دېوالـه لګيږي څکه چې ددغې شيشې او لمر په منځ کې يوه علاقه د قرب راغله ، هغه انوار او شعاع چې دلمر وه هغې په دغې شيشې کې ځای ونيوه نو په دې کې هم دا کمال پيدا شو چې دا شيشه اوس بل شان رڼا کوي. بلکې د شيشې نه چې کومه رڼا په دېوالـه لګيږي ددې رڼا اثر او تېزوالی تر هغې رڼا زيات وي کومه چې له لمر څخه پخپله صادريږي.

همدارنګه پنبه ( مالوچ ) درواخلئ ، ځينې داسې شيشې شته چې دهغې وړانګه يا شعاع په مالوچو ولګيږي نو اور واخلي ، د لمر په خپله وړانګه او رڼا باندې اور نه اخلي اوددې شيشې په دننه کې چې د لمر کومه وړانګه راغله د هغې په واسطه اور اخلي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دهغه تقرر دلته په دوهم مکان کې راغی. په دغه ځای باندې اثر زيات شو. ځکه چې دلته علاقه د قرب ده، دا شیشه اودا پنبه د مکان په لحاظ هم سره نژدې دي، چې د لمر او پنبې په مابين کې په مکان کې بُعد (لرې والی) موجودده نو د لمر له رڼا نه اور نه اخلي او ددغې نژدې شيشې له رڼا نه پنبه اور اخلي.

يو سړی مسلمان ده يواځې يې کلمه ويلې ده، له الله سره يې تعلق جوړ شو، ځکه الله پاک فرمايي: ﴿ اَللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ ا البقرة آيت ۲۵۷ خو جذب نه ورته پيدا کېږي، عشق او محبت ورسره نه وي، د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د ذکر په وخت کې ورسره زړا نه وي، حضور برابر پېدل ورسره نه وي، لکن چې د بنده سره يې تعلق جوړ شو بيا دغه شيان پکې پيدا کېږي. ولې ؟ ددوی مناسبت او قرب سره ده، ددغه قرب په لحاظ دغه اثر پيدا کېږي. کله چې لمر ته دلته شيشه، مخامخ ونيسو نو ددغې شيشې پړک چې څوک ويني نو لمر ورته په ياديږي او کنه ؟ نو هغه انوار چې ددغه ولي په سينه کې وي ددغو انوارو په مشاهده او ليدلو سره الله ورته په ياديږي. اصلي مبدء الفيض خو خداوند متعال ده. هغه انسان ته ور په ياد شي.

دوهمه وجه داده چې: خدای پاک په دغو اولياوو کې ماده د استعداد د تاثر من الله د تاثير فی غير الله پيداکړې، دغو اولياوو کې قوت او استعداد ددې شته چې هغه فيوضات چې د الله تعالی له طرف نه نازليږي په مخلوق باندې دهغو قبولي کولی

Scanned with CamScanner

(c) ...com: The Digital Library



شي، تاثر من الله معنا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له لوري چې کوم تاثیرات راځي دهغه تاثر کولی شي. قبولي او برداشت يې کولی شي اوبیاچې هغه تحمل په دوی کې راغی ځای يې ونیو بیا په دوی کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ماده د تاثیر ایښې ده چې بیابه نور مخلوق ترې متاثر کېږي، اوس نو چې دهغه انوار او فیوضات په ده کې راغلل، ده تاثر قبول کړ، له دې نه چې تاثیرراځي نو نی الحال الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ انسان ته ورپه یاد شي. لکه مخکې مې چې په مثال کې درته وویل چې: د شیشې پرک سری په دېوال وویني نو سړي ته لمر ور په یاد شي چې لمر راختلی ده، په دغه شیشه کې قابلیت د تاثر د لمر د شعاعو ده، د لمر د شعاعو د اجتماع قابلیت يې په ځان کې راوستی ، اوس په دغه کې اثر هم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اېښی ده، قوت د تاثیر. چې ددغه هغه شعاع چې دلته پکې جمع شوي دي بهرته له دغه نه په بل کې هم اثر کوي، اوس نو چې په بل کې اثر راغی اثر چې څوک ویني مؤثر ورپه یادېږي. دا اثر ددغې شیشې چې هلته پیدا شو په دغه کې اصلي اثر د لمرنه پیدا او هغه مؤثر و .

نو له دغه ولي سره چې دغه مقام ده چې سړی يې ویني نو الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ سړي ته ور په یادېږي وجه يې داده چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ سره دده علاقه پیدا شوې ده، نو له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه يې تاثرات د فیوضاتو کړي دي، ددغو فیوضاتو اثر چې په بل ځای کې راغی نو سړي ته هغه ورپه یادېږي. چې اصلِ مؤثر هغه ده. مخکې وویل شو. د ولي علامه داده چې: ددوی په لیدلو سره به الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان ته ورپه یادیږي. د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ په یاد به دوی سړي ته ورپه یادیږي. اودغه طریقه د یاد ده چې ددوی ظاهر شکل دې ولید، د سنتو او شریعت پابندي دې یې ولیده نودهغه له وجې نه له شریعت سره ستا محبت پیدا شو. هغه سنت طریقو په تا کې تاثیر وکړ. نو څکه الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ درته په یاد شو.

اودا چې څوک د اذکارِ باطنه وو څښتن وي چې د کوم ولي په مجلس کې کیني نو لطائف یې خود بخود چالان شي. (اذا رُؤا ذُکِرَالله) چې دوی ولیدل شو نو الله یې هم په یاد شو. هغه دده په زړه اوپه لطائفو کې چې کوم تاثر من الله راغلی هغه تاثیر فی الحال په بل کې هم راغی، دهغه لطائف هم ورسره چالان شول، چې کله دی ولیدل شي نو الله جَلَّ جَلَالُهُ ورپه زړه کیږي.

اودغه استعداد دتاثیر په خلکو کې دجنسیي، نوعیي اوشخصي مناسبت له امله ده. نو دغه تأثر اوتاثیر تقاضا دحصول دحضور بالله کوي خو یادیدل دالله تعالی په لیدلو ددوی اوپه ناسته له دوی سره په دې شرط سره چې دغه سړی منکرنه وي.

﴿وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ۝٢٤﴾ [سورة المائدہ آیت ۲۴]

ای الخارجین عن الایمان والانقیاد. یعنې الله تعالی فاسقانو ته هدایت نه کوي، څکه دوی له ایمان او انقیاد نه خارج دي

﴿وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ تَعَالَى: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ....﴾ [تفسیر مظهري ج: ۵/ص: ۴۱ البخاری\ج\۲\ص ۹۶۳]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: چې الله تعالی ویلي دي: څوک چې زما له دوستانو سره دښمني کوي زما د جنګ اعلان ده ورته.

## د (ولي) تعریف او ولي په غیب علم نه لري

د (ولي) هغه تعریف نه ده کوم چې په عوامو کې مشهور ده. تفسیرمظهري لیکي چې: د عوامو په نزد (ولي) دې ته ویل کېږي چې هغه به کرامات لري، خارق العادة کارونه به ورڅخه صادریږي ، داسې شیان به دده په لاس کېږي چې عام انسانان له هغه څخه عاجزه وي، اویابه دی په مغیباتو (پټو خبرو) باندې خبر وي. نودا د ولي علامه نه ده، لکه زمونږ اکثره خلک اوس هم په دې عقیده دي چې ولي ته به ډېرې پټې خبرې معلومې وي او هرڅه چې دی غواړي کولی به یې شي. نه: دا دعوامو اصطلاح ده. دا د ولي علامه نه ده. ځکه ډېر داسې اولیاء الله دي چې نه کرامات لري اونه په مغیباتو باندې علم لري.

۱- لکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: ﴿ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ﴾ [اعراف: ۱۸۸] که زه په غیب پوهېدی ما به د خپل ځان له پاره ډېر خیر جمع کړی وای.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲. نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ﴿ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ ﴾ [سورة هود آيت: ۳۱]

بلکې د اولياوو په اصطلاح کرامت ته (حيض الرجال) ويل کېږي يعنې دا د نرانو حيض ده او ښځې ته چې حيض ورشي په خپله جامه باندې شرمېږي، هغه د وينو څاڅکي نه چاته نه وربښکاره کوي، بلکې پټوي يې. [تفسير مظهري ج: ۵/ ص: ۴۱]

کامل ولي ته چې کوم کرامت خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورکړي هم وي نو دى يې خلکو ته نه ښکاره کوي، له خلکو څخه يې حتى الامکان پټوي. که کله ترې صادر شي په وخت د غلبې د حال کې، چې دى د جذب په حالت کې وي په خپل کنټرول او اختيار کې نه وي، هلته د خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ عشق په ده دومره غالب شي چې له اختياره ووځي، نو يو کرامت ورڅخه صادر شي، نور پټ شيان نه شي ليدلاى. يا خوارق صادرېدل دا شرط يا علامه د ولايت نه ده، دا له اولياوو الله نه پرته نورو ته هم پيدا کېږي، بلکې غير مسلمانو ته هم پيدا کېداى شي.

موږ اوتاسې په ميبذى او صدرا کې ويلي دي چې: يوه ډله د يونان د علماوو وه چې هغو په کشف کار کاوه، او سره له دې چې دکوم سماوي دين تابع هم نه و، خو بياهم کشفيات ورته پيدا کېدل. دا خوارق خو جوګيان هم کولاى شي، چې جوګ پوخ کړي او بيا په هوا الوزي. نو که يو څوک په شريعت برابر نه وي او له هغه څخه خوارق صادرېږي دا ولايت او کرامت نه بلکې استدراج

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ده. نور داچې کرامت په قرآن کريم ثابت ده. لکه دبي بي مريمې رضي الله عنها په هکله چې راځي: ﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

[آل عمران: ۳۸]

ژباړه: او(الله) کفيل وګرځاوه دې لره زکريا عليه السلام هر کله به چې ننوت دې ته زکريا عليه السلام په محراب (په عبادت خانه) کې نو موندله به يې له دې (مريمې) سره څه روزي (يعني ميوې دژمي به اوړي، او ميوې داوړي په ژمي کې).

نو کرامت د اولياوو حق ده. زمونږ د عقيدې موافق که له نفس کرامت نه څوک منکر شي نو په اتفاق سره ورته ضال او مضل ويل کيږي، خو په کفر کې يې شک ده.

او په دغه ولي کې چې دغه کمالات پيدا شول، نو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي: تقوا دې ته وايي چې ته خپل نفس تر هيچا هم خير او بهتر ونه بولې.

حضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندی فاروقي قدس الله سره وايي چې: څوک خپل ځان د کافر فرنګي نه بهتر وبولي نو هم د الله پاک جل جلاله معرفت پرې حرام ده. [تفسير مظهري ج: ۵/ ص: ۴۹ حاشيه ۲]

حضرت سعدي رحمه الله وايي: نهد شاخ پرميوه سر برزمين.

Scanned with CamScanner

(d... Digital Library



دا قانون ده د سپیدار او چنار ونې پورته خېژي غځیږي، څکه چې بې مېوې دي، هره بې مېوې ونه چې وي مخ پورته به روانه وي، خو هغه چې له مېوې نه ډکه شي چې څومره ډکیږي نو درنیږي ښاخونه یې لاندې د ځمکې خواته راکاږه شي. د خُرما ونه ځکه ده خو میوه یې چې په سر کې ده میوه یې کوزه راځوړنده وي.

نو څوک چې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ حقیقي ولي وي نو هغه به یې له خلکو نه غټه نه وایي. ځان به له نورو عامو مسلمانانو بهتر او ښه نه بولي.

## د ولایت اسباب چې په څه سره پیدا کیږي؟

د (ولي) د ولایت سبب څه شی ده؟ ولایت په څه پیدا کیږي؟ اصل کې سبب د حصول د ولایت له پاره انعکاس د انوارو د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده، د انسان په سینه کې چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مشکوة النبوة د سینې مبارکې فیوضات، انوار او اخلاق دي دا چې چېرې منعکس شوي، دغه رنګا چې چېرې ولګېده نو هلته بیا ولایت پیدا کیږي. خو په ظاهر کې دا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سینې انعکاس چې د ولي په سینه کې راځي ددې له پاره سبب څه ده؟ نو ددې له پاره دوه عمده سببونه دي:

**د ولایت اول سبب:** ﴿ كَثْرَةُ الْمُجَالَسَةِ مَعَ الْمُحَبَّةِ وَالْإِنْقِيَادِ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، اَوْ بِمَنْ يَنُوبُه ﴾ [تفسیر مظهري ج: ۵/ص: ۳۹] یعنې له نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ډېره ناسته په ژوند کې . یا دده له نائبانو

Scanned with CamScanner

(c) ...ston.com: The Digital Library



او وارثانو سره خو چې ناسته په محبت او په انقیاد وي، چې کوم حکم هغه کوي او دی یې په ښه طریقه سره ومني. اشتباه، تردد او انکار ورسره نه وي. نو یو په دې سبب باندې مقام د ولایت پیدا کېږي. دا ولې پیدا کېږي ؟ ددې وجه به هم درته په لنډه توګه ووایم یواځې دغه ناسته او انقیاد یې ولې ددې سبب کېږي ؟ او نور نه کېږي ؟

ځکه چې څوک ددغو خلکو سره کیني دهغه زړه د دین په رنګ رنګ شوی دی، یعنې ظاهر او باطن یې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دین برابر دی. نو ته چې له ده سره کېنې، ستا د زړه تعلق چې دده له زړه سره پیدا شو نو هغه د دین رنګ او انوار او فیوضات چې دده په زړه کې دي هغه به د تا زړه ورته اخلي، ستا زړه به هم رنګیږي، په دې سره مقام د بقا پیدا کېږي، فنا خو راځي مقام د بقا پیدا کېږي چې دده په ناسته کې محبت پیدا کېږي بیا الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره تـه ورپـه یادیږي ، بیا پـه زړه کې هغـه د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ نوم ځای نیسي. دده ظاهر قالب چې په شریعت باندې برابر دی دده په ناسته او تعلق کې هغه به په تا باندې اثر کوي چې د تـا ظـاهر بـه پـه شـریعت بانـدې رنګیـږي، خـو د نبـي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د انوارو انعکاس چې راځي هغه به د شریعت په متابعت راځي. [ تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۳۹ ]

**دولایت دوهم سبب:** د ولایت د حصول له پاره دوهم سبب: کثرت (ډېروالی) د ذکر ده: چې څوک ذکر ډېر کوي دغه سړي ته به بیا د ولایت مقام پیدا کېږي. دا بیا ولې سبب ده ؟ ځکه چې د انسان زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دګناهونو له امله زنګ نیسي، چې ګناه وشي نو په زړه کې تور داغ پیدا شي، که توبه وایستل شي بیا هغه داغ لرې کېږي او که نه بیا ځای نیسي. د نبي کریم صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک حدیث ده چې: ﴿لِكُلِّ شَيْءٍ صَقَالَةٌ وَصَقَالَةُ الْقُلُوْبِ ذِكْرُ اللهِ ... ﴾ [مشکوة المصابیح ج ۱/ باب ذکرالله عزوجل والتقرب الیه ص ۲۱۳/ ۲۱۶ رواه البیهقي في الدعوات الکبیر]

د هرشي له پاره رېګمال شته، صفایي یې پرې کېږي چې هغه زنګونه یې بیا بېرته لېرې کیږي او د زړه له پاره رېګمال د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکر ده. اوس نو دغه زړه چې د ګناهونو د کدوراتو له وجې توروالی پکې راغلی ده دا په ذکر سره صفا کېږي چې په زړه کې صفایي راغله نو قابل د انعکاس ګرځي، شیشه چې په خاورو کې پټه وي د لمر رڼا په دې کې انعکاس کېږي؟ دا شیشه چې په دې کې د لمر رڼا دومره ځای نیسي چې بیا بل دېوال رڼا کوي دا په هغه صورت کې چې دا شیشه به صفا وي نو انعکاس چې په کوم زړه کې راځي هغه به صفا وي او ددې د صفایي لاره او طریقه نبي کریم صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یواځې ذکر ښودلې ده.

اوس نو ذکر چې څومره ډېر کیږي دومره صفایي هم زیاته پیدا کېږي، څومره چې صفایي ډېرېږي دومره انوار ډېر پکې خایېږي، ځکه په اولیاوو کې هم تفاوت ده، چې چاته څومره انعکاس وي، څومره چې د یو چا د ذات اقدس صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره تعلق زیاتیږي دومره هلته فیوضات زیاتیږي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عن معاذبن جبل قال سمعتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول قال الله تعالى وجبت محبتی للمتحابين فیّ والمتجالسين فیّ والمتزاورين فیّ والمتبازلين فیّ ﴾ [مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۴۴۸ باب الحب فی الله ومن الله]

ژباړه: له حضرت معاذبن جبل رضي الله عنه نه روايت دی وايي: له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مې اوريدلي ويل يې: چې الله تعالى فرمايي چې: دوه کسان خاص دما له پاره په خپل منځ کې محبت کوي اودما له پاره سره ملا ويږي سرکيني دماله پاره خرچه کوي دهغو له پاره زما محبت واجب شو.

﴿ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ ﴾

[صحيح البخاری ج ۲ كتاب الادب باب علامة الحب فی الله رقم الحديث ۶۱۶۹ ص: ۴۲۸]

ژباړه: له حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې يو سړی نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغي او ورته وې ويل: ياسورالله صلى الله عليه وسلم! ته څه وايي چې يو سړی دقوم سره محبت کوي مګر ددغه قوم عمل ته رسيدلای نه وي نونبي کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمايل: چې سړی به له هغه چاسره وي چې له چاسره يې محبت وي. دنه رسيدلو مطلب دادي چې ددغه سړي عمل ددغه قوم په شان نه وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿عن ابی زید انه قال له رسول الله ﷺ الا ادلک علی ملاک هذا الامر الذی تصیب منه خیر الدنیا والاخرة علیک بمجالس اهل الذکر واذا خلوت فحرک لسانک ما استطعت بذکر الله واحب فی الله وابغض فی الله﴾. [رواه ابونعیم کتاب حلیة الاولیاء ج۱/ص۳۶۷/ کنزالعمال ۴۴۲]

ژباړه: ابوزید رضي الله عنه فرمايي: چې ما ته نبی کریم ﷺ وفرمايل: چې زه درته اوښايم چې هغه کوم شی دی چې په هغه باندې ددنیا او آخرت کامیابي ترلاسه کیږي (یعنې په هغه باندې ددنیا او آخرت دکامیابی دارومدار وي) هغه داده چې داهل الذکر دمجلسونو پابندي وکړه او کله چې یواځې یې نو دالله تعالی په ذکر ژبه چلوه چې ترڅو دې طاقت او وس وي. او دالله تعالی له پاره محبت کوه او بغض هم دالله تعالی له پاره.

## داولیاء کرامو اقسام

دا اولیاء بیا په دوه قسمه دي: مُریدین او مرادین.

نو دا څومره پورته بیان چې مونږ وکړو دا د مریدینو مقام ده، هغه څوک چې خلیل الله دی، مرید د خدای پاک جل جلاله دمحبت اراده لري، نودی به کوشش کوي او په دغو کوششونو باندې به خدای پاک جل جلاله دی داسې مقام ته رسوي چې بیا به د خدای پاک جل جلاله عشق او محبت دده په سینه کې ځای پیدا کوي. بیا به دده دامحبت دنورو سینو دمحبت له پاره کټه سونکی ثابتیږي.

(c) ...ton.com: The Digital Library



بله ډله د اولیاووته (مرادین) ویل کېږي، چې دوی خپل مراد او مقصد ته رسیدلي وي چې هغه دخپل خالق خوشاله کول دي مرادینو ته محبوبین هم ویل کیږي او مریدینو ته محبین هم ویل کیږي محبوب د کردګار دي.

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ: إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ، قَالَ: فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، قَالَ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ، وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ: إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ، قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ، قَالَ: فَيُبْغِضُونَهُ، ثُمَّ تُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ﴾ [صحيح المسلم كتاب البر والصلة والادب، باب اذا احب الله عبداً امر ا. ج ۲ ص: ۳۳۱ / رقم الحديث: ۲۶۳۷]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: چې دالله جل جلاله له چا سره محبت پیدا شي نو جبرئیل علیه السلام ته حکم وکړي چې زه د فلانکي سره محبت لرم، ته محبت ورسره کوه، نبی صلی الله علیه وسلم وایي جبرائیل علیه السلام ورسره محبت کوي بیا هغه په آسمانونو کې اعلان وکړي، چې الله تعالی له فلاني سره محبت لري تاسې هم ورسره محبت کوئ. نو داسمانونو اهل هم محبت ورسره کوي .نبی علیه السلام وایي چې بیا دزمکې د خلکو په زړونو کې هم خدای پاک جل جلاله هغه ور محبوب کړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له یو ځا ځخه چې د الله تعالی بد راشي نو جبرئیل عَلَیهِ السَّلَام راوغواړی ورته وایي زما فلانی سړی بد ایسي نو ته یې هم بدایسوه ، نبي عَلَیهِ السَّلَام وایي چې جبرائیل عَلَیهِ السَّلَام دغه سړی بداېسوي ، بیا په اسمانونو کې اعلان وکړي چې الله تعالی له فلانکي سړي سره بغض لري تاسې هم ورسره بغض کوئ.نو داسمانونو مخلوقات یې هم بداېسوي ، نو دزمکې په خلکو کې هم منفور شي دنیک خلکو ترپام هم دغه شخص بد ورځي . خدای پاک دې موږ او تاسې بلکې ټول مسلمان له داسې بد حالت او کیفیت ځخه وساتي.

د نیکو خلکو محبت له یو ځا سره دا دلیل د محبت ده. هغه علامه چې مو مخکې ذکر کړي هغه ددې مرید وي.

او هغه اولیاء، چې مرادین دي دهغو علامه داده چې د مسلمانانو به له دد سره ډېره جوړه وي. له یو ځا سره چې د مسلمانانو مینه زیاتیږي او په زړونو کې یې قدر زیاتیږي دا ددې دلیل ده چې دی محبوب ده، ځوک چې په مشرب دحضرت رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ وي هغه محبوبین دي، هغه مرادین دي، هغو ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغه مقام ورنصیب کړی.

په قرآن مجید کې یې مثال دادی: چې الله تعالی خپل محبوب محمد صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ معراج ته بوتلووې فرمایل: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَا﴾

[سورة الاسراء آیت ۱]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: پاک ده هغه ذات چې بوېي تللو خپل بنده په شپه کې له مسجد حرام څخه وطرف دمسجد اقصی ته.

نو الله تعالی خپل محبوب معراج ته بوتلو دادمراد سره معامله وه. اوچې کله دمرید معامله وه نوويې فرمايل: ﴿فَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا﴾ چې کله موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ ملاقات ته راغی.

نوالله تعالی له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دمراد معامله وه اودموسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره دمرید معامله وه.

اوس ګورئ موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ له الله تعالی نه دشرح صدر دعا غواړي ﴿رَبِّ ٱشْرَحْ لِي صَدْرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرْ لِيٓ أَمْرِي ﴿٢٦﴾﴾ [طه: ۲۶]

او الله تعالی نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته شرح صدر خپله ورپه برخه کوي دغوښتلو اړتیا هم نشته فرمايي: ﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾﴾ [الانشراح]

نو دمرید او مراد معامله ډیر توپیر لري.

## داولیاء کرامو پایلې، انجام او عاقبت دقرآني ایاتو نو اونبوي احادیثو په رڼا کې

ترټولو دپام وړ خبره داده چې د اولیاؤ کرامو انجام، عاقبت او پایلې به څه ډول وي. په قرآن کریم او احادیثو کې ددغو بزرګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجام څنګه بیان شوی دی؟ په قرآن کریم کې ددوی انجام داسې بیان شوی چې: ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ ﴾

[سورة یونس آیت ۶۴]

یعنې ددې اولیاء کرامو له پاره زیری دی په ژوند ددنیا او آخرت کې. زیری د دنیا په ژوند کې څرنګه دی؟ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند کې زیری دا و چې ده به بشارت د جنت ورکاوه، څوک چې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ولي و هغه ته د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبه وویل شول چې:

﴿ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ، وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعْدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعِيدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ ﴾ [رواه ابوداود حدیث: ۴۶۵۰/ والترمذي حدیث: ۳۷۴۷/وابن ماجه حدیث: ۱۳۳/او مسند امام احمد: ۱/۱۸۷/۱۸۸]

یعنې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورتنیو لسو وارو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته دجنت زیری ورکوي چې دوی جنتیان دي. دا خو په یوه واقعه کې داجمال په صورت کې زیري ورکړی شوي، ډیرو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته یې دتفصیل په طریقه هم زیري ورکړي دي چې یو څو مثالونه یې په لاندې ډول دي:

دابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هکله وایي: ﴿ وقال امانک یاابابکر اول من یدخل الجنة من امتی ﴾ [رواه ابوداود کتاب السنة باب ۸] ﴿ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الأَرْضُ ثُمَّ أَبُو بَكْرٍ ثُمَّ عُمَرُ، »[ رواه الترمذی حدیث ۳۶۹۲ ] ( قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيقٌ وَرَفِيقِي - يَعْنِي فِي الجَنَّةِ - عُثْمَانُ ) [ رواه الترمذی حدیث ۳۶۹۸ وابن ماجه ] د حضرت عبدالله ابن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هکله وايي چې: دا جنتي دی. ( إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ، متفق عليه عَنِ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ، ) [ رواه البخاری ومسلم عن ابن عمر ] د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په باب کې وايي چې: (رجلٌ صالح ) دا ډېر نېک سړی دی. (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ: أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي متفق عليه )

[ رواه البخاری کتاب فضائل اصحاب النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ۹/ والترمذی کتاب المناقب باب ۲۰ حدیث ۳۷۳۰ ]

ژباړه: له حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وايي: چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وايي چې: ته ماته داسې يې لکه حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام ته، خو يواځې فرق دادی چې له ما نه وروسته بل پیغمبر نشته يعنې هغه نبي ؤ ته نبي نه يې. (عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ) [ رواه الترمذی: حدیث ۳۷۱۳/ ومسند احمد ۱/۸۴/۱۱۸/۱۱۹/۱۵۲ ] چاته چې زه ګران يم هغه ته به حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ګران وي.

د حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په هکله وايي:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي، فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي ﴾ [ رواه البخاري كتاب فضائل اصحابه النبي صلى الله عليه وسلم باب ۱۲/۲۹/ حديث: ۳۷۱۴]

ژباړه: له حضرت مسوراِبن مخرمه رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: چې حضرت فاطمه رضي الله عنها زما دوجود جز ده څوک چې دا په غضب کوي ګويا ما په غضب کوي.

دحضرت دحسن رضي الله عنه اوحسين رضي الله عنه په باره کې وايي:

﴿عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ﴾ [رواه الترمذي حديث: ۳۷۶۸، وابن ماجه حديث: ۱۱۸]

ژباړه: له حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: حضرت حسن او حضرت حسين به دجنت دځوانانو سرداران او مشران وي.

دمريم رضي الله عنها اوخديجه رضي الله عنها په باره کې داسې وايي:

﴿ وَقَالَ خَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ ﴾ [صحيح البخاری كتاب مناقب الانصار باب: ۴۵/ ومسلم كتاب فضائل الصحابه حديث: ۶۹]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: چې حضرت مريم رضي الله عنها دخپلې زمانې دښځو بهتره او غوره ښځه وه او حضرت خديجه رضي الله عنها دخپلې زمانې دښځو بهتره اوغوره ښځه وه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحضرت عائشې رضي الله عنها په باره کې داسې وايي: ﴿ وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ ﴾ [ رواه البخاری فضائل صحابه باب ۳۵/ ومسلم فضائل صحابه حديث : ۷۰/ ۸۸۹ ]

ژباړه : بېشکه د حضرت عايشې رضي الله عنها فضل او بهتري په نورو ښځو داسې ده لکه دشوروا دمړۍ په نورو مړيو .

﴿ وقال نعم الرجل سيدبن حضير ثابت بن قيس نعم الرجل معاذبن جبل نعم الرجل معاذابن عمروبن الجموح ﴾ [ رواه مسند احمد : ۲/ ۴۱۹ ]

﴿ وقال ان الجنة تشتاق الى ثلاثة علي وعمار وسلمان ﴾ [ رواه البيهقي كتاب مجمع الذوائد : ۹/ ۱۱۷/ والتبريذي كتاب مشكوة المصابيح ۶۲۴۵۲ والمتقي الهندي : كتاب كنزالعمال : ۳۳۱۱۲ ]

دپام وړ خبره خو داده چې خلک په جنت پسې مړه شول چې جنت پيدا کړي او جنت بيا دحضرت علي ، حضرت عمار ، او حضرت سلمان رضي الله عنهم غوښتنه کوي .

د انصارو مبارکانو په حق کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي او بشارت ورکوي چې : ﴿ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الأَنْصَارُ لاَ يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ، وَلاَ يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ أَحَبَّهُ اللهُ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ أَبْغَضَهُ اللهُ ﴾

[ رواه البخاری مناقب الانصار باب ۴ حديث ۳۷۸۳ ]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: آيَةُ الإِيمَانِ حُبُّ الأَنْصَارِ، وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الأَنْصَارِ ﴾ [رواه البخاری فی کتاب الایمان رقم الحدیث ۱۷]

یعنې دانصارو مبارکانو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت دا د ایمان علامه ده. ولې هغه ټول د خداوند متعال جَلَّ جَلَالُهُ دوستان دي، څوک چې ددوی سره محبت کوي دا مسلمان ده. هغه ټول د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ اولیاء او دوستان دي. څوک چې بغض ورسره کوي هغه منافق ده. د ټولو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په باب کې مجموعي بشارت د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرفه دادي چې: ﴿ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ﴾ [سورة مجادله آیت ۲۲]. ﴿ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ﴾ [سورة الحدید آیت ۱۰]

﴿ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ الایه ﴾ [سورة الفتح آیت ۲۹]

ژباړه: محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رسول او رالیږل شوی دالله تعالی دی (په حق سره) او هغه کسان چې له ده سره دي سخت دي از روی مقابله او مجاهده پر کافراتو باندې مهربانان او زړه سواندي دي پخپلو منځو کې.

دومره لوی زیری او سند چې چاته الله تعالی ورپه برخه کړي نو هغوی به ولې اندېښنه او فکر کوي اوبیا چې داوعده اوزیري وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دخالق لايزال له لوري چې دهيځ دول زيان او بې وفايي تصور هم نشي پكې كېدلى.

د نبي كريم ﷺ له طرف نه بشارت دادي چې: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا، مَا أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلَا نَصِيفَهُ﴾ [البخاري فضائل اصحاب النبي ﷺ باب ٥، مسلم فضائل صحابه رقم الحديث: ۲۲۱/ ۲۲۲]

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله ﷺ ويلي دي: تاسې زما په صحابهٔ كرامو پسې بدمه واياست، زمادې په هغه ذات قسم وي چې زما روح دده په لاس كې ده، كه تاسې دأحد دغره په اندازه سره زر صدقه وكړی ددوی ديو پاو يا نيم پاو صدقې خای ته به ونه رسيږي.

﴿عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَيْرُكُمْ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ»﴾ [صحيح البخاري، ج: ۱ص: ۱۴۶۴ كتاب الشهادات باب: لايشهد على شهادة جوار اذا أشهد، رقم الحديث: ۲۶۵۱]

ژباړه: له حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله ﷺ ويلي دي: چې بهترين او غوره ددتاسې زما دزماني خلک دي (صحابهٔ كرام) له هغو نه وروسته بيا تابعين بهتر دي، بيا تبع تابعين بهتر دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ إِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ قَالُوا: وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ ؟ قَالَ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ ﴾ [رواه البخاري كتاب التعبير باب ۵ حديث ۶۹۹۰ ومسلم كتاب الصلوة حديث ۲۰۸/۲۰۲]

ژباړه: حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې اوريدلي دي ويل يې چې: نبوت ختم شو خو بشارات به وي، صحابهٔ کرام ورڅخه پوښتنه کوي چې: بشارات څه شی دي ؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وايي چې: ښه خوبونه دي. دا څه معنا ؟ مطلب دا چې سړی په خپله خوب ويني او په خوب کې خپل حالات ښه ويني ، يا يې بل څوک ښه ويني، خو خپل ځان ښه ليدل يا د بل له طرف نه ښه ليدل دا په هغه صورت کې چې دی به عملاً هم ښه وي. بيا به رؤيای صالحه ته اعتبار وي. د منافق او فاجر له پاره خوب اعتبار نه لري.

﴿ وقال البغوی رَحِمَهُ اللهُ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قال سالت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى {لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} قال : هِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ ﴾ [مسند احمد : ۴۵۲/۶ ومستدرک حاكم: ۳۴۰/۲]

ژباړه: له حضرت عباده ابن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې ددې آيت {لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} په هکله پوښتنه وکړه چې ددې څه معنا ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وويل : دغه زيري دنيک مسلمان له پاره دادي چې ښه او نيک خوبونه دې پخپله ووينې او يا يې بل څوک دده له پاره ووينې.

﴿عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ، مِنْ أَهْلِ مِصْرَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى {لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} فَقَالَ: مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ غَيْرُكَ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ غَيْرُكَ مُنْذُ أُنْزِلَتْ، هِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ ﴾ ﴿ بشراة فى الحيوة وبشراة فى الاخرة الجنة لـه طراق كثيراً ﴾ [ رواه الترمذى حديث: ۲۲۷۳]

﴿ اصحابي كالنجوم بايهم اقتديم اهتديتم ﴾ [ العجلونى كتاب كشف الخفاء ۱/ ۱۴۷ ، الزبيدى كتاب اتحاف السادات المتقين : ۲/ ۲۲۳]

ژباړه : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې زما صحابه لکه ستوري داسې دي ، په هريوه پسې چې اقتدا وکړي تاسې به په هدايت او سمه لار ياست .

نو: ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْآخِرَةِ ﴾ [سورة يونس آيت ۶۴]

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند كې د خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوستانو ته د دده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبه د جنت زيرى وركول كېدل. د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دنيا نه د انتقال نه وروسته اوس ددغو خلكو له پاره بشرى (زيرى) شته كه نه ؟ هو شته . هغه (رؤيا)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوبونه دي (ثم اذا مات رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فالبشرى فى الدنيا ما بشر الله سبحانه اولياءه بالكشف يعنى اراه فى عالم المثال فى المنام او اليقظة وهو المراد بالرؤيا الصالحه) [تفسير مظهرى ج: ۵/ ص: ۴۲]

نو کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دنيا جامي بدلي کړي، بيا په دنيا کې اولياوو ته زيري هغه څه دي چې الله تعالى يې اولياوو ته ورکوي په کشف سره يعنې ورويني يې په عالم مثال کې په خوب سره او يا په ويښه چې له رؤيا صالحه نه دغه مراد ده.

يعنې کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ويښه ليدل دهغه نه تعبير په کشف سره کېږي، د خوب په حالت کې ليدل په خوب سره کېږي، ددغو خلکو له پاره بشرى کله الهامات د وظائفو د مراقبو په حال کې الهام ورته شروع شي، خپله ده ته يا يو بل ولي ته. دده مقام خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ په الهام سره ورمعلوم کړي. يا په خوب کې.

﴿وقيل البشرى فى الدينا هى الثناء الحسن لما روى البغوى بسنده عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ، وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ؟ قَالَ: «تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ﴾ [تفسير مظهري ج: ۵/ ص: ۴۲]

ژباړه: ځينو ويلي چې په دنيا کې زيري دهغه سړي په ښه نامه ياديدل دي. ځکه چې امام بغوى رَحِمَهُ اللهُ په خپل سند له عبدالله ابن صامت له حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړى وايي: چې له رسول

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وپوښتل شول چې يوسړی نيک عمل کوي
او خلک يې صفت کوي داڅرنګه ده ؟ په خواب کې يې ورته وويل
دغه هغه عاجل زيري دمؤمن دي .

وقال الزهري وقتادة هي نزول الملائكة بالبشارة من الله عندالموت قال
الله تعالى : ﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَٰئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا
وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾ [سورة فصلت آيت : ٣٠]

ژباړه : امام زهري رَحِمَهُ اللهُ او قتاده رَحِمَهُ اللهُ وايي : چې دغه زيري
راکوزيدل دملائکو دی دمرګ په وخت کې دالله تعالى له لوري
اوفرمايي: رانازليږي به پر دوی فريښتې ( عند النزع والبعث يا في
القبر ) داسې به ورته وايي چې مه ويريږئ په دنيا کې او مه خپه
کيږئ په اخيرت کې او زيری ورکړئ په هغه جنت سره چې له تاسې
سره يې وعده شوې ده .

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، قَالَ : الرُّؤْيَا ثَلَاثٌ :
فَبُشْرَى مِنَ اللهِ ، وَحَدِيثُ النَّفْسِ ، وَتَخْوِيفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ ﴾ [تفسير
مظهري ج: ۵/ ص: ۴۳ / رواه ابن ماجه حديث: ۳۹۰۶ ومسند احمد: ۲/ ۲۵۹]

ژباړه : له حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي : چې
رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي دي : چې خوبونه په درې ډوله دي :
۱- دالله تعالى له لوري ، ۲- دنفس سوچونه دي . ۳- او
دشيطان له لوري ويرول دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ ﴾ [صحيح البخاري كتاب التعبير باب: ۲ رقم الحديث ۶۹۸۳ ج: ۲ ص: ۵۷۴]

ژباړه: حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اوريدلي ويل يې: چې نیک خوبونه د نبوت شپږ څلويښتمه برخه ده.

رؤيای صالحه ځکه بشارات دي او ځکه قابل د بشارت دي، چې دا د نبوت شپږ څلويښتمه حصه ده. مخکې دا خبره تيره شوې چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي چې نبوت ختم شو خوبشارات به پاتې وي.

دا خو په دغه فاني دنيا کې د نيکانو او بزرگانو پايلې او انجام شو په اخيرات کې چې تلپاتې ژوند دى هلته هم د دوی له پاره لوړ مقامات او بشارتونه دي. له آخرت نه مطلب د زنکدن حالت، د قبر حالت او د حشر د اول وار د راپورته کېدا دا ټول عبارت دی. ځکه چې دا ټول د آخيرت مقامات دي ټول د دغو نېکانو او بزرگانو له پاره زېرى دى. کله چې نيکان او بزرگان له دنيا سره په مخه ښه کوي بيا خدای پاک ورته لاندينى قرآني زيرى ورکوي.

﴿يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةٗ مَّرۡضِيَّةٗ ﴿٢٨﴾ فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾ وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾﴾ [سورة الفجر]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای نفسه آرام نیوونکیه (په ذکر زما شاکر په نعمت زما صابر په زحمت زما) وګرځه (له دنیا نه) په طرف درب خپل حال داچې راضي خوبښ به یې ته (له الله تعالی څخه او الله تعالی، راضي اوخوښ (به وي له تا څخه) بیا ننوځه په (نیکانو) بندګانو زما کې اوننوځه په جنت زما کې؛ سره له نورو مقربینو)

یعنې ملائکې ورته راشي، دغه ملائکې ددغو انسانانو له پاره زېرې ورکوي اود زنکدن په حالت کې ورته وايي چې: ﴿ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ۝﴾ (سورة فصلت) اوپه دغه حالت کې ده ته دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ملاقات نه زیات بل شی محبوب نه وي. اودایې رغبت وي چې هسې زر مې روح قبض کړل شي ترڅو دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ملاقات وکړم،

## په قبر کې اولیاء کراموته زېرې

او په قبر کې یې بشری (زېری) داده چې: دده عمل صالح ورته په ښائسته شکل کې راشي زېری وربانديې کوي چې انعامات الهي دې مبارک شه. دی ورڅخه پوښتنه کوي چې ته څوک یې؟ ستا رنګ خو د زېري کوونکي ده، دی به ورته وايي چې: زه ستا هغه نېک عمل یم.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ - أَوْ قَالَ: أَحَدُكُمْ - أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ، يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا: الْمُنْكَرُ، وَلِلْآخَرِ: النَّكِيرُ، فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ: مَا كَانَ يَقُولُ: هُوَ عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا، ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ، ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ، نَمْ، فَيَقُولُ: أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ، فَيَقُولَانِ: نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ، حَتَّى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ، الحديث . ﴾ [جامع الترمذي ج ۱/ ص: ۲۰۵ ابواب الجنائز باب ماجاء في عذاب القبر رقم الحديث ۱۰۷۱]

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي دي: چې کله مړی يا يو د تاسې په قبر کې کېښودل شي، دوه ملائکې له رنګه تورې او د شنو سترګو خاوندانې ورته راشي چې يوه ملائکه په نامه د (مُنکَر) او بله په نامه د (نَکير) ده، دغه مړي ته وايي چې ته د دغه سړي په هکله څه وايې، داڅوک دی؟

نو دی به ورته وايي: هغه څه چې په دنيا کې يې ويل: چې دا دالله تعالی بنده او دهغه رسول دی زه په دې شاهدي ورکوم چې الله تعالی يو دی او محمد صلی الله علیه وسلم دده بنده او رسول دی.

نو دغه دوه ملائکې به دده له سم خواب ورکولو وروسته ده ته زيری ورکوي چې مونږ مخکې لا پوه وو چې ته به مونږ ته سم

Scanned with CamScanner

(c) Pashtabton.com: The Digital Library



خوابونه راکوې. «دوی ولې پوه ۇ؟ یا له دې وجې چې دوی پې دنیا اعمال صالحه لیدلي ۇ، یا له ظاهري انوارو څخه به یې معلومه کړي. چې په قبر کې په ده د عبادت آثار پراته دي، چې د هغې په اثر یې ملائکې پېژني.»

بیا ده ته قبر فراخه شي اویا(۷۰) گزه په اویا(۷۰) گزو کې، بیا په قبر کې نور ورته شروع شي. او ملائکې زیری ورکړي چې د دنیا له غمونو او تکلیفونو څخه خلاص شوې ستا له پاره ابدي ژوند او راحت دی ویده شه! دی به ورته ووایي زه یو ځل خپل اهل ته بیرته ورځم چې زما ددې ښه حال خبر ورکړم. نو دوی دواړه به ورته ووایي: چې د نوې ناوې په شکل باندې آرام خوبونه کوه، هغه ناوې چې نه یې راویښوي مګر خپل میړه به یې راویښوي، نو دغه مړی به په قبر کې دغسې په ارام وي ترڅو چې الله تعالی یې له قبر څخه راپورته کړي د حشر په ورځ.

کله چې بیا له قبر نه راپورته شي بیا په هغه حالت کې هم د دوی له پاره بشری (زیری) وي. د قبر نه چې سړی راپورته شي د هیبت حالت وي، کله به داسې درونډ هیبت وي چې یو بل به نه سره پېژني، لکن دلته د دغو بزرگانو هیبت او وېره هرڅه ختمیږي، دلته بیا د دوی له پاره بُشری وي. دا د اولیاوو له پاره د زیري عاقبت ده انعام نه ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿عن معاذبن جَبَل قال سمعتُ رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول قال الله تعالی وجبت محبتی للمتحابین فیّ والمتجالسین فیّ والمتزاورین فیّ والمتباذلین فیّ﴾ [مشکاة المصابیح ج: ۲ /ص ۴۲۸/ باب الحبّ فی الله ومن الله]

ژباړه: له حضرت معاذبن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې اوریدلي ویل یې: چې الله تعالی فرمايي چې: دوه سړي خاص دما له پاره په خپل منځ کې محبت کوي اودما له پاره سره ملا ویږي سرکینې دماله پاره خرچه کوي دهغو له پاره زما محبت واجب شو.

﴿عن عُمر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان من عبادالله لأُناساً ما هم بانبیاء ولاشهداء یغبطهُمْ الانبیاء والشهداء یوم القیمة بمکانهم من الله قالوا یارسول الله تخبرنا مَنْ هُمْ قال هم قومٌ تحابّوا بروح الله علی غیر ارحام بینهم ولا اموال یتعاطونها فوالله ان وُجُوهم النور وانهم لعلی نور لایخافون اذا خاف الناس ولایحزنون اذا حزن الناس وقرأ هذه الایة ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝٦٢﴾

[مشکاة المصابیح ج: ۲ ص: ۴۲۸ باب الحبّ فی الله ومن الله]

ژباړه: له حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ځینې دالله تعالی له بندګانو داسې دي چې نه انبیاء دي، نه شهداء دي خو په قیامت کې به ددوی په حالت باندې انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او شهداء هم غبطه او تمنا کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه چې: یارسول الله صلی الله علیه وسلم! دا څوک دي ؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې داهغه کسان دي چې ددوی مینه او محبت یوازې دخدای پاک درضا له پاره ؤ ددوی یوځای کیدل یوازې ددین په بنیاد وي کومه نسبي او دنیاوي خپلولی یې هم ترمنځ نه وي دراکړې او ورکړې سلسله یې هم ترمنځ نه وي ، بلکې یوازاې او یوازې دخالق لایزال رضا او خوشحالي یې مقصد او موخه وي.

اوپه الله تعالی مې دي قسم وي چې: مخونه به یې نوراني او ځلیدونکي وي د نور په منبرونو به ناست وي. په دوی به کومه وېره نه وي په هغه ورځ چې نور خلک به په غم او وېره اخته وي، دوی به نه غمجن وي په داسې حال کې چې په دې ورځ به نور خلک غمجن وي

بیایې دغه آیت ولوست: ﴿ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ الایه ﴾.

یعنې دغو خلکو ته به الله پاک جل جلاله دغه مقام اومرتبه ورکوي. دا محبت د خدای پاک جل جلاله د رضا له پاره چې دوه مسلمانان یې په خپل منځ کې کوي نودا یې بیا انجام او انعام ده. دوی ته دا مقام ولې پیدا کېږي چې له هر قسم پرېشاني نه به په قیامت کې محفوظ وي ؟

ځکه یو له بل سره یې ناسته ولاړه هرڅه دالله تعالی درضا له پاره دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داولیاؤ سره تړاو او دهغوی زیارت کول ګټور دي

د اولیاء کرامو ملاقات او دهغوی زیارتونو ته تلل قسم په
خدای ده چې دومره زیاتې ګټې پکې دي چې په خپل عمل سره یې
په ډېر وخت کې هم نه شي ګټلای. ځکه دهغوی ددعاؤ او لیدلو
اثرات په سړي کې ډېر زیات او ګټور بدلون راولي ، خو که
یوڅوک دهغوی هغه اثرات او انوار وویني
خو هرڅوک یې نشي لیدلی دچاچې سینه پاکه وي وظایف یې
ترسره کړي وي سینه یې دالله په نامه منوره او روښانه کړې وي
هغه یې بیا ویني او په خوندیې هم پوهیږي . نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ
وایي چې: له هغو خلکو سره زما محبت حتمي او دتل له پاره دی
چې دوی راکړه ورکړه ، تعاون، محبت زما د دین له پاره کوي او
چې له چا سره د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ محبت پیدا شو نو دی د
محبوبینو له ډلې څخه شو، اوس چې محبوب شو نو د خدای
پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دوستانو او محبوبینو او مُرادینو له ډلې څخه شو
ځکه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي چې: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ
عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾﴾ (سورة یونس آیت ۶۲) چې زما په ولیانو
به نه خوف وي او نه به دوی غمجن وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل ثمره نتیجه د ولایت مونږ لا تراوسه ذکر کړې نه ده یواځې علامې، تعریف، د عاقبت په لحاظ په قرآن کریم کې زیری بیان شو.

## د ولایت پایله نتیجه جنت ته تلل دي

نو نتیجه د ولایت جنت ده. زیری په دنیا کې ورکړل شو، اصل ځای د انعام به په جنت کې وي. دا زیری دوی ته په قبر کې ورکړل شو، زیری د حشر په حالت کې ورکړل شو. په قیامت کې به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څرنګه مقام اولیاء کرامو ته نصیب کوي؟ نو په حدیث مبارک کې راځي:

﴿عن ابی هریرة قال کنتُ مع رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال رسول الله ان فی الجنة لعُمُدا من یاقوت علیها غُرَفٌ من زبَرْجَد لها ابوابٌ مفتحةٌ تضِیء کما یُضِیء الکوکب الدُّرِّیُّ فقالوا یارسول الله من یسکنُها قال المتحابُّون فی الله والمتجالِسُوْنَ فی الله والمتلاقون فی الله﴾

[مشکاة المصابیح ج. ۲/ ص: ۴۴۹]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: زه له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وم نو وې ویل چې په جنت کې د یاقوتو متې (ستنې) دي چې په هغو باندې بنګلې دي چې له زبرجدو څخه جوړې دي او دروازې یې خلاصې دي داسې ځلیږي لکه ښه روښانه ستوري، صحابه کرامو ورنه وپوښتل اې رسول الله! دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دچا له پاره دي څوک به پکې اوسیږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : دهغه چا له پاره دي چې یو له بل سره مینه اومحبت ناسته ولاړه اوملاقات خاص زما درضا له پاره کوي.

د اولیاء کرامو ځای به د عامو مسلمانانو په نورو طبقاتو په جنت کې دومره پورته وي لکه د ځمکې څخه چې آسمان ته گورو او هغه غټ ستوري چې په افق کې ځلیږي، نو هلته به ددوی منازلو ته په جنت کې نور مسلمانان داسې گوري. او هغه انوار یې دي چې په قیامت کې به دوی په هغو آسانو سپاره وي چې وزرونه به یې وي او زینونه به یې له یاقوتو او لاجبرو جوړ شوي وي. دوی چې کوم ځای ته وغواړي نو په هوا باندې به یې دغه آسان هغه ځای ته رسوي. د لاندنیو طبقاتو او ټولیو په انوارو به پټ والی او خفا راځي اودالاندي طبقې او ډلې به پوښتننه به کوي چې دا زمونږ انوار چا راپټ کړل.

څکه خدای پاک فرمایي: ﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ۝ حَدَآئِقَ وَأَعْنَبًا ۝ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ۝ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴾ (سورة النبا)

ژباړه : بیشکه خاص متقیانو ته (په اخرت کې) ځای دی خلاصي بري کامیابي دی باغونه (دمیوي) او دانگورو (ونې) دي اوپیغلې انار تیوني هنځولي دي. او (متقیانو ته په جنت کې دشراب طهور) پیالې ډکې تر څنډو (غاړو) دي.

ددې آیت خودا معنا شوه چې قرب الهي د الله دوستي د هغه پیدا اینبت هغه بې له دې نه نه راځي. خو سببونه یې دا شو. سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو مؤثر نه وي، مؤثر خو الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ ده. ځکه محبوبېز
مرادين دي هغه بيا د دغونه هغه مقام چې طبقه د اويسيانو ده چې
خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې هغه مقام ته رسوي. خو کوشش به دا کوو
چې ترڅو له نېکو خلکو سره ډېره ناسته پاسته وکړو. نو چې
محبت وي او هغه هم په اخلاص سره، نو بيا به کار جوړېږي. او که
داسې نه وي نو بيا خو منافقين هم له پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره
کېناستل، خو چې اخلاص يې نه درلود نو بيا دوی هم له دنيا
څخه کافر ولاړل په دې لاره کې به انقياد او اطاعت وي او که هغه
دخپلې طريقې له بزرګانو نه مخالفت او انکار شروع شي نو بيا
سراسري هلاکت دی، ترقي به په خوب کې هم ونه ويني

حضرت صاحب مبارک ته چا شکايت وکړ چې صيب ! دومره
وخت مې په وظائفو کې تېر شو او هېڅ په مخ نه ځم او نه په ځه
باندې پوهېږم. خلک چې وظيفې واخلي نو کشف او نورې لارې
چارې يې ښې پر مخ روانې وي او ماته په دا دومره وخت کې هېڅ
هم په لاس نه دي راغلي. وايي ده مبارک ورته وويل چې: خوراک
کم کړه، مجلسونه کم کړه او ذکر ډېر کړه، د طريقت رنګ مه بدوه.

حضرت مجدد صاحب قدس الله سره العزيز فرمايي چې:

چشم بند و گوش بند و لب بند　　　گر نه بینی سر حق بر من بخند

سترګې له غلط نظر څخه وساته، ژبه له غلطو خبرو څخه
راایساره کړه او غوږونه غلطو خبرو ته مه نيسه. که بيا دې هم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي اسرار ونه ليدل نو بيا په ما پورې وخانده. چې تا خو هسې راته خبره کړې وه او څه نتيجه يې نه درلوده.

دا اندامونه خو ټول د زړه جواسيس دي، زړه ددوی له لارې خرابيږي، ښائسته شي دې وليد نو د زړه محبت دې دالله پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ذکر نه راوګرځاوه. په غوږونو باندې دې سرود او آوازونه واورېدل نو دزړه محبت دهغه په طرف ولاړ. نو له دغو ناوړه او بې خونده کارونو څخه دغه اندامونه راايسار کړه په خپله به دې کارونه ټول که خدای ته منظوره وي جوړ شي. دا کارونه چې ته وکړې نو بيا به دې په وظائفو کې هم اثر وي. که نور په هېڅ نه پوهېږې نو په دې خو به ضرور پوهېږې چې قلبي اطمينان به درته حاصل شي اود خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په بندګي به درته لذت حاصليږي. په خپله ا... پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ ٱللَّهِ ۗ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ ﴾ [ سورة الرعد]

ژباړه: (دغه رجوع کوونکي) هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی. او ارام نيسي زړونه د دغو (مؤمنانو) په ذکر دالله تعالی سره، واورئ خبردار شئ چې په ذکر دالله تعالی سره مطمئن کيږي ارام نيسي زړونه (دمومنانو).

د وظيفې اصل بنه توب دغه ده دا مونږ چې له هرچا سره وظيفې کوو ددې مشائخو کرامو د هريوه د وظائفو جلا جلا کيفيات او خوند وي. مشايخ دګلانو په شان دي هرګل ځانته رنګ

(c) ...on.com: The Digital Library



او ځانته خوشبويي لري ديو چا دوظيفو په بنه توب او بېكارنوب چې پوهېږي دا علم الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورکوي، چې بيا له ځانه پوښتنه وشي چې زړه دې تنګيږي او کنه ؟ دی وايي چې هو ! دا زړه يې ولې تنګيږي ؟ ځکه چې هلته په زړه کې کدورات وي نو ځکه هلته زړه په تنګ وي. ځکه چې مونږ مخکې په تفسير کې ويلي و: هغه درې صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې پنځوس ورځې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او نورو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورسره مقاطعه کړې وه. او خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بيا ددوی حال داسې بيانوي:

﴿ وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١١٨﴾ ﴾

[سورة التوبه آيت ۱۱۸]

ژباړه: او (خصوصاً) پرهغو درې تنو چې بيرته پاتې وو (له قبوله د توبې) ترهغه پورې چې تنګه شوه پر دوی ځمکه (په سبب دبې التفاتي دخلکو) سره له ارتوالي ددې (ځمکې) او تنګ شو پر دوی زړونه ددوی (له ډېره غمه) او يقين يې وکړ چې نشته ځای دپناه له (قهره د) الله (هيڅاته) مګر هم ده ته دی، بيا رجوع وکړه (الله) پر دوی (په توفيق د توبې سره) له پاره ددې چې توبه وباسي دوی، بيشکه چې الله هم دی بنه توبه قبلوونکی ډير رحم والا (په انعام داجر او ثواب سره).

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته تفسير ليکي : داچې تو له ځمکه پرې تنګيږي ځکه چې زړه يې په تنګ ده، ځکه کور خوند نه ورکوي، اوداا ثر د الله پاک جَلَّجَلَالُهُ د حُکم مخالفت. او چې کله يې توبه قبوله شوه نو ځرنګه يې بيا شرح صدر نصيب شو. ځکه چې هلته هغه کدورات ختم شول. داچې زړه ته تنګي پيدا کيږي دا هلته پيدا کيږي چې نظر خراب شي، غوږونه غلط څه واوري، خوراک غلط وشي، چې هرڅه غلط شي هلته فی الحال اثر پيدا کوي. خو په دې اثر باندې د اهل طريقت نه پرته نور خلک نه پوهيږي. په پاک ځای کې د بوی اثر ښکاره کيږي، په سپينه جامه باندې اثر د خيري ښکاره کيږي. ښنګيان تو له ورځ تشنابونه صفا کوي سره له دې چې پوزه يې نه وي تړلي خو بوی هم نه ورځي.

﴿عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللهِ قَالَ: هَاجَتْ رِيْحٌ مُنْتِنَةٌ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «اِنَّ نَاساً مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ قَدْ اَغْتَابُوا أناساً مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ، فَلِذٰلِکَ هَاجَتْ هٰذِهِ الرِّيْحُ الْمُنْتِنَةُ»﴾

[ رواه الامام احمد ، ۱۴۲۵۷ ، تنبيه الغافيين ، عربي مکتبه حقانيه ص- ۸۶]

ژباړه : له حضرت جابر ابن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی وايي: يو وخت دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې څه بدبويي راغله ، نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل چې: دا په کوم ځای کې منافقينو د مسلمانانو غيبت وکړ.

له ځيني علماوو نه پوښتنه شوې چې دا غيبتونه خو نن صبا ډېرزيات کيږي نو اوس يې ولې د بدبويي احساس نه کيږي ؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوخواب یې دادی چې په هغه وخت کې فضا پاکه وه، ګناهونه نه وو نه و،نو په صافه فضا او پاک ماحول کې د بدبويي اثر زر ښکاره کیږي. په ټتی. کې د بدبويي اثر زر نه ښکاره کیږي اوپه پاک ځای کې زر ښکاره کیږي.

په حدیث مبارک کې راغلي چې: څوک دروغ ووایي نو کرام الکاتبین ملائکې چې همیش له ده سره ملګري وي اوده اعمال لیکي، تو هغه ددغه شخص د دروغو له وجې یو میل لرې ولاړې شي.

په حدیث شریف کې دي چې: په زړه کې د ایمان نور وي. داچې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکر ډېرېږي نو نور زیاتیږي . اوس نو چې ګناه وي نو طبعاً هغه نور ختمیږي. سترګو چې رڼا لیدلي وي نو چې کله برق ولاړ شي تیاره پیدا کیږي. او په تیاره کې چې څوک روان وي لکه داشپانه تول عُمر د شپې په غرونو کې روان وي او څه فرق نه ورکوي. خو له کور نه چې څوک راووته او په کور کې یې برق وي بیا نو لار نه ویني. چې یو ځل رڼا وي نو بیابه په تیاره پوهیږي . چې له اول نه یې تیاره وي بیا د تیارې وړاندې څه اثر نه وي.

دغه د وظیفو په اصطلاح کې هم دا خبره ده، دا زمونږ وظیفې ډېرې کمزورې دي.

په بخاري شریف کې د توجهاتو څلور قسمه ذکر کیږي:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توجه په څلور قسمه ده

اوس توجه څو په څو قسمه ده دلته کومه توجه شوې ده؛نو کتابونه لیکي چي توجه په څلور قسمه دی :

اول توجه انعکاسي،دوهم القائي،دریم اصلاحي اوڅلورم اتحادي، ددغو څلورو قسمو توجوګانو مثالونه په محسوساتوکې په مختصره توګه بیانیږي:

**اوله انعکاسي توجه ده** :

ددې مثال داسې دی لکه چې یوه سړي خوشبويي استعمال کړې وي اويو مجلس ته ورشي ،نو ددغه مجلس ټول خلك دده له دغې خوشبويي نه مستفید(ګټه) ترې واخلي،لکن کله چې هغه سړی دمجلس نه ووت یاهغه خلك له مجلس نه ووتل نو خوشبويي ختمه شي خکه چې داعارضي فائده وه،نوابتدأ چې سړی مرید شي اوله یوه پیریاخلیفه صاحب نه بیعت وکړي؛نو ددې نفس بیعت دومره ګټه دته رسیږي چې کله هم دخپل پیراومرشدپه مجلس کې ناست وي نودهغه مرشد دانواروانعکاس اواستفاده کولی شي،یادهغه شیخ په زړه کې چې کوم انوار اوفیوضات چې دخدای پاك جَلَّ جَلَالُهُ له طرفه نازلیږي دهغه فیوضاتواوانواراتو تجلیات دده په زړه باندې هم راځي اوشوق دوظیفي ورسره پیدا کیږي ،لکن کله چې دی دخپل مرشداوشیخ له مجلس نه جدا شي بیاهغه اثرنوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


يالکه دبرق بلف چې بَل شي اوهغه بلف ته مخامخ بوه شيشه کيښودل شي نوترڅوچې برق بَل وي ددغې رڼايي په دغه شيشه کې وي،نودغه شيشه دهغې رڼا نه انعکاس کوي، اوپه بل څه شي باندې هم ورانګه غورځوي خوکه چېرته بلف مړشي ياشيشه له مخې لرې کړای شي؛نوهغه انعکاس اورڼايي هم ختمه شي ،نومريد هم په ابتدايي مرحله کې دخپل پيراومرشدپه يواځې بيعت سره چې ترڅو د خپل وظايف نه وي شروع کړي دومره ګټه ورته رسوي چې د پير په مجلس کې کيناست نودشيخ دزړه دانواروانعکاس دده زړه ته کيږي لکن کله چې سره جداشي هغه اثرختم شي.

**دوهمه توجه القائي ده:**

ددې مثال داسې ده لکه چې پخواني شيطان چراغونوکې به سرې تيل اوپلته واچول اوبيابه يې له بل چراغ نه بل کړ،نودې به رڼاشو،دابياتردې بل چراغ پورې تړلی نه دی چې بل چراغ وي نوررڼاکوي اوکه نه وي نورڼا نکوي ،لکن رڼايي ضعيفه وي په کم باد سره مړکيږي ،نوی مريدهم چې کله اذکارشروع کړي يوڅه ترقي وکړي دهغه اولني حالت نه چې توجه انعکاسي وه يوڅه په وظيفوکې کوشش شروع کړي نودده په زړه کې خپل انوارپيداشي دهغواذکارواثرپيداشي.

نوکله چې له خپل شيخ سره وي نوانوارېې ډېر تيزوي اوچې کله دخپل شيخ نه جداشي نوانوارخونه ختميږي خواحتياط غواړي اودشريعت په چوکاټ باندې به ځان برابره وي،خوکه خوراك ګډوډ شي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلس ګډوډ شي او بې احتياطي وشي نو بيا انوار ختم شي او بيا بيرته تياره جوړه شي.

## دريمه توجُه اصلاحي دي:

دا له مخکنيو دواړو نه قوي ده ددې داسې مثال ده لکه يو لوی درياب چې اوبه پکې رواني وي او له دې درياب نه يو وړوکی نهر جدا شي، په دغه نهر کې د خپل ګنجايش په اندازه اوبه رواني وي، خو دغه نهر په کم شي نه بنديږي ترڅو چې دده په خوله کې لويه تيږه نوي لوېدلې او خوله يې بنده شوې نوي او له دې نهر نه يوې او بلې خواته لړونه نوي شوي، دا رنګه د مريد حال دی چې کله په خپلو وظايفو کې شه کوشش وکړي نو ددې کوشش داسې اثر پيدا کيږي چې نفس له خپل پير سره رابطه ونيسې نو دته يې فيض او برکت دهغه نهر په شکل رسيږي چې د افيض او برکت په ماموليې لهو او لعب او بيکاره مجلسونو نه ختميږي ترڅو چې لوی ګناهونه ورنه صادر شوي.

نوي دافيض او برکت جاري وي، او که چيرته لوی ګناهونه صادر شي نو ترڅو يې چې اصلاح نوي شوي، چې هغه عبارت ده له توبې نه، تر هغه د شيخ فيض او برکت بيا نه جاري کيږي، خکه چې اصل نهر خوشته خو يو اخې خوله يې بنده شوې دی، کله چې په اخلاص توبه وباسي هغه فيوضات بيرته ده ته د پخوا په شان جاري شي.

## څلورمه توجُه اتحادي ده:

دا توجُه اخرنی مرحله د توجُو ګانو ده چې شيخ خپل زړه د مريد زړه ته متوجې کړي، نو شيخ القاد نسبت تامه وکړي يعنې خومره کمالات

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوفیوضات چې دده په ځان کې وي هغه ټول مرید ته منتقل کړي، نو د هغه کې هم هغه کمالات اوفیوضات پیداشي چې کوم دهغه په پیرکې موجودو، داچې بیعت انتهاته رسیږي او دخلافت سلسله ورته پیداکیږي نوخپل ټول کمالات خپل مرید ته انتقال کړي، ددې دامعنا نه دی چې شیخ له دغوفیوضاتواوکمالاتونه خالي شي بلکې دشیخ دفیوضاتومثل په مرید کې پیداشي [ضیاء البخاري شرح صحیح البخاري اول ټوک ۲۰۵مخ.]

د ہر مُریدان داسې دي چې دمشائخو سره کله وي ښې وظیفې کوي، ښه کوشش کوي، خو چې کله بل ځای ته ولاړ شي چې یو څه وخت تیریږي ، تعلق ختم شي ، دلته خو د کثرت مجالست سبب ده، چې ناسته ولاړه به ډېره کوي ، چې ناسته ولاړه ختمه شوه محبت ختمیږي ما درته وویل چې دا ولې مؤثر ده ؟ څکه چې هغه دده د زړه شی د ستا زړه ته راځي. دده د قالب شی ستا قالب ته درځي. چې تعلق ختم شو هغه شی پردی شو او بېرته په ورو ورو درنه ځي.

محبت به له نیکو خلکو سره ساتو. بیا نو امید شته چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به یو څه شی راپکې پیدا کړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳) مجلس

## له خپل مرشد سره مینه او محبت اوله هغه سره د تعلق اهمیت

په طریقت کې تر ټولو اهم او ضروري شی دادی چې دیو سالک (مرید) له خپل شیخ (پیر) سره تعلق او تړاؤ زیات وي، د مخکنیو اولیاء الله وو حالاتو او واقعاتو ته که ځوک وګوري هغوی چې ځومره لوړې مرتبې اومقامات ترلاسه کړي داټول یې د خپل شیخ (پیر) په ملازمت، محبت، انقیاد او د خدمت کولو له امله ورته نصیب شوي دي.

## دخپل پیر په اراده دحضرت خضرعلیه السلام نه اعراض کول

یوځل شاه نقشبند رَحِمَهُ اللهُ د امیر کلال بخاری رَحِمَهُ اللهُ دلیدلو له پاره له خپل کور څخه ووت، په لاره کې حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام په مخه ورغی، شاه نقشبند رَحِمَهُ اللهُ هیڅ ورته ونه کتل، نوبیا حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَام ځان وروپیژانده چې زه خضر یم اوبه ماپسې خلک له

لرې لرې ځایونو څخه کوښښونه کوي چې له ماسره ووینې اوته زما لوري ته هیڅ التفات نه کوې! نوده په خواب کې ورته وویل چې زه له خپل کور څخه دخپل پیر او مرشد دلیدلو په اراده راوتلی یم، دبل چا دلیدلو قصد او اراده نه لرم . هغه ددې تمنا او آرزو لري چې شاه صاحب رَحِمَهُ اللهُ ورسره مجلس وکړي، خو دی حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته توجه نه کوي، حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ چې دچا معاون جوړیږي هلته جوړیږي چې دچا له خپل شیخ سره تعلق اومحبت وي، یو ولی چې دچا معاون واقع کیږي داهلته چې دهغه له خپل شیخ سره تعلق جوړ وي.

[حضرات کرام نقشبندیه (اردو) ص: ۱۸۲]

ددغې سلسلې مبارکې چې څومره مشایخ کرام دي آن تر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورې نودچاچې له خپل شیخ سره تعلق او محبت وي نوددغو ټولو له ده سره علاقه پیداکیږي اوکه خدای مه کړه په دغه لاره کې یې له یوه ولي څخه نفرت او کرکه وشوه ، بیانو دټولو کرکه اونفرت ورڅخه کیږي، ځکه ددوی ټول کار یواځې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له پاره وي، اودچاکار چې یواځې د خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له پاره وي اوته له هغه سره عناد کوي نودا په اصل کې ددغې ټولې سلسلې سره عناد دی، نوځکه د سړي کار خرابیږي، داچې دیوه سړي تعلق او محبت پیداکیږي خوددغه نیت له وجې پیداکیږي چې دخدای جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له پاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پیر یا استاد کې چې کوم کمال ده هغه هم ددغه دین له امله ده، نوڅوک چې ددوی سره محبت لري هم هغه ددغه دین په خاطر یې لري، که هغه دنیاوي تعلقات په شخصیاتو باندې بنا وو لکه چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې: کله سړی مړ شي ، له ده سره درې ملګري روان وي، عمل یې هم ورسره وي، دنیا هم ورسره تریوڅه اندازې پورې وي، خو په پای کې دغه خپل خپلوان او هستي جایداد ورڅخه بېرته راګرځي، یواځې هم دغه خپل عمل ورسره په قبر کې وي.

نوکه له یوچا سره دشخصیت په بنا ملګرتیا او دوستي وه اودین په خاطر نه وه، نودشخصیت په لحاظ دهغې دوستۍ هېڅ ګټه نه ورته رسیږي، هغه هم دخدای تعالی یو بنده اومخلوق دی، په خپله په هرڅه کې الله تعالی ته محتاج دی،نوتاته به یې څه ګټه ورسیږي؟ اوچې کله تعلق او محبت ددین په خاطرشو لکه یوڅوک له عالم سره محبت کوي هغه دهغه د علم له امله یې کوي، نو خامخا به یې ده ته ګټه رسیږي.

څکه نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې له علماوو سره مینه او محبت دا په حقیقت کې له ماسره ده او له ماسره مینه اومحبت له الله تعالی سره محبت ده، له علماوو کراموسره دښمني له ماسره دښمني ده اوله ماسره دښمني له الله تعالی سره دښمني ده. خدای مه کړه که یوڅوک دخدای پاک سره دوښمني کوي نو پایله به یې جهنم دنیوي او اخروي ژوند به یې له بد برخلیک سره مخ وي.

Scanned with CamScanner

(ketabton.com: The Digital Library)


نو دعلماء کرامو تعلق او تړاؤ دالله تعالی اورسول اکرم ﷺ سره دی ، مطلب داچې له یوه سره محبت له ټولو سره محبت ده اوله یوه سره دښمني او عداوت له ټولو سره دښمني ده.

نو تر ټولو اړین او ضروري شی او دپام وړ خبره داده چې د مُرید او سالک به له خپل شیخ (پیر) سره علاقه وي.

مطلب داچې په دغو مجلسونو کې ممانعت نشته، مثلاً دیوې طریقې چې څومره مشائخ کرام دي لکه زمونږ دحضرت صاحب مبارک د سلسلې چې څومره مشائخ کرام دي ددوی ټولو په خپل منځ کې یوبل ته اجازه شته. مطلب داچې په ورتلو، صحبت، توجه کولو اوپه وظیفو بدلیدلو کې یوبل ته اجازه شته. خو اعتماد به دې په خپل شیخ وي. په اوله ورځ چې دې له چاڅخه بیعت کړی، که څه هم دبل چا په مجلس کې تاته څه تاثیر پیدا کېده بیابه هم ته داوایې چې داماته دخپل مرشد له طرفه ده، له چاسره چې زما تعلق دی،ځکه دغه لاړ اول هماغه مرشد درته خلاصه کړې ده. دبلې سلسلې دمشائخو سره دغسې په مجلس او صحبت کې څه ممانعت نشته، خوپه وظیفو کې کله کیفیات بدل وي، د هرشیخ خاته خصوصیت وي، ددې له وجې کله کله په وظیفو کې څه تکلیف پیدا کېږي.

له دې وجې نه چې دخپل مرشد سره تعلق ډېر ضروري ده د نقشبندیې مبارکې سلسلې کتابونه لیکي چې: که دچا له وسه پورې وي نوباید له خپل مرشد سره هره ورځ ووینې، اوکنه په جُمعه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دې ورسره ووینې، اوکه داسې هم نه شي کولای نوپه میاشت کې دې خامخا ورسره ووینې ، که بیاداهم نه شي کولای نوپه دوه درې میاشتو کې دې ورسره ووینې، که امکان دلیدلو یې نه وي رابطه دې جاري ساتې اورابطه دې نه پرېږدي.

## چې له مرشد سره مینه او تعلق وي نو د (مرشد) پیر له خوا به هم مینه او توجه وي

مرحوم سراج المشائخ احمد ضیاء خلیفه صاحب ته موږ ورغلي وو، نو په هغه مبارک مجلس کې درابطې او تعلق په هکله خبره سره یاده شوه، نو خلیفه صاحب وویل چې: مخکینیو سالکینو دا اشعار زیاتره په حقیقت بنا دي ، لکه مولانانقیب احمد صاحب د ( پنج کتاب ) په حاشیه کې لیکلي دي:

**مصری**

که راته ګورې ذرته ګورم - که راته نه ګورې پروا دې نه لرمه

دغه پورتنی مصری ددې آیت مضمون دی چې الله تعالی فرمايي: ﴿فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ﴾ [سورة البقره آیت:۱۵۲]تاسې ما یادوئ زه به تاسې یادوم.

نوله خپل مرشد او شیخ سره چې دسالک تعلق اومحبت وي ، نودغسې به دهغه له لوري هم محبت اوتعلق پیدا کیږي. بیا دمرید

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینې ته فیوضات او انوار هم په اسانۍ سره راځي له دې امله نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ﴿ تَهَادُوْا تَحَابُوْا ﴾ یوبل ته تحفې ورکوئ چې محبت مو سره پیدا شي، دخدای تعالی د رضا تعلق مو سره پیدا شي، له دې لارې ستاسې کار ډېر جوړېږي. په یوه بله مصرۍ کې وایي چې:

مینه په تلو راتلو زیاتیږي
کله راځه کله به زه درځم مینه

داهم ددغه آیت او حدیث شریف مضمون ده.

اوبه بل حدیث قدسي کې نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وایي چې: ﴿ څوک ما یادوي نو له ماسره به یې محبت پیداشي، اوچاچې له ماسره مینه اومحبت پیدا شو نوبه مابه عاشق شي، څوک چې په ما باندې عاشق شو نوزه به په دده باندې عاشق شم اوبه چاچې زه عاشق شوم نوبه خپل عشق کې یې قتل کوم اوچې په خپل عشق کې یې قتل کړم نوبیادهغه ﴿ دیت ﴾ زما دیدار ده.

نو اصل غرض اومطلب داده چې د ډېرو سالکینو او مُریدانو حال داسې ده چې په کثرتوب کې یې بیعتونه کړي وي اوبیاد ډېرو لویو کتابونو طالبان وي اوهغه سلسله ټوله ورځخه پاتې وي. ددې یواځینی علت دادی چې دهغو له خپلو مشانخو سره تعلق ختم شوی وي، مرید چې پنځه یا شپږ کاله له خپل مرشد او مربي سره ونه ویني نودهغه به له خپل شیخ سره څه تعلق اومحبت وي؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودهرچا چې له خپل شیخ سره محبت اوتعلق وي، نودهغه چې یواځې سترګې پرې لګیږي بیایې دغه مرید له توجه څخه دباندې نه وي، دهغه هم بیادغسې په دعاګانو کې برخه وي، به هرحال! په هرعنوان باندې چې وي تعلق یې خامخا ورسره وي.

الحمدلله خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ مونږ اوتاسې ته په دې ژوند کې دومره موقع او فرصت راکړی دی، که په مونږ کې غفلت نه وي ، نودومره سختي او تنګي لا نه ده راغلې چې مونږ دین او دینداري ته خلاص نه یو، یعنې څوک مو په شریعت، علم یا طریقت باندې دومره نه خوروي چې مونږ نه علم ته خلاص یو، نه ذکر ته خلاص یو اونه له خپلو مشائخو سره تعلق ساتلای شو.

که یوڅوک دصحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ژوند ته یو نظر وکړي نو په هغوی مبارکانو باندې ډېر زیات تکلیفونه تېر شوي دي، همدارنګه په مخکینو اولیاء الله مبارکانو باندې څومره تکلیفونه تېر شوي دي؟ سره له تکالیفو یې بیا دخواږه پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعلق او تړاؤ او نورو نیکانو سره له ډېرو تکالیفو دخپلو مشایخو تعلق او تړاؤ نه دی پرې ایښی.

## یوه دردوونکې واقعه

له امام شعبي رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دی وایي: چې یوځل حضرت خباب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغی ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته پورته شو اودی یې په خپل ځای کېښناوه. حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

Scanned with CamScanner

(c) kitabtoor.com: The Digital Library



ورته وویل: ددې ځای د کېناستلو لائق یو ازې ته یې ایو بل څوک هم شته چې هغه تر تا هم ور او حقدار دی، ده ورته وویل: ای امیر المؤمنین! هغه څوک ده ؟ حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وویل چې هغه حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دی، ځکه چې هغه د اسلام په راوړلو کې ډېرزیات تکلیفونه تېر کړي دي. حضرت خباب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وایې چې: نه ' زما دې په خدای قسم وي چې ترما یې زیات تکلیفونه دي تېر کړي، ځکه ده د کفر په وخت کې هم، چې کفارو به عذاب ورکاوه ،نو ده له پاره داسې یوڅوک د سپاربښتنې پیدا کېدل چې دی له هغه عذاب څخه خلاص کړي په ماباندې داسې وخت هم راغلی دی چې یو وخت کافرانو راته اور بل کړ ، کله چې اور صاف او سکاره جوړ شول، نو په دغه سره انګار باندې یې څملولم اوبرسېره په سینه باندې یې راته پښه کېښوده ، زما دې دخدای په ذات قسم وي ترڅو پورې چې هغه د اور سکروټې زما په وینو او وازدو سړې شوې نه وې ترهغې پورې مې ملا ځمکې ته ونه رسېده، بیا حضرت خباب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته خپله شاه لوڅه کړه او ورته یې وویل چې داد هرې سکروټې ځای دی، هرځای یې داغل شوی و، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله دده مبارک دبدن دغونه ولیدل نو ویې ویل چې ما تراوسه داسې تکلیف زغمل دچانه ؤ لیدلی چې په اسلام کې دې په چا دومره تکلیف تېر شوی وي.

ا حیاة الصحابة الجزالاول ، عربي ، کتب خانه فیضي لاهور ، ص: ۱۳۸۲

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا داسلام له پاره و، دا داسلام له امله و، چې اسلام یې قبول کړی و، بل یې هېڅ جُرم اوګناه نه وه، خودوی مبارکانو داهرڅه د اسلام له پاره په خان تېرول اوپه سر او سترګو یې قبولول.

## د یوې لویې هستی د صبر واقعه

حضرت خباب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې: زه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورغلم، دی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کعبې مبارکې سیوري ته ناست و، شړی یې په خان باندې راپېچلې وه، نو ما ورته وویل چې: یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته خو د کفارو له لوري ډېر تکلیفونه رارسیږي، تاسې دعا وکړئ چې دا تکلیفونه له مونږ څخه لیرې شي، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راجګ شو له غوصې یې مخ مبارک سور شو او وې ویل چې: له تاسې څخه مخکې داسې خلک هم وو چې د اوسپنې په ګومنځو یې دبدن تولې غوښې توږل شوې دي، غوښې او رګونه به یې د اوسپنې په ګومنځو غوڅېدل، خو له دې دومره زور زیاتي سره، سره یې بیاهم خپل دین ته شاه نه وه وراړولې، خپل دین یې نه دی پرې ایښی اوتاسې بیادومره زر په تکلیف شوی.

دادین به خدای پاک داسې کمال ته رسوي چې یو وخت به په آس سپور سړی له صنعاء (دیمن لوی ښار) څخه روان وي تر خضرموت (مشهور ښار په یمن جنوبي کې ده) پورې به خې له الله تعالی نه پرته به له هیچا نه هم نه ویریږي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



« پوښتنه : په دې کې څو هيڅ مبالغه او استبعاد نشته ځکه داځو دوه نړدي ښارونه دي ؟

ځواب: له دې نه غرض داده چې له کفارو به مسلمانان نه ويرېږي . »

اويا داچې مېړه به له لېوه څخه نه ويرېږي. لکن تاسې تلوارکوی

[حياة الصحابة الجزالاول ، عربي ، کتب خانه فيضي لاهور ، ص :۲۸۳]

نود بدن غوښې توږل، شکېدل، په دوی باندې د اوروونو بليدل داټول د دې دين له پاره و. مونږ ته يقيناً د فکر اوتاسف ځای دی.

په هر لحاظ! په مونږ باندې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ وسعت راوستی دی، مونږ نه دومره منډو ترړو او ستړيو ته مجبوره يو چې مشائخ مبارکان نه پيدا کېږي، لکه په مخکې وختونوکې به خلک له افغانستان څخه روان شو تر شام يا هندوستان پورې به تلل، بيابه يې يوڅوک پيدا کړ او بيعت به يې ورسره وکړ.

خو هغه د هماغه وخت خلک وو، هماغسې يې عشق و، بيا الله تعالی همداسې مقامات هم ورپه برخه کړل. زمونږ په هرځای کې داسې صالح خلک پيدا کيږي چې تعلق ورسره وساتو، خود غفلت له امله په پنځو شپږو کلونوکې هم وخت نه پيدا کوو اونه له خپل پير اومرشد سره رابطه ساتو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت مجددصاحب رحمة الله علیه لطیفه

حضرت مجددصاحب رَحِمَهُ‌اللّٰهُ ته یو څوک داسې شکایت کوي چې ډېر وخت کېږي وظیفه مې اخیستې ده اوزه یې تراوسه پورې په هیڅ اثر نه پوهېږم، دی مبارک ورته په خواب کې لیکي چې:

چشم بند، گوش بند، لب بند — گر نه بینی سر حق بر من بخند

له ګناهونو څخه سترګې بندې کړه ، غوږونه بند کړه بدمه پرې اوره، ژبه اوخوله بنده کړه بدې خبرې مه پرې کوه ، نوکه بیادې هم د الله تعالی جَلَّ‌جَلَالُهُ اسرار ونه لیدل بیا راپورې وخانده.

زمونږ نظرونه چېرته دي؟ زمونږ څرنګه مجلسونه دي؟ څرنګه خبرې اورو؟ ددې ټولو اثر براهِ راست په زړه باندې وي. نوبیاهم وایو چې زه په وظیفه باندې نه پوهېږم

یو وخت کې حضرت ضیاء المشائخ صاحب قدس الله سره ته یوچا په خط کې دا شکایت لیکلی و چې: صاحب! ډېر وخت کېږي چې وظیفه مې اخیستې ده، خوپه دې دومره وخت کې زه په خپله وظیفه نه پوهېږم. ده مبارک ورته په خواب کې ولیکل چې: (محبه! ډېر خوراک پرېږده، ډېر مجلس پرېږده، ډېر خوب پرېږده، ذکر ډېر کوه، دطریقت رنګ به بدوه.

(c) ...com: The Digital Library



نو اصل طریقت دې ته ویل کېږي، مونږ تول همدا شکایت کوو، خو اصل خای ته مو پام نه ده او دا سوچ نه کوو چې مونږ کړي څه دي؟ څومره کوښښ مو کړی ده؟

الله تعالی مونږ ته امر کوي ﴿فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ﴾ [سورة النساء آيت: ۱۰۳] په ولاړې، ناستې په ملاستې په تولو وختونو کې خدای تعالی یادوئ! ﴿وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا﴾ [سورة الانفال آيت: ۴۵] خدای تعالی ډېر یادوئ! دا مونږ ته د خدای جَلَّجَلَالُهُ اوامر دي، حکمونه یې دي، نو مونږ کله وربانديې عمل کوو، په شواروز کې کله پنځه دقیقې وظیفه کړي یا نه کړي، بیاهم شکایت کوو چې وظیفې مې نه کېږي.

نو عرض داده چې تعلق له خپل شیخ سره ډېر ضروري ده، چې دیو چا څومره وس کېږي باید تعلق وساتي، کثرت د ذکر ضروري ده، چې باید سړی ډېر ذکر وکړي.

اودا خبره چې ذکر سړی له کتاب څخه باسي داخو ډېره بې ځایه خبره ده ، نه له کتاب څخه څوک باسي، مونږ تر کتاب کتلو دغه نور بېکاره اوفضول مجلسونه ډېر کوو، په دغو اوقاتو کې باید ذکر وکړو، دناستې، ولاړې، حتی د جنابت په حالت کې هم پټ او قلبي ذکر کېږي، اودس ورته شرط نه ده، نولږترلږه باید دا بېکاره وختونه په ذکر تېر کړو، بیاوګورئ چې په ذکر کې اثر پیدا کېږي او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحمد لله داسې ملګري شته چې یوه ورځ په بازار کې وګرځي بیایې په وظائفو کې فرق راغلی وي، ځکه خو هغه ماحول، محیط خراب دی، هغه په ده باندې اثر کوي، یواځې بازارته په تللو باندې، نوداچې سړی توله ورځ دغسې په خراب مجلس کې تېره کړي، توله ورځ یې له دغسې ملګرو سره وي، بیابه نو ولې وظیفې نه خرابېږي.

## دبازارډوډۍ په نیکوخلکوهم اثرکوي

یوسړی دحضرت صاحب مبارک قدس سره په وخت کې ډېر جذب کېده، نوحضرت صاحب مبارک چاته وویل چې: د هوټل ډوډۍ ورکړئ! ده ورته وویل چې دهوټل ډوډۍ خو صاحب زه نه خورم، حضرت صاحب مبارک ورته وویل چې: ستا جذب به هم نه قرارېږي، ځکه دهوټل په مړي باندې د مسکینانو سترګې لګېدلې وي.

نوستا له پاره هېڅ ګناه نه ده، دا ډوډۍ چې هلته له تنور څخه راوځي او مسکین ورته ګوري اووس یې نه لري، دهغه له امله دغه اثرپکې پیداکېږي، چې د نېک انسان حالت ورسره بدلېږي.

زمونږ مجلسونه، محیط ټول په دغه لوري روان دی، مطالعې مو د نورو کتابونو وي، په اخبار هرڅوک پوهېږي، هرڅوک یې اخلي، رادیو نیسي، اخبار ګوري، دنوروعقیدو اونورو کتابونو ورته معلومات وي، خو هیڅچا هم دغه دطریقت دکتابونو مطالعې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ملا ونه ترله، دطریقت کتابونه یې ونه کتل، د اولیاء الله مبارکانو حالات یې ونه کتل، نوبیاڅرنګه به یې په ذکر کې اثرپیدا شي.

څومره مو چې وس رسیږي د اولیاء الله دواقعاتو او حالاتو کتابونه ګورئ! زمونږ داتجربه ده چې نفسِ د کتاب د اول مخ به خلاصولو سره دسړي قبض ختمیږي، دکتاب په یوه برخه کتلو سره دومره اثر پکې پیدا کیږي چې قبض پخپله له منځه خي اوعشق اومحبت پیدا کیږي.

نوداچې یوڅوک له نېکو خلکو سره علاقه ساتي،ناسته ولاړه ورسره ولري،کتابونه یې ګوري،نوبیابه څرنګه اثر نه پکې پیدا کیږي؟ بلکې خامخا به پکې پیدا کیږي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴) مجلس

نحمد لله العظيم والصلوة والسلام على اشرف المخلوقات وعلى آله واصحابه اجمعين ،

امابعد:

## د اولياء الله تصرفات او استعدادونه

له هرڅه نه دمخه په دې خبره ځان پوه کول په کار دي چې مراد اومقصود داولياء كرامو له تصرفاتوڅخه دانه ده چې دوی اختيار کلي لري مختارکل دي ، بلکې پدې معناسره چې په ځينې شيانو کې دوي تصرف کولای شي يعنې ددوی په دعا اوتوجه هغه کار الله تعالى كوی دوی يې يوازې سبب وي که نه اصل کې خوکار الله تعالى کوي.

لکه حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام وايي: ﴿ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمًا زَكِيًّا ۝١٩ ﴾ [ سورة مريم ]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: وويل (جبرئيل) بېشکه هم داخبره ده چې زه رالېږلی شوی درب ستا يم له پاره ددې چې وبښم تاته (په امردرب ستا) يو هلک صالح (پاک له معاصيو).

يعنې ورکونکی الله تعالی ده خوده نسبت ځان ته وکړددې وجې چې دی يې سبب دی.

ددې آيت مبارک ﴿يَمْحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ۝٣٩﴾ [سورة الرعد]

ژباړه: محوه کوي الله هغه چې اراده وفرمايي (دامحايې) او ثابتوي (هر هغه چې اراده وفرمايي داثبات يې) او په نزد دالله اصل دهرکتاب (علم الله په لوح محفوظ) دی (چې هر شی پکې ليکلی شوی دی).

په تفسيرکې مفسيرين داسې فرمايي:

وقال البغوى وعن عمر وابن مسعود انهماقالا يمحوالسعادة والشقاوة ايضًا ويمحوالرزق والاجل ويثبت مايشآء.

[تفسيرمظهري ج: ۵ ص: ۲۴۶/۲۴۷]

امام بغوی رَحِمَهُ اللَّهُ روايت نقل کړی چې حضرت عمراوابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا فرمايي: چې سعادت اوشقاوت دواړه بدليدای شي همداراز رزق اواجل هم.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروی عن عمر انه کان یطوف بالبیت وهو یبکی ویقول اللهم ان کنتُ کتبتنی فی اهل السعادة فاثبتنی فیها، وان کنت کتبت علیّ الشقاوة فامحنی واثبتنی فی اهل السعادة والمغفرة فانک تمحوماتشاء وتثبت وعندام الکتاب. [تفسیرمظهري ج: ۵/ ص: ۲۴۶/ ۲۴۷]

ژباړه : له حضرت عمر رضي الله عنه نه روایت ده چې په بیت الله شریف یې طواف کاوه اوژړل یې اوداکلمات یې ویل اې خدایه ! که زه دې په نیکانوکې لیکلی یم پدغه مې ثابت پاتې کړه اوکه زه دې په بدانو(شقیانو)کې لیکلی یم هغه محوه اولرې کړه بیرته مې په نیکانوکې ولیکه .اومغفرت راته وکړه خکه خاص ته محوه کوې هغه څه چې ستاخوښه وي اوهغه څه پرېږدې چې ستاخوښه وي اوله تاسره اصل دکتابو ده (لوح محفوظ) .

وفی بعض الاثاران الرجل قدیکون قدبقی من عمره ثلاثون سنة فیقطع رحمه فیردالی ثلاثة ایام والرجل قدیکون قدبقی له من عمره ثلاثة ایام فیصل رحمه فیمد الی ثلاثین سنة . [تفسیرمظهري ج: ۵/ ص: ۲۴۶/ ۲۴۷]

ژباړه : په ځینې اثاروکې دي چې کله دیوه سړي عمردیرش کاله پاتې وي خودی قطعه دوصل رحمي وکړي نودغه عمر یې دریوورځوته رالنډشي اوکله بیادیوسړي عمر درې ورځې پاتې وي دی له خپلوخپلوانوسره وصل رحمي وکړي عمر یې دیرش کاله شي.

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



عن عليّ انه سال رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم عن هذه الاية فقال لا قرن عينك بتفسير ها ولا قرن عين امتى من بعدى بتفسير ها. الصدقة على وجهها وبرالوالدين واصناع المعروف يحوّلُ الشقاء سعادة ويزيدفى العمر . [ تفسيرمظهري ج: ۵/ ص: ۲۴۶/ ۲۴۷ ]

ژباړه : له حضرت علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت ده چې د پورتني ايات دتفسير په هکله مې له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه، په خواب کې يې راته وفرمايل : زه به دتا سترګې ددې آيت په تفسير سرې کړم . اوزما دوروستني امت سترګې به هم ددغه آيت په تفسير سرې کړم هغه داچې په صحي توګه صدقه کول اوله مور اوپلار سره نيکي کول اونيک کارونه کول شقاوت په سعادت بدلوي اوپه عمر کې زيادت راولي .

امام بغوی رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: چې دحضرت عمر اوابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا له مذهب سره هغه څه موافق دي کوم چې په مقامات مجدديه کې بيان شوي دي هغه داچې يوځل حضرت مجددالف ثانی رَحِمَهُ اللَّهُ دکشف په ذريعه سره دملاطاهر لاهوري په تنده وليدل (شقي) اوسره له دی چې دغه ملاطاهر دده ددوو محترمو زامنو (هريوه محمد سعيداومحمد معصوم رَحِمَهُمَا اللَّهُ) استاذو .

نو دغه ليدلی حال يې هغودواړوته بيان کړهغوی له ده مبارک وغوښتل چې دده په هکله دعا وکړي اوله الله تعالی نه وغواړي چې دده شقاوت په سعادت بدل شي .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مجددالف ثاني رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي :چې کله مې په لوح محفوظ کې وکتل نو هلته دغه قضاء مبرمه وه دبدليدلو امکان يې نه و .

نو دده زامنو په ده باندې ټينګار وکړ چې ته داکار وکړه بيا بيا دعاوکړه ، نو مجددالف ثاني رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي :ماته رايادشول هغه چې حضرت غوث الثقلين سيد سند محى الدين عبدالقادرجيلاني رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي و چې زما په دعا قضاء مبرمه هم رد شوې .

نو بيامې دعا پيل کړه او ومې ويل اې الله تعالى ! ستا رحمت فراخه ده او فضل دې ترېوچاپورې خاص نه ده له تانه اميدلرم او له تانه دتا دعام فضل سوال کوم چې دملاطاهر دشقاوت په ځاى دهغه سعادت وليکې او له تنډې څخه يې دشقي دلفظ پرځاى سعيد وليکې تاته خو ګرانه نده ، د عبد القادر جيلانى رَحِمَهُ اللّٰهُ دعا قبوله کړې. نووايي ګوياکې زه دملاطاهر تنډې ته ګورم چې دشقي کلمه ورنه ( محوه ) لرې شوه دهغه په ځاى باندې سعيدوليکل شواودغه په الله تعالى هيڅ سخته نده.

بياداخبره ماته نااشنابنکاريده چې داڅرنګه کيداى شي چې قضاءمبرمه دې ديوچاپه دعا محوه شي څکه په مبرمه قضاء کې په يوه وجه هم تغير نه راځي اوکه راځي بيابه دغه قضاء مبرمه مبرمه پاتې نشي اوداسې خوکيداى نشي اويابه محال لازميږي او لزوم دمحال خو هم روا ندى .

نوالله تعالى الهام راته وکړدغه اشکال دحل له پاره هغه داچې قضاء معلقه دوه ډوله ده : ۱- يوه داچې په لوح محفوظ کې يې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


تعلیق لیکل شوی وي یعنې داسې لیکلي وي چې ددغې قضاء رد تر فلاني کارپورې تړلی.

۲- هغه قضاء ده چې په لوح محفوظ کې ترڅه شي پورې معلقه (تړلې) نه وي نودغه قسم قضاء په لوح محفوظ کې په صورة دمبرمې وي اما دالله تعالی په علم کې محوه اواثبات دهغې معلق وي.

نوهرڅه چې عبدالقادرجیلانی ویلي دي چې زماپه دعا قضاء مبرمه ردشوه نوهغه دغه قضاء ده چې په لوح محفوظ کې دمبرمې په صورة لیکل شوې وي اوبه واقع کې دالله تعالی په علم کې مبرمه نه وي بلکې معلقه وي.

اوملاطاهر شقاوت هم ددغې قبیلې څخه په لوح محفوظ کې مبرم اوبه واقع کې یې محوه دمجدد رَحِمَهُ اللهُ تر دعا پورې معلقه وه.

[ تفسیرمظهري ج: ۵/ ص: ۲۴۶/ ۲۴۷ ]

## دیوه مرشد ( پیر ) د تصرف واقعه

دماوراءالنهردیوملک (هیواد) بادشاه په نامه د (پیرمحمدخان) چې پنځوس زرو جنګیالیانوفوځیانوسره په (باقي محمدخان) چې څلورزره فوځیان ؤ حمله وکړه. نو (باقی محمدخان) دخپل مرشد حضورته راغي اومدد غوښتلوواندیزېې ورته وکړ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دده مرشد (پیر) د ( پیرمحمدخان ) حضورته ورغي اوهغه ته يې نصيحت وکړاوورته وې ویل ددې کارنه تیرشه داپریږده ځکه دمسلمانانوترخپل منځ جنګ کول ناجائز دي.

چونکې دډیروالي دفوځ اومال اوغرور دده په دماغ کې ؤنو دپیرصاحب خبره يې ونه منله اودغه پیرصاحب دسختې غوصې په حال کې ورنه راواپس شواوله راتلوسره سم يې ( باقي محمدخان ) ته وویل اې زویه ادفوځ دکموالي سوچ مه کوه دزړورزمري په شان ددښمن په فوځ حمله وکړه اودماوراء النهر بادشاهي دې مبارک شه اودشفقت لاس يې دده په ملا کښېښود ( باقي محمدخان )له دعا غوښتولووروسته روان شو.

اوپدغه وخت کې پیرصاحب له لویې ډلې ددرویشانوسره روان شودښارپه یوطرف کې په زاړه مسجد کې دقبلې په لوري په مراقبه کیناست اومتوجې شو یووخت يې پوښتنه کوله چې څه وشول ؟

پدې منځ کې خبرراغی چې ( باقي محمدخان ) کامیاب شو او (پیرمحمدخان )يې مړکړ. نوپدغه وخت کې له مراقبې نه راپورته شواودخپلې خانقاه په طرف راغی.

[حضرات کرام نقشبندیه ص: ۲۰۷.]

وګوره هغو حکایاتو ته چې له اولیاء کرامو نه پیښ شوي له پیریانو سره چې دا دهغه څه تائید کوي کوم چې موږ وویل.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعبدالقادر جیلاني رَحِمَهُ اللهُ دتصرف واقعه

او هغه څه ته نظر وکړه : چې قطب رباني او هکیل صمداني سیدناعبدالقادر (جیلاني) ؒ ته پیریانو څومره انقیاد کاوه اوبادشاه يې اطاعت کاوه او جنګ يې ددوی له سرکشو او شیطانانو سره کاوه او دوی يې په اور باندې سوځول نو داکاني اوبس ده.

اوله دغې قبیلې څخه هغه حکایت دی :

چې دیو سړي لور پیریانو وتښتوله نو عبدالقادر (جیلاني) ؒ ورته وویل فلاني ځای ته ولاړ شه له ځان څخه دائره تاو کړه او په هغه کې کینه، نو ده دغه کار وکړ، چې ګوري ډلې ډلې پیریان تیریږي تردې چې بادشاه يې هم راغي په آس باندې سپور ده اوده ترمخ ډیرې طایفې دي نو دده په برابرې ودریده اووې ویل ای انسانه دتاڅه حاجت ده؟ ده په خواب کې ورته وویل زه شیخ عبدالقادر تاته رالیږلي یم. نوهغه دآس څخه ورته کته شو زمکه يې ښکول کړه له دائرې څخه بهر کیناست له ده نه يې پوښتنه وکړه چې څه حاجت دي ده ؟ ده دخپلې لور واقعه ورته بیان کړه.

سمدستي يې له نوروپیریانوڅخه دهغه په هکله وپوښتل هغوی سمدلاسه ورته راحاضره کړه چې دچین له سرکشه پیریانو څخه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه جنګې چې له چاسره وه دهغه سرېې وړاندې قلم (پرې) . کړدده لورېې خینې واخیسته دغه سړي ورته وویل نن شپه مې عجیبه واقعه ولیده هغه داچې تادعبدالقادر (جیلاني) صاحب امر پر خای کړ؟!

دپیریانوبادشاه ورته وویل هو! داسې ده. دی له خپل کورڅخه زمونږ سرکشه پیریانو ته ګوري او وېني یې چې هغه دزمکې په هغه بل لوري کې وي نوهغوي له هیبته تیښته کوي خپلوکورونو ته اوهر کله چې خدای پاک یو (قطب) مقررکړي نویه پیریانو اوانسانانو دواړوقدرت ورکوي او هغوی دده له تصرف او ولکې لاندې وي. [مجوعة رسائل ابن عابدین، الجزالثانی ص: ۲۰۸-۲۰۹]

## حکایت:

مولوي صاحب امیرګل چې د منبع العلوم په مدرسه کې سپین ږیری استاذ اود حضرت صاحب مبارک مرید و؛ هغه دا قصه کوله چې: په یووخت کې چې هغه وخت زه طالب وم، مولوي صاحب اسماعیل چې د بل کوم مرشد خلیفه و، زه لمانځه ته مخکې کړم، له لمانځه وروسته یې راته وویل چې: عجیبه ښه خاوره دې ده ، که کوښښ وکړې، دهر کار به وکړې، یعنې دقابلیت په لحاظ باندې، نودطالبانو حال ته چې سړی فکر وکړې بنیادي خاوره یې دېره پاکه ده، نویه هغو کې دا صحبت هم اثر کوي، داعشق اومحبت هم موجود وي، له دې امله چې دصحابهٔ کرامو رضي الله عنهم سیني دېرې

Scanned with CamScanner

(c) ...ton.com The Digital Library



پاکې وې، نود طریقت دغه ننې رسم ورواج په هغه وخت کې بالکل شهرت نه درلود، خکه چې دوی یواځې درسول الله صلی الله علیه وسلم دمجلس اوصحبت له امله ورته صفایي حاصلېدله، نودغسې اذکار لکه دا اوس چې په طریقت کې دي لکه: ( لطائف نفی و اثبات او مراقبې ) دغو ته دهغوی ضرورت نه وو، نو یواځې درسول الله صلی الله علیه وسلم دصحبت له امله ددوی کامله تزکیه کېدله، دغه شی له هغوی رضي الله عنهم څخه په را وروسته طبقاتو کې چې کله دنیوي علائق زیاتېدل نوبیا مشائخ کرامو ددغه طریقت له پاره ځینې اصول ( اذکار او سبقونه ) غوره کړل.نو زه په هغه بنیاد فکر کوم چې دعوامو اوطالبانو په دغه ژوند کې هم فرق دی.

عوام الحمدلله مسلمانان دي، ډېري یې په اسلام کې سپینې کړې دي، تکلیفونه یې تېر کړي دي، په جهاد اونورو عباداتو کې یې شرکت کړی دی، خوددوی عام محیط اوماحول چې ده، هغه په داسې محیط کې دی چې کدورات پکې ډېر وي، نودهغې له امله په دوی باندې ډېر زر اثر نه کېږي، ددوی متاثره کېدل ترهغه مجلسه پورې وي، نوکه په هغه مجلس کې ورته څه اثر پیدا شو، نوبیا تربیه اوکه نه دهغو عامو مجلسونو له امله په دوی کې ډېر زر تحول راځي، اودا دطالبانو چې کومه زندګي ده ، هغه داسې ده چې ټول وخت یې له کتاب یا له استاذ،یا له مطالعې، درس او تدریس سره کار وي، نوددوی عام ماحول صاف وي، بیا که لږ تکلیف په ځان راولي په هغه لږ تکلیف ددوی ډېر کار کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیضاوي، مشکوة او نورو کتابونو چې کوم تحقیق کړی دی، نودا وایي چې : د انسان له پاره ډېر خطرناک شی ګناوې دي، نوڅو چې یې له ګناوو ځخه ځان نه وي ساتلی نوانسان ترقي نه شي کولای، نو له دې امله طالبان پاک دي او په لږ کوشش کولو سره یې کار جوړېږي. لکه پښتانه وايي : دلندو ختو لېږ او به دارو وي.

## په اول بیعت سره د ولایت مقام ته رسیدل

حضرت نورالمشائخ قدس الله سره ته دهرات له لوري یو عالم راغی، په اوله ورځ یې چې بیعت ورسره وکړ، وظیفه یې واخیسته، د وظیفې په دغه اول حالت کې یې یوه چیغه له خولې ځخه ووتله اولکه د اور لمبه رڼا یې خلکو ولیدله، په هغه ځای حضرت صاحب مبارک دستاربندي ورته وکړه او خپل خلیفه یې وټاکه.

بیا سپین ږیرو علماء کرامو استفساراً پوښتنه وکړه چې زمونږ د چا لس کاله، دچا شل کاله، د چا دېرش کاله، اته کاله، اودچا پنځه کاله په طریقت کې تېر شوي دي اودخلافت اجازه ورته نه کېږي اود ده په دغه یوه مجلس کې کار وشو؟ نو حضرت صاحب مبارک ورته ووېل چې: ده لرګي تیار تول کړي وو، یواځې زما له طرفه د اور لګولو ضرورت و، یعنې وختونه یې بې ځایه نه وو تېر کړي، له ګناوو ځخه یې ځان ساتلی و، ددې له امله چې دګناوو ځخه یې ځان ساتلی و، یواځې چې دا لار خلاصه شوه، نو کار یې هم ژر خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## یو مرید په اوله وظیفه کې دانوارالمشائخ صاحب له قبر نه تلاوت اوریدل

حضرت قطب المشائخ دین محمد خلیفه صاحب رحمه الله مانه قصه کوله چې یوه مرید ته مې په اوله ورځ وظیفه ورکړه، اوبیا مې د حضرت انوارالمشائخ فضل الدین خلیفه صاحب قدس الله سره زیارت ته ولېږه، کله چې بېرته راغی نوما ورڅخه وپوښتل، دا راته وویل چې ما وظیفه کوله نو له قبرمبارک څخه په یوه خوږه آواز باندې داسې قرائت شروع شو چې ما داسې قرائت تراوسه پورې نه دی اوریدلی. نو خلیفه صاحب مبارک ویل چې په هغه ورځ یې تول کار خلاص شو. نوزه چې په خپله دطالبانو دا حالت ګورم سره له دې چې دا دمخکنیو مشائخوکرامو حالات چې سړی واوري انسان ډېر مایوسه شي خوبیاهم چې سړی هغه آثار وینې ، هغه محبت وي،نود سړي له پاره امید پیدا شي، چې په دغه لړ شې باندې هم خدای پاک جل جلاله ډېر کار کوي، بیا اوس خود فتنو دور ده، آخر وخت ده. لکه حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: « که چېرته وروستني خلک له ګناهونو څخه لس فیصده لاس ونیسي نوخدای پاک جل جلاله به دغو خلکو ته هغه کرامات ورپه برخه کړي کوم یې چې صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم ته ورپه برخه کړي ؤ چې هغوی لس په لسو کې عمل کړی وو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب ته چې لږ څه ورپيدا کېږي نويونه خوب يې ليدلی وي، د هغه دزړه تسکين الله تعالی کوي، ځکه الله تعالی په خپل دين باندې غيرت کوي، چاچې په دين لږ لاس نيولی وي، نوډېر زر اثر ورته ښکاره کېږي.

## دشيخ صاحب مبارک دخولې خوږې ملغلرې

يو آغا صاحب له ماسره په وړه دوره کې د مشکوة شريف کې درس وايه، تر نسب پورې مې خبره ياده کړه، بياده راته ويل چې ماته به په خپل نسب کې شک پيدا کېده چې آيا موږ سيدان يو اوکنه؟ ځکه چې په افغانستان کې سيدان له کومه راپيدا شول؟ نود طالبانو دتحريک په وخت کې مزارشريف ته تللی وم، نو هلته د دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روضی مبارکې ، ته ولاړم، نو هلته مې دځان سره دا دعا وکړه چې خدايه پاکه ! که زه سيد يم، نودلته ماته يو اثر ښکاره کړې چې زما د زړه تسکين وشي، نوڅه سورتونه مې وويل، کله وظيفه مې شروع کړه، د وظيفې په حالت کې کوټه جوړه شوه، کله چې کوټه جوړه شوه، نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت فاطمة الزهرا رَضِيَ اللهُ عَنْهَا راغلل، نوزما د زړه تسکين وشو چې رښتيا مونږ سيدان يو، يعنې الله تعالی دومره رحيم ذات ده چې دهغه مخلص بنده دزړه تسلي اوتسکين يې دومره زرترزره وکړ، په دغې يوې دعا چې په هغه پاک ځای کې يې وکړه، ځکه په ښکو ځايونوکې دعاوې ډېر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر قبلیږي. او داځکه چې د انبیاوو عَلَيهِمُ السَّلَامُ او اولیاء کرامو رحمهم الله تصرفات له مرګ نه وروسته ختمیږي نه بلکې زیاتیږي، ځکه علائق بدني ختم شي، په هر شي باندې الله تعالی ورته علم ورکوي.

## دیوې سیدې کونډې سره د مرستې نه کولو د بر خلیک او انجام واقعــه

د ساداتو مبارکانو یوه کونډه چې په کور کې یې ډېر فقر او غربت ؤ، دا دیوه شتمن مسلمان کور ته ددې له پاره ورغله چې که څه مرسته او کومک راسره وکړي، ماشومان خواران یې وږي وو، د ماښام وخت وو، کله چې ورغله نو ورته وې ویل چې زه سیده کونډه یم، یتیمان بچیان راپاتې دي، د پالنې یې هېڅوک نشته، که ته څه مرسته راسره وکړې، نو هغه مسلمان ورته وویل چې: ستا سره ددې خبرې ثبوت او شجره شته چې ته سیده یې! دې کونډې ورته وویل چې زما ژبه سند ده، زه په خپله خوله اقرار کوم چې زه سیده یم، نور ته له ما څخه د څه شي سند غواړې، دې کمبخت مسلمان ورته وویل چې: سیدان ډېر دي، په دې سیدانو پسې زه نه شم رسېدای. دغه مبارکه سیده کونډه د ډېرې پرېشانۍ له امله نا امیده او خالي لاس ووتله، او دیوه مجوسي کور ته چې په دې علاقه کې په سخاوت باندې مشهور و، ورغله، هغه ته یې پناه ور وړه، هغه شپه ورکړه، د شپې دغه مالدار او شتمن مسلمان او دغه یهودي دواړه په یوه کیفیت باندې خوبویني، دا مالدار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان خوب ویني چې د قیامت ورځ او د حشر میدان جوړ ده، جنت ده، او په دغه جنت کې یوه بنګلې مانۍ (بنګله) ولاړه ده، دې مسلمان له جناب محمد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځخه پوښتنه وکړه چې: یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! دغه بنګله دچا ده؟ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې: دا دیوه مسلمان سړي ده، ده ورته وویل چې: زه هم مسلمان یم، که دابنګله ماته راکړې! نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې: له تاسره ددې خبرې ثبوت او شجره شته چې ته مسلمان یې! ته څه دلیل لرې؟ دغه شتمن او مالدار مسلمان ورته وایي چې زه په خپله خوله اقرار کوم چې زه مسلمان یم، بس همدا زما دلیل دی. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل: چې: ستا به په یاد وي چې زما یوه لور درته راغلې وه، هغې درته په خپله خوله څوځله داوویل چې زه سیده یم، تاولې دهغې خبره نه منله.

همدارنګه دغه مجوسي په خپل کور کې همداسې خوب ویني، سم دلاسه راپورته شو، تولہ کورنۍ اوخپلخانه یې راپورته کړه، کلمه یې وویله اوټول په اسلام باندې مشرف شول، سهار دغه شتمن او مالدار مسلمان دهغه یهودی کورته راغی، او ورته وایي چې مابنام ستاسې کور ته یوه مېلمنه راغلې وه؟ هغوی ورته وویل چې: هو ! راغلې وه، ده ورته وویل چې: راوېې باسه، که له ماڅخه راضي اوخوشاله شي، نو څلور زره درهم به ورته ورکړم. هغه دکور ښځتن چې تردې دمخه یهودی و، او ددې صحنې له لیدلو وروسته مسلمان شوی و؛ ورته وویل چې: (زه د جنت بنګله په څلور زره

(c) ketabton.com: The Digital Library



درهمه نه خرځوم ) خکه ده هم هغه حالت او خوب په خپلو سترګو لیدلی و. [کتاب الکبائر ص:۷۵]

اوس دا دومره تېز تصرف ده، چې یواخې دده دنسب یوځوک خفه شو، هغه دی هلته براه راست د نبي کریم ﷺ وربانده پام و، هغه مسلمان ته یې هم هرڅه ورولیدل چې ارمان پرې وکړي اوکافر ته یې هم ورولیدل چې دهغه له پاره دنیکبختي اوداسلام راوړلو ذریعه شوه.

نوچې انسان د الله تعالی جل جلاله اوجناب نبي کریم ﷺ شفقت او مهربانی ته وګوري همدارنګه د اولیاء الله کرامو مینې او محبت ته چې سړی وګوري، که یوځوک له چا سره په ښه نیت او اخلاص سره محبت وکړي ، تعلق ورسره وساتي، همدومره دهغه ورته زر پام ورګرځي، دده کار زر جوړېږي، دچا د کورنی چې څوک څومره عزت اومحبت اواحترام وساتي دیوچا له متعلقینو سره چې څوک دعزت او احترام معامله کوي هغه هم دغومره ورڅخه راضي او خوشاله وي.

## دحضرت مجدد الف ثانی (قدس الله سره ) عجیبه واقعه

حضرت مجدد صاحب قدس الله سره فرمایي چې: زه لاهلک وم چې پلار مې د (قادریه) طریقې خلیفه و، یو وخت کې زه ډېر سخت ناروغ وم، شاه کمال کیتهلی قدس الله سره چې دقادریې طریقې یو پیر و، په لار باندې تېرېده، نو پلار مې زه په غېږکې واخیستم او

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ته يې وروستم، ترڅو مې دم کړي، شاه کمال کيتهلی رحمة الله عليه زه دم کړم اوخپلې لاړې يې په خوله کې راکړې، وروسته چې بيادده کار په نقشبنديه کې په مخ ولاړ، دستاربندي يې وشوه، نو ډېر وخت وروسته دی وايي چې دسهار په وخت کې په مراقبه ناست يم، دمراقبې په حالت کې د شا له لوري څوک راغلل او چوپانه ( چپن ) يې راواغوستله، سر مې چې راپورته کړ، د شاه کمال کيتهلی قدس الله سره لمسی ده، نوډېر په احترام ورپورته شوم اوسترې مشي مې ورسره وکړه، بيا مې ترې پوښتنه وکړه چې: دا چپن دڅه شي له پاره ده، مجدد صاحب قدس الله سره وايي چې: ده راته وويل چې دا چوپانه زما نيکه شاه کمال کيتهلی قدس الله سره له ماسره ايښې وه، چې د پيران پير صاحب رحمة الله عليه (حضرت شاه عبدالقادر جيلانی ) له خوا څخه ده، اودا يې راته ويلي و چې دا چپن به ته هغه چاته ورکوې چې زه يې بيا درته امر وکړم، اودا درې شپې کېږي چې دی ماته امر کوي چې دا چوپانه حضرت مجدد صاحب ته ورکړه، خوزما زړه نه پرې کېده، نن شپه يې په انتهايي تهديد سره راته غصه وکړه، نوزه مجبوره شوم اودا چوپانه مې تاته راوړه، حضرت مجدد صاحب قدس الله سره وايي چې دا چوپانه مې واغوسته او د خپلې خانقاه په لوري روان شوم او هلته په مراقبه کېناستم، د مراقبې په وخت کې راته دا فکر پيدا شو چې د اولياء کرامو هم عجيب تصرفات وي چې خرقه مخکې وراغوندي اوکار يې وروسته خلاصوي، يعنې ما خو په قادريه سلسله کې کار نه دی کړی، نودقادريې طريقې چوپانه ماته مخکې

Scanned with CamScanner

(c) Kitabton.com: The Digital Library


راورسېده، اوکار به وروسته کېږي، مجدد صاحب قدس الله سره وايي چې: يواځې په همدې تصور سره زما له پلاره نيولې تر پيران پير صاحب پورې چې دقادريې سلسلې څومره اولياء کرام وو ټول راحاضر شول اود قادريه طريقې چې څومره تصرفات اوفيوضات وو ټول زما سينې ته راداخل شول، په دغه حالت کې ماته دا فکر راپيداشو چې داڅه نادره ده چې زه دنقشبنديه طريقې يم اولاړم دقادريه په طرف، نوبه عين حالت کې دنقشبنديه طريقې داولياء کرامو آن تر شاه نقشبند مبارک قدس الله سره روحانيات ټول راحاضر شول، شاه نقشبند صاحب او پيران پير صاحب دواړه په يوه مرتبه کې سره ناست دي، وروسته د چشتيه طريقې په څه مناسبت باندې چې هغوی هم څه دم يا تعويذ راته راکړی و، هغه مشائخ مبارکان ټول راته حاضر شولو د سهرورديه طريقې حضرات هم حاضر شول، تردې پورې چې دغه معارضه اومقابله زما په هکله شروع شوه، دقادريه طريقې مبارکان وايي چې زمونږ دطريقې دی ځکه چې اول لاړې په خوله کې مونږ ورته ورکړي دي او اوس يې چوپانه هم زمونږ اغوستې ده، د نقشبنديه طريقې مبارکان وايي چې بيعت يې زمونږ په دې لاږ کې شوی دی، کمالات يې ټول په دغه لار کې واقع شوي دي،اودانورو طريقو اولياء وايي چې زمونږ دطريقودی. مجدد صاحب قدس الله سره وايي چې : دامنازعه دماسېښين تر وخت پورې وه چې د جناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم روحانيت راحاضر شو، دڅلورو واړو طريقو مشائخو اختيار ده صلی الله علیه وسلم ته ورکړ، نبي کريم صلی الله علیه وسلم دا

Scanned with CamScanner

(ketabton.com: The Digital Library



فیصله وکړه چې: دی که څه هم قابل او مستحق دڅلورو سرو طریقو ده، مګر دده کار په نقشبندیه کې مشهور دی، نو په دې باندې فیصله وشوه.

[ نفحات الانس من حضرات القدس ج: ۲ ص: ۵۳۴ / حضرات کرام نقشبندیه / ص: ۲۲۶/ ۲۲۷ ].

نوتاسې دا فکر وکړئ چې : دومره زیات تعلق و چې دطفولیت او وړوکتوب په وخت کې یې لاړې د قادریه طریقې ده ته ورکړې وې، دم یې ورته ورکړی و، دهمدې لاړې چې څومره مشائخ وو تول ورپسې متوجه وو ، نوچې دیوې لاړې تعلق جوړ شوی وي له هغې نه ددوی دومره قوي تعلق او رابطه جوړېږي ،داچې سړی مخلص معتقد شي نوبیابه ولې دهغوی نظر په ده باندې نه وي؟

## له مرګه وروسته له مریدانو سره دحضراتوکراموشفقت

په یوه وخت کې حضرت نورالمشائخ (قدس الله سره) ته یوڅا مبلمستیا وکړه، دی مبارک په هدیره باندې تېرېده، موټر یې ودراوه، اویوه قبرته څلور ساعته په مراقبه ناست و، کله یې چې سر راپورته کړ، نو یوه خلیفه صاحب ورته وویل چې: صاحب! خلکو به دېر انتظار کړی وي، ده مبارک ورته وویل چې: ددغه قبرڅښتن یوه ورځ زمونږ په لنګر کې دوډۍ خوړلې وه، زما مرید نه دی، کله چې مونږ په لاره تېرېدو نودقبر په عذاب اخته و، نوزما غیرت دا نه منله چې زه دې دوډۍ ته روان یم اوزما یو علاقمند دې په عذاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخته وي، نوچې ترڅو اخلاص او اعتقاد وي ، معمولي تعلق وي، دهغومشانخو کرامو غیرت دانبیاوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ غیرت ده، چې دنبي په هکله آیت راځي ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ﴾.١٠
سورة الاحزاب آیت:۶ ژباړه : ( محمد دالله ) نبي ډیر ور ( لائق ) دی له مؤمنانو سره له نفسود دوی ( داحکامو په انجام ) .

بیاهغه شفقت او غیرت ترمرګه ددوی مبارکانو هم نه هیرېږي، په انسان پسې یې پام وي، خو داخبره ورسره شرط ده چې دوی ته به دې اعتقاد وي، له دوی سره به دې اخلاص وي، ځکه کله چې اعتقاد نه وي، نوخامخا به انکار وي اودمقابلې صورت به مخې ته راځي، نو چې مقابله راغله نوبیایې انسان ته فیض، برکت اوخیر نه رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵) مجلس

الحمد لله حمداً کثیراً طیباً مبارکاً فیه والصلوة والسلام علی من لا نبیَّ بعده .

امابعد :

## تبرُّک بِآثارِ الصَالحِیْن

### په کوم ځای کې چې کوم ولي وخت تېر کړي دهغه مقام ورته حاصلیږي

محترمو مسلمانانو ا د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم تاریخ ته که ځیر شو اوپه غور سره یې مطالعه کړو له هغې څخه ددوی له حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره اخلاص، مینه محبت اوعقیده له ورایه ځلیږي.

دصحابهٔ کرامو رضی الله عنهم په حالاتوکې راځي چې: حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې له خولې مبارکې څخه لاړې مبارکې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکولې حتی چې بلغم به یې توکول بیابه هم صحابۀ کرامو صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه ورته نیول، بیابه یې په خپلو مخونو باندې هغه لاسونه تېرول.

په یوه روایت کې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هکله راځي چې کله به ده صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس کاوه، نوصحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ به لاسونه ورته نیولي وو، اوپه خپلو مخونو باندې به یې بیاهغه لاسونه راتېرول، که به دچا لاسونه دده صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغو اوبو ته ونه رسېدل نوهغوی به ددې نورو صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ دلاسونو لاندې خپل لاسونه ورمښل ترڅو د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوداسه له اوبو څخه په یوه نه یوه طریقه برخه واخلي.

[صحیح البخاری کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد آه ج : ۱ / ص: ۳۷۷ /۳۷۸ رقم الحدیث ۲۷۳۱ / ۲۶۵۱ / وکتاب الوضوء ج: ۱ ص: ۳۸ ]

نو اوس که په دې کې کټه او برکت نه وای نو نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به انکار کړی وی سره له دې چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو شارع دی او دشارع په حضور کې خو د ناروا کار کېدل امکان نه لري نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شارع ده، هغه کله هم داسې نه دي کړي چې صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ دې ( العیاذبالله ) کوم ناروا عمل کړی وي اودی دې چوپه خوله پرې پاتې شوی وي، په دې خو زمونږ عقیده ده چې په ټولو انبیاوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کې نفساني خواهشات اوغوښتنې نشته چې دخپل نفس دغوښتنې له امله دې دوی یو کار وکړي، داسې واقعې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضور کې څوځو خله تېرې شوې دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که په دې کار کې خير نه وای، دغه کار دخير اوبرکت ذريعه نه وای، نو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم بيا ولې داسې عمل کاوه، نومعلومه ده چې په دې کې دوی مبارکانو ضرور يوڅه ليدلي وو، چې د (صالحينو) په آثارو يې تبرک ځان ته حاصلاوه.

## چې داوښ غوندې ځناورخبرې ورسره وکړې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم معجزه

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته يو سړی راغی اوداشکايت يې وکړ چې زمونږ يو اوښ ياغی او سرکشه شوی دی، اوس کار ورڅخه نه شو اخستلای، نورسول الله صلى الله عليه وسلم له يوڅو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم سره هغه باغ ته ورروان شو په کوم باغ کې چې دغه اوښ و، په کوم کوهي چې يې دغه اوښ تړلی دی، نوچې حضرت نبي کريم صلى الله عليه وسلم د اوښ په لوري ور روان شو، نو داوښ څښتن ورته وويل چې: يارسول الله! صلى الله عليه وسلم دغه اوښ بالکل چورلټ ليونی شوی، هرڅوک چې ورنږدې شي نو خولې پرې لګوي، هسې نه چې تاسې ته څه تکليف در ورسوي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وويل چې: زه ورځم، کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورغی نو اوښ يوه اوبل لوري ته وښوربده، سر يې په خمکه وموښه او نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته يې سر په سجده کېښود، نو ددې واقعې له ليدلو او تېرېدلو وروسته نبي کريم صلى الله عليه وسلم د اوښ څښتن ته وويل چې: دا اوښ په مونږ خرڅ کړه، هغه ورته وويل چې: زمونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کور دنفقې دغه يوه ذريعه ده، بل څه نه لرو، نبي كريم صلی الله علیه وسلم ورته وويل چې: اوښ ماته ددې شكايت وكړ چې كار راباندې ډېر كوي اوپه نس مې بيا موړ نه ساتي.

حضرت عمر رضی الله عنه څومره د اوچتې مرتبې اوڅه عجيبه مناقب څښتن ده؟ نوهغه رضی الله عنه نبي كريم صلی الله علیه وسلم ته وايي چې: ستاسې دومره لوى شان ده چې حيوانات تاسې ته سجده كوي، نوكه موږ ته اجازه راكړې موږ به هم درته سجده وكړو، نوتاسې فكر وكړئ چې په دې خبره سره څومره نفساني خواهشات پوره كېږي؟ خو نبي كريم صلی الله علیه وسلم ورته وايي چې: كه له خداى تعالى جل جلاله نه پرته بل چاته سجده كول روا او جائز واى نوما به ښځو ته امر كړى واى ترڅو خپلو مېړونو ته سجدې وكړي. ځكه دمېړه په ښځه باندې ډېر زيات حقوق دي، حضرت نبي كريم صلی الله علیه وسلم حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته ددې اجازه نه وركوي، ترڅو ده صلی الله علیه وسلم ته سجده وكړي.

له حضرت يعلى بن مره رضی الله عنه نه روايت وايي : له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې درې معجزې ليدلې دي :

۱- يوځل موږ ورسره روان و په اوښ باندې تيريدو چې څښتن يې داوبو راښكلو كار ورباندې كاوه ، چې كله يې په رسول الله صلی الله علیه وسلم سترګې ولګيدې نو غړغړې او پرياد يې شروع كړ او غاړه يې په ځمكه كېښوده ، نبي كريم صلی الله علیه وسلم ورته ودريده وې ويل څښتن يې چيرته ده ؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه راغی ده مبارک ورته ووېل دا اوښ په ما خرځ کړه ، هغه ورته ووېل درباندې خرځوم یې نه درته هبه کوم یې او حال داچې زمونږ د کور دنفقې دغه یوه ذریعه ده، بل څه نه لرو، نبي کریم ﷺ ورته ووېل چې: اوښ ماته ددې شکایت وکړ چې کار راباندې ډېر کوي اوپه نس مې بیا موړ نه ساتي. نو له ده سره ښه کوه په نس یې موړساته . [ مشکاة المصابیح ج: ۲ ص: ۵۶۲ ]

## په نباتاتوکې دحضرت نبي کریم ﷺ معجزه

یو صحابي رضي الله عنه راغی نبي کریم ﷺ ته وایي چې : که تاسې یوه معجزه ښکاره کړئ ترڅو زما پوره یقین راشي اوتصدیق مې ښه کامل شي، نبي کریم ﷺ ورته وایي چې: هغې ونې ته ورشه اودا ورته ووایه چې دالله تعالی رسول په تا باندې سلام وایي او غواړي دې، دغه صحابي رضي الله عنه هغې ونې ته ورغی اود نبي کریم ﷺ سلام او پیغام یې ورته ورساوه، ونه په حرکت شوه، اوله څلورو طرفونو څخه یې ریښې راوختې او را روانه شوه، کله چې د نبي کریم ﷺ حضور ته راورسېده، نو سر یې په سجده کېښود، نودغه صحابي رضي الله عنه وایي چې : بس ماته دامعجزه کافي ده، حضرت نبي کریم ﷺ بېرته ونې ته امر کوي ترڅو خپل ځای ته ولاړه شي، ونه بېرته ولاړه، همدغه صحابي ددې صحنې له لیدلو وروسته نبي کریم ﷺ ته وایي چې که ته ماته دا اجازه راکړې ترڅو زه هم تاسې ته سجده وکړم. خو نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library





کریم صلی الله علیه وسلم ورته وایي چې د خدای تعالی جل جلاله له ذاته پرته بل چاته سجده نه ده روا.

. په یوه روایت کې راځي حضرت صفوان بن عسال وایي: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم لاسونه او پښې یې ورښکل کړې دي (ابوالمنتهی ص ۴۹ / مکتبة الحقانیه) خو ممانعت یې نه دی کړی، ځکه چې دا جائز عمل ده، مګر د سجدې اجازه یې هیڅاته هم نه ده کړې، هغه داوداسه اوبه چې صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم به په خان باندې مښلې یو جائز عمل و، منعه یې ورځخه نه ده کړې، خو چې کله دشریعت په خلاف عمل و، بیایې له هیڅا سره هم تسامح نه دی کړی، کله چې دی صلی الله علیه وسلم په ټوله نړۍ (دنیا) کې یواځې دهم دحق اعلان او اظهار یې کړی دی، بیایې چې کله ملګري پیدا شول بیایې هم دحقې خبرې ملګرتیا کړې ده.

نومطلب مې دا و چې په ځای کې هم برکت وي، په لباس کې هم برکت پیدا کېږي، په پس خورده کې هم برکت وي، په مستعملو اوبو کې هم برکت پیدا کېږي، په هر استعمال شوي شي کې برکت پیدا کېږي، ځکه کتابونه لیکي چې: په کوم ځای باندې چې دکومې مرتبې او مقام ځښتن تېر شي اویا وخت پرې تېر کړي هغه ځای په نسبت سره نورو ځایونو ته یوه مرتبه او مقام پیدا کوي، لکه څرنګه چې دهغه شخص مقام دی.

هغه خاوره چې درسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارک وجود سره نښتې ده، هغه تر بیت الله شریف هم بهتره ده، هغه تر عرش عظیم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم بهتره ده، دمديني منورې خاوره چې بابرکته او پاکه ده هغه له دې امله ده چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يې نسبت ده، څومره مقام چې درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده په هغه خاوره کې يې هم هغه حيثيت ايښی ده. مديني منورې ته منوره له دې امله وايي چې المنورة بنور رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

قرآن عظيم الشان ته بې اودسه لاس وروړل يو ناروا عمل ده، ځکه په آيت شريف کې راغلي﴿ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ﴾ [سورة الواقعه] ژباړه: نه يې مسه کوي ده لره او نه دې مسه کوي مګر هغه چې پاک کړی شوي وي (يعنې پاکان).

خو قرآن کريم ته چې کومې ګڼې (پوښ) ورکړل شوې چې له دې مخکې يوه عامه ګڼه او کاغذ و، هرڅوک يې په هر حالت کې استعمالولای شي، خوکله چې دغه ګڼه له قرآن عظيم الشان سره ولګېده نو بيا ددومره داحترام لائق او وړ شو لکه څومره چې قرآن عظيم الشان دی، بې اودسه لاس وروړل ورته نه دي جائز. اوس دغه کاغذ چې تردې مخکې دکاندار هرشی پکې خرڅولای شول خو کله چې له قرآن عظيم الشان سره ولګېده نوبيا خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ورته دومره عظمت ورکړ چې بې اودسه به لاس نه وروړې.

دجومات ځمکه چې مخکې جومات پرې جوړ نه و، هر رنګه تصرف پکې جائز ؤ، بلکې بيت الخلاء هم پکې جوړېدای شوه، خوچې کله دغه ځمکه دجومات له پاره وقف شوه، دخدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دعبادت له پاره منتخب اوځانګړې شوه، نوبيا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترقیامته پورې دغه خای دومره محترم شو چې که جومات رنګ م
شي بیاهم له دغه خای سره ادب په کار ده. فتاواوې لیکي چې د
دغه خای باندې د جنب (په چا چې غسل فرض شوی وي) دغه
تېرېدل هم پرې ناروا دي، دګندګي اچول پرې ناروا دي، په دغه
ځمکه باندې دحیضې او نفاسې تېرېدل ناروا دي اوس دغه ځمکه
له جومات څخه مخکې دهرشي د استعمال قابله وه، خو وروسته
چې یې دجومات حکم پیدا کړ، نوبیادومره عظمت ورته حاصل شو
چې تر قیامته پورې بیاددې ځمکې احترام په خلکو لازم دی اوهېڅ
رنګه تصرف پکې نه شي کولای. دا برکت دعبادت له امله پکې
پیدا شو.

په اشخاصو کې هم چې برکت پیدا کېږي هغه هم ددغه عبادت
له امله دی، خاوره چې جماد ده، مکلفه نه ده. هغه فرش ده،
حیوانات وریاندې ژوند کوي، خوچې دعبادت له پاره وقف شوه،
نو شرافت پکې پیداشو، انسان چې په ټولو مخلوقاتو کې اشرف
المخلوقات دی، الله تعالی فرمايي﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ ﴾
[سورة الاسراء آيت:٧٠]

ژباړه :او خامخا په تحقیق ډېر عزت ورکړی دی موږ اولاده دآدم ته
دغه اشرف المخلوقات بیا اشرف ترین دمخلوقاتو په عبادت سره
ګرځي، څکه الله تعالی فرمايي:﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ
أَتْقَىٰكُمْ ﴾ [سورة الحجرات آيت:١٣]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: بېشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسې څخه په نزد دالله تعالی ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې.

يعنې څومره چې انسان ته عزت وربه برخه کېږي هغه په تقوی سره کېږي، نو په دغه انسان کې به بياڅرنګه عزت نه پيدا کېږي، خاوره عزتمنه ګرځي، د بل چا دعبادت له وجې، چې بل څوک سجده ورباندې کوي، نو به خپله عابد چې په عبادت لګيا ده، هغه ته به خدای تعالی څومره مقام ورکوي، اوهغه مرتبه بيا ختميږي هم نه، نبي چې دحيات په حالت کې کوم مقام درلود تر قيامته پورې يې دنبوت مقام نه ختمېږي، بلکې په قيامت کې هم نه ختمېږي. [تفسيرمظهري ج: ۵/ ص: ۲۴۶/ ۲۴۷]

اوس يوڅوک چې د ولايت مقام ته ورسيږي اوولايت ته په دين سره رسيږي، په بې دينې څوک نه رسيږي، چې يو ځل دخدای جَلَّ جَلَالُهُ په دين باندې دخدای جَلَّ جَلَالُهُ د اولياوو څخه شو، ﴿إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ﴾ [سورة الانفال آيت: ۳۴] يعنې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوستان نه دي مګر متقيان، دغه د دوستې پيغام بيا الله تعالی نه ختموي. دا بيا له مرګه وروسته هغه قبر هم هغسې مقام پيدا کوي، څکه دخدای جَلَّ جَلَالُهُ د دوست قبردة، د حضرت ابوايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، امام بخاري، حضرت ابو موسی کاظم رَحِمَهُمُ اللهُ په حالاتو کې راځي چې: دا خبره په تجربې سره ثابته ده چې ددوی قبرونه مستجاب الدعوات دي، هلته دعاوې قبليږي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به چې باران نه کېده، نوخلکو به ویل چې درځئ دامام بخاري صاحب قبر ته، دحضرت ابوایوب انصاری رَضِيَ اللهُ عَنهُ قبر ته چې دعا وکړو، دابوموسی کاظم رَحِمَهُ اللهُ قبر ته درځئ چې ورته دعا وکړو، دا دهغه وخت علماء دي چې دیارلس څوارلس سوه کاله مخکې تېر شوي دي، دغه د اوس وخت علماء نه دي.

دادهریوه قبر ته په ورتلو سره به یې اثر په دنیا کې ښکارېده، بارانونه به کېدل، ددې وجه داوه چې ددې خلکو مقام شته ،مقام یې ورک نه دی، په کوم نېک ځای کې چې عبادت وشي هغه عبادت مستجاب اوقبلېدونکی دی، په کعبه شریفه کې عبادت یو په یو لک دی،یوه وجه یې کتابونو دا لیکلې ده چې: په دغه کرم ځای کې چې طواف کېږي په دغه ځای کې اویا انبیاء کرام خښ دي، په منی شریفه کې جومات ده، مسجد نمره ورته وایي ددې جومات په هکله ویل شوي دي چې : په دغه ځای کې اویاوو انبیاء کرامو لمونځونه کړي دي، تر ننه پورې دغه ځای ته خلک ورځي او عبادت پکې کوي، که دمقام تبرک ختمېدای نو نن ورځ خو په هغه ځای کې انبیاء عَلَيهِمُ السَّلَام نشته، نو بیا خلک ولې هلته ورځي او لمونځونه کوي؟ نو معلومه شوه چې په هغه ځای کې آثار او برکات موجود وي. ځکه خلک هغه ځای ته د ورتلو کوښښ کوي.

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم د مقام او مرتبې په هکله دقرآن کریم صریح آیت ده چې دمنافقینو په حق کې راغلي ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓاْ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾ [سورة النساء]

ژباړه: او كه بېشكه دغه (منافقان) كله چې ظلم وكړي دوى پرخانونو خپلو (په منلو دحكم ستا) راغلي وى تاته پس مغفرت غوښتې وى دوى له الله تعالى او مغفرت غوښتې وى دوى ته رسول (د الله هم) نو خامخا به موندلى ؤ دوى الله تعالى ښه قبلوونكى دتوبې ډير رحم والا (داجر او ثواب په انعام سره).

## نبي كريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له رحلت نه وروسته هم د خپل امت د ښېنې غوښتنه كوي

يو اعرابي (كوچى) په دې نيت له كوره څخه راووت چې زه به رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دخپلو ګناهونو حالت بيان كړم، ترڅو دى صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما له پاره له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه مغفرت وغواړي، نوخداى پاک به مې توبه قبوله كړي، كله چې دى مدينې منورې ته راغى نو نبي كريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دنيا څخه رحلت كړى و، نودى د نبي كريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر مبارک ته ورغى او ورته وايې چې: اى د الله رسوله! ما ډېر ګناهونه كړي دي او اوس له خپلو ګناهونو څخه توبه ګار يم، اوداهم راته معلومه ده چې الله تعالى فرمايلئ دي چې كه ماته څوک په اخلاص توبه وباسي نو توبه يې قبلوم، نو دده صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارک قبر باندې يې خان وروغورځاوه، اوخاوري

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې په خان شيندلې، چې زه ډېر ګنهکار يم، ستا قبر ته راغلی يم
که ته مې شفاعت وکړې! نو له قبر څخه نبي کريم ﷺ ورته
آواز کوي چې: (قَدْ غُفِرَتَ) تاته مغفرت وشو. [تفسير جلالين ج ۱
ص: ۸۰/حاشيه: ۱۴/اوتفسير مدارک ج: ۱/ص: ۲۷۰/مکتبه انوارالقرآن]

نوهغه دده چې کوم مقام او مرتبه دژوند په حالت کې وه، پس له
مرګه هم هغه مرتبه خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ورڅخه اخيستې نه ده.

## نبي کريم ﷺ له روضې مبارکې نه خپل لمسي ته دسلام ځواب ورکوي

دحضرت مولانا حسين احمد مدني رَحِمَهُ اللهُ په هکله کتابونه
ليکي چې: دی وايي: زه چې کله مدينې منورې ته ورسېدم، ملګري
راسره وو، ماچې کله د نبي کريم ﷺ مبارکې روضې ته
سلام واچاوه، نو له هغه لورې ماته په اوچت آواز ځواب راکړ شو
چې: (وعليک السلام يا بُنَيّ!) ای بچيه! په تا دې سلام وي، نبي
کريم ﷺ خپل خلک پېژني.

داسې واقعې زمونږ په مشائخو کرامو کې هم تېرې شوې دي،
چې د ډېر ادب له امله نږدې ورنه غلو، او په برنډه کې به ناست وو،
نود روضې مبارکې له لورې راباندې غږ وشو چې راځئ زما طرف
ته! دا د نبي کريم ﷺ مقام دی الله تعالی له مرګه وروسته
نه ده ورڅخه اخيستی. د ولي مقام هم پس له مرګه نه ورکېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دچاچې په ژوندکې کوم مقام او حیثیت وي پس له مرګ څخه یې تصرفات زیاتیږي کمیږي نه.

## مرشدین خپل مریدان هیڅکله نه هیروي

دحضرت انوارالمشائخ ( خلیفه صاحب فضل الدین قدس الله سره ) یو مُرید قصه کوله چې: دده له رحلت څخه وروسته زه ډېره موده ددوی مدرسې ته نه وم ورغلی. کله چې بیا ورغلم او دمرحوم خلیفه صاحب مبارک قبر ته کېناستم نو په وظیفه کې ویده شوم او خوب وینم چې دی مبارک په کوټه کې ناست ده او زه ور روان یم، کله چې په دروازه ورننوتم نوبه خپل نوم یې یاد کړم چې: نورالرحمانه ! په خیر راغلې او ستړی مه شې! ما ورته وویل چې: خلیفه صاحب ! زه خو ډاډېر وخت نه وم راغلی، ما خوداسې فکر کاوه چې تاسې به زما نوم هېر کړی وي، ده راته وویل چې په دنیاکې خو لاڅه کوې په آخرت کې دې هم والله العظیم کې هېر کړم، تا خو لاپرېږده چې مور اوپلار دې هم نه هېروم. ګورئ عزتمنو ! دغه اصلي مقام ده ، دا هېڅکله هم دیوه ولي له لاسه نه وځي

زموږ ځیني ملګري (مریدان) چې دفراست خاوندان دي، ماته حالات بیانوي چې کله موږ د مرحوم انوارالمشائخ خلیفه فضل الدین مبارک قبر ته ورشو نوله قبر څخه یې داسې خوشبویي راپورته کېږي چې موږ دهغې حس په دنیاکې نه شو کولای. څکه چې هغه مقام یې ختم نه ده، هغه په خپل حال پاتې ده، بلکې

(c) ...oton.com: The Digital Library



ترهغې هم لا زیات ده. تصرفات یې په خپل حال بلکې ترهغې لا زیات دي. د هر یو ولی الله چې کوم مقام وي هغه نه ختمیږي اوڅوک چې یو ځل د الله تعالی ولي اودوست شو نوبیاپه الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دومره ګران وي چې که څوک بیا ورسره دمقابلې فکر اوسوچ کوي نو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له دغه انسان سره د جنګ جګړې اعلان کوي ﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ.... ﴾ [ بخاری ج ۱۲ ص ۹۶۳ ] یعنې چاچې زما له دوست سره دښمني کوله ، له داسې انسان سره زما له لوري د جنګ اعلان دی.

ګورئ! دی بیا خدای تعالی ته دومره محبوب شي چې الله تعالی بیا دهغه له لوري دجنګ اعلان کوي اودده په خورولو الله تعالی خفه کېږي.

الله تعالی فرمایي چې: که ماته بنده رانږدې شي زما په لاره روان شي، زما د اوامرو او نواهیو پوره پوره اتباع وکړي، نوتردې حده ماته رانږدې شي چې زه بیادده سترګې شم چې په ما باندې لیدل کوي ، زه دده لاسونه شم چې څه پرې رانیسي، زه دده پښې شم چې په هغې باندې مزلونه کوي.

د دېرو خلکو واقعاتو ته چې سړی وګوري چې که یوځل الله تعالی په دوستي نیولی وي نوبیا یې انبیاء کرام دهغو خلکو په عزت کولو باندې مامورکړي دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بني اسرائیلو د یو بدمعاش قصه

د بني اسرائیلو په هکله یوه مشهوره واقعه ده چې: په یوه علاقه کې یو مشهور فاسق او بدعمله انسان و، تردې اندازې یې سرکشي زیاته وه چې د دغې سیمې خلک ورڅخه په عذاب شول، مقابله یې ورسره نه شوای کړای، خلکو دده له ضرر څخه دخلاصون په هیله الله تعالی ته زارۍ شروع کړې چې دده څخه مو خلاص کړه، حضرت موسی عَلَيهِ السَّلَام ته الله تعالی امر وکړ چې: ورشه او دغه فاسق له دې ښار څخه وباسه ! موسی عَلَيهِ السَّلَام له ښار څخه ویوست او یوه کلي ته ولاړ، بیا الله تعالی موسی عَلَيهِ السَّلَام ته امر وکړ چې له هغه کلي څخه یې هم وباسه! له کلي څخه یې هم وایستلو ترڅو دغه کلیوال ورڅخه په عذاب نه شي، ولاړ او د صحرا مخه یې ونیوله ، څه موده وروسته دغه فاسق شخص مریض شو ، مرض یې وار په وار پسې سختېده. تردې چې د مرګ حالت ته راورسېده. نو په دې حالت کې یې د الله تعالی لوري ته پام شو او په خپلو ګناهونو یې پښېمانتیا ښکاره کړه، له ډېره غمه په ژړا شو، په ژړا کې وایي چې: که اوس مې مور وای په ما به یې رحم کړی وای، زما په دغه ذلت به یې ژړا کوله، که زما پلار وای نو څه مرسته به یې راسره کړې وای، تول تدبیر او انتظام به یې په لاس کې و، که مې ښځه وای نو زما په بېلتون به یې ژړل او که مې خپل اولاد وای نو زما په جنازه به یې ژړلي و اودا دعا به یې کړې وه چې:

Scanned with CamScanner

(c) ....com: The Digital Library



ای خدایه! زمونږ دغه ضعیف او ګنهکار پلار ته چې له بناره بې
کلي اوله کلي نه یې بېدیا او صحرا ته خلکو وشاړه او اوس د
ناامیدي په حالت کې د آخرت په لوري روان دی، نو خدایه! ته پرې
رحم وکړې، کاشکې مې داسې اولاد وای، داخبرې کوي او ژاړي.

له دې وروسته الله تعالی ته زارۍ کوي چې یا الله! چې په
دنیاکې خو دې زما زړه دخپلو خپلوانو په جداوالي او فراقت باندې
وسوځواه، نو ای خدایه! په آخرت کې مې دخپلو ګناهونو له امله د
دوزخ په اور نور مه سوځوه؛ ای خدایه! زه خو دې په دنیا کې له
خپلو خپلوانو څخه جلا کړم خو په آخرت کې مې له خپل رحمت
څخه مه بېلوه!

راوي وایي چې په دې حالت کې د الله تعالی رحمت په جوش
راغی اود جنت حورو ته یې امر وکړ چې یوه ورته د مور او بله ورته
د ښځې په بڼه ورشئ؛ او غلمانو ته یې حکم وکړ چې: تاسې ورته د
اولاد په شکل ورشئ! او دوو ملائکو ته یې حکم وکړ چې تاسې دده
د پلار په شکل کې ورته ورشئ او دده په مرګ وژاړئ.

دلته دده د نزعې (دساه ختلو) حالت ده که ګوري چې سر ته یې
مور او ښځه ناستې دي او ورته ژاړي، پلار او اولادونه یې ورته
ناست دي او پرې ژاړي. ددې صحنې له لیدلو وروسته یې ساه
ووختله. د ساه له وتلو وروسته الله تعالی موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته امر کوي
چې په فلانۍ دښته کې زما یو دوست پروت دی، ورشه اود جنازې
، کفن اودفن مراسم یې په ځای کړه. کله چې حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغی که ګوري چې داخو هغه فاسق ده چې مونږ له ښاره کلي ته اوبيا مو له کلي څخه صحرا ته راووېست نو حيران شو چې خدايه داخو هغه څوک ده چې تا يې ماته له ښاره د اېستلو امر کړی ؤ، نن په دښته کې پروت ده اود جنت حورې ، غلمان او ملائکې دې ورته په ژړا کولو ماموري کړې دي اوماته دې هم امر وکړ چې زما د دوست د کفن ،دفن او جنازې انتظام وکړه! الله تعالى ورته وايي چې: د غريبي ، مسافري او مرض له امله ، اوپه خپلو ګناهونو د پښېما نتيا له امله يې توبه واېسته ،ماته يې رجوع وکړه، نوپه دې اساس مې دی له خپلو اولياوو څخه وشمېره.

[ مکاشفة القلوب ص: ۱۶/ ۱۷ ]

ګورئ ! د وخت فاسق ده، خو چې کله يې توبه واېسته ، الله تعالى ته يې رجوع وکړه نوبيا د الله تعالى له خاصو دوستانو څخه حساب شو، دومره په خدای تعالى ګران شو چې خپل نازولي پيغمبر ته امر کوي چې ورشه ! او زما د دوست دجنازې اوکفن او دفن دانتظام چارې سمبال کړه. دجنت حورې ، غلمان اوملائکو ته حکم کوي چې ورشئ اوپرې وژاړئ ترڅو يې دزنکدن په حالت کې تسلي وشي.

نوچې ديوچاپه توبه الله تعالى دهغه له ټولوتقصيراتو ورتير ېږي ، دخپلو اولياوو له جملې څخه يې ګرځوي ، نوچې يوڅوک شپېته او اويا کاله د الله تعالى په دوستي او بندګي کې تېر کړي ، دخدای تعالى له دوستانو سره وخت تېر کړي نودهغه به څومره لوړه درجه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


او مرتبه وي؟ نو عزتمنو خبره مې دا کوله چې دا مقامات ختمېږي نه ، دهغوی ځایونه قابل احترام دي، اولیاوالله د ځمکې په سر باندې داسې عزتمن دي لکه د آسمان ستوري، دوی په ځمکه دغسې ځلیږي لکه په اسمان کې چې ستوري ځلیږي ، په جنت کې یې هم دغسې مقامات او مرتبې دي. لاندې طبقې د مسلمانانو به داولیاؤ الله مقامات داسې وینې لکه مونږ چې له ځمکې نه آسمان ته ګورو اود آسمان ستوري وینو. دوی چې په جنت کې په هوا یو طرف اوبل طرف ته ګرځي ددوی انوار به په جنت کې رڼا کوي، په لاندې طبقې د مسلمانانو به یې سیوری پرېوځي اوګوري به چې په هوا باندې یو نوراني مخلوق روان دی. له دوی نه به نور پورته کېږي.

نوددوی مقامات دغسې د ترقي په حالت کې دي، اوڅوک چې دوی ته په عزت قائل وي ، په زړه کې یې احترام کوي، نو دغسې به دهغوی هم په دوی باندې نظر وي.

## خپل مریدان خپل شیخ ته پیش کول

حضرت پیران پیر صاحب سید ده، دده یو خلیفه په بل ځای کې اوسیږي،هغه هم سید ده، هغه خپلو مریدانو ته وایي چې: درځئ د حضرت پیران پیر صاحب لیدلو ته ورشو، مریدان یې ورته وایي چې زمونږ له پاره ته کافي یې! ته مو پیر او استاد یې! نوهغه ته د ورتلو څه ضرورت ده؟ دی ورته وایي چې: نه! دهغه مقام ځان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، درځئ چې ورشو ! کله چې دوی ور روان شول نو د پیران پیر صاحب له کور څخه د بهر لرې حضرت پیران پیر صاحب خپلو مریدانو ته امر کړی دی چې : زما په غاړه کې پړی واچوئ اوما په ځلورې دده طرف ته ور روان کړئ! کله چې په دښته کې یوبل ته په مخه ورغلل، نو د پیران پیر صاحب دغه خلیفه سمدلاسه له زمري څخه کوز شو، څکه دی په زمري او مریدان یې په آسونو سپاره وو، له کوزېدو سره سم یې په پیران پیر صاحب باندې غږ وکړ چې تا ولې داسې کړي دي؟

نو پیران پیر صاحب ورته دده مقام ذکر کوي او ورته وایي چې: کله ته له خپل کور څخه را روان شوې، نو حضرت بي بي فاطمه رضي الله عنها او د حسنینو رضي الله عنهما په تا باندې پام ؤ، نو دهغوی مبارکانو د نظر له امله زه ستا مخې ته په دغه حالت کې راووتم.

نو ګورئ د پیران پیر صاحب مرتبه اومقام وګورئ چې هغه دځومره اوچتې مرتبې او مقام څښتن دی . خودی دلته خپل شاګرد اوخپل خلیفه ته له کوره د باندې آن صحرا ته پړی په غاړه په ځلورې ولې راوځي له هغه سره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د نسب احترام په زړه کې و. په آغاصاحبانو کې دا تاثیر ولې موجود دی، د انبیاووعلیهم السلام د نسبت له وجې نه. د اولیاء الله کرامو په نسبونو کې ولې تاثیر دی، ځکه چې دهغو مخکنیو اسلافو نظر وربسې وي. که دوی مړه هم دي خو نظر یې مړ نه دی. یعنې مطلب داده چې دوی ته حقیقي حیات ثابت دی. نویه کوم ځای کې چې دوی اوسېدلي وي هغه ځای به تر قیامته پورې په انوارو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library


منور او روښانه وي، هغه ځای له نورځخه نه خالي کېږي، ته چې سړی څومره احترام ولري له هغه ځای نه دغومره مقام حاصلیږي.

په یوه وخت کې یو خلیفه صاحب راغلی و نوما دخپل قصور اظهار ورته وکړ چې ماته دحضرت انوارالمشائخ صاحب په ژوند کې دهغه قدر معلوم نه و، نومونږ دده هېڅ ادب او خدمت نه دی کړی، په کوم وخت کې چې موقع او وخت و نومونږ له هغه وخت ځخه استفاده ونه کړه اودغه دی اوس یې ارمان کوو، نوده راته وویل چې: اوس نو کله لرې ده، داسې خو نه ده چې خلیفه صاحب مبارک له دنیا ځخه ولاړ اوتاثیرات یې هم نشته، دخلیفه صاحب قبر ته چې څوک په احترام ور روان شي زما دې قسم په خدای وي چې هغه اثر پکې پیدا کېږي. کوم خوند او لذت چې دده په مجلس کې ؤ هغه اوس هم په دې مجلس کې موجود ده؟ زمونږ په شان دعاجزو خلکو چې تراوسه په خپله وظیفه هم نه پوهېږو زمونږ په دې خبرو کې ولې دومره تاثیر پیدا کېږي ځکه چې دا دهغو بزرگانو نظر ده. دهغوی شفقت ده، دا ددوی لورینه ده چې په مونږ یې کوي اومونږ د دوی لاس نیولی دی اودوی ته مونسبت کېږي.

## دحضرت نورالمشائخ (قدس الله سره) کرامت

مونږ (نکې) ته تللي وو اوله حضرت قطب المشائخ (خلیفه صاحب دین محمد (قدس الله سره) سره کرخېدو، په یو کلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیره نفر کور ته ولاړو، هغه راته ویل چې: زه به مو هغې کوټې ته ورولم چې حضرت نورالمشائخ صاحب او حضرت ضیاء المشائخ صاحب دواړه راغلي وو او زمونږ په کور کې یې دننه موړوی تک وهلی و، چې په هغه کې به مونږ د هلکانو خانګو اچوله چې خدای جَلَّ جَلَالُهُ یې له مرضونو نه وساتي. نوکله چې هلته ورغلو او بیرته مهمانخانې ته راغلو نودلته یې بیا دغه مجلس شروع کړ چې کله به حضرت صاحب او رئیس صاحب مبارکان دلته راغلل نو خلکو به یې ډیر احترام کاوه، مجلس دوام وکړ. نود قطب المشائخ صاحب له خولې نه بې اختیاره وویل شول چې: دا اوس چې زه راتلم مخکې حضرت صاحب روان ؤ، اوس چې دلته راتلم حضرت صاحب موجود و، هغه کوم مقام یې چې و هغه نه دی ورک شوی.

## د شیخ المشائخ عنایت الله (کستیم) خلیفه صاحب کرامت

زه د (کستیم) خلیفه صاحب مبارک ته کله نه وم ورغلی، یوځل ورغلم نو خبر شوم چې دی مبارک حج ته تللی دی، نو زه لږ خه خفه شوم، چې کاشکې مې لیدلی وای، زه رښتیا درته وایم چې کله په فلاټنکوچ کې سپور شوم داسې کیفیت راته پیدا شو چې په ډیر وخت کې مې نه وو لیدلی. هغه خپل اثرات ښکاره کړل چې که زه نه یم هم خای مې خالي نه دی. نوچې څومره مو له وسه پورې وي ادب کوئ.

نو غرض داچې په هرشي کې اثر د دین له امله پیدا کیږي او دین هیڅکله هم نه ختمیږي. دخدای جَلَّ جَلَالُهُ د دین اعزاز نه په دنیا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونه هم په آخرت کې ختمېږي. داچې په قیامت کې څوک د څوارلسم دسپوږمۍ په شکل راپورته کېږي ولې؟ څکه چې په دنیا کې یې د بر دالله تعالی عبادت په اخلاص کړی وي.

په ‹ زهر الریاض › کې روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایي: کله چې جنتیان جنت ته داخل شي نو د نور منبرونه ورته جوړ شي، نو جنتیان به وایي چې په دنیاکې له مونږ سره یوه وعده شوې وه مونږ دهغې وعدې په انتظار یو اوهغه داچې د خدای جل جلاله دیدار به څه وخت زمونږ په نصیب شي؟ نوالله تعالی به ملائکو ته امر وکړي چې حجاب پورته کړئ، ملائکې به ورته وایي چې: یا الله! په دې خلکو کې خو داسې خلک هم شته چې په دنیاکې یې ګناهونه هم کړي دي، هغوی کله ستا ددیدار لائق دي؟ نو الله تعالی به ورته وایي چې: دا هغه ذاکرین دي چې په ذکر کې به یې ژړل. [ مکاشفة القلوب/ عربي، ص: ۱۲ ]

څکه که دخدای جل جلاله له وېرې دمچ د سر په اندازه هم له کومې سترګې څخه اوښکه توېه شي نو بیاهغه مخ په دوزخ باندې حرام ده یعنې دوزخ یې نه شي سوځولای، نوداچې یو ساعت سرې په اخلاص وژاړي نوبیاددې عواقب په آخرت کې د بر ښه دي، د آخرت ژوند ورباندې برابرېږي. نوچې دې ته موږام وي چې په وظیفه، ختم اوژړا کې مو دخدای جل جلاله رضا مطلب وي نوبیابه اثر کوي، څومره اثر چې په دنیاکې پیدا کوي له هغې نه زیات اثر به یې په آخرت کې هم وي انشاء الله.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (٦) مجلس

## د جذب ثبوت او د صبر واقعات

﴿اَللّٰهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ ٱلْحَدِيثِ كِتَٰبًا مُّتَشَٰبِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ...﴾ [سورة الزمر آيت ۲۳]

ژباړه: الله تعالى توته توته نازل کړی دی ډیر ښایسته خوږ کلام کتاب (او دغه پاک کتاب ډیر ښائیسته خوږ کلام) مشابه یو له بل سره مکرر غبرګ (دی).

چې لړځیږي ریږي ځیګ کیږي له دې پوستکي دهغو کسانو چې ویریږي له رب خپل بیا پاسته شي (آرام نیسي) پوستکي د دوی او زړونه د دوی طرف دیادولو دالله تعالى ته.

له دې آیت څخه د جذب ثبوت کیږي.

داچې د قرآن کریم په اوریدلو کې یوچاته جذب پیښیږي دغه جذب شته او کنه؟

(c) kitabton.com: The Digital Library



نو تفسير مظهري ج: ۸ / ۲۰۸ مخ / سورة الزمر کې علامه بغوی، صاحب المصابيح ) په خپل تفسير کې ليکي چې: داسې صوفيان کرام چې د آياتونو د اورېدلو په اثر په دوی باندې بې هوښي راځي نو ددې خلکو په هکله دی خپله رايه داسې بيانوي: (دغه خلک چې دقرآن کريم د اورېدلو له امله په دوی باندې بې هوښي راځي دا ددوی کمال نه ده، بلکې بدعت ده، خکه دا وېره ده چې شيطان دې په ده باندې دا اثر کړی وي. د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او مسلمانانو حال الله تعالی داسې بيان کړی دی چې پوستکي يې خيږه کېږي او بېرته نرمېږي.

حضرت عبدالله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د خپلې آنا (نيا) حضرت اسماء بنت ابی بکرالصديق[1] رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړه چې کله به صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قرآن کريم اورېده نو ددوی به څه کيفيت او حالت وو؟ نو دې مبارکې خپل لمسي ته وويل چې: صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به داسې کيفيت او حالت وو چې له سترګو نه به يې اوښکې بهېدې، دعذاب د آياتونو د اورېدلو له امله به يې بدنونه خيږه کېدل اوچې کله به يې بياد رحمت آياتونه واورېدل نوزړونه به يې بېرته په قراره او ارام شول. دی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما خپلې آنا ته وويل چې: دلته خو څينې داسې خلک هم شته چې د آياتونو د اورېدلو له وجهې نه بې هوښي پرې راځي. نو دې مبارکې

---

[1] حضرت اسماء رضی الله عنها د حضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښينه هم ده، خکه دحضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خور ده

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل چې: (اعوذبالله من الشيطن الرجيم) [زه په خدای سره پناه غوارم له شره شوي شيطان څخه].

يوځل حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روان دی چې په سړي (له اهل عراق) خلک راټول دي، ده وويل چې داڅه پېښه ده؟ هغوی ورته وويل چې: دلته يوسړی ده کله چې قرآن کريم واوري اوياهم دخدای تعالی د ذکر په مجلس کې ورګډ شي نوبه ده باندې دخدای تعالی دوېرې له امله بې هوښي راځي. حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورته وويل چې: (انا لنخشى الله وما نسقط) موږ له خدای څخه وېرېږو خو غورځېږو نه. دا شيطان دده ښېټې ته ننوتلی ده، داسې جذب نشته چې په هغه کې بې هوښي وي، څوک ولوېږي او بې اختياره شي. [تفسير مظهري ج: ۸/ ص: ۲۰۸]

مګر بل طرف ته چې څوک نورو دلائلو ته متوجه شي نو له هغو څخه معلومېږي چې جذب شته.

په ايت شريف کې راځي ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُواْ ٱلْحَقَّ وَهُوَ ٱلْعَلِيُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٢٣﴾﴾ [سورة سبا]

ژباړه: تر هغه پورې کله چې پورته کړه شي وېره له زړونو د دوی وايي دوی (په خپلو منځو کې) چې څه (حکم) وفرمايل رب ستاسي؟ نو وايي دوی چې حق يې (وفرمايل) او هم دغه (الله) ډېر پورته او ډېر لوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې دا دملا ئکو حالت ده، چې کله الله تعالی د وحیې کولو اراده وکړي نودی په خپله بلاکیفه کلام وکړي، دالله تعالی دکلام له اوریدلوسره آسمان او عرش عظیم په حرکت کې راشي اوټولې ملائکې بې هوښه شي، لومړنی ملائکه چې په هوښ کې راځي نودا نورې ملائکې ورځخه پوښتنه وکړي چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ څه وویل ؟ دا ورته وایي چې حق یې وویل، دا فیصله یې وکړه.

نو اوس هغه دی چې په ملائکو باندې د الله تعالی دکلام د اوریدلو له امله بې هوښي راغله.

حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ له الله تعالی ځخه د لیدلو هیله کوي، چې ای خدایه! که ماته خپل دیدار راپه برخه کړې! الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ ورته وایي چې: ته ما نشې لیدای ا خوبیابه هم زه په غره باندې یوه تجلي وکړم نوکه هغه غر په خپل ځای باندې تم شو نوته مې هم بیا لیدلی شې. ﴿فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا﴾ [سُورَةُ الأَعْرَافِ آیت ۱۴۳]

ژباړه: نو کله چې (بلا کیف) تجلي وکړه رب د دغه ((موسی ظاهر یې کړ خپل نور)) غره ته نو وئي ګرځاوه هغه ((غر)) ذرې ذرې ((برابر له زمکې سره)) او پریوت موسی بیخوده ((له ډیره هیبته تر۲۴ ساعته))

اوس له دې تفصیل ځخه دوه ډوله خبرې ځرګندې شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ ـ د امام بغوی رَحِمَهُ اللهُ چې دحضرت اسماء اوحضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په قول باندې دليل نيسي. اووايي چې داسې څه حالات نشته چې په سړي به يې هوښي راځي . او هلته له قرآن کريم څخه معلوميږي چې په انسان بېهوښي راځي ، په پيغمبر اوملائکو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ باندې بې هوښي راغلې.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شان کې حضرت ام المؤمنين عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې: کله به په ده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې وحيې نازله شوه نوله داسې کيفيت سره به مخ شو چې په يخ ژمي کې به دده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له مبارک بدن څخه خولې رواني وې.

نو دغو دواړو طرفونوته چې سړی وګوري نو قول فيصل او حق خبره داده چې د قرآن کريم د ويلو په وخت کې برکات او انوار زياتيږي ، دخدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د ذکر په وخت کې هم انوار زياتيږي ،نواوس چې برکات زياتيږي نود خلکو په احوالو او استعدادونو کې ډېر زيات توپير او فرق ده، انسان اوملائکو ته چې وګورو نود انسان استعداد له ملائکې څخه زيات ده، ځکه خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دخپل خلافت له پاره بنی آدم مختار کړ ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾ [سورة البقره آيت:۳۰] انسان يې خپل نائب اوخليفه ټاکلی دی، نه ملائکه. ﴿إِنِّيٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ۝﴾ [سورة البقره]

يعنې په هغو مقاماتو چې په انسان کې دي زه پرې پوهېږم تاسې علم پرې نه لرئ. نوملائکې چې هر وخت الهي کلام واوري دوی بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوبنه کېږي ، د انسان استعداد ترهغوی لوړ دی. حتی تر غرونو او آسمانونو د انسان استعداد لوړ ده. ځکه الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي چې: ﴿إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ﴾ [سورة الاحزاب آيت:۷۲]

ژباړه: بېشکه موږ وړاندې کړ موږ امانت (ثواب - عقاب) پرآسمانونو او پر ځمکه او غرونو (کله چې مو پيدا کړ په دوی کې فهم او نطق) پس منع راوړه دوی له دې چې پورته کړي هغه (دامانت بار) او وېرېدل دوی له هغه (امانت) او پورته کړ هغه (دامانت بار) انسان بېشکه چې دغه (انسان) دی ظالم ډېر بې وېرې نادان (په عاقبت خپل).

نو د انسان استعداد په مخلوقاتو کې ترهرڅه لوړ ده، آسمان چې وحيې واورې نو په حرکت راځي، غر ته چې يوه تجلی وشوه نو ټوټه ټوټه شو،مګر موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ټوټې ټوټې نه شو، يوازې بېهوښه اوبېرته راپه واک شو.

نوخبره داده چې کله الهي فيوضات او برکات په يوه ځای اويا په خلکو باندې راڅېر شي نو که خلک د لوړ استعداد خاوندان وو نودوی دهغو برکاتو او فيوضاتو تحمل کولای شي، په دوی کې ددې فيوضاتو اثر پيدا کېږي، چې زړا ورځي اويايې پوستکي خيرېږه شي،لکه د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ استعدادونه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مصاحبت او مجالست له امله قوي وو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوکه استعدادونه کمزوري وي، برداشت يې نه شي کړای، نو بيا بې اختياره شي، يابه لوېږي اويابه بې هوښه کېږي، ياچيغې اوفرياد شروع کړي.

اوس نو چې خبره په استعداد بنا شوه نو دصوفياء کرامو په سلسله کې چې دقرائت په حالت کې ځينوته داسې کيفيت پيدا کېږي ځينو ته نه پيدا کېږي، نويا خوداده چې چاته چې دغه کيفيت پيدا کېږي دا له (وجد) نه پيدا کېږي، ياداچې هغه سړي ته فيض کم رسيږي اودده استعداد زيات ده، ډېر خلک داسې وي چې د ډېرو غټو فيوضاتو څښتنان وي مګر جذب تراوسه په هغوی کې چا نه دی ليدلی، استعداد يې قوي دی، دقوت استعداد له امله دټولو فيوضاتو تحمل او برداشت کړای شي نوځکه جذب نه پرې راځي اونه په تکليف کېږي.

اوکله بياداسې وي چې دفيوضاتو برداشت نه شي کړای نو هغه بيا بې صبره شي.

حضرت اسماء اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهم چې يوې وويل چې: (اعوذبالله من الشيطن الرجيم) اويل وويل چې: شيطان يې خبتې ته ننوتلی دی. نودوی خو يا قياس په خپل ځان کړی دی چې دوی ته جذب نه پيداکېده ، ددوی استعداد قوي و نو ويلي يې دي چې دا د شيطان اثر ده. اويا دوی ته دهغو خلکو په باب کې خبره شوې چې دوی په تکلف سره جذب کاوه،نوځکه يې داخبره کړې ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوداجذب دقرآن کریم د ویلو په وخت کې که داسې دې چې سړی په اختیار کې وي، او سره له اختیاره غورځي حتی ددغو متجاذبینو په هکله له یوچا نه څوک پوښتنه کوي. او وايي چې که سړی د بام په سر ناست وي، ده ته تلاوت شروع کړل شو، او په دغه شخص باندې جذب راشي چې دی له خپل ځان څخه خبر نه وي او له بام څخه لاندې راولوېده، نودا په ربښتیا سره دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له پاره جذب ده. اوکه دځان د ضرر او دفعې معلومات ورته کېدل او له ضرري شیانو څخه ځان ساتي اوښه پوهېږي مګر بیاهم قصداً ځان وهي خلکو ته ځان ښیي بیا توهم د شرک ده. له دې امله که د نقشبندیه طریقې زیاتره کتابونه وکتل شي نو زیاتره په دې تاکید کوي چې: ترڅو پورې چې دچا اختیار وي نو باید تحمل او برداشت وکړي، قصداً نارې سورې جوړې نه کړي، ځکه دا شرک ده، ځکه ریا شرک ده، خو خلکو ته ځان ښیي ، مګر فی نفسه د قرآن له آیاتونو څخه جذب ثابت ده، ځکه ملائکې بې هوښه شي، آسمان وخوځېږي ، موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ بېهوښه شوی،مګر انسان ته چې الله تعالی قوي استعداد ورکړی وي نوبیاهغه ځان سمبالولای شي، اصلاً په انسانانو کې فرق ده؛ ځکه مونږ مخکې خبر وکړه چې په انسان کې د خاورې عنصر دی، لکه لمر له څلورو آسمانونو څخه راوځي اوځمکه یې برداشت کوي، دغسې د الله تعالی د انوارو برداشت هم انسان کوي. [تفسیر مظهري ج: ۸/ ص: ۲۰۹]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کله په یوچا باندې جذب راځي نو وظيفه دې نه کوي، او که دجذب حالت غلبه پیداکړي نو په خفیه دې درود شریف وايي، سترګې دې نه پټوي او دچا رابطه دې نه نيسي.

دجذب تخصیص ترکوم ځایه پورې ځانګړی نه ده، چې په يوچا کې د ذکر په حالت کې جذب پیداکیږي دا غیراختیاري پیداکیږي او په حدیث شریف کې راځي چې د ذکر ځای جومات ده

﴿ عَنْ أَنَسِ بْنُ مَالِكٍ - وَهُوَ عَمُّ إِسْحَاقَ -، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُولُ فِي الْمَسْجِدِ، فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَهْ مَهْ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُزْرِمُوهُ دَعُوهُ» فَتَرَكُوهُ حَتَّى بَالَ، ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ: «إِنَّ هَذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هَذَا الْبَوْلِ، وَلَا الْقَذَرِ إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَالصَّلَاةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ» أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَأَمَرَ رَجُلًا مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَشَنَّهُ عَلَيْهِ ﴾ [صحيح المسلم ج ۱/ باب وجوب غسل البول وغيره من النجاسات آه رقم الحديث ۱۰۰/ص: ۱۳۸]

ژباړه: له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی وايي: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مسجد کې ناست وو چې ناڅاپه يو کوچی راغی او په مسجد کې په بولو (متيازو) کيناست صحابهٔ کرامو ورته وویل مه، مه.

(c) kitabton.com: The Digital Library



نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل چې پرې يې ږدئ، بولې متيازې، مه پرې بندوئ ، كله چې هغه صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له بولو نه خلاص شو نوبيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راوغوښت ( اوپه نرمه طريقه يې پوه كړ، خكه چې نوى مسلمان شوى ؤ، دجومات په ادابو پوه نه و، معذور و، ) نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل چې دا جوماتونه ددې له پاره نه دي جوړ شوي چې خوک دې پكې بولې او قاذورات وكړي، جوماتونه دذكر له پاره جوړ شوي دي، د لمانځه او دقرآن كريم دتلاوت كولو له پاره جوړ شوي دي.

نود ذكر خپل خاى جومات ده، اوجذب چې چاته بې اختياره پيداكېږي نود ذكر خاى جومات ده ، نوپه جومات كې به جذب هم ورته پيداكېږي.

دا تخصيص بيا تر جومات پورې نشته چې په دښته كې دې سړي ته جذب پيداكېږي نوهغه دې روا وي اوكه په جومات كې پيداكېږي هغه دې ناروا وي. كله چې دا عمل اختياري نه ده، اوهغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ دذكر له تاثيره پيداكېږي، دقرآن او ذكر له امله تاثير پيداكېږي دذكر خاى جومات ده نوپه جومات كې سړي ته خامخا جذب پيداكېږي.

له نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت شوى دى چې صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته فرمايي : كله چې تاسې د جنت په باغچوتېرېږئ نويكې خربېږئ ،صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورته وويل چې د جنت باغچې څه شى دي؟ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته روويل چې هغه د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر حلقې دي. په کوم جومات کې چې ذکر کېږي تاسې ورشئ اوشرکت پکې وکړئ دا په حقیقت کې دجنت د میوو خوراک دی.

[ ترمذی . رقم الحدیث (۳۵۱۰) . وهکذا مشکوة المصابیح / ج. ۱ / باب ذکرالله عزوجل والتقرب الیه ص: ۱۹۸]

یعنې دجنت د دخول سبب دی، الله تعالی یې ددې په سبب باندې جنت ته داخلوي، خو بیاهم جائز ده، په هغه کې خبره نشته مخکې مو خو، څو خله بحث وریاندې کړی دی.

خود جذب په هکله احتیاط په کار ده، څومره چې دسړي په وس کې وي کنټرول په کار ده، د نقشبندیه طریقې ښېګڼه اوبهتري چې په نورو طریقو باندې ده دهغې یو علت دادی چې دا لار له ریا څخه خالي ده، په دې لار کې له الله تعالی اومخلوق نه پرته بل څوک خبر نه وي. نوددې له امله داخبره چې څومره پټه وي حتی الامکان چې څومره یې له وسه وي بهتري په دې کې ده چې کار په خفیه وي، مګر کله که له اختیاره ووت نوبیاهغه بېله خبره ده.

نودجذب په هکله کتابونه داسې واقعات رانقل کوي چې داسې کیفیات خلکو ته پیښ شوي دي چې له بام نه لویدلي دي اوپښه یې ماته شوې ده، خکه غیر اختیاري عمل ده، یوڅوک خان په اور باندې نه سوځوي اوخپل خان نه خوږوي، په غیر اختیاري امورو باندې بې خدای تعالی جَلّجَلَالُهٗ هم نه نیسي. اوچې خبره بیا دعشق الهي وي، یعنې اشتباه خو پکې نشته ،یواځې خبره د احتیاط ده، چې باید په دې لاره کې احتیاط وشي چې خلک داګمان او فکر ونه

(c) Ketabton.com: The Digital Library


کړي چې طریقت له چیغو اونارو وهلو څخه عبارت ده، اوباغوک دا فکر وکړي چې په طریقت کې کمال داده چې څوک ډېرې چیغې ووهي، نو اصل خبره داده چې په دغه سړي باندې بايد له خدای جَلّجَلالُهُ نه پرته بل هېڅوک خبر نه شي، دغه دوستي او اخلاص دآخرت له پاره هم یوه سرمایه ده، اوکه خلک ووایې چې فلانکی شخص ډېرې ښې وظیفې کوي، ډېر ښه جذب کېږي، داسې ذاکر ده اوداسې نارې وهي خو چې نیت یې دخدای جَلّجَلالُهُ رضا نه وي نو څه فائده ورباندې مرتّبه نه ده، نو حتی الوسع بايد انسان خپل ځان په واک کې وساتي اوله کنټرول څخه ونه وځي

## د حضرت عبدالخالق غجدواني قدس سره خپلومریدانو ته بهترین نصیحت

حضرت خواجه عبدالخالق غجدواني رحمه الله په یوه تفصیلي نصیحت کې خپلو شاګردانو اومخلصینو ته وایې چې تاسې اول ځانونه اولیاء جوړ کړئ، له ځانونو څخه هغه خلک جوړ کړئ چې په هرآن. هره لحظه کې یې له خدای سره علاقه وي، هغه جَلّجَلالُهُ مو په یاد وي، له خدای تعالی جَلّجَلالُهُ نه یوه لحظه هم مه غافله کېږئ! خو که بیامو هم وس نه رسېده اودغه مقام ته رسېدای نه شوئ نوبیا ددغسې خلکو په ځان اومال خدمت وکړئ ترڅو یې تاسې هم په عبادت او خدمت کې ورشریک شئ او ولې ؟ څکه داهغه خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي چې ددوی دحق له جذباتو نه یوه جذبه دټولو انسانانو او پیریانو له عبادت سره برابره ده.

څکه هغه د اور لمبه ده، دکوم اور ؟ د عشق الهي د اور لمبه ده. چې له هغه نه بې اختیاره وځي

پتنګ چې ددنیا له دغې رڼا سره مینه لري، په دغه رڼا باندې دومره عاشق ده چې خپل ځان وریاندې وسوځي، داچې څوک دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په انوارو باندې مین ده، هغه انوار اوتجلیات ورته ښکاره شي ، دهغو په عشق کې داسې پېښېږي هم راځي چې ډېر بزرګان د جذب په حالت کې دومره بې اختیاره شوي دي چې روح یې هم قبض شوی دی.

سالک فرمایي

ای مرغ سحر عشق ز پروانه بیاموز کان سوخته را جان شد و آواز نیامد

سالک هغه چرګ ته چې سهار وختي نارې وهي هغه ته وایي چې عشق له پتنګ څخه زده کړه چې یو ځل له نوادرو څخه خبر شو نوبیایې په دوهم ځل خبر رانغی او ولاړ پکې مړ هم شو، نو دچاچې دخدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره عشق زیاتیږي بیاپه دې لار کې فنا کیږي اوچې فاني شو نوبیاپه تکلیفونو باندې صبر کوي اوهیڅ پروا یې نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره داده چې که مریدانوته په دغه لاره کې خه تکلیف رسیږي، جذب په خپله تکلیف ده، نوچې په دغه تکلیف باندې صبر وکړي نوبه صبر باندې کوم مقام ورته ورکول کېږي.

## صبر څه ته ويل کيږي؟

صبر په لغت کې بندوالي ته ويل کېږي.

صبر په دري قسمه ده: صبر على الطاعة. صبر عن المعصية. صبر على المصيبة.

**صبر على الطاعة:** لمونځ، اودس، روژه، جهاد، حج اونور عبادات په نفس باندې سخت وي، نوکه له دې سخت والي سره سره څوک عبادت کوي نودې ته صبر على الطاعة وايي.

**صبر عن المعصية:** مطلب داچې نفس غواړي چې زنا، غلا وکړي، شراب وڅښي، خواهش یې د ګناهونو په لوري وي، اوته نفس له ګناهونو راوګرځوي، دې ته صبر عن المعصية وايي.

**صبر على المصيبة:** دامعنا چې کوم تکلیف د مال، اولاد اوځان ورته ورسيږي، په کوم مصیبت اخته شي، له مرضونو اونورو آفاتو سره لاس او ګریوان شي، نو نفس ددې مخالفت کوي اوته پرې صبر کوې، له الله تعالى نه پرته یې بل چاته نه بیانوې. نو دې ته صبر على المصيبة وايي.

داهر ډول صبر په خپل منځ کې ددرجو په نسبت توپير لري.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صبر علی الطاعة** ، چې د خدای تعالی په بندګۍ باندې څوک صبر کوي نود قیامت په ورځ ددغو صابرینو له پاره په جنت کې (۳۰۰) درجې دي، چې له یوې درجې څخه تر بلې درجې پورې دومره مسافه ده لکه څومره مسافه چې د آسمان او ځمکې تر منځ ده.

**صبر عن المعصية:** چې له ګناهونو څخه څوک صبر کوي نوددې انسان له پاره په جنت کې (۶۰۰) درجې دي، چې ددغو درجو په منځ کې تفاوت د اووم اسمان اود ځمکې تر اووم طبقه پورې ده.نو فاصله دومره زیاته شوه.

**صبر علی المصيبة:** چې څوک کوي، دده له پاره په جنت کې (۷۰۰) درجې دي ، هره درجه له بلې سره دومره فاصله لري لکه له عرش عظیم نه تر تحت الثری پورې. [تنبیه الغافلین عربي ، ص:۱۴۳]

اوس نو که سړی کوشش وکړي اوپه عبادت باندې ځان عادت کړي نو نفس یې ورسره نه مني سرزوري کوي، عبادت او ذکر نه برداشت کوي اوته په خپل نفس باندې زور راولې په تنګ یې کړې ، په طاعت باندې صبر کوې، نوددې په عوض کې هغه د جنت درې سوه درجې دي ، داچې نفس د ګناهونو په لورې خې نو معلومه خبره ده چې انسان تباه کېږي نوچې څوک له ګناهونو څخه راګرځي نودا له ګناهونو څخه ځان ساتنه هم بیادومره درجه لري، ثواب یې هم زیات دی. شپږ سوه درجې دي.

بیاچې په عبادت کې څه تکلیف انسان ته پیدا کېږي ، مرضونه ، بې خوبي پیدا کېږي، نور تکلیفونه پیدا کېږي په هغه باندې چې

Scanned with CamScanner

(c) ...n.com: The Digital Library



صبر کوي، نو بیایې هغه مقام ده چې نه سوه درجې ورکوي چې هره درجه یې لکه له عرش عظیم نه تر تحت الثری پورې

تول وخت داکوشش په کار ده چې هر وخت سړی په هر رنګ تکلیف اخته وي نو باید له خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ نه پرته یې بل چاته ښکاره نه کړي اونه بل چاته شکایت وکړي. یوداسې چې څوک دې دمرض او مسکنت حال ورپوښتي او ته ورته ووایې هغه بېله خبره ده، هغه شکایت او بې صبري نه ده، بې صبري داده چې مرض، مسکنت یا بیکسي په چا باندې راشي نوله دغو مرضونو، مسکنت او بېکسي نه به شکایت نه کوي په دغو به بې صبري نه کوې اوهرخای به یې نه بیانوي چې زه خو له دې حالت نه ډېر په تکلیف کې یم، در په در شوم ،نودا بیا شکایت ده، دا شکایت به نه کوې

دایو لوی تکلیف ده چې یوسړی په عباداتوکې کوښښ کوي ترڅو یوه مقام ته خان ورسوي او رسیږي نه، نو په دې حالت کې چې انسان خدای تعالی ته التجا کوي، له بنده نه یې نه غواړي. نو په دې سره الله تعالی دغه بنده ته هماغه مقامات ورکوي

نوځوله معامله باید له خدای تعالی سره وي، بندګان وسیله دي، ډاکټر وسیله دی، مولوي صاحب وسیله دی، پیر وسیله ده، زیارت وسیله ده، هغوی د خدای تعالی په ورکړه باندې کفایت کوي، په خپله ددوی په وس کې هیڅ هم نشته. نوداچې سړی ډاکټر ته ځي، نو په حقیقت کې یې اعتماد په خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ باندې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي امید به یې خدای پاک ته وي، که یو څوک زیارت ته ورځي یا بل هرځای ته چې ورځي امید او التجاء به یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وي، نو په دې سره به یې بیا الله تعالی مشکلات ورحل کوي، څومره چې څوک الله تعالی ته نږدې کېږي نو بیا دغو خلکو صبر کول هم ډېر اجر لري او خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په همداسې خلکو باندې ډېر ډېر تکالیف او امتحانات راولي

## د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ لوی امتحانات په خپلو پیغمبرانو وي

حضرت زکریا عَلَیْهِ السَّلَامُ د خپل أمت په وخت کې کفارو پسې واخیست او د مرګ اراده یې ورته کړې وه، دی په منډه باندې روان ده، په یوه ځای کې یوه غټه ونه په مخه ورغله، ده له دغې ونې څخه پناه وغوښتله چې ماته پناه راکړه ! کفار مې وژني، ونه ورته دوه خایه شوه، ده ته یې پناه ورکړه اوبېرته پرې راټوله شوه، کفار چې کله دې ونې ته راورسېدل نو شیطان چې دبدبختانو مشر دی دوی ته دسړي په شکل کې راغی او حضرت زکریا عَلَیْهِ السَّلَامُ یې وروښود. او ورسره یې دا چل هم وروښود چې ( اره ) راوړئ اودغه ونه پرې اره کړئ ترڅو په دغه ونه کې دی هم له منځه ولاړشي، دوی چې کله اره راوړه او اره یې په ونه کېښوده او دونې اره یې شروع کړه، دده بدن مبارک ته چې اره ورسېده، نو په دې حالت کې یې له خولې څخه چیغه ووته ، د الله تعالی له لوري ورباندې غږ وشو چې ګوره بیا آه ونه کړې، کنه نوم به دې دصابرینو پیغمبرانو له جملې

لرې کړم ، زه دې هېر وم چې تا ونې ته پناه ور وړه؟ نوده مبارک خپلې شونډې کلکې کړې تردې پورې چې ټول بدن یې لړ وخړخیدله . بیایې دوهمه چیغه نه ده کړې.

ګورئ بدن یې په منځ دوه خایه شو ، دخومره لوړې مرتبې څښتن و خو چې کله یې چې له الله تعالی نه پرته بل چاته پنا ور وړله نو الله تعالی په دنیاکې پرې دا تکلیف راووست او د چیغې کولو په رځن کې یې بیا خومره تهدید کړ . [ مکاشفة القلوب ص: ۱۴ ]

نو که یوڅوک طالب، مجاهد ، صوفي ، او عالم وي هغه به په دغه لاره کې دیو عام مسلمان په نسبت زیات تکالیف برداشت کوي، په عبادت کې به تکلیف کوي، ځان به له ګناه څخه په ساتلو مجبوره کوي، مصیبت او تکلیف که ورته پیداکېده نو په هغې به صبر کوي ځکه الله تعالی دصابرینو په هکله دغه آیت نازل کړې دی : ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ [ سورة البقره ]

ترجمه : له شکه پرته خدای جَلَّجَلَالُهُ له صابرینو سره تل ملګری دی .

نو مطلب مو دادی چې دا په نفس ډېره درنه ده چې هغه دې دخدای جَلَّجَلَالُهُ په عبادت کې ځان سختې ته ورکړي، خو که یوځل نفس راقابو شي، صبر وکړل شي، بیا دی په خپله عادت اخلي که هرڅومره شوخي او سرزوري پکې وي هغه له منځه ځي. هغه بغاوت یې ورک شي اوبیا انسان ته دنیکۍ په لوري الهام کوي او بیا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


تکلیف چې دنفس له وجې به په عبادت کې ورته پېښېدو هغه هم له منځه ولاړ شي.

## توله شپه ذِکر کول د کتاب د علم دزیادت سبب کیدل

ما له خپلو مشائخو کرامو څخه اورېدلي دي چې: زمونږ داسې معاصرین (هنځولي) هم وو چې له ماخوستن څخه وروسته به په وظیفه کې کېناستل آن تر سهاره پورې. یوه ملګري خبره کوله چې: مابه ډېره وظیفه کوله، اود درس له امله دا راته سخته هم وه، نو له خان سره مې فیصله وکړه چې یوڅه به په خان تکلیف راکم کړم نو به په کتاب ښه پوهېږم، مطالعه به مې روانه شي، نو دی. ایي چې کله ما خوب ډېر کړ نو غفلت مې ډېر شو، نو په کتاب نه پوهېدم. خو چې کله مې بېرته هغه خپل معمول شروع کړ چې له ماخوستنه به تر سهاره پورې کېناستم نو وجود به مې هم سپک و، طبیعت به مې برابر و اوپه کتاب به هم ښه پوهېدم.

داچې خوک د عباداتو په ترسره کولو کې تکلیف تېر کړي نو په هغه باندې د الله جَلَّ جَلَالُهُ رحمت هم ډېر رانازلېږي، چې په نتیجه کې یې بیا بې شمیره علوم په برخه شي، چې دهغو علومو په ذریعه شرح صدر، سکون او اطمینان ورته حاصل شي.

په انبیاء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په ظاهره ډېر تکلیفونه تېر شوي دي خودا تول به یې په خان زغمل اوله دې سره

Scanned with CamScanner

(c) Kitabton.com: The Digital Library


سره به يې قلبي اطمينان هم وو، دخداى تعالى جَلَّجَلَالُهُ له لوري به راحت ورسره مل وو، او تكليف به ورته آسانه و.

يوځل دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ورانه كې غيشى ولګېده، كله يې چې هغه غيشى ورڅخه ايسته نو ډېر درد يې كاوه، ده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل چې: كله زه په لمانځه ودرېږم نو بيا زه له ځان څخه ناخبره يم، تاسې كولاى شئ چې په هغه حالت كې راڅخه دا غشى وباسئ، كله چې دى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لمانځه ودرېده نو يې غيشى ورڅخه وايست اودى پرې خبر هم نه شو، دده ورون يې ورځبرې كړ خو دى بياهم پرې خبر شوى نه دى اونه يې هم پښه ښورولې ده. نومطلب داچې دا نفس بيا دومره فنا فى الله شي،چې له خپل ځان څخه محوه شي. [ تفسير مظهري ج: ۸/ص ۲۰۸ ]

دحضرت يوسف عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ په هكله مو مخكې قصه كړې وه چې د ښځو په حق كې راغلې چې: ﴿ فَلَمَّا رَأَيْنَهُۥٓ أَكْبَرْنَهُۥ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ وَقُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ ﴾ [ سورة يوسف آيت: ۳۱ ]

ژباړه :نوكله چې وليد دوى دغه ( يوسف ) نو ډېر لوى ښائيسته يې وموند ( هك پك پاتې اوځانونه ترې هير شول ) اوغوڅ يې كړل لاسونه خپل او وويل دوى پاكي ده الله ته ( له عجز اونقصانه چې داسې صورت يې هم جوړ كړى ) نه دى دغه ( خلمى ) انسان، نه دى دغه (خلمى) مګر پرښته ده لويه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې کومو ښځو چې يوسف عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ وليده نو خپلې ګوتې يې پرې کړې، نوچې د بنده په عشق کې انسان دې مقام ته رسېږي چې له ډېرې حيرانتيا څخه خپلې ګوتې پرې کوي، دهغه تجليات اوانوار دومره پرې غالبه شوي دي چې له دې دومره سخت تکليف سره سره دوی په ځان هم نه دي خبرې شوي اونه يې خپلو ګوتو او لاسونو ته فکر ده. نوداچې يوڅوک په عبادت کې لږ تکليف تېر کړي، دخدای تعالی په عشق کې بياورته دغسې مقامات په لاس ورځي.

لکه چې په يوه روايت کې راځي چې کله يوڅوک شهيد کېږي نود زنکدن تکليف يې داسې دی لکه مېږتون ( مېږی ) يې چې وچيچي، دا ولې؟ ځکه چې په شهيد باندې الهي عشق غالب وي، هغه خپل مقامات په همدې حالت کې په جنت کې له ورايه ويني، هغه حجابات ټول پورته شي، کله چې دغه مقام ورته پيدا شو نوکه دی بيا ټوټې ټوټې هم شي نود هيڅ ډول تکليف احساس نه کوي

که يوڅوک په هر لحاظ کوښښ وکړي د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ مرسته به ورسره وي. د هدايت اواطمينان لارې ورته خلاصوي، درحمت دروازې پرې راپرانيزي، او هر ډول تکليف بيا ورته آسانه وي

## له نفس سره مجاهده کول خورا غوره کار دی

مګر اصلي او بُنيادي خبره داده چې له نفس سره به مقابله کوو، د نفس مقابلې ته چې جهاد اکبر ويلی شوی دی هغه له دې

Scanned with CamScanner

(c) ...ooton.com: The Digital Library



امله چې تل تر تله انسان د نفس په مقابل کې ولاړ وي، څکه ... که مونږ په جومات کې يو ساعت ذکر کوو، ژاړو، عبادت کوو د آخرت په طرف مو پام وي، خو کله چې له جومات څخه ووځو بيا مو هرڅه هېر وي او بېرته په ګناهونو لګيا شو، خدای جَلَّ جَلَالُهٗ، آخرت، سوال اوځواب داټول مو هېر شي. نو قدرمنو دا جهاد اکبر به ... داعتبار وړ وي چې په ناسته په ولاړه، په دنياوي معامله کې ... داچې په هرشي کې به خپل نفس ته متوجه وي، مقابله به يې کوي.

کله چې تاسي عبادت کوئ نو نفس درته وايي چې خلکو ته ځان وښياست چې ښه ښه عبادت کوي، نو ته به له نفس سره مقابله کوې، په عباداتو اومعاملاتو بلکې په هر هغه عمل کې چې هغه الله تعالی ته دنږدېوالي ذريعه وي اودی درسره مقابله کوي ته به هم ورسره په مقابل کې ولاړ يې، نوبيابه يوڅوک د کمال حدودو ته رسيږي، انسان ترقي کوي اود الله تعالی د دوستانو په ډله کې شمېرل کېږي. بيا ورته الله تعالی د نيکي کولو ملا ئکې ټاکي ترڅو دی دنيکي کولو په لوري روان کړي اوله ګناهونوڅخه يې ساتي.

داهل السنة والجماعة عقيده داده چې انبياء کرام عَلَيْهِمُ السَّلَامُ معصوم ؤ، هېڅ ډول ګناه يې نه ده کړې خو اولياء الله معصوم نه دي، د شريعت په اصطلاح محفوظ دي. يعنې د انبياء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ له ګناهونو څخه د ساتنې ذِمه الله تعالی جَلَّ جَلَالُهٗ په ځان منلې ده، په هغوی کې د ګناهونو کولو شوق نه پيداکېږي. مګر اولياء الله ترڅو چې تصفيه او تزکيه پکې راغلې نه وي نو کېدای

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي چې ګناه ترې شوې وي خو چې يوځل دولايت مقام ته ورسيږي نو بيا ورسره هغه ملائکې مقررې شي چې له ګناه کولو څخه يې ساتي نويه دې سره دوی محفوظ ګرځي، خو معصوم نه دي، څکه انبياء کرام خو نه دي، خو که بالفرض ګناه ورځخه وشي خو بيا وروسته ورته الهي خشيت پيدا کېږي، صحابهٔ کرام رضي الله عنهم چې ټول اولياء الله دي، که به په دوی کې له چاڅخه لږ څه زياتی او کمی وشو نو سمدستي به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راتلل اوورته ويل به يې چې په مونږ دخدای تعالى جل جلاله حکم جاري کړه! په خپله به يې ويل چې له ماڅخه دا تقصير شوی دی او هسې نه چې دا پيټی مې بيا په آخرت کې دغاړې غړوندی شي اوپه عذاب اخته نه شم، نو له اوسه مې سنګسار کړه، يا مې اوس لاس پرې کړه، داهرڅه مې قبول دي خود آخرت له عذابونو چې خلاص شم، نو له دې امله يې الله تعالى محفوظ ګرځوي. خودې مقام ته رسېدل کوشش غواړي اوچې کوشش دې شروع کړ او ملا دې وتړله نوبيادې الله تعالى هم حفاظت کوي، بياواجب تعالى ستا په قول، فعل، نيت، مجلس او صحبت ټولو کې اثر او برکت پيدا کوي.

**فائده:**

که يوڅوک په يواځې ځای کې ناست وي نو ټولې وظيفې کولای شي، خو که په يو مجلس کې ناست وي نو که دچا يوه وظيفه، يا دوه يا پنځه لطائف يا ذکر سلطان وي هغه کولای شي اوڅه تاوان نه لري، مګر نفی او اثبات به په غټ مجلس کې نه کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودیوي طریقې چې دخومره مشائخو کرامو رابطې ونیول شي
چاته د مرحوم خلیفه صاحب رابطه، چاته د دین محمد خلیفه
صاحب رابطه، چاته د احمدضیاء خلیفه صاحب رابطه، چاته د داو
محمد خلیفه صاحب رابطه، چاته د عنایت الله خلیفه صاحب
رابطه، چاته دحضرت صاحب مبارک رابطه پیدا کېږي ، چاته چې د
چا رابطه پیدا کېږي نوهغه دټولو فیض پرې راجلبیږي، رابطه چې
څومره پورته برابرېږي دغومره کار هم ورسره جوړېږي په یوه
مجلس کې چې دیوه ملګري وظیفه په ښه طریقه ترسره شي نود
پاتې ټولو ملګرو کار ورسره برابر شي. خو یوه خبره داهم ده چې که
یوملګري له اصلِ فیوضاتو څخه منکر وي ، دغې لارې ته په
اخلاص قائل نه وي، له خپل شیخ سره د زړه له تله اخلاص ونه
لري، نوبیاداسې هم پېښېږي چې ددغه یوه منکر په سبب دټول
مجلس کار خراب شي او فیوضات پرټول مجلس بند شي.

علامه رومي لیکي: چې دیوه شوم ( سپېره ) له امله د ټول روم
ښار وسوخېد. نو کله داسې هم وي چې دیوه بې ادبه له امله ټول کار
خراب شي.

نو د خبرې پای دادی چې څومره دیوه ملګري ( مرید ) اخلاص
وي، نوددغه یوه ملګري له امله چې الله تعالی یې کار برابر کړي
دټول مجلس کار وربانديې جوړېږي. نو الله تعالی دې مونږ ټولو ته
واقعي اخلاص ، مینه او محبت راپه برخه کړي . آمین ثم آمین.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۷) مجلس

## وخت یو نعمت دی چې باید ضائع نه کړل شي او د تکلیفونو بدله به خامخا ورکول کېږي

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «إِيمَانٌ بِاللهِ» ، قَالَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ» قَالَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: «حَجٌّ مَبْرُورٌ» ، وَفِي رِوَايَةِ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ: «إِيمَانٌ بِاللهِ وَرَسُولِهِ» ﴾ [صحيح المسلم ج: ۱/ بَابُ بَيَانِ كَوْنِ الْإِيمَانِ بِاللهِ تَعَالَى أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ ، رقم الحديث: ۱۳۵ / ص: ۶۲]

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه شوې ده، چې په اعمالو کې ترټولو کوم عمل ښه ده ؟ نو ده صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وویل چې: په الله تعالی باندې ایمان، بیا پوښتنه ورڅخه شوې ده، چې بیا کوم عمل بهتر ده؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: د خدای په لار کې جهاد کول . بیا پوښتنه ترې وشوه چې بیا کوم عمل بهتر ده ؟ ده صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: حج مبرور .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا» قَالَ: قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «بِرُّ الْوَالِدَيْنِ» قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ» فَمَا تَرَكْتُ أَسْتَزِيدُهُ إِلَّا إِرْعَاءً عَلَيْهِ ﴾ [صحيح المسلم ج: ۱/ بَابُ بَيَانِ كَوْنِ الْإِيمَانِ بِاللهِ تَعَالَى أَفْضَلَ الْأَعْمَالِ، رقم الحديث: ۱۳۷/ص: ۶۲]

ژباړه : له حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : چې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مې وپوښتل کوم عمل بهتر او غوره ده ؟ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته په ځواب کې وویل : په خپل وخت لمونځ کول.بیامې ورنه وپوښتل چې بیا کوم عمل بهتر دی ؟

راته وې ویل : له خپل مور اوپلار سره نیکي کول . بیا مې ورنه وپوښتل چې بیا کوم عمل بهتر دی ؟ راته وې فرمایل : دخدای پاک په لار کې جهاد کول . نو زیات سوالونه مې پرېښودل له وجې دنرمي په پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې .

یعنې داسې په متعددو طریقو پوښتل شوي دي ، بیا کله ده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو رنګه ځواب ورکړی دی کله بل ډول.

زما اصل مطلب داده چې : دلته محدثین کرام لیکي چې: کله کله چې حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوچاته داسې ځواب ورکړی چې په ټولو کې بنه عمل داده چې لمونځ په خپل وخت وکړل شي ، کله یې په دې ځواب ورکړی چې جهاد فی سبیل الله وکړي، کله یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا داسې خواب ورکړی چې صدقې ورکړئ (اطعام الطعام) نوددې تولو بهترینه توجیه داسې ده چې: په کوم وخت کې به دکوم شي ډېر ضرورت و نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دهغه موافق خواب ورکاوه.

لکه یوځای کې چې د چوپوالي خبره بهتره ده، نو هلته علماء لیکي چې له چوپتیا څخه بهتر عمل نشته، چې سړی چُپ کیني اوچېرې چې دخبرو ضرورت وي هلته دې خبرې وکړي، ځکه چې بیا هلته تر خبرو کولو بهتر عمل نشته، نو هرشی له خپل وخت سره موافق په کار ده. یعنې که کله دخبرو ضرورت وي، بیا باید خبرې وشي اوکه دخبرو ضرورت نه و، له عبث مجلسونو څخه باید ځان وساتي، د مشر ، استاد، مرشد په مخکې باید بیا ونه غږیږي، هلته بیا خاموشي ادب ده.

نور ددنیا ژوند دامتحان ژوند ده، انسان چې ځای، وخت اومحل وپېژني باید له هغه سره ژوند غوره کړي. په هر قدم کې باید دشریعت مکمله اتباع غوره کړي. نوبیابه دغه انسان دخدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په وړاندې دومره عزتمن وي چې بیا الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دده خوښه او رضا غواړي.

یوې خواته بار بار په آیت کې اورو او وینو یې چې: ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ۝ ﴾ [سورة الضحی]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





ژباړه: او خامخا ژر ده چې در به کړي تاته رب ستا (ای محمد لویه برخه په آخرت کې او اختیار دشفاعت) پس راضي به شې ته

نو اوس ګوري چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دشريعت مکمل تابع ده، نو الله تعالی ورته وایي چې: زر به دې راضي کړم. او بلې خوا ته دحضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هکله چې کله ده یو غلام (حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) آزاد کړ نو کفارو به ویل چې ده خو له حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره احسانات کړي وو نوځکه یې آزاد کړ نو الله تعالی دده په شان کې وفرمایل چې:

﴿ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾ ﴾. [سورة الیل]

ژباړه: او نه و هیچا لره په نزد دده هیڅ نعمت احسان چې بدل یې ورکولی شي مګر له پاره دطلب درضاء درب چې ډیر لوی دی او خامخا ژر ده چې دی به راضي شي (له الله په موندلو دنعماؤ دجنت او لقاء درب العزت).

یعني داچې زر به خدای تعالی حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راضي کړي، نوحضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته به هم خدای تعالی هغه مقام ورکړي چې دی به پرې راضي وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په لباس خدای پاک جل جلاله فخر کوي او ملائکې دده په شان لباس کوي

په یوه مجلس کې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی ،یوه شړۍ یې له ځانه تاوه کړې وه، شړۍ خوږه بدن باندې نه تم کېږي نو په هغې کې یې سورې کړی و، او بیا یې په هغو سوریو کې څه لرګي او خلې ورکړې وو، او هغه شړۍ یې پرې تکیه کړې وه، جبرئیل علیه السلام هم دې مجلس ته راغی، حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې سلام واچاوه، له سلام څخه وروسته یې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل چې: حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ولې په داسې خواره شړۍ کې ناست دی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل : دده چې څومره دنیا اوهستي وه د مکې معظمې له فتحې څخه مخکې یې هغه ټوله داسلام په لاره کې صدقه کړه ،پوره لباس نه لري، نو ځکه یې دا شړۍ په ځان راتاوه کړې ده. نو جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې: زه الله تعالی رالېږلی یم ، خدای تعالی ویل چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته مې سلام وایه او ورته ووایه چې : ته ددغه فقر په حالت کې له ماڅخه راضي یې اوکه ماته په غصه یې ؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته مخ ورواړه او ورته یې وویل چې. رب تعالی جل جلاله درته سلام رااستولی دی او وایي چې په دې حالت کې له ماڅخه راضي یې اوکه ماته په قهر یې ؟ حضرت ابوبکر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدیق رضي الله عنه په ژړا شو چې: آیا زه به خدای پاک جل جلاله ته په قهر یم؟ زه راضي یم ، زه راضي یم، حضرت جبرئیل علیه السلام نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وایي چې: والله له کومه وخته چې د ده رضي الله عنه دغه شړۍ په ځان راتاوه کړې ده نو دخدای تعالی جل جلاله له لوري د عرش ملائکو ته دا حکم شوی دی چې تاسې ټول دغه شړۍ واغوندئ او الله تعالی وایي چې ابوبکر ته ووایه چې که ته له ماڅخه په دغه حالت کې راضي یې نوزه له تاڅخه راضي یم.

۱ حیاة الصحابة ، الجزء الاول ـ ص ۴۲۵ / ۴۲۶ ؛ کتب خانه فیضي لاهور ا

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو اُمتي ده،خو وختونه یې پېړندلي ، خپل حرکات، سکنات یې له شریعت سره برابر کړي دي،نوبیایې مقام داده چې الله تعالی دده رضي الله عنه رضا غواړي، سلام ورته را استوي او ورته وایي چې آیا ته له ماڅخه راضي یې اوکنه ، نودا مقامات دوی ته هسې په لاس نه دي ورغلي،لوږې، تندې، قسماقسم تکلیفونه یې تېر کړي دي، نوبیاخدای جل جلاله دا مقام ورکړی دی.

## د حضرت علي رضي الله عنه د فقر او غُربت واقعه

حضرت علي رضي الله عنه وایي چې: زمونږ په کور کې زما او د فاطمې رضي الله عنها بِستره نه وې چې مونږ پرې پرېوتلي وای،یو د پسه پوستکی و چې د ورځې به مو په هغه باندې هغه اوبن ته چې مونږ ته به یې اوبه را ایستې واښه اچول او د شپې به زه او بي بي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاطمه رضي الله عنها په هغه باندې ویده کېدو، او زما له پاره ددې نه بغیر بل خام هم نه ؤ.

هغه فاطمه رضي الله عنها چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دځیګر یوه ټکره ده اود جنت دټولو ښځو سرداره ده

[ حیاة الصحابة ، الجزء الاول ص: ۴۲۶ / کتب خانه فیضي لاهور ]

حضرت علي رضي الله عنه وایي چې زمونږ په کور ډېرې لوږې تېرې شوې دي، له کوره راووتم چې په لار کې یو دینار پروت دی، ورته ودرېدم چې زه یې واخلم اوکه نه ؟ خوچې خپلې اود کورنۍ لوږې ته مې وکتل او څښتن یې هم نه و، نودا دینار مې راواخیست اوله خان سره مې هغه تجار ته یوړو چې غله دانه یې خرڅوله، څه اوړه مې پرې واخیستل کور ته مې راوړل، حضرت فاطمې رضي الله عنها ته مې وویل چې: دا اوړه لانده کړه اوډوډۍ ورڅخه پخه کړه چې ویې خورو، کله یې چې لندول نوله ډېرې کمزورۍ یې نشوای لندولای، د تندي وېښتان به پکې لګیدل اوله ډېرې کمزورۍ به پرمخې پرې ولوېده. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم قصه مې ورته بیان کړه راته وې ویل : خورئ یې دا الله تعالی تاسي ته غیبي رزق در کړی.

[ حیاة الصحابة ، الجزء الاول ص: ۴۰۶ / کتب خانه فیضي لاهور ]

بي بي فاطمه رضي الله عنها د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بدن یو جز ده، خوداسې تکلیفونه پرې تېرشوي دي چې ددې توان اوطاقت یې نه درلود چې اوړه لامده کړي. خودغه خلک و چې تکلیفونه یې وګالل اوبیاپه دنیاکې پرې الله تعالی داسې وسعت راووست چې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی ټوک

حضرت علي رضي الله عنه وايي چې ځینې مومن له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ځ په نس پورې به مې تیګه تړلې وه اونن ورځ زما د مال څلوېښت زره دینار زکات کېږي، دابیا په دنیاکې الله تعالی داسې وسعت پرې راوست.

[ حياة الصحابة ، الجزء الاول . ص: ۴۰۶ / كتب خانه فيضي لاهور ]

دنبي كريم صلى الله عليه وسلم تره او رضعي ورور حضرت حمزه رضي الله عنه چې په اُحُد کې توتې، توتې اوشهید شوی دی، دکفن دورکولو په وخت کې دومره شی نه و چې دی مبارک یې پکې پټ کړای وای، یوه شړېه وه چې د سر طرف به یې پټاوه نوپښې به یې لوڅې شوې اوچې پښې به یې پټولې سر به یې لوڅ شو، آخر یې سر په شړېه کې ورپټ کړ اوپه پښو یې وابنه ورواچول او دی رضي الله عنه یې بیا خښ کړ.

نوکه وختونه ضائع تېر نه شي اود دین له پاره تکلیفونه په خان تېر کړي نو بیا الله تعالی هم ډېر مهربان ذات دی. هم په دنیاکې خپل دوستان ساتي، دعزت ژوند یې په برخه کړي اود شرافت مقام ورکړي، سکون او اطمینان یې په برخه شي اوهمدارنګه په آخرت کې یې هم بیاپه هغومقاماتو نازوي چې بیا خدای جل جلاله ددغه انسان رضا غواړي اودی راضي کوي.

مونږ اوتاسې که د الله تعالی احساناتو او ښېګڼو ته وګورو سړا له دې چې اعمال موکوټه بلکې په هېڅ حساب دې خوبیامو هم ساتي. اوکه مونږ یوڅه اندازه په خپل اخلاص کې زیاتوالی راولو اوپه خان تکلیف تېر کړو نوبیا وګورئ چې د الله رحمت څرنګه په

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوش کې راځي اود داسې رحمت معامله به راسره کوي لکه څرنګه یې چې له صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم او انبیاء کرامو علیهم السلام سره کړې ده. خو بنیادي خبره داده چې انسان لږ ځان ته متوجه شي او په ځان باندې یوڅه تکلیف راولي له نفس او شیطان سره مجاهده او مقابله وکړي.

د هر صحابي رضي الله عنه مقام ته چې ګورې دا مقام یې څکه مونډلی چې هغه په ځان دومره سختۍ تېرې کړي وي چې بل چانه دي تېرې کړي. همدارنګه د هر ولي الله مقام ته چې ګورې هغه دا برخه له دې مونډلې ده چې ځان یې تکلیفونه ته ورحواله کړی دی.

یو صحابي رضي الله عنه مبارک وایې چې مونږ داسې وخت هم لیدلی دی چې دومره جامه به مو نشوای پیداکولی چې ځادر او یا لنګ مو ترینه جوړ کړی وی. بلکې یو لنګ به مو وو چې د کاروبار په وخت کې به مو له ځان څخه راتاواوه، د خاورو اوخولو له لاسه مو په غاړو کې د خیرو طوقونه جوړ شوي وو. حضرت سعد رضي الله عنه خپل زوی ته وایې چې: که زمونږ هغه حالت دې لیدلی وای چې مونږ به وږی، او پوستکي اغوستي وو اوچې بیابه کله باران وشو نوډېر سخت بوی به ترې راځه پورته کېدل لکه دمبړو له شپاله (یعنې دمبړو د درو لو ځای) څخه. اوس خو شکر دی په تاسې باندې راحت راغلی دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حضرت علي رضی الله عنه څه وایي

حضرت علي رضی الله عنه فرمایي چې ما پوستکی اغوستی ؤ او له لوږې څخه په تنګ شوم، په کور کې هم څه نه وو او ود باندې راووتم، د یوه یهودي باغ ؤ او د دېوال له یوه سوري (غار) څخه مې وروکتل چې د باغ مالک له کوهي څخه اوبه راباسي او ونې او باغ پرې اوبه کوي، نو کله یې چې زه ولیدلم نو یې راته وویل چې: ای وحشی! مزدوري نه کوې؟ ما ورته وویل چې کوم یې. د اوبو یوه بوکه په یوه خرما باندې، نو تردې اندازې مې کار ورسره وکړ چې زه په دې پوه شوم چې اوس مې دومره خورما ګټلې دي چې زما نن ورځ او شپه پرې تېرېږي نو مې ورسره کار بس کړ. نو ګورئ په دغه صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم پورې به کفارو استهزاء کوله او نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته به یې ویل چې مونږ ستا په دغو ملګرو باندې شرمېږو، دوی ډېر زيات فقراء او مساکین دي، نو څکه له تاسره نه کینو.

ګورئ عزتمنو! که څوک عزت غواړي، هغه په دین کې دی. که په ظاهره سړی خیرن وي، لوڅ وي، بې کسه او مسکین وي، هرڅنګه چې وي خوچې خدای پاک جل جلاله عزت ورکړ نو دغه شخص بیا په دنیا او آخرت کې له ټولو نه بهتره دی. او که په ظاهره یې هرڅومره ښه لباس برابر وي، خوراک او څښاک یې هم ښه وي، خو چې له خدای تعالی جل جلاله څخه لیرې وي، نو بیا له دغه انسان څخه ذلیل انسان بل نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو عزت په دې کې دی چې په دین پورې لاس ونیسو او که خدای مه کړه له دغه دین سره مو بې پروایي وکړه او دغه دین ته مو په درنه سترګه ونه کتل بیا به د دغه دین داحکامو له نه کتلو له امله انسان بې قدره او بې عزته کېږي. کله چې په مونږ څه تکلیف راشي نو سمدلاسه بې صبري راڅخه وشي، نو عزتمنو سړی به تکلیف تېروي بیا به کامیابېږي.

اوس زمونږ طریقه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په واسطه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه رانقل شوې ده. نو زمونږ د قافلې دغه ستر سالار حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه چې دې مقام ته رسېدلی، مونږ مخکې وویل چې په بدن یې پوره لباس نه و او د لوږې له امله یې په نس پورې تیږې تړلې وې، په کور کې یې فرش نه درلود. اوبیاتاسې ته بهتره معلومه ده چې خدای تعالی بیا څرنګه مقام ورکړ؟ نو څوک چې په خپلو اسلافو پسې روان شي، د هغوی نقش قدم او تګلاره تعقیب کړي.

نو بیا الله تعالی دغه انسان له ناکامیو څخه ساتي او د کامیابۍ تر پولې پورې یې رسوي، خو شرط داده چې مونږ او تاسې له خان سره یوڅه محاسبه وکړو او خپل خان ته یوڅه متوجه شو. او همدارنګه له نفس او شیطان سره مقابله وکړو. نو بیا الله تعالی هم ډېر غفور او رحیم او ډېر غیرتي ذات ده. انشاء الله چې په نیمه لاره کې به نه پاتې کېږو او تر خپل منزله به که خدای کول په ډېره آسانۍ ورسېږو

(c) ... The Digital Library



# (۸) مجلس

## د طریقت اصول او آداب

د خینو شیانو په هکله له ماخخه بېلې بېلې پوښتنې کېږي، نو زیاتې یې د مشائخو کرامو په هکله کېږي.

ددې پوښتنه ډېره کېږي چې که یو سالک له یوچا سره دبیعت تعلق ولري نو بیا له بل چاسره تعلق جوړولای شي او که نه، په نورو مجلسونو کې کېناستلای شي او کنه ؟

نو عزتمنو د طریقت اصول دادي : څوک چې له چاځخه بیعت وکړي، نو دده دکامیابي او ترقي ټول کار تر خپل شیخ پورې تړلی وي، دی به په خپل شیخ باندې کامل اعتماد کوي، د وظیفې په وخت کې به دخپل شیخ سره رابطه ټینګوي، اذکار به دخپل شیخ په اجازه کوي، هغه چې کوم شی ورته وښایي نوهغه به کوي. نو مطلب دادی چې له یوه شیخ سره د یو مرید اخلاص او تعلق څومره قوي شو نودغومره به دده هم کار په مخ روان وي.

اوکه داسې وي چې شیوخ ډېر شي، نوکه داسې وي چې په یوه طریقه کې وي لکه زمونږ دحضراتو مبارکانو چې کومه سلسله ده، چې په وظیفو او صحبتونو کې یې ممانعت نشته، حتی اکثره یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د وظیفو د بدلبدلو اذن هم کوي، خو له دې سره، سره به یې بیاهم اعتماد په خپل شیخ وي، هر مُرید چې اول یې له هرچاڅخه بیعت کړی وي نو کار یې تول له دغه شیخ سره تړلی دی اوله ده څخه جوړیږي.

خینې ملګري (مریدان) بیا داسې وي چې تعلق یې له نقشبندیې سره وي خو له دې سره سره دقادریې شریفې له شیخ سره یې هم رابطه وي، اوهغه ورته د ځینو اذکارو اجازه ورکړي چې بیا وروسته دې مرید ته تاوان کوي.

هره طریقه خپل خصوصیات ( خانګړتیاوې ) لري ، دهغو خصوصیاتو موافق چې سړی روان وي نو کار یې هم دېر په مخ روان وي. زمونږ په سلسله کې خصوصاً بیا د حضراتو مبارکانو د سلسلې په ابتدائي مرحلو کې د خولې اذکار ببخي نشته، یواځې د سینې اذکار دي چې د لطائفو په نامه یادیږي. بیا د څه وخت په تیریدلو سره دځینو اذکارو د ویلو اجازه ورکول کیږي ، تلاوتونه ، ختمونه او نفلونه هم په را وروسته وختونو کې وي. په ابتداء کې کار تول په لطائفو باندې کیږي. اود قادریې ملګري چې دهغوی ذکر تول په خوله دی.

اوس نو چې هغه سړي ته څه وروښیي نو زمونږ د طریقې کار یې خراب شي ، نو له دوو بیلو شیوخو ، دوو طریقو سره په یوه وخت کې کار کول اوله دواړه سره رابطه جاري ساتل په کار نه دي . بلکې یواځې باید له یوې طریقې سره کار وکړي. اوبیاچې کله یوه طریقه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


پای ته ورسېږي، نوله هغې وروسته دې بیا د دوهمې، درېیمې اوڅلورمې طریقې وظیفې واخلي، هغه هم دخپل شیخ په اجازه به دې کې څه ممانعت نشته.

خوداچې سړی تول اذکار په یوه وار په مخ بیایي، نوسړی پسې رسېدای نه شي اوددې په ځای چې کار جوړ شي هغه نور هم خراب شي، نوپه دې هکله ډېر احتیاط په کار ده.

ډېر ملګري (مریدان) په بازار کې په ملنګانو پسې ګرځي، چې څوک ورته ووایي چې فلانکی ډېرغټ دمتصرف دی، دی به بیا له هغه ملنګ سره تعلق جوړ کړي ترڅو دعا ورته وکړي، له هغه سره ناسته پاسته شروع کړي، نوله دې څخه اجتناب (ډډه) کول ضروري دی، ځکه دلېونیانو او ملنګانو په جامه کې کله ډېرغټ خلک وي نوکه له چاڅخه د هغوی په مقابل کې کله بې ادبي وشي نو بیا بې تول کار خراب شي

## دکابل دمتصرف دیوخلیفه صاحب سره چلند

دحضرت نورالمشائخ صاحب (شیرآغا فضل عمر) (قدس الله سره) دوردګو یو خلیفه صاحب ؤ هغه قصه کوله چې ما له حضرت صاحب مبارک څخه پوښتنه وکړه چې د کابل متصرف څوک دی؟ ده مبارک راته وویل چې: څه پرې کوې ؟ خو په دې خبره مې ډېر ټینګار وکړ ، آخرېې راوښود چې په فلانکې ځای کې یو موچې ده ، د ونې بېخ ته ناست ده اوهغه د کابل متصرف ده زه ورغلم او بوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وریاندې جوړ کړ. بیامې دوهم خل ور واچاوه چې دا خو دې سم نه دی جوړ کړی، زه دده حوصله معلوموم چې په متصرفینو کې څومره حوصله وي؟ دري ځلور ځله مې بوټ وریاندې وګنډلو بېرته به مې خلاص کړ خوده به هېڅ غوصه نه کوله. بل کال مې بیا حضرت صاحب مبارک ته ډېرې زارۍ وکړې ترڅو د کابل متصرف راوښيي، بیا یې راوښود چې په فلانکي ځای کې یوسړی دی او هندوانې خرڅوي، سپینه خولۍ یې په سر ده. هغه ته ورغلم او ورته مې وویل چې یوه هندوانه راکړه، هندوانه یې چې راکړه ما بېرته ور وریشتله چې دا خو روغه نه ده، ده هندوانه راسره تاو کړه او وریاندې وې ویشتم چې زه خو څه موچې نه یم چې هغه به دې په عذاب کړاوځه به یې نه درته ویل.

اوس نو دلته په خپلو کیفیاتو کې فرق وي، په چا کې د حلم صفت غالب وي، په چا د جلا لیت صفت غالب وي. نو له داسې خلکو سره تعلق جوړول تاوان لري.

دلته زمونږ ډېر ملګري دي چې د وظیفو په لین کې یې کار ډېر خراب وو او حالانکه ډېرې ښې وظیفې یې وې. بیایې ویلي وو چې دلته ملنګ وو او له هغه سره یې وظیفې کړې وې، د لیوني په لباس کې وو او راته ویل به یې چې راځه وظیفې سره وکړو، نو هغه سره به یې وظیفې کولې نو ټول کارونه یې سره خراب شول.

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



لومړی ټوک

نو په خپل شیخ باندې اعتماد کول، د هغه له دستور سره موافق ژوند کول، د اصولو مطابق ژوند کول دا د طریقت له پاره بنیادي او اهم رکن دی.

**ادب**: دوهمه غټه اومُهمه خبره داده چې په طریقت کې باید انتهائي ادب وي. ځکه په اسلام کې ادب خورا غوره او ښه شی دی، دین ټول له ادب څخه عبارت دی (الدین کله ادب).

ځینې خلک په ډېره غټه غلط فهمي کې واقع دي، هغوی دهرچا په اړه خبره کوي، نسب ته هیڅ اعتبار نه ورکوي، لکه دا د وهابیانو مسلک هم ټول دغسې دی چې کوم آیاتونه د یهودو د آبائو او اجدادو په هکله راغلي دي چې مونږ د هغو شیانو متابعت کوو چې زمونږ پلرونه په هغو باندې روان وو.

نو دوی په دې دلیل نیسي چې د ګمراه پلار ته خو څه اعتبار نشته. د قرآن کریم څخه ثابته ده چې نسب ته ډېر اعتبار نشته. نه! بلکې نسب ته ډېر اعتبار شته، په قرآن کریم ثابته ده. د حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ اود حضرت خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ په واقعه کې دي هغه یو دېوال چې ړنګېده نو حضرت خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ ته د علم لدُني په واسطه امر وشو او هغه دېوال دوباره جوړ کړ. موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ اعتراض وکړ چې ته د داسې خلکو دېوال جوړوې چې مونږ ته یې ډوډۍ هم رانکړه، خو وروسته له فراقت څخه چې کله حضرت خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ ځواب ورکاوه ورته وایي: ﴿ وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا ﴾ (سورة الکهف آیت:۸۲)

ژباړه: او د پلار د دوی صالح.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې دلته یتیمان وو ، دهغوی پلار یو نېک سړی و،تفسیر جلالین [ج: ۲/ ص: ۲۵۱ ] او رسائل ابن عابدین [ص: ۶] لیکي چې : په اوومه پېړۍ کې یې نېک سړی تېر شوی و، دهغه د احترام له امله الله تعالی خپلو دوستانو ته امر کوي چې دېوال یې جوړ کړئ چې هغه خزانه یې ضائع نه شي. او داچې نسب ته اعتبار نشته هلته چې عقیده بدله وي ، پلار مسلمان زوی کافر، زوی مسلمان پلار کافر، نو په هغه ځای کې بیا ګټه نشته. کله چې دواړه مسلمان وي، که په اعمالو کې فرق موجود وي هم یوبل ته ګټه شته. لکه چې په قرآن کریم کې رب تعالی فرمایي: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَٰنٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ أَلَتْنَٰهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن شَىْءٍ ... ﴾ [سوالطور آیت ۲۱ ]

ژباړه : او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او متابعت یې کړی وي د دوی اولادونو د دوی په ایمان سره نو پیوست به کړو موږ په دوی پورې اولاد د دوی او کم به نه کړو موږ دغو (پلرونو ) لره له (جزاء د ) عملونو د دوی هیڅ شی.

یعنې په جنت کې چې کله اولاد د جګې مرتبې څښتن وي او پلار یې دغومره اعمال نه وي کړي نود اولاد د احترام په خاطر ورسره یوځای کړي. کله مور او پلار ډېر صالح او نېک انسانان تېر شوي وي، خو له دې سره اولاد هم مسلمان ده مګر نېک عمل یې کم دی، نو بیا د جنت هغې درجې ته چې هلته یې مور او پلار دي دی هم

Scanned with CamScanner

(c) ... Digital Library



دهغوی په واسطه هغې درجې ته رسیږي. په خپله الله تعالی فرمایي: ( پیوست به کړو موږ په دوی پورې اولاد د دوی ) نوکه نسب ته اعتبار نه وای نوبیا زوی ولې هغې مرتبې ته رسیږي په کومه کې یې چې پلار قرار لري. او الله تعالی دهغوی دخوشالولو په خاطر باندې په ده هم رحم وکړي.

## دمشائخوکرامو له نسبونوسره احتیاط په کارده

ډېر ملګري داسې وي چې دمشائخو کرامو اود استاذانو د نسبونو په هکله طعن اوبدې بیانوي. که سوچ وکړو چې آخر ددې مجالسو څه فائده ده چې موږ خاص کر د خپلو مشائخو د اولادونو په عملونو اودهغوی په کارونو کې بې خایه مصروف او خبرې کوو. غیبت ده او کنه؟ که بالفرض زموږ د استاد زوی بې لارې دی کم ترکمه مسلمان خو ده، بې لارې ده بیاپه څانګړي ډول چې د استاذ زوی شي ددې عیب بیانول په حقیقت کې غیبت ده اوکنه؟ غیبت خو ُهمدې ته ویل کېږي چې په یوچا کې یو عیب موجود وي اوته یې بیانوي اوداچې ته یې په حقیقت خبر هم نه یې اودبل په خوله لګیا یې، په خپله دې نه څه لیدلي، نه دې له نږدې ورسره ناسته پاسته کړې ، دده اخلاق درته معلوم نه دي، په عقیده یې خبر نه یې، تقوی او دیانت دې دده نه دی لیدلی، نوبیاخې دچا په ویلو باندې په دغو غټو نسبونو پسې غږیږې او له دې سره سره دا ملګري طالبان هم وي، شاګردان یې هم وي، مریدان یې هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ په خپله دا ملګري وینو چې کله څوک داسې بې ځایه خبرې کوي نو په هغې سره نور ملګري ډېر سخت خفه کېږي، خکه چې دا خو په حقیقت کې دخپل ځان په هکله خبرې کوي.

دا چې سړی ترقي نه شي کولای دهغې بنیادي علت زمونږ دغه پورتنۍ کمزوري ده.

نبي کریم ﷺ دخپلې اولادې (سیدانو) په هکله وایي چې: نبک یې ستاسې دي. یعنې تاسې ورڅخه فائده اوګټه پورته کړئ. که سید عالم اوملا وي نو سبق ورڅخه ووایاست، که پیر وي نو وظیفه ترې واخلئ، دم او تعویذ ترې کوئ، یعنې تاسې ته یې ګټه رسیږي. خو په بدو یې زه خفه کېږم. نبي کریم ﷺ وایي چې که زما په اولاد کې مثلاً یوسړی د اعمالو په لحاظ کمزوری و نو که تاسې په دغه شخص پسې بد وایئ، دده په حق کې پوچ الفاظ کاروي نوزه ترې خفه کېږم.

## درسول الله ﷺ لخوا دیو سید او بزرګ ملامتي

د یوه ولي الله واقعه په یو کتاب کې رانقل شوې ده چې: په لاره روان وو، ډېر مریدان ورسره دي، نو یو هلک چې دنسب په لحاظ سید ؤ په مخه ورغی، دې هلک دې ولي الله ته وویل چې: ای د بزګر زویه! تاڅه دبدبه شروع کړې ده؟ نسب زما لوړ دی، زه سید یم او خلک په تاپسې دلې دلې روان دي، نو هغه په مقابل کې ورته وویل چې: ماستا د پلار لار خپله کړه، یعنې زه د نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاره روان یم ) نوځکه الله تعالی په ما کې دا خصوصیت اوځانګړتیا پیدا کړه چې خلک مې تابع دي او تا زما د پلار لار نیولې ده (چې هغه بزګر، دهقان او جولاؤ) نو ځکه خلکو مخ درڅخه ګرځولی او ته یوازې پاتې یې.

د شپې دغه ولي نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې ولید چې ورته په غوصه او ورڅخه خفه ده، چې زما د نسب په اړه دې ولې بې ادبه الفاظ استعمال کړل، چې تا زما د پلار لاره نیولې ده چې هغه بزګر دی؟ او سید هلک هم نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې ویني چې هغه ته هم په غوصه دی چې زما د دوست او ولي په حق کې دې ولې بې ادبي وکړه چې (ای د جولازویه) . تا څه دعوه ورسره شروع کړې وه؟

سهار دواړه یو بل ته په معذرت ور روان دي چې په مخه سره ورغلل او یو بل ته عذر کوي ، ځکه خو هر یوه نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب لیدلی او عتاب یې ورته کړی وو.

زمونږ د هر ملګري داسې مجلسونه کوي او زه یې ورڅخه اورم، دا خبرې ددې له پاره کوم چې زړه مې درباندې خوږېږي، له داسې بې هوده مجالسو څخه ډډه وکړئ، خپلو اعمالو اوکردار ته متوجه شئ چې یو سړی طالب هم وي اوملا هم شي داخپل ژوند په شریعت نه شي برابرولای خپل ځان نه شي برابرولای، خپل اهل اوعیال نه شي برابرولای، نو بیا ددنیا په خلکو پسې غړېدل کوم کمال ده ؟ آخر ضرورت څه ده چې په غټو نسبونو اوپه اُستاذانو کې یې ډولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیشته کړې وي. د هر ملګري راخي سره له دې چې په مونږ باندې جسماني تکلیف هم وي بیایې هم برداشت کوو چې که یوچاته مو فائده ورسیږي، خوددغه مجلس نه چې دا ملګري پورته شي نوبیا وایي چې دا خلیفه صاحبان داوایي ، دفلاني کار خلاف دي، د فلانکي کار داسې دی، او حال داچې دوی به مریدان وي، شاګردان به وي، درس ته به درته را روان وي، لاس به دې مچوي، نوآیا دا منافقت نه ده چې یوچاته د شیخ اواستاد په سترګه ګورې او وروسته بیا وریسې غړیږې، کوم شرعي دلیل به هم درسره نه وي. نوداسې ملګري باید عبرت واخلي.

## د مشائخو غیبت سړی له فیوضاتو او نورو ګټوبې برخې کوي

مسئله داده چې ترهغه سړي لوی دوُس نشته چې په پیر اومرشد کې یې خوک غړیږي او دی ورته صبر کوي اودهغه غیبت ته یې غوږ نیولی وي. دیوچا په شیخ اویاهم استاد باندې طعن کیږي دی ورسره ناست وي، غوږ یې ورته نیولی وي دادېره لویه بې غیرتي ده. ځکه په قرآن کریم کې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وایي چې: ته له یهودو سره په داسې وخت کې مه کېنه چې دوی په قرآن کریم مسخرې کوي، ځکه که په دغه حالت کې ته ورسره ناست یې ، خپله که غیبت کوې اوکنه ، بې ادبي کوې او کنه خو چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی توک

وربانديږ لګيا وي نوکه د خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ عذاب راغی نه به ور ورسره ختم شي، څکه نه هم په دغه بې دیني کې ورسره ګډ یې

نو چې د استادانو او مشائخو غيبت کېږي او ملګري ورسره ناست وي نوکه دی دوس نه وي نو ورته ودي وايي چې نور دا مجلس مه کوه دايوه بنيادي خبره ده، څکه چې دين له ادب ځخه عبارت دی، علم ټول ادب ده، چې په دين کې بې ادبي راغله نوله سره تر پايه يې کار خراب شو. يواځې له پير او مرشد سره د ادب خبره نه ده، بلکې په دې خبره باندې بايد ځانونه پوه کړو چې له انبياء كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام سره ادب، له كتابونو، اولياء الله و، علماء كرامو، خانقاوو، مساجدو، مدارسو، بلکې له هر شعائر الله سره بايد دادب پوره پوره خيال وساتل شي.اوهمدا د دين فيصله ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ ﴿٣٢﴾﴾ [ سورة الحج ]

ژباړه: داحکم مو واورید (یا امر هم دادی چې تیرشو) او هر چا چې تعظیم وکړ دعلا نمو د (دین د) الله چې دحج افعال، دهدايا ؤ څربول او نور عبادت دی پس بېشکه دا (تعظیم) له (افعالو د خاوندانو د) تقوا دزړونو دی.

يعني تاسې وګورئ چې بيت الله ده، د صفا مروی غونډۍ پکې دي، دمقام ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په خاې تيږه ده، اوتاسې يې وينئ چې مونږ يې احترام کوو، مونږ يې په عزت کولو مامور يو، څکه چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخدای جَلَّجَلَالُهُ حکم ده چې دا د دین یو شاخ ده، د دین له شعائرو څخه ده څکه یې په احترام مامور یو. سره له دې چې هغه مکلف نه ده خودچا له وجې چې دغه خای مشرف شوی دی نو دهغه خای ادب په مونږ باندې فرض دی. نوبیاچې انسان دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دوست وي ، دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د اولیاوو له ډلې څخه وي دهغه ادب خو په طریقهٔ اولی ضروري ده.

## د سُـوءِ خاتمې ( بدانجام ) علامه

دا کتابي مسئله ده چې الله تعالی د یو چا د سوء خاتمې اراده وکړي نو هغه شخص به په اولیاء الله ؤ پسې بدې ردې خبرې شروع کړي، د اولیاء کرامو په طعن ( بدو ویلو ) چې څوک بوخت شو نودا ددې نښه ده چې ددې انسان خاتمه خرابه ده. نودا مجالس بار بار اورو، دا ملګري باید له داسې مجلسونو څخه ځان وساتي،چې په هغوی کومه فائده مرتبه نه وي . که یوه دیني خبره دیو چا په ګناه پورې معلقه وي بیان یې کړئ څه ممانعت نشته. د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په باب کې د عقائدو مسئله داده چې که دصحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ګناهونه په دې نیت رانقل کړي چې ددین مسئله وریورې تړلې وي دا روا دي، مثلاً اصول وایي چې، یو سړی د واده څښتن ده اوزنا یې وکړه نودا سړی به په تیږو باندې رجم کېږي لکه حضرت ماعز رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، نوهغه دی د ضرورت له امله یې په مثال او حجت کې د صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل ذکر کړی دی. اوددغه

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په باب کې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې داسې توبه يې واېسته که په ټولو عربو تقسيم شي نو ټولو له پاره دغه یوه توبه کفایت کوي. اوس يې ګناه پاتې ده ؟ ولې الله تعالی ته دي ویلي چې: ﴿رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ﴾ ( سورة مجادله آيت ۲۲

ژباړه: راضي شو الله تعالی له دوی څخه ( په طاعت سره ) او راضي شول دوی له الله تعالی څخه ( په موندلو د جنت ).

نو که د دين ديوې مسئلې اثبات پرې کوې دا صحيح ده، نور د ده په شخصيت کې به مداخله نه کوې، دهغو توبه الله تعالی قبوله کړې ده، که د دين له مسئلې پرته يې نور شخصيت بې خايه څېړې نو دا شخص بيا داهل سنت والجماعت له عقيدې څخه وتلی دی.

د احاديثو فيصله ده چې په اسلافو ( صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، تابعينو، تبع تابعينو ) پسې بدې خبرې کوونکی انسان له ( ناجيه ) فرقې څخه وتلی دی او په هغو نورو (۷۲) جهنمي فرقو کې داخل دی. نو د صحابهٔ کرامو .تابعينو او تبع تابعينو څخه رانيولې تر نن عصر پورې مونږ ته دادب حکم دی او ددې حکم پوره پوره متابعت په مونږ لازم دی نو بايد چې دې خاليګاه ته ډېر متوجه شو.

## نيک خلک په خپلو خدمتګارانو خفه کېږي

د حضرت نورالمشائخ صاحب مبارک په وخت کې د ده مبارک د مدرسې اوښان وو، نو کله چې به يې له خلکو څخه غنم راټولول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدغه اوښان به يې ورلېږل، هلته به دهرې منطقې خپلو خپلو علماوو دا غنم راټول کړي وو او بيا به يې مدرسې ته راوړل.

يوه کلي ته يې دغه اوښان ورلېږلي وو او کليوالو د شپې له خوا دغه اوښان نار (ورېي) تړلي وو، سهار چې هغو اوښنو غنم راوړل نو حضرت صاحب ته يې شکايت وکړ چې د فلانکي کلي خلکو زمونږ اوښانو ته خوراک نه دی ورکړی او ورېي يې درولي وو نوحضرت صاحب دهغې سيمې علماء راوغوښتل او ورته په قهر شو چې تاسې مدرسه پېژنئ او اوښان يې نه پېژنئ. اوس داچې حضرت صاحب پېژنئ اوخليفه يې نه پېژنئ، حضرت صاحب پېژنم اودهغه زوی يا لمسی نه پېژنم.

څوک چې په اولياء کرامو پسې غږېږي گستاخي او بې ادبي يې کوي نو دوی دې په دې پوه شي چې ددې مبارکانو د ګوذار او څپېړې آثار بيا تر ډېره وخته وي.

## دحضراتو لخوا ديوملاصاحب وهل

حضرت محمد امين جان آغا صاحب ماته ويل چې: په پخوا وختونو کې زمونږ په طريقت کې داسې وو چې مازديګر به مو ختم کاوه، له ختم څخه وروسته به يې غږ وکړ چې فلانکی خليفه شو اولقب يې دادی. نو يو سپين ږيری عالم و، دحضرت صاحب مريد هم وو، څوپه عام مجلس کې به يې دا خبره کوله چې ماته دا معلومه شوه چې فلانکی خليفه شو او لقب يې دا شو. نو محمد

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



امین جان آغا صاحب وایي چې: زه د نورالمدارس مدرسې ته تللی وم، نو د شپې مې خوب ولیده چې زه او حضرت صاحب مبارک د مدرسې د لویې دروازې سره ولاړ یو، نو ومې لیدل چې هماغه سپین ږیری عالم د مدرسې په دروازه راننوت، کله چې مونږ ته رانږدې شو نو حضرت صاحب ماته امر کوي چې: (بزن و بکش این خبیث را) وې وهه اوله مدرسې څخه دا خبیث وباسه، د طریقت رنګ یې بد کړی دی، نو دی وایي چې زه ادب کوم چې سپین ږیری عالم ده، له لاس څخه یې ونیسم چې ویې باسم، نو حضرت صاحب بیا راته په غوصه شو چې زه درته وایم چې وهه یې اوته یې نه وهې نو دی وایي چې یو څو څپیړې مې په مخ ورواهه، سهار چې راویښ شوم نو په هغه خاصه کوټه کې (چې په سلام خانه مشهوره وه) ناست یم، نو په دغه سوچ کې یم چې دغه دي څرنګه عجیب خوب ولید. چې هغه سپین ږیری عالم او د حضرت صاحب مرید، او دلته ماته حکم داسې وشو چې وهه یې ګورم چې یو څو دقیقې وروسته سړی راغی پارچه یې راوړه چې فلانکی عالم وفات شوی ده، تاسې یې جنازې ته غوښتي یئ.

## د حضراتو په راتګ د زمکې ښوریدل

حضرت محمد امین جان آغا صاحب قصه کوله چې د تحریک په وخت کې د غزني څخه راروان شو د (ښرني) په لوري په یوه دښته کې چې چول بیابان ده. چې ګورو چې د سړک په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه کوچنۍ ښځه ولاړه ده او لرګي یې تر شا نیولي دي، کله چې مونږ ورته راورسېدو نودا لرګي یې زما د موټر مخې ته واچول، موټروان ته مې ویل چې موټر ودروه کېدای شي چې داسپین سرې ښځه څه عذر ولري، موټر مو ودراوه. زه ورکوز شوم پوښتنه مې ترې وکړه چې مورې خیر خو به وي؟ دې راته وویل چې ما تاته مېلمستیا کړې ده، که له ماسره ډوډۍ ته ولاړ شې، ما یوې او بلې خواته وکتل چې دلته خو نه کور او نه کلی شته، نو ماورته وویل چې مورې کور دې چېرې دی؟ دې راته وویل چې ددغې غونډۍ نه ها خوا. له مونږ سره دری (۳) موټرونه وو، نو یوڅه ملګري مو دغلته پرېښودل او نور په پښو ورسره روان شو، دوه ساعته مو په پښو مزل وکړ، هلته چې یوې کېږدۍ (خیمې) ته ورسېدو نو له شوروا او غوښو څخه یې ډک لوښي ایښي وو، نو ډوډۍ مو وخوړه اوبیا مې ترې پوښتنه وکړه چې مورې! تا عام خیرات کړی وو اوکه زمونږ په رابطه چا خبر درکړی وو؟ نو دې راته وویل چې کله ته له غزنې څخه را روان شوې نو څمکه په حرکت شوه، نو زه وپوهېدم چې دحضراتو مبارکانو یوڅوک په دې لاره را روان دی، نو مادغه تیاری له مخکې څخه درته کړی ؤ.

نو محترمو ملګرو که غواړئ چې سعادت مو په برخه شي نو بیا له دغسې بې ځایه غیبت او بې هوده مجالسو نه ترځو مو چې وس او توان وي ځان وساتئ! اوکه نه خدای مه کړه بیابه مو دنیا او آخرت خراب وي.

Scanned with CamScanner

(c) k...com: The Digital Library


# داولیاء کراموسره دګستاخۍ انجام

د دیرې د علاقې یو خلیفه صاحب چې حاجي هدایت الله نومېږي د قادریه سلسلې پیر اوپه نقشبندیه کې د( جناب شیخ الحدیث خلیفه صاحب دین محمد مدظله العالی ) مرید دی؛ هغه قصه کوله چې یووخت زه دخپل مرشد د لیدلو له پاره سوات، علاقې ) ته تللی وم اوپه خانقاه کې یې ناست وم، د مازدیګر ختم مو کاوه چې یو عالم ډېر زیات ژړل، له ختم نه وروسته ما له خپل مرشد څخه پوښتنه وکړه چې دا عالم ولې داسې بده ورځ شروع کړې ده او ژاړي ؟ نو مرشد مبارک راته وویل چې ورشه په خپله ترې پوښتنه وکړه، زه ورغلم او ترې ومې پوښتل، نوهغه راته په خواب کې وویل چې: زه له یو داسې استاد سره له ډېره وخته راهیسې شاګرد وم چې هغه به د اولیاء الله کرامو بې ادبي او ګستاخي کوله او مونږ هم په دغو مجلسونو کې ورسره شریک وو، د وخت په تېرېدو سره زمونږ دغه استاد مریض شو اوپه اوږده (ولّی) یې غټه دانه راوختله، له دې څخه به یې سخته تبه هم وه، دوه درې ورځې ملګرو انتظار وکړ، نو بیا استاد راته وویل چې نور تاسې ته اجازه ده چې له ما څخه ولاړ شئ؛ نور ټول ملګري ولاړل او ما ورته وویل چې زه نه ځم، یوڅه وخت وروسته داسې پېښه شوه چې دغه استاد به له ماښام څخه تر سهاره پورې ډېر په تکلیف اوپه سخته تبه کې وو، ټوله شپه یې په رڼو سترګو تېره کړه، کله چې سهار شو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بوڅه سترګه يې سره ورغله او ماته موقع پيداشوه اود اوبو د چينې په لوري روان شوم، هلته مې چې له اوبو څخه لوښی ډک کړ، نو کتل مې چې د غره له طرفه نولس ( ۱۹ ) نفره ډله راواوښته چې سپينې جامې او سپين پټکي يې په سر دي، ډولونه هم ورسره دي، شپېلۍ يې په خولو کې نيولې وې اوزما د استاد دکور په طرف ورغلل اوپه کور يې ورننوتل. نوماته ډېره سخته غوسه راغله چې تول شپه ناآرامه و، اوس چې په آرام شو نو دوی ورته له ډولونو سره راغلل. نو ماورته را منډې کړې، زه چې ترڅو ور رسېدم دوی بېرته راوګرځېدل اوپه کومه لاره چې راغلي وو په هماغه بېرته په ليکه روان شول، زه چې استاد ته ورننوتم ، له ده څخه مې پوښتنه وکړه چې خدای دې دوی هلاک کړي داڅوک وو چې ډولونه او شپېلۍ ورسره وې اوتاته راغلل؟ نو استاد په ژړا شو او راته يې وويل چې: دا شيطانان وو، زماڅخه يې ايمان يو وړ، نوماته يې په غصه سره وويل چې: زماله کور څخه ووځه ماچې ورته وکتل نو خوله يې دومره زياته وازه شوه چې دننه يې په ستوني کې د کفر الفاظ ښکاره شول، دا الفاظ مايه خپلو سترګو وليدل او لږ ساعت پس زما دغه استاد مړ شو.

نو زه ډېرزيات ډارېږم چې ما دخپل استاد حال وليد، څکه ماهم د اولياء الله کرامو ګستاخي کړې ده نو څکه ژاړم.

نو بايد له دغسې واقعاتو څخه سړی پند واخلي اود اسلافو او مشائخو کرامو او اکابرو سره بايد چې سړی په زړه کې هم د بې ادبي نيت ونه کړي.

Scanned with CamScanner

(c) ...ton.com: The Digital Library


# (۹) مجلس

## داهل السنت والجماعت دعلماوو عقیده

په ((المهند علی المفند)) نومي کتاب چې د دیوبند د اکابرو عقائد دسوال او ځواب په ډول بیان شوي، په هغې کې یولسمه پوښتنه د دیوبند له اکابرو څخه د طریقت په باب کې شوېده چې: طریقت د مشائخ کرامو یا ددوی له قبرونو څخه، یعنې د ژوندیو اولیاء کرامو د سینو اود قبرونو د ارواحو څخه چاته څه فائده رسېدلی شي اوکه نه؟ ددوی په بیعت کې انسان کوم یوکمال ترلاسه کولای شي او کنه؟ دا بیعت ضروري ده او که یه؟

نو دوی ددې سوال په ځواب کې لیکلي دي چې: داکابرینو د دیوبند دا رایه ده چې د اولیاء کرامو له سینو او قبرونو څخه هغه څوک چې دوی ته عقیده لري، له دوی سره یې تعلق او تړاؤ وي، نو هم یې ورته په ژوند کې فائده رسېږي او هم پس له مرګه ددوی له قبرونو څخه فائده ورته رسېږي، ددوی د صحبت په اثر دغه انسان کمال ته رسېږي. له دې امله د دیوبند د اکابرو دا عقیده ده چې هغه څوک چې په ضروریاتو د دین خبر وي چې دا د تصوف له پاره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرط دی، نوبیا دغه شخص ته بیعت کول اوبه دې طریقه کې ځان داخلول انتهائي ضروري او ډېر مفید کار دی.

خوله داسې پیر څخه بیعت کول چې هغه له شرعي علومو څخه خبر اوپه شریعت هم برابر وي، له اسلافو سره يې مينه اومحبت وي، نوله دغسې يو مرشد سره بیعت کول ډېره ګټه لري اوکه چاته دا موقع نه پیدا کېده چې داسې یو پیر پیدا کړي چې دامخکنی خانګړتیا او صفتونه نه وي پکې نو نفس په ښه عقیده په دغه طریقه کې داخل شي، یعنې له دې طائفې سره مینه اومحبت ولري داهم لوی سعادت دی، څکه نبي کریم ﷺ فرمايي: ﴿ «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ» ﴾ [ صحیح المسلم / ج ۱ / باب المرء مع من احب رقم الحدیث ۲۶۴۰ ] یعنې انسان به په قیامت کې له هغه چاسره یوځای کېږي چې له چاسره يې په دنیاکې علاقه او مینه وه. خودا خبره ضروي ده چې مرید به هم ددین په علومو اود دین په ضروریاتو خبر وي چې بیعت کوي هغه به هم له یوداسې چاڅخه کوي چې هغه په شریعت برابر وي.

[ المهند علی المفند ( السؤال الحادی عشر ) ص. ۳۸/۳۹ ]

## د اولیاؤالله وود قبرونو ژوند دنیاوي برزخي دی

د قبرونو په هکله يې عجیبه خبره کړې ده چې د انبیاء کرامو علیهم السلام په باب کې هم د اهل السنت والجماعت اود دیوبند د

Scanned with CamScanner

(c) ...ion.com: The Digital Library



بزرګانو داعقیده ده چې دوی ژوندي دي اوهمدارنګه شهداء او اولیاء الله هم ژوندي دي، خو ددوی ژوند برزخي نه دی، فقط دنیاوي ژوند یې برزخي دی. یعنې په قبرکې چې څومره خلک کښېنودل شي که مسلمان وي که کافر نو ددغو ټولو ژوند برزخي وي ، ځکه چې د روح تعلق له بدن سره پیدا کېږي، چاته به اجر او ثواب وي، اوچاته به عذاب ورکول کېږي، نو دغه درک خو هرڅوک کړای شي، نوپه دغه اندازه ژوند ته برزخي ژوند ویل کېږي. دا د مسلمان اوکافر دواړو له پاره شته، چې سوال او جواب به ورسره کېږي، نو معلومه شوه چې ژوند لري . ځکه ده ته ثواب یعنې راحت پرې ورکول کېږي، یا داچې تکلیف او عذاب ورکول کېږي هم په دواړو حالتونو کې پرې پوهیږي .

[المهند علی المفند (السؤال الحادی عشر) ص ۳۸/۳۹ ]

خو دانبیاء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ، شهداوو او اولیاء الله دنیاوي ژوند برزخي دی، برزخي ژوند په دې معنی چې مِن وجه داسې ژوند دی لکه د دنیا ژوند ، په صریحو احادیثو ثابت دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ولید چې په قبر کې په لمانځه لګیا وو، داچې په قبرونوکې په لمانځه لګیا وي اوعبادت کوي دا ددغې دنیا د ژوند حیثیت لري، وجود لري، تیتیږي یا پورته کېږي، حرکات او سکنات پکې راځي. او هغه برزخي ژوند کې دا طاقت نشته چې هغه سجده کوي، یا تیتیږي پورته کېږي. یواځې لکه د لمر چې له ځمکې سره تعلق دی چې په ګرمي او یخ یې سړی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږي . لمر په څلورم آسمان کې دی مونږ دلته په ځمکه کې په دې پوهېږو چې یا ګرمي ده اویاهم یخ دی.

نود امړی هم دغومره په راحت او درد پوهېږي ،مګر نور د برزخي ژوند راجګېدل یا ټیټېدل نشته، لمونځ یا عبادت نشته، دا د دنیاوي ژوند خاصیت او ځانګړتیا ده .

خو له دې سره سره بل طرف ته ددغو مبارکانو ژوند برزخي هم ده، خوراک، څښاک او قضاء حاجت نشته، دغه ژوند ته بیا ددوی حاجت نشته. نو چې ددوی یوځل دنیاوي برزخي ژوند شو ، لکه په دنیاکې چې ژوندي وي ، خلکو ته یې ګټې رسیږي، ددوی په مجلس، په توجه ، په صحبت، ددوی په دعاګانو ډېر کارونه جوړیږي، همدغسې په قبر کې یې هم فائدې رسیږي، ځکه ژوند یې د دنیا دژوند په څېر شو.

## له چا څخه چې په ژوند کې د فائدې توقع وي نو پس له مرګه هم شته !

لکه مرقات شرح مشکوة ، احیاء العلوم ، فتاوی واحدیه؛ دا ټول لیکي چې که له چاڅخه په ژوند کې د فائدې اوګټې اخیستنې توقع وي نو پس له مرګه هم ترې توقع کېدای شي. مونږ چې یوچاته ورځو دا امید او عقیده لرو چې دده ددعا په برکت به زمونږ دا مشکل خدای تعالی جَلّجَلَالُهُ حل کړي، دده په صحبت او مجلس به خدای پاک جَلّجَلَالُهُ مونږ اصلاح کړي. داچې په ژوند کې یې دا فائده

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



رسیږي، نو کتابونه لیکي چې پس له مرګه یې هم دغسې فائدې رسیږي. وجه یې داده چې داسې ژوند یې دی لکه دغه دنیاوي ژوند. خو برزخي ژوند ورسره ملګری شوی دی، له همدې امله لکه په ژوند کې چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضور کې کوم آداب ترسره کېدل نو پس له مرګه به هم همغسې آداب وي اوبیا همدغسې له اولیاء الله رَحِمَهُمُ اللهُ سره.

په دغه سلسله کې چې دغسې سړی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک زیارت ته ورځي آیا د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زیارت نیت به کوي اوکه دجومات ؟ وهابیان وایي چې مدینې منورې ته تګ یواځې او یواځې د جومات په نیت روا دی اود نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زیارت نیت به نه کوي ! ځکه چې په هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې خو ژوند نشته. هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له دنیاڅخه نقل شوی دی.

دوی په دغه حدیث مبارک دلیل نیسي: (لَا تَشُدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا اِلَى ثَلٰثَةِ مَسَاجِدَ) یعنې دریو مسجدونو ته تګ شته چې مکه معظمه (مسجد حرام) مدینه منوره (نبوي مسجد) بیت المقدس (مسجد اقصی) نود جومات په نیت به نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسجد ته ورځي. نه د زیارت په نیت.

مګر زمونږ د اهل السنت والجماعت د دیوبند د علماء کرامو دا عقیده ده چې هلته به خاص د زیارت په نیت ورځي، پاتې شو د جومات فضیلت هغه تبعاً دی، چې هلته سړي ته پیداکېږي خو قصداً به د زیارت په نیت ورځي. ځکه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايي: ﴿ من جاء نی زائراً لا تحمله حاجة الا زيارتي كان حقاً عليَّ أن اكون شفيعاً له يوم القيامة ﴾ [ المهند على المفند ، السؤال الاول والثانی ، ص: ۲۹/۲۴ ]

ژباړه. څوک چې زما زيارت ته خاص دزيارت په نيت راشي بل څه حاجت يې نه وي نو زما شفاعت دهغه په حق کې واجب دی

وايي د جومات نيت دې هم ورسره وشي، دا خوځه ناروا نه ده، داجومات ته چې شرافت الله تعالی ورکړی د څه له امله يې ورکړی ؟ دايې د نبي کريم ﷺ د مبارک وجود له امله ورکړی، وايي هغه خاوره چې دده ﷺ له مبارک وجود سره لګيدلې ده تر کعبې شريفې او عرش عظيم بهتره او غوره ده، نوهغه خاوره خو اوس هم په هغه جومات کې شته. نودا شرافت چې د نبي کريم ﷺ دوجود مبارک څخه دده په حيات کې دغه جومات ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورکړی ؤ نو دده ﷺ له انتقال نه وروسته هم هغه وجود مبارک خو يې په هغه ځای کې موجود دی.

حضرت عبدالرحمن جامي رحمه الله چې يو لوی ولي تېر شوی دی په کتاب کې ليکلي دي چې يو کال په دغه کال باندې چې ده حج کاوه، نو مدينې منورې ته نه ولاړ ، دوهم کال بيا مستقل دمدينې منورې په نيت ولاړ ، د نبي کريم ﷺ د زيارت نيت دومره مفيد ده. نوکله چې په دوی ﷺ کې هغه حيات دی نوزيارت ته هم په دغه نيت باندې تلل دي.

Scanned with CamScanner

(c) ...toon.com: The Digital Library



## د زیارت په وخت کې مخ کومې خواته کول پکاردي؟

کله چې یوڅوک روضې مبارکې ته درېږي نو مخ به د قبلې په لوري ګرځوي او که مخ به یې د زیارت طرف ته وي ؟ نو په دې ځای کې یې زموږ د احنافو فقهي علماوو یو قول داسې دی چې مخ به د کعبې شریفې په لوري وي او شاه به د ه صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ګرځوي، خو له دې سره دا هم بیاوایي چې : احسن ، اصح او افضله خبره داده چې مخ به روضې مبارکې ته ګرځوي. اوس هلته په مدینوره منوره کې وهابیان سړی نه پرېږدي چې د نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زیارت مبارک ته مخ کړي او وایي چې دا شرک دی.

خو د احنافو دغه عالم بیا وایي چې دا بې ادبي ده چې څوک شا زیارت ته کړي، حتی دغه کتاب ( المهند علی المفند )د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ واقعه رانقل کړېده چې: کله امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ روضې مبارکې ته ولاړ نو ده ته په دې خبره کې اشتباه وه چې اوس مخ روضې مبارکې ته کړم او که کعبې شریفې ته . کوم عمل افضل ده؟ نو په دې وخت کې مشهور فقهي عالم ( أبوأیوب السختیاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ ) چې له امام صاحب څخه په طبقه کې مشر و هغه راغی. کله چې امام صاحب هغه ولید نو ویې ویل چې دده ته به ګورم چې دی څه کوي ؟ کله چې یې هغه ولید نوهغه خپل مخ روضې مبارکې ته ګرځولی وو، دعایې کوله ، نو امام صاحب هم دا فیصله وکړه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا افضل ده چې مخ به روضې مطهرې ته کوي او شا به کعبې شریفې ته ګرځوي. نو دده صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له روضې سره هم هغه ادب ضروري ده کوم ادب چې له ده صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره به حالت د حیات کې کېده. المهند علی المفند، عقائد اهل السنت والجماعة، السؤال السادس، ص:۱۳۴

دا خبره د موجوده وخت د وهابیانو له پاره یو بهترین تردید ده چې د امام صاحب اوهغه لوی عالم په قول ثابت اود لوی عالم مشهور شخصیت عبدالرحمن جامي رحمه الله مستقل د زیارت په نیت احرام تړل دي. نو هلته په روضه مبارکه کې بهتره خبره داده چې هلته ورته مخامخ ودرېږي. د دعا او التجاء اوعاجزۍ په حالت کې به دا عقیده وي چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوندی او انبیاء کرام علیهم السلام ،شهدا او اولیاء الله ژوندي دي او دقبر ژوند یې دنیاوي برزخي ده. په دې دنیاکې یې چې چاته د دعا په وسیله ګټه رسېده نو پس له مرګه هم دغسې هغه التماس او دعاګانو باندې ورته ګټه رسیږي.

## وسیله

همدارنګه یې د وسیلې په باب کې هم خبرکړې ده چې که په دعاکې یوڅوک وسیله نیسي دا څرنګه ده ؟ نو ویلي یې دي چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، شهداوو او اولیاء الله کرامو په وسیله دعا لکه یوڅوک چې زیارت ته خي په دې نیت چې هغه وسیله وګرځوي نوپه دې کې د اهل السنت والجماعت دا عقیده ده چې په دې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



طریقې سره الله تعالی د انسان دعاوې بنې قبلوي. داسې چې ستا دغه نیک بنده چې تاته ډېر ګران دی نو ای خدایه ! دده په وسیله زما دغه مشکل راته آسانه کړې، نو توسل بالذوات الفاضلة هغه وسیله کول په دعا کې په خپل ځای کې وي اوکه زیارت ته څوک ولاړ شي ، په هرآن کې چې وي نوددغو په وسیله خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د انسان مشکل حل کوي.

لکه دا د شجرو سلسلې چې په څو قسمه لیکل کېږي، یو قسم شجرې چې دلته په پاکستان کې ډېرې رواج دي په داسې عنوان سره وي چې: ( الهي بحرمتِ فلان ) د اولیاء کرامو نومونه یې د ( به حرمت ) له تکې سره وي، له خپل مرشد نه نیولې آن تر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورې ټول اولیاء کرام واسطه ګرځوي ( الهي به حرمت فلان ) یعنې خدایه د فلانکي په عزت اوشرافت زما دا مشکل ته راته حل کړې. نودا ټوله سلسله د توسل په نیت ویلو او واسطه ګرځولو سره بیاپه ذکر کې ډېر اثر پیداکېږي. د شجرو په سر باندې یې دا آیت هم لیکلی وي چې: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبْتَغُوٓاْ إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ﴾ [ سورة المائده آیت ۳۵ ]

ژباړه :ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ( یعنې ای مؤمنانو ) ووېرېږئ تاسې ! له الله تعالی او طلب کړئ ! ده ته وسیله

نو د خدای جَلَّ جَلَالُهُ مقرب بنده اودوست ده ته وسیله ګرځوو. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د الله تعالی طرف ته

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولېږه نو جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ وایي چې زه د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له طرف نه الله تعالی ته ور روان وم په دې وار زه ترټولو وارو نه الله تعالی ته ډېر ورنږدې وم او حکمت یې هم دا وو چې د محبوب د طرف نه ورغی طرف د محب ته چې الله تعالی دہ، نو د محبوب د قاصد هم محب عزت کوي. نو داچې دده دوست او ولي ده خکه یې ته ورته مخته کوي.

لکه په دنیاکې هم دغه دستور ده چې کله غټ مشکل پېښ شي،د قتل معامله وي ، نو مشائخ ، علماء او سپین ږیري عزتمن خلک ورته ورولي ، هغه سرې تر خپلې بدۍ ور تېر شي تر هغه خپل لوی تاوان ورته تېر شي. ولې ؟ د دغو نېکو خلکو له امله. نو بنده د بنده دومره عزت کوي دده : شرافت له امله، نوداچې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوست وي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته یې وسیله کړي چې ای خدایه ستا د دوست په برکت، ستا د شهید په برکت.ستا د عالم په برکت ،ستا د کعبې په برکت، یعنې څومره چې د عزت خلک اوځایونه دي ددغو په برکت زما دغه مشکل حل کړې، نودوی دي دننواتې په شکل ورته وړاندې کړل نوبیاخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دهغو خلکو سفارش قبلوي. نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وایي چې که ما ته څوک زما دزیارت په نیت راځي نو زما شفاعت ورته واجب ده، خامخا به یې شفاعت کوم ، نوبه چا پورې چې دې لاس ونیوه هغه بیاخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته التجا کوي.

اولیاء الله چې په کوم حالت کې توجه کوي نو دوی په حالت : التجاء کې وي، داپه خپل کمال د چا وظیفې نه پخوي. داپه خپل

(c) Kitabton.com: The Digital Library



کمال دچا بېکاره ا نلاق نه شي لرې کولای. په خپل کمال دچا د باطن تصفیه نه شي کولای. عین د توجه په حالت کې چې شرط هم داده چې کله پیر مرید ته توجه کوي نوخپل اکابر به الله تعالی ته وسیله ګرځوي اوخدای تعالی ته به دعا کوي چې اې الله! زما د شیخ په برکت ددغه انسان د سینې کدورات لرې کړې. نوپه هغه توجه بیا دومره کار وشي.

حضرت مجدد الف ثاني صاحب قدس الله سره فرمايي چې: یک توجه کارِ سنین میکند ) یعني په یوه توجه سره د کلونو کلونو کار کېږي. دا ولې؟ ځکه چې دخدای تعالی دوست دې هغه جَلَّ جَلَالُهُ ته شفیع کړ، رابطه دې ونیوه ، هغه دې ورته وسیله کړ.

## د مشائخو کرامو په رابطه ډیر لوړ، لوړ کارونه ترسره کیږي

ماته یوه خلیفه صاحب قصه کوله چې: زه چې چاته توجه وکړم نود توجه په حالت کې ماته د مشائخو رابطې راځي، حتی زه ترهغې مرید ته وظیفه نه وربدلوم ترڅو یې چې په هغو مشانخو کې څوک وربدله نه کړي. عین دتوجه په حال کې دهغو رابطه نیسم، چاته یې مجدد صاحب (قدس سره) وربدله کړي، نوزه یې هم وربدله کړم، چاته یې شاه نقشبند مبارک وربدله کړي نوزه یې هم وربدله کړم. حاصل د خبرې داده چې دوی هغه مشائخ کرام په رابطه کې نیسي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت د زرمت قطب المشائخ صاحب رحمه الله ته یو ماشوم چا د دم له پاره راووست، ده ورته د دم په ځای وظیفه ورکړه، نو روان شو، چا ورته وویل چې صاحب! دا خوبې د وظیفې اخستلو له پاره نه ؤ راوړی بلکې دم ته یې راوړی ؤ؟ نو قطب المشائخ صاحب مبارک ورته وویل چې: ما د وظیفې په حالت کې روحاني صاحب ته حواله کړ، دهغه رابطه مې ونیوه، نو زما له دم نه د روحاني صاحب (قدس الله سره) دم ډېر مؤثر دی.

سړی چې فکر وکړي نو د نقشبندیې طریقې یو خصوصیت دا هم دی چې ددوی په توجه باندې، ددوی په برکت له مریض څخه الله تعالی مرض ختموي، دهغې وجه دا وي چې هلته د الله تعالی لورې ته التجاء وشي، مشائخ کرام ورته واسطه شي. مونږ زیارت ته ولاړ شو، نو کله خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته د هغه په وسیله شفا ورکړي ،کله له دم سره شفاء ورکړي، کله کار تر ډاکټر پورې معلق وي.

## د نیکوخلکوپه یوه توجه دبډوګې تیږه ماتیدل

یوه نفر ماته قصه کوله چې: د هجرت په ابتداء کې مونږ په (بنو) کې اوسیدو، زمونږ په کور کې دیوه مریض په پښتورګي کې تیږې وې، یو خلیفه صاحب زمونږ میلمه و، نو په کور کې ورتل توتل شروع شول، نو خلیفه صاحب وویل چې: څه خبر دی؟ مونږ ورته وویل چې په کور کې مریض دی، په بډوګي (ګرده) کې یې تیږه دی، ډېر په تکلیف دی، خلیفه صاحب وویل چې تاسې یې دلته

Scanned with CamScanner

(c) ...tton.com: The Digital Library



راولئ ، هغه سړي قسم کاوه چې مونږ ناست وو توجه شروع شوه، ددغې توجه په حالت کې د تيږې ( ټک ) مونږ په خپلو غوږو واوريده، نو خليفه صاحب وويل چې تيږه ماته شوه. کله مو چې اکسيره واخسته نو په هغه کې د تيږې په ځای يواځې زخم وا وبس يواځې مو ورته د زخم دوا واخسته نو هغه تيږه ختمه شوه. نودا بالمشاهده پيښې دي

## دسراج المشائخ صاحب په توجه ديوطالب دخولې دبدبويي ورکيدل

د يوه طالب له خولې څخه به ډېر سخت بوی تلو. نو جناب سراج المشائخ احمدضياء خليفه صاحب ته راغی او هلته لرې په يوه ګوټ کې کېناست، هغه ورڅخه پوښتنه وکړه چې ولې دومره لرې کېناستې؟ ده ورته څه ونه ويل، بل ملګري يې ورته وويل چې: صاحب ! دده له خولې څخه بدبويي ډېره ځي نو ځکه مجلس ته نه رانږدې کېږي، نو خليفه صاحب وروغوښت ، کله چې يې توجه ورته وکړه هغه مرض يې له بېخه ورک شو، تر ننه پورې ورک دی، نودا دعقيدې مسائل دي، چې ددغو خلکو په حيات ( ژوند ) به سړی عقيده لرې، اودابه يې عقيده وي چې ددوی فائده سړي ته رسيږي. نو زمونږ او ستاسې دا عقيده ده چې نبي کريم ﷺ حيات ده، دهغه له زيارت سره ادب او د اولياء الله وو او شهداوو سره ادب انتهائي د ضرورياتو له جملې څخه ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د دیوبند اکابر چې لیکي: چې که په دغسې صفاتو متصف پیر څوک پیدا نه کړي هم چې یواځې په عقیده په دغه طریقه کې شریک شي هم فائده یې ورته رسیږي، یواځې چې احترام ولري دغه هم کافي دی.

څوک چې مخالفت او انکار وي نو بیا خو د نبي کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژوند کې له ده صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نږدې کفار او سبدل، ایمان او باور یې نه درلود، نو یواځې د نبي کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وجود مبارک ورته څه فائده ورکړه؟ دی صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله هم موجود و، معجزې یې هم موجودې وې، مګر ددوی له لوري چې انکار وو نو فائده یې ورته ونه رسېده. دچاچې عقیده وه چې ددنیا په بل سر کې ؤ هم ایمان یې وربانديې راووړ نو ابدي سعادت او تلپاتې نیکبختي یې په برخه شوه. څکه دا دعقیدې فائده وه اود چاچې عقیده نه وه لکه عبدالله بن ابی بن سلول منافق چې په هر مجلس کې به له رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ناست ؤ، خو له دې سره سره رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هېڅوک دومره مبغوض نه وو لکه دی.

نو د پیغمبر صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وجود هم یواځې فائده نه ورکوي چې سړی په خپله عقیده ونه لري، اخلاص پیدا نه کړي، نود ولي وجود به څه فائده ورکړي. داچې عقیده برابره شوه، اعتقاد جوړ شو، بیا د نبي په صحبت اولیاء شول، په یوه یوه صحبت اولیاء الله شول، په تولو تابعینو کې بهترین تابعي د ادنی صحابي مرتبې ته نه شي رسېدلای. او چې کله عقیده نه وي نومنافق په کلونو کلونو عمر ورسره تېر کړی وي خو هېڅ فائده یې ورته رسېدلې نه وي.

Scanned with CamScanner

(c) ... The Digital Library



# (۱۰) مجلس

﴿فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ۝﴾ [سورة هود]

## شقاوت اوسعادت

## (بدبختي او نېکبختي)

قدرمنو مسلمانانو ورونو!

الله تعالى په خپل كتاب مبارك كې د انسانانو حالت بيانوي چې انسانان په دوه قسمه دي: خينې بدبخته دي اوخينې انسانان نېک بخته دي، بيا الله تعالى دبدبختو ځاى هم رابنيي چې ځاى يې جهنم ده اوپه جهنم كې به ددوى له پاره سخت آوازونه، ژړاوې او فريادونه وي. اود نېک بختو حال هم ذكر كوي چې دهغو له پاره جنت اود جنت انعامات او لوى لوى راحتونه دي.

په دې كې غرض داده چې مفسرينو كرامو د نېک بخته او بدبخته نښې او علامې بيان كړې دي چې: نېک بخته اوبدبخته چاته ويل كېږي، دا د نېک بختي او بدبختي فيصلې خو ازلي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خو دې له پاره چې په ظاهره سړی وپوهېږي چې دا سړی نېک
بخته یا بدبخته دی نو دا به په څه معلوموي؟

## نېکبختي او علامې یې

د نېک بخته سړي علامې مفسرینو کرامو چې ښودلې دي هغه
یوولس دي.

۱ ـ چې له دنیا څخه بې رغبته او رغبت یې د آخرت لور ته وي.

۲ ـ همت به یې عبادت او د قرآن کریم تلاوت طرف ته وي

۳ ـ خبرې به کمې کوي.

۴ ـ د پنځه وخته لمانځه حفاظت به کوي.

۵ ـ له حرامو او شبهاتو څخه به پرهېز کوي.

۶ ـ راشه درشه او تعلق به یې له نېکانو سره وي.

۷ ـ عاجزي به کوي ، متکبر به نه وي.

۸ ـ سخي او کریم به وي.

۹ ـ د خدای په مخلوق به رحم کوي.

۱۰ ـ خلکو ته به فائده رسوي.

۱۱ ـ مرګ به ډېر یادوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بد بختي او علامې يې

د بدبختۍ علامې يې هم يوولس بنودلې دي:

۱ ـ د مال په جمع کولو کې به حريص وي.

۲ ـ ټوله توجه او فکر به يې د شهواتو په پوره کولو کې وي.

۳ ـ بد ګويه او غيبت کوونکی به وي

۴ ـ په لمانځه کې به سستي کوي

۵ ـ ملګرتيا او تعلق به يې له بدو خلکو سره وي.

۶ ـ بد اخلاقه به وي

۷ ـ کبرجن او فخر کوونکی به وي.

۸ ـ خلکو ته به فائده نه رسوي

۹ ـ په مسلمانانو به رحم نه کوي.

۱۰ ـ بخيل به وي.

۱۱ ـ مرګ به يې هېر وي. يعنې چې سړی د مرګ يادوونکی وي نو دی به خلک له اطعام الطعام نه نه منع کوي.او په مسلمانو سړيو او ښځو به رحم کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی ولي (محمدبن الفضل البلخي رَحِمَهُ اللهُ) ته أبوعثمان الحيري ليکلي چې دشقاوت (بدبختي) علامې څه دي؟

دی په ځواب کې ورته ليکي درې دي: ۱- چې چاته الله تعالی علم ورکړی وي او په هغه دعمل کولو توفيق نه وي ورکړی.

۲. چې چاته الله تعالی توفيق دعمل ورکړی وي خو داخلاص توفيق يې نه وي ورکړی

۳- چاته چې الله تعالی داولياوو دملاقات توفيق ورکړی وي خو داحترام او عزت توفيق يې نه وي ورکړی يعنې په زړه کې احترام نه ورته لري. (نفحات الانس من حضرات القدس ج ۱ / ص: ۱۷۵)

## فائده:

په آخر کې بيا د فائدې په ډول ذکر کوي چې که څوک د خدای تعالی له دوستانو سره داخلاص او محبت ناسته او ولاړه لري اود ناأهله خلکو، دخدای پاک له دښمنانو، منافقانو، کافرانو او بدکارو خلکو سره دده تعلق نه وي نو وايي چې انشاء الله دغه سړی به کامل ولي جوړيږي په دې شرط دی دتل له پاره له نېکو خلکو سره په رابطه کې وي، دنيکو خلکو مجالسو ته هر وخت ورځي، ځکه دنيکانو او بزرګانو په مجلس کې ډېر زيات اثرات لري، د مخکنيو علماوو اولياوو الله وو تاريخ ته چې څوک نظروکړي ډېرې بې لارې خلک د نېکو مجلسو په برکت خدای پاک د اولياوو له ډلې څخه ګرځولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نیکو خلکو په مجلس انسان ته د ولایت مقام حاصلیږي

حضرت حبیب عجمي رَحِمَهُ اَللّٰهُ چې د خپل وخت یو لوی سرمایه دار او لوی سودخور وو ، له هرچا سره دده د سود معاملې وې او روزانه به په خپلو قرضدارانو پسې ګرځېده .له هغونه به یې خپل پورونه او دهغې ګټه غوښتله . هغه ګټه به یې په خپل کور مصرفوله .خپله اصلي سرمایه به یې نه مصرفوله ، حتی که هغه سړي به عذر ورته وکړ چې ببخې په کور کې هېڅ شی نشته بیا به هم تش ورڅخه نه راته.یو څه شی به یې بیاهم ورڅخه راووړ ، حتی د اور د بلولو لرګي به یې هم ورڅخه راوړل.

خودغه حبیب عجمي چې بیاکله د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اَللّٰهُ په مجلس کې شریک شو دهغو پاکو مجلسونو اود خدای پاک د دوستانو د تعلق په برکت یې بیا له سود اوګناهونو نه توبه واېستله ،وروسته بیاددومره غټ مقام څښتن شو چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د عظیم الشانه اولیاوو له جملې څخه وګرځېده. له حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اَللّٰهُ څخه به یې سبق وایه اودهغه په مجلس کې به شریکېده.

خو یو وخت بیاداسې هم وشوه چې : حضرت حبیب عجمي رَحِمَهُ اَللّٰهُ را روان ده که ګوري چې د دریاب په غاړه حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اَللّٰهُ ولاړ ده، حضرت حبیب عجمي رَحِمَهُ اَللّٰهُ چې ورته راورسېده ورته یې ووېل چې: ولې ولاړ یې؟ هغه ورته ووېل چې:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشتۍ ناوخته شوه ، کله چې کشتۍ راشي نو بیابه په کشتۍ کې سپریږم اود دریاب هغې بلې غاړې ته به اوړم. حضرت حبیب عجمي صاحب ورته وایي چې: د مسلمانانو له حسد نه زړه سپین کړه ، له دنیا نه زړه سوړ کړه ، دخدای پاک په قضا باندې راضي اوسه ، دخدای پاک له طرف نه چې کوم بلیات او آفات درته متوجه کېږي په هغو باندې صبر کوه ( راضي بالقضا ) شه اوبیابه په دریاب کېږده او روان شه

حضرت حبیب عجمي رَحِمَهُ اللهُ روان شو پورې ووت. کله چې حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ دا حال ولیده بې هوښه شو ، وروسته چې کله په حال شو چا پوښتنه ورځخه وکړه چې بې هوښي ولې درباندې راغله ؟ ده ورته وویل چې: حبیب عجمي علم له ماځخه زده کړی ، خو نن یې زه ګرم کړم ، که صبا د قیامت په میدان کې د پُل صراط په ځای بیاداسې پېښه وشي چې دی دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په دوستي باندې پورې وځي او زه هلته پاتې شم نودا خو زما له پاره د افسوس اوهلا کت ځای ده. کله چې له حبیب عجمي سره بېرته یوځای شو نو له هغه ځخه یې پوښتنه وکړه چې : تاته دغه مقام خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په څه وجه درکړ ؟ ده ورته وویل چې: دا له دې وجې نه چې زه زړه صفا کوم اوته کاغذونه توروې. یعني په کاغذونو مسائل لیکې. او زما ټول کوشش د زړه په صفا کولو باندې ده، ځکه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دا مقام راکړی، نوده ورته وویل چې: ( علمي نفع غیری ) زما دعلم فائده بل چاته ورسېدله ، ماته بې څه ګټه ونه رسېده [ تذکرة الاولیآء ص: ۴۳ ]

Scanned with CamScanner

(c) ... The Digital Library



خو دادې هم څوک نه وايي چې د حبيب عجمي رَحِمَهُ اللّٰهُ رتبه تر حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ لوړه شوه، داسې نه ده، بلکې هغه يې شاګرد ده، هغه عابد و اوحسن بصري عالم و، او معلومه خبره ده چې علم ته الله تعالی لوړه درجه ورکړې، څکه چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره له دې دومره لوړې درجې چې ترټول مخلوق غوره اوبهتر دی هغه ته هم الله تعالی فرمايي چې: ﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ چې که ته له ماڅخه سوال او غوښتنه کوې نودا سوال کوه چې ای خدايه ! علم مې زيات کړې، که په دنياکې يو بل څه محبوب وای نوبيابه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خپل محبوب ته دهغه حکم کاوه چې دغه شی راڅخه وغواړه. نو معلومه شوه چې له هرڅه نه د علم درجه لوړه ده، څکه ورته وايي چې له ماڅخه دعلم دزياتوالي غوښتنه کوه.

کرامات چې پيدا کېږي دا له ډېر عبادت څخه پيدا کېږي، اوکرامت د ولايت څوارلسمه حصه ده، په کراماتو باندې د انسان مرتبه دومره نه پورته کېږي لکه څومره چې په اسرارِالهي باندې (چې الهي علم ورته حاصل شي.)

ددې مثال لکه په انبياوو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کې د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ، داد الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ پيغمبر دی چې هوا، وربخې، پېريان، مرغان، ډېوان دا ټول دده د امر تابع دي، دده هغه غټ تخت چې ټوله کابينه به يې هم ورسره وه، په هوا به روان و، مګر حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې د علم کوم اسرار معلوم اوحاصل و، حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ دحضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ تابع و، مطلب داچې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضرت سليمان عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ مرتبه له حضرت موسی عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ څخه کمه وه، سره له دې چې کرامات يې څومره ښکاره دي؟ خوداچې الهي علم له حضرت موسی عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ سره زيات و، دواړه پيغمبران وو خو په رتبه کې حضرت موسی عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ له ده څخه زيات دی.

اصل مې غرض داده چې د ښکو خلکو په صحبت سړی نيک مقام ته رسيږي.

## د نيکو خلکو په دعا يو قاتل جنت ته داخل شو

يو قاتل چې ناحقه يې خوک وژلي و، دهغه وخت حکومت دی بندي کړ، وروسته يې دی اعدام (پهانسي) کړ، په کومه ورځ چې دی په دار وځړول شو نو چا په خوب کې وليده، چې دغه قاتل په جنت کې دی، نو پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې ته خو قاتل او ظالم يې څرنګه په جنت کې ګرځې؟ ده ورته وويل : زه يې چې دار ته خېژولم نو حضرت حبيب عجمي رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ په دغه لاره باندې تېرېده، نو کله يې چې په ماباندې سترګې ولګېدې نو زما له پاره يې د مغفرت دعا وغوښته چې خدايه! ته ورته مغفرت وکړې، دهغه د دعاوو په برکت کله چې له اعدام څخه وروسته مې روح قبض شو نو روح مې جنت ته ولاړ. اودا څکه چې د ښکو خلکو ارواح (عليين) ته ځي، چې هغه د عرش عظيم لاندې په جنت کې يوځای دی نو ګورئ ددې بزرګانو د يوې دعا په برکت الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ انسان ډېرو لوړو مقاماتو ته رسوي. (تذکرة الاولياء، فارسي چاپ ايران ص ۱۸۳

(c) ...com: The Digital Library



# د حضرت نجم الدین کبری یو نظر په حیوان هم اثر وکړ

حضرت نجم الدین کبری [ قدس الله سره ] یو داسې شخص دی چې: دی به کله د جذب په حالت کې راووت نو په چا به یې چې سترګې ولګېدې هغه به د اولیاء الله وو له ډلې څخه شو.

یو وخت دی په مجلس کې د ( اصحاب کهف ) واقعه ذکر کوي نو د( اصحاب کهف ) د سپي واقعه خبره راغله، په ناستو مریدانوکې یوچاته په زړه کې دا ورو ګرځېده چې په اوس وخت کې به هم داسې یوڅوک وي چې دده په ملګرتیا سپی هغه مقام ته ورسیږي ؟ لکه کوم مقام چې د ( اصحاب کهف ) سپي ته په برخه رسېدلی دی ؟ ځکه په قرآن کریم کې یې یادونه راغلې چې: ﴿وَكَلْبُهُم بَٰسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِٱلْوَصِيدِ﴾ [ سورة الکهف آیت:۱۸ ]

ژباړه : اوسپی د دوی ( د دوی په مخ کې ورته پروت دی چې؛ غځوونکی دی (په زمکه ) د دواړو څنګلو په خولې دغار کې

یعنې دري سوو نهه ( ۳۰۹ ) کاله چې اصحاب کهف په هغه ځای کې مړه پراته و، بدنونه یې خراب نه شول، هغه سپی هم په هغه کیفیت پروت و، بدن یې خراب نه شو اود قیامت په ورځ به د انسان په شکل جنت ته داخلیږي. [ تفسیر مظهري ج: ۸/ ص ۲۰۸ ]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو خبره مو د مرید کوله چې دغه په زړه کې سودا ټهره شوه. نو حضرت نجم الدین کبری ﷫ چې کله د باندې د جذب په حالت کې راووت نو یې په سپي باندې سترګې ولګېدې، دغه سپی چې هره ورځ به دغلته ګرځېده، له دې ځای څخه ورک شو، وروسته یې چا پوښتنه وکړه چې هغه سپی څه شو؟ نو چا وویل چې دا دومره وخت کېږي چې خوراک، څښاک یې پرې ایښي دي او هره ورځ په یوه دښته کې پروت، ځلوېښت، پنځوس سپي نور هم ورڅخه شاوخوا حلقه وي او ټول پرمخې پراته وي، لکه د ذکر په حالت کې.

نو ددوی په یو نظر خدای پاک سپي داسې مقام ته رسوي، خو ګورئ دا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورکړه ده، الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د خپلو ذخیرو د تقسیم، دهغو د وېش اختیار چاته نه ورکوي، خو کله چې چاته اختیار ورکړي نو بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دهغوی په واسطه د یو چا کارونه ور جوړوي.

نبي کریم ﷺ یو صحابي رضي الله عنه ته وایي (سَلْ تُعطَ) غواړه چې درکړل شي، دغسې ډېرې پېښې شوې دي چې په یوه دعا دخلکو پوره کارونه جوړ شوي دي خکه ددغو خلکو له الله تعالی سره نږدې علاقه وي، بیاچې دوی خپل رب جَلَّ جَلَالُهُ ته التماس وکړي، لاسونه پورته کړي، نود خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په خزانو کې خوکمی نشته، بیا خداوند متعال جَلَّ جَلَالُهُ دخپل دوست سوال او غوښتنه په څمکه نه غورځوي. په دنیاکې هم داقانون اورواج دی چې چا جرم کړی وي نو دهغه مجرم دښېنلو له پاره، دکلي او یا سیمې عزتمن صالح او په خبره پوه خلک په ننواتې هغه جانب

(c) ...com: The Digital Library



مقابل لوري ته ورشي، نو دهغو عزتمنو خلکو له مخې هغه سرټ وشرمیږي. که د قتل معامله هم وي نو وربښي يې. بلکې غټ غټ ظلمونه شوي وي بيا هم خلک دهغونيكو او مخورو خلكو پر مخ ترینه تیریږي او ببښنه ورته کوي.

نو د الله تعالی دوستان چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهٗ ته په جرګه ورشي هم، دا شفاعت سپارښتنه ده. د قیامت په ورځ چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ، شهيدان، علماء ، حافظان، اولیاء الله ، شفاعت کوي، دا ځکه چې دوی الله تعالی ته نږدې وي. نو الله تعالی ته دوی سوال وکړي چې ای خدایه ! که دغه فلاني کس هرڅومره ګناهکار ده، خو دده په حق کې زه درته سفارش کوم، له ماسره یې ښېګړه کړېده. زما یې خدمت کړی، له ماسره یې معاونت کړی، له ماسره یې محبت کړی، ستا له دین سره يې محبت کړی، ستا له دوستانو سره يې محبت کړی، نو الله تعالی د خپل محبوب سوال قبول کړي.

همدارنګه قرآن کريم شفاعت کوي، که هرڅومره دغه بنده ګناهونه کړي وي پرته له کفراو شرکه ، دغه قرآن کریم دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهٗ په حضور کې سفارش کوي، چې اې خداوند متعاله ! زه ستا کلام یم، ددې بنده له ماسره مينه او علاقه وه، که ده ګناه کړې هم وي، ته زماپه خاطر ترې ورتېر شه.

نو لکه څرنګه چې په آخرت کې شفاعت ثابت ده، ددوی په بركت الله تعالی انسان له جهنم اونورو عذابونو څخه خلاصوي، چې هغه د دنيا له عذابونو او مصيبتونو تولو څخه ډېر سخت دي،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا تکلیفونه خو د آخرت په نسبت ډېر کم دي، د دغو خلکو د دعاوو په برکت له سړي څخه د دنیا مشکل هم لرې کوي.

خودا هرڅه محبت، اخلاص، متابعت او إنقیاد غواړي، که یوڅوک غواړي چې د اولیاء الله له جملې څخه وګرځي، نو شرط د ولایت داده چې دده به له اولیاء الله سره مینه،محبت، اخلاص اودهغوی حکم ته به غاړه ږدي، چې هغه څه ورته وایي هغه به مني، دوهم به ذکر ډېر کوي، دا دواړه شیان چې سره یوځای شول نوبیا ددغه سړي د الله تعالی سره دمحبت لار خلاصیږي. بیاد خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ له اولیاوو څخه حسابیږي. ﴿ إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ﴾ سورة الانفال آیت ۳۴ ] د خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ اولیاء نه دي، مګر هغه څوک دي چې پرهېزګاره وي، د پرهېزګاري دا لاره ده چې له نېکانو سره به په مجالسو کې اشتراک کوي، دهغوی نېکې خبرې به اوري، هغه په ده کې اثر وکړي، نوبیا دی له ګناه څخه اجتناب شروع کړي، له دین سره یې محبت پیدا شي، د دین په کارونو کې کوښښ شروع کړي، څومره یې چې کوشش زیاتیږي دغومره بیا خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ ته ورنږدې کېږي څومره چې تقوی زیاتیږي دغومره دخدای پاک جَلّ جَلَالُهُ د مقربو بندګانو له جملې څخه حسابیږي.

اوکه یوڅوک له نااهلو خلکو سره مجلسونه کوي، بیادهغوی مجالس پکې اثر کوي، ورځ په ورځ به [ خدای مو دې وساتي ]د خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ په دښمنې کې ښکېل او واقع کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی ټوک

الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَا تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ﴾ [سورة هود آیت:۱۱۳] ژباړه: او مه مائلیږئ تاسي (په دوستۍ سره) په طرف د هغو کسانو چي ظلم یې کړی دی نو وبه رسیږي تاسي ته اور (د دوزخ).

یعني د ظالمانو، کفارو طرف ته د زړه میلان هم مه کوئ بیا به تاسي هم په جهنم کې وسوځئ. له هغوی سره د زړه مینه مه ساتئ، زړه مه ورورئ! هغوی خو جهنمیان دي، نو تاسي به هم له دې امله ورسره جهنمیان شئ؛ ځکه چې له هغوی سره به مو د زړه مینه وه

په قرآن کریم کې بار بار خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وایي چې له نااهله خلکو سره دوستي مه کوئ؛ بلکې نېک خلک په دوستي ونیسئ؛ له مسلمانانو سره دوستي وکړئ؛ ځکه چې د مسلمان په دوستۍ کې فائده دا ده چې د آخرت ګټې پکې پیدا کېږي او د نا اهله خلکو په ملګرتیا سره سړی آن تر جهنم پورې هم رسېدای شي. کله به داسې هم پېښه وي چې د نا اهله، بدکارو او کافرانو د ملګرتیا له وجې به یو کس د تل له پاره د جهنم مېلمه شي

نو چې څومره مو وس وي باید له نېکانو سره مو علاقه وي، د نېک معنا دا چې هر عالم چې د شریعت په چوکاټ کې چلیږي، هر مجاهد، هر حاجي، بلکې هر مسلمان چې د شریعت له اصولو سره برابر وي، هغه د الله تعالی له دوستانو څخه دی، که څه هم د درجو او مراتبو په اعتبار به تو پیر خامخا موجود وي، خو چې یو واری

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمان و، نفس د اسلام له وجې نه د خدای پاک دوست دی، نو دمسلمان سره د اسلام په نظر چې سړی دوستي شروع کړي، د دنيا او قدرت له پاره نه وي، نو يواځې په ليدنه کتنه، په سلام اچولو سره الله تعالی له انسان څخه خوشالیږي.

بیاچې مسلمان یو قدم پورته کیږي، مثلاً طالب شو، مجاهد شو، عالم شو، نو دی د الله تعالی د اولیاوو له جملې څخه شو، چې څومره خدای پاک ته ورنژدې کیږي دغومره ددغه سړي محبت او نژدیوالی له خدای پاک سره په زیاته پیمانه راځي.

اکثره چې اوس مشران وي، ځوانان وي که کشران ورځ تر بلې ورځې بې لارې کیږي، وجه یې داده چې مجلسونه ورځ په ورځ خرابیږي، کمکی چې ووینې د کرکټ د کهلاړیانو ( لوبغاړو ) نومونه به یې زده وي او وایي به درته چې سبا به فلانکي ځای کې مقابله ده، د ټولې دنیا له مقابلې څخه به یې خبر وي، نو چې زمونږ د کمکیانو دغه حالت ده، چې غټ شي نو له ده څخه به څه جوړیږي؟

نو د کوچنیانو په اصلاح ، ښوونه او روزنه کې ډیر کوشش کول په کار دی ،باید خپل اولادونه دښو او کره مذهبي علماوو په لاس تربیه کړو.

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



# خپل کوچنیان له صدقې ورکولو سره اشنا کړئ

په یوه حدیث شریف کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې تاسې چې کله صدقه ورکوئ، سائل مو دروازې ته ولاړ وي، نو کمکي په لاس يې ورکړئ ځکه چې دی له وړوکتوبه په سخاوت باندې عادت شي، هلک چې کله اووه (۷) کلن شو نو به لمانځه امر ورته کوئ، سره له دې چې دی خو به پنځلس کلنی مکلف ګرځي، خو په اووه کلنی ځکه دلمانځه کولو امر ورته کوئ ترڅو دی له دینداري سره عادت شي، سره له دې چې ماشوم په شریعت کې مرفوع القلم ده بیاهم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وايي چې په کمکیني امر ورته کوئ. داچې لس کلنی ته ورسیږي که څه هم په دې عمر کې غیر مکلف ده، بیايې په لمانځه باندې وهي ترڅو چې هغه له وړوکتوبه په نیکي کولو عادت شي. شریعت وايي چې خپله خور او ورور دې لس کلنی ته ورسیږي نو بسترې يې سره بیلې کړئ، یوځای يې مه سره پرېږدئ، ځکه شیطان دوی د بدعملي لوري ته متوجه کوي، نوخپل خور او ورور سره بیل کړئ، چې د ګمراهي طرف ته يې شوق پیدا نه شي. داچې شریعت کوم قانون ږدي په هر یوه کې يې حکمت دی. داچې واړه او لویان نارینه او ښځې ټول به دې مامور دي چې له نیکو خلکو سره دوستي وکړي، له بدو خلکو څخه ځان وساتئ. ملګرتیا يې مه کوئ، ځکه چې په دې کې د دین او دنیا فائدې دي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ قَالَ أَنَسُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الْغُلَامُ يعق عَنْهُ يَوْمَ السَّابِعِ وَيُسَمَّى وَيُمَاطُ عَنْهُ الأذى ، فَإِذَا بَلَغَ سِتَّ سِنِيْنَ أُدِّبَ ، فَإِذَا بَلَغَ تِسْعَ سِنِيْنَ عُزِلَ فِرَاشُه، فَإِذَا بَلَغَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً ضُرِبَ عَلَى الصَّلوةِ ، فَإِذَا بَلَغَ سِتَّ عَشْرَةَ سَنَةً زَوَّجَهُ أَبُوْهُ؛ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِهِ وَقَالَ قَدْ أَدَّبْتُكَ وَعَلَّمْتُكَ وَأَنْكَحْتُكَ، أَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَتِكَ فِي الدُّنْيَا وَعَذَابِكَ فِي الْآخِرَةِ ﴾

[احياء علوم الدين /ج: ۲/ص: ۲۳۲ / حقوق الوالدين والولد]

ژباړه : له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي کله چې هلک پیدا شي نو په اومه ورځ به دده عقیقه کوي او نوم به ورباندې ګدي او ضرر ناک شیان به ورنه لرې کوي.

او کله چې شپږ کلنی ته ورسیږي بیا به آدب ورکوي ، او چې نهه کلنی ته ورسیږي نو په ځای کې دې بیلوي (یعنې په کومه کوټه کې چې دده مور اوپلار وخت تیروي هلته به دغه بچی نه ورسره اوسیږي) او چې کله دیارلس کلنی ته ورسیږي په لمانځه نه کولو دې وهي او کله چې شپاړس کلنی ته ورسیږي بیا دې پلار په نیک ځای کې واده ورته کوي

بیا يې حضرت انس رضي الله عنه تر لاس ونیو او ورته وې ویل : ما تاته آدب درکړی ، علم مې درښوولی او نکاح او واده مې هم درته کړی ، نو زه په الله تعالی پناه غواړم له فتنې دستا په دنیا کې او له عذاب دستا په اخیرت کې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لومړی توک

الله تعالی فرمايي : ﴿وَلَا تَنكِحُوا۟ ٱلْمُشْرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤْمِنَّ ۚ وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ ۗ وَلَا تُنكِحُوا۟ ٱلْمُشْرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤْمِنُوا۟ ۚ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ۖ وَٱللَّهُ يَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱلْجَنَّةِ وَٱلْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِۦ ۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾﴾ [ سورة البقرة آیت ۲۲۱ ]

ژباړه : اوپه نکاح مه آخلئ ' مشرکي ښځې تر هغه پورې چې ایمان راوړي دوی او خامخا وینځه بهتره ده له مشرکي اصیلې ښځه اګر که ښه درښکاره شي تاسې ته هغه ( کافره ) .او په نکاح مه ورکوئ ( مسلماني ښځې ) کافرانو ته تر هغه پورې چې ایمان راوړي دوی او خامخا مریې مؤمن بهتردی له کافر سړي نه که څه هم ښه ښکاره شي تاسې ته ( هغه کافر ) .

یعنې له مشرکې ښځې که څه ډیره ښایسته وي نکاح مه ورسره کوئ، که هرڅومره شتمنه او مالداره وي، له هغې نه مینځه هم ښه ده خو چې مسلمانه وي، اود مسلمانې ښځې په هکله بیا فرمايي چې مسلمانه ښځه مشرک سړي ته په نکاح مه ورکوئ اګر که هغه مشرک سړی بادشاه هم وي، له هغه څخه هغه مسلمان غلام سره غلامیته هم ښه او غوره ده. ځکه قرآن کریم په خپله وايي چې: مشرک سړی د جهنم په لوري کشکوي. د ښځې او مېړه په منځ کې خو ملګرتیا ده، صحبتونه او مجلسونه وي، د عمر ناسته ولاړه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځي له نااهله خلکو سره يې تعلق جوړ شو ګمراه کوي يې اودغه ډيداره سړي بيا د دين لوري ته سړی ورجلبوي.

نو غرض داده چې: تل به دا کوشش کوو او نور مسلمانان به هم دې لوري ته رادعوت کوو چې له نيکو خلکو سره يې تعلق جوړ شي، د نېکانو په مجلسونو کې شرکت وکړي، ځکه چې همدغه د نېکو خلکو مجلسونه په مسلمانانو ښه اثر کوي، ځکه الله تعالى فرمايي چې: ﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ تَنفَعُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۝﴾ [سورة الذاريات]

ژباړه: او تل نصيحت کوه پس بېشکه چې ذکر پند ګټه (فائده) نفعه رسوي مؤمنانو ته.

يعنې نصيحت کوه نصبحت مسلمانانو ته ګټه رسوي، خودا په هغه وخت کې چې ددوی له خوا الفت پيدا شي، که نه وي بعضې مسلمانان دي چې نصبحت بد پرې لګيږي، بياهم قرآن کريم وايي

﴿ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ۝ ﴾ [سورة الاعلى]

ژباړه: پس ذکر پند ورکړه ته (ای محمده!) که فائده رسوي ذکر پند (يا پس پند وکړه ته ای محمده!) په تحقيق فائده رسوي ذکر پند مؤمنانو ته (يا پس پندورکړه ته ای محمده!) که فائده رسوي ذکر پند (که فائده نه رسوي).

يا نصبحت کوه خوهلته چې که فائده رسوي که فائده يې نه رسوله بيا نصبحت ورته مه کوه، ځکه دابيا د دين دبې عزتي لامل ګرځي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس نو فائده په دغو مجلسونو کې پیدا کېږي، دا دخلکو په تعلق کې پیدا کېږي، چې له نېکو خلکو سره د سړي مینه پیدا شوه، تعلق یې جوړ شو، بیا دقرآن خبره، احادیث اود مذهب خبرو په سړي باندې ښه اثر کوي، بیاد خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته په خپل رحمت سره سړی متوجه کوي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَالَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ (سورة العنکبوت آیت:۶۹)

ژباړه: هغه کسان چې کوښښ کوي تل زموږ ددین په لاره کې خامخا ویه ښیو هرومرو (خامخا) دوی ته لارې خپلې (چې موږ ته پرې راځي).

یعنې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وعده ده چې زما ددین اوزما د دوستي په طرف کې چې څوک کوشش وکړي نو زه د دین او جنت لارې ورته خلاصوم د نیکو لارو او نېکو اعمالو توفیق زه ورته ورکوم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۱) مجلس

## آیا تکلیفونه او مصائب یواځې د ګناهونو له امله وي؟

دا قانون دی چې د ګناهونو او بدو اعمالو له امله انسان په دنیا او آخرت کې له مصیبتونو او مشکلاتو سره مخامخ کېږي. د دې خبرې یواځې دومره تشریح درته کوم چې څښتې ملګروته څه اشتباه پیدا کېږي.

دا که تکلیف د ګناهونو له امله وي، نو انبیاوو ته بیا ولې تکلیفونه رسیدل؟ مونږ وینو چې په دنیا کې چې څومره تکلیفونه او زحمتونه انبیاء کرامو او صحابهٔ کرامو او اولیاء الله وو زغملي دهغوی په نسبت عامو مسلمانانو ډیر لېږ مشکلات او سختۍ ګاللې دي.

نو ځواب داده: چې په تکلیفونو او مصیبتونو باندې دنیکو خلکو مرتبې او مقامات لوړیږي.

مثلاً د جهنم د اور په هکله راځي چې: کافر به هم په جهنم کې وي او ګناهګار مسلمان به هم په جهنم کې وي، خود کافر له پاره جهنم د ذلت سبب دی، او د مسلمان له پاره دغه اور د صفایي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکوالي سبب دی . کافر چې څومره وخت په اور کې تېر کړي فقط کفر یې نه پاکېږي او نه ورڅخه لري کېږي او تکالیفو څخه هم نه خلاصیږي اودتکالیفو لړۍ به یې همداسې به جاري وي مګر مسلمان که څېرې یې په دنیا کې توبه نه وه اېستلې ، الله تعالی هم نه ؤ ببښلی ، تکلیفونه نه ؤ پرې تېر شوي، تردې پورې چې دجهنم مستحق او ورګرځېدلی ؤ، دوزخ ته ولاړ نودده صفایي به د جهنم په اور سره کېږي. کله چې دی د ګناهونو له خیرو څخه پاک شونو في الحال یې الله تعالی له جهنم څخه راباسي اوجنت ته به یې داخلوي، نو حاصل د خبرې داده چې دغه یو اور ده د کافر له پاره: ذلت او اهانت سبب اود فاسق مسلمان له پاره د طهارت اوپاکوالي ذریعه ده، دهغه اور په ذریعه لکه اوسپنه چې له زنګ څخه پاکېږي دی له ګناهونو څخه پاکېږي. او داخو ددنیا دطبیبانو هم داسې قانون دی چې دانسان کوم اندام خوږ شي هغه بیابنه پاک کړي بیا وروسته دملهمو پټۍ وربانديې کیږي .

په دنیا کې چې په نېکو انسانانو تکلیفونه راځي اوپه بد عملو نه راځي ددې هم دغسې فرق لکه د بدعمله مسلمان او کافر دعذاب چې څنګه فرق ده، چې د کافر عذاب د اهانت له پاره اود فاسق مسلمان عذاب د پاکوالي له پاره ده. که مسلمان فاسق او بدعمله و ، عذاب وربانديې راته، نو اکثره یې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د صفایي له پاره وربانديې راولي چې دغه انسان د انساني خواهشاتو سم د شیطان اود نفس خبره یې منلي وي او بیا ګناهونه او تیروتنې ورڅخه شوي وي او دخدای جَلَّجَلَالُهُ دغسې کس ته په ازموینه او

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکلیفونو داسې اراده وي چې نوموړی کس بیا له مرګه وروسته په عذابونو کې ښکیل نشي.

په یوه روایت کې راغلي چې: د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت غالباً جهنم ته نه داخلیږي، یا په دنیا کې الله جَلَّ جَلَالُهُ په دوی داسې تکالیف او سختۍ راولي چې څه تقصیرات ورڅخه شوي وي، د دغو تقصیراتو په سبب چې کوم تکالیف پرې راشي په دنیا کې معافي ورته کوي، یا توفیق د توبې ورکوي، که هغه نه وي نو د زنکدن په وخت کې یې چې څومره ګناوې پاتې وي په هغه یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ګناوو څخه پاکوي، ځکه چې مسلمان هم وي او سره له هغه یې هم زنکدن سخت وي، که په هغه هم پاک نه شو بیا یې د قبر په عذاب باندې هغه د ګناهونو بد اثرات او کدورات ور ختموي، ډېر کم خلک به د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اُمت داسې پاتې کیږي چې هغوی دې په دغو ټولو وختونو کې پاک نشي.

او که یوه مسلمان نیک عملونه ترسره کړي وي او سره له هغه هم دوی ته په دې دنیا کې تکلیفونه ورسیږي دهغو بیا مرتبې ور باندې لوړیږي، څومره چې په دوی تکلیفونه راځي دومره به یې اجرونه ډېر وي، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ چې له خپلو دوستانو څخه خوشاله شي، نو د هغه خوشالي تلپاتې او نه ختمیدونکې وي، د نیکو عملونو په بدله کې چې الله تعالی جنت او انعامات ورکوي هغه هم بیا زوال نه خوري د تل له پاره به یې په برخه وي. د دنیا راحت چې هر څومره زیات وي نو دا به خامخا یو ورځ ختمیږي. نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د خپلو دوستانو له پاره هغه اُخروي ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب کړی دی، چې د جنت ژوند دی، نو بیا چې په دغه نیک عمله بنده څومره تکلیفونه راتلل صبر او استقامت یې ښه کاوه بیا ده د آخرت درجې ډېرې لوړوي.

## دیو قدرمن پیغمبر یوسف عَلَیْهِ السَّلَامُ خونده وره او کتوره قیصه

حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَامُ پیغمبر دی، پلار یې حضرت اسحق عَلَیْهِ السَّلَامُ پیغمبر دی نیکه یې حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ پیغمبر دی، زوی یې حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَامُ هم پیغمبر دی، ټول خاندان د پیغمبرانو دی، نو په حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَامُ باندې په دنیاکې څومره تکلیفونه راغلل ؟

دده دولس زامن وو، چې په دوی کې دوه زامن هریو، حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَامُ او بنیامین، یې له یوې ښځې څخه وو او لس زامن یې له بلې بي بي څخه وو.

خپل وروڼه ورته پورته شول اود حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَامُ دوژلو اراده یې وکړه، بیایې په خپل منځ کې له مشورې وروسته د وژلو په ځای کوهي ته واچاوه، چې بیا د غلام په نامه خرڅ شو، بیا بندي خانه اونور تکالیف ورباندې تېر شول چې سړی د هغو برداشت خو څه کوې چې تصور کول یې هم اسانه کار ندی.

خو حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَامُ د خدای جَلَّ جَلَالُهُ پیغمبر دی، واجب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په دې پوه کړ چې زوی دې ژوندی دی، له تاسره به یو وخت وویني. خو حضرت یوسف عَلَیْهِ السَّلَامُ ورک شو، د قافلې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو یې خرڅ کړ. له کنعان څخه یې مصر ته یوړ، په مصر کې چې په دغه باندې کوم تکلیفونه بندې خانې تېرې شوې ؟ آخر الامر خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دنیا د تکالیفو چې ده برې صبر کړی و دهغو په عوض کې یې په ده باندې په دنیاکې داسې راحت راوست چې دی د مصر حاکم وټاکل شو، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډېر غټ اعزاز ورپه برخه کړ.

کله چې دده ورونه له کنعان څخه دخپلې خوراکې او غلې له پاره مصر ته ورغلل څکه چې په نورو سیمو او علاقو کې وچکالي وه اود مصر خلکو خو خوراکي مواد ذخیره کړي وو، لکه چې واقعه بې تاسې ته معلومه ده ، نو کله چې یې ورونه ورغلل ده عَلَيْهِ السَّلَامُ په لومړي ځل وپېژندل چې دا خو زما ورونه دي، او دوی ونه پېژانده. بیایې امتحاناً له دوی څخه پوښتنه وکړه چې تاسې دلته د څه له پاره راغلي یاست؟ دوی ورته وویل چې : د کور دنفقې دوړلو له پاره راغلي یو، ده عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وویل چې: هسې نه چې د بل هیواد جاسوسان یاست ؟ دوی وویل چې: جاسوسان نه یو. بیایې ترې پوښتنه وکړه چې: تاسې دکومې کورنۍ یاست ؟ دوی ورته وویل چې: دحضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ دکورنۍ یو. بیایې پوښتنه ورنه وکړه چې نور ورونه مو شته ؟ دوی ټول حالات ورته بیان کړل چې مونږ دولس ورونه وو، یو ورور مو ورک شو، اوس یولس ورونه پاتې یو، په هغه کشر ورور باندې مو پلار . ډېر ورک زوی مینه ماتوي، خان ته په هغه تسلي ورکوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ورته وايي چې: که بل وار راتلئ هغه کشر به هم درسره راولئ چې ستاسې صداقت معلوم شي اوکه مو رانه ووست بيا به تاسې هم بې برخې ځئ.

بيايې د بره موده وروسته دوهم ځل ورونه راغلل او هغه کشری ورو يې هم له ځانه سره راوستلو يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ته خپل ځان وروښودلو او هغه يې د غلا په چل باندې له دوی څخه راوګرځاوه، قصه يې د بره اوږده ده، ډيره موده وروسته يې ورونه بيا په دريم ځل راغلل په دغه وار يې ورونو ته خپل ځان وروپېژاند.

مفسرين حضرات په دې ځای کې ليکي چې: په دې کې دخدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ څه حکمت و؟ يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ پيغمبر ده، په لومړي ځل يې ځان ور ونه پېژانده، په دوهم ځل هم دغسې، په دريم وار چې بيا ورته راغلل اوخپل زحمتونه او تکاليف يې ورته بيان کړل، بيادده شفقت هم پرې راغی اوځان يې وروښوده، خپل مبارک قميص يې ورکړ ترڅو دحضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ سترګې چې دحضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ د جدايي له امله ړندې شوې وې او دا کميس دهغه په سترګو ووهي ترڅو جوړې شي، ځکه دا دجنت قميص و، کله چې نمروديانو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ اور ته اچاوه نو جامې يې ورڅخه وايستلې په دې وخت کې حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته له جنت څخه قميص راووړ، دغه کميس بيا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل زوی حضرت اسحق عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورکړی و، هغه بيا حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وسپاره اوهغه بيا حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ به په غاړه کې اچولی و. کله چې دده و

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی عَلَيْهِ السَّلَامُ کوهي ته غورځاوه نو جامې يې ورځخه وايستلې، په کوهي کې دننه جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته راغی، دده په غاړه کې د اوسپنې په تعويذ کې دغه کميس بند و، هغه يې ورته راوايست، ده واغوست، بيا جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ دلته ورته وويل چې: دغه کميس ورولېږه، په دې کې د جنت اثر دی، ړانده پرې بينا کېږي، اوس نو په دغه ځنډولو کې حکمت څه و؟ په دې کې داحکمت ؤ چې په دې کار سره دحضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ درجې لوړې شي دفراق او جدايي دږوند موده يې ترڅلوېښت کلونو پورې وغځيدله

چې يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ اويعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ نه دي سره ليدلي، په دې به هم پوهېده چې ژوندی دی، راسره به وينې. خو ورښوده يې نه، صبر يې کاوه، نو حکمت دخدای پاک پکې څه و؟ د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ ګناه نه وه، ځکه چې انبياء کرام عَلَيْهِمُ السَّلَامُ خو معصوم دي، دده د درجو لوړوالی يې پکې مقصود و.

[ تفسيرمظهري ج: ۵ / ص :۱۱۳]

نوکله تکاليف په مسلمانانو راځي دا دوه حيثيته لري: که په مسلمانانو کې څه تقصيرات او ګناوې وي، نوکه دهغو تکاليفو له امله دوی صبر وکړي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به هغه ګناوې ورته معاف کوي. اوکه نېک عمله مسلمان په څه تکليفونو کې را ايسار شي بيايې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د جنت درجې پرې لوړوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روغ رمټ خلک به د اخيرت په ورځ دا تمنا کوي چې کاشکې په موږ هم په دنيا کې مصيبتونه راغلي وای.

د پيغمبر ﷺ د مبارکې خولې هغه وايي چې د قيامت په ورځ الله تعالی مصيبت ځپلو خلکو ته د مصيبتونو په مقابل کې کوم تلپاتې انعامات ورپه برخه کوي نو هغه خلک چې په هغوی مصيبتونه نه دي راغلي هغوی به دا ارمان کوي چې کاشکې په دنياکې زمونږ غوښې په بياتي ګانو ( قيچي ) پرې شوې وای خو چې نن مونږ هم د دغو انعاماتو مستحق ګرځيدلي وای. نو اصل خبره داده چې څومره سختې، مصيبتونه، مرضونه، غمونه چې په دنياکې په يوه مسلمان باندې راځي هغه له الهي حکمت څخه خالي نه وي. الله تعالی قادر مطلق ده، بې بندوبسته اوبې بنه اوبې بده روزي ورکولای شي، داسې مخلوق ته روزي ورکوي چې نه لاس اونه هم پښې لري، نه کاروبار کولای شي، لکه : دا حشراتو ته تاسې ګورئ چينجي ده په خېټه روان وي، نه يې پښې او نه يې هم لاسونه شته، خو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څنګه روزي ورکوي؟ مګر يو بنه، نېک عمله او ديندار مسلمان، د خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د دوستانو له جُملې څخه ده، تل په مسکنت او فقر کې ژوند تېروي، په وچه مړې خپل وخت تېروي، حالانکه د الله تعالی په خزانو کې څه کمی هم نشته، چې کافر ته يې ورکوي نو دا خو يې دوست ده، ده ته يې ولې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورکوي ؟ وجه او سبب او لامل يې دادی چې خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ يې برخه آخرت ته ساتلې ده.

په صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ کې ډېر داسې کسان وو چې تر ډېره وخته ژوندي وو، خو دوی به په دې خپل ژوند کې دهغو صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ خو چې ددوی ملګري ؤ له دوی څخه مخکې د فقر او مسکنت په حالت کې شهيدان او يا وفات شوي وو، نو دوی به دهغوی په حال ارمان کاوه.

له حضرت خباب بن ارت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه روايت دی وايي : حضرت حمزه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په شهادت ورسيده، خو دومره جامه يې نه لرله چې بدن يې پرې پټ شي، يوه شړۍ يې درلوده چې کله به يې سر پرې ور پټ کړ نو پښې به يې لوڅې شوې اوکه به يې پښې پرې ورته پټې کړې نو سر مبارک به يې لوڅ شو ، آخر نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړ چې سر يې پټ کړئ اوپه پښو يې واښه ور واچوئ! تاسې وګورئ چې نومړی صحابي د خدای دخواړه او درانه پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره او رضاعي ورور دی، سره له هغه يې په دومره مسکنت او فقرکې يې ژوند تېر کړ ، دده په شان نور صحابه کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ هم ډېر وو چې د ټول بدن د پټولو له پاره به يې جامې نه درلودلې.

[ حياة الصحابة ، الجزء الاول . ص. ۴۲۴ / کتب خانه فيضي لاهور ]

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي چې: په اصحابِ صُفه کې اويا (۷۰) داسې کسان وو چې پوره جامې يې نه لرلې، نه ؤ له دوی يو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې سړي چې په ده دې څادر وي ،بلکې یا به لنګ زاو یا به شړۍ وه چې په غاړو کې به یې تړلي ؤ دځینې به تر نیمای دپوتې رسیده او دځینې به تر بیډیو پورې رسیدل په لاس به یې سره راټولول چې عورت یې ښکاره نه شي .

[حیاة الصحابة ، الجزء الاول . ص ۴۲۶ / کتب خانه فیضي لاهور]

خو وروسته چې کله په صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم وسعت اوپراخي راغلله ،غنیمتونه زیات شول، فتوحات به کېدل، بیادغو وروستنیو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم به د مخکنیو ملګرو په حالت دا ارمان کاوه چې دهغو انعامات الله تعالی دوی ته دآخرت له پاره جمعه کړل، په مونږ باندې خو په دنیاکې وسعت راغی، هسې نه چې د آخرت له ثوابه او انعاماتو څخه بې برخې پاتې نشو

لنډه داچې په دې باید پوه شو چې تکالیف او مصیبتونه دا د آخرت د خیراو ترقۍ له پاره یوه ښه ذریعه او توښه ده، کله داسې وي چې په مسکنت کې انسان د الله تعالی بندګي په ښه طریقه سره کوي، کله یې دمرض او مصائبو په حالاتو کې بندګي په صحیح طریقې سره کوي. الله تعالی چې له چانه یوځل راضي شوی وي نوبیادده د ایمان حفاظت او ساتنه کوي، داسې عمل ته یې نه پرېږدي چې اخرت یې پرې تباه شي، کله د چا دایمان او اعمالو حفاظت په مسکنت او غُربت کې وي، نو مسکین یې ساتي، کله دچا د ایمان او اعمالو حفاظت په مالداري کې وي، بیا یې مالداره ساتي. دوست یې وي خو ښه موړاو مالداره وي، حضرت ابراهیم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَیْهِ السَّلَامُ پیغمبر ؤ او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم پیغمبر ده، د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کور کې به ډېر خله داسې پېښه وه چې یوه میاشت هم اور نه ده بل شوی، یواځې په کهجورو او اوبو باندې به بې وخت تېراوه. او دحضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ د مېړو د رمو د سپیو په غاړه کې د سرو زرو امیلونه پراته وو. هغه هم پیغمبر ده ، دغه هم پیغمبر ده.

همدارنګه که دصحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ژوند ته کره کتنه وشي دیوه صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دنیا او هستي نه خاییږي. بل صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیا دفقر په حالت کې داسې وي چې پوره لباس ( داغوستلو کالي ) نه لري، د لوږې نه بېهوشه وي. حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې په ماباندې به ډېر خله د لوږې له امله بې هوښي راتله، زه به د لوږې له امله ولوېدم اوخلکو به لاس اوښېې رامبنل چې ګواکې پېریانو نیولی یعنې میرګي یې دي.

همدارنګه که داولیاء الله ؤ دژوند حالات څوک مطالعه کړي خینو ته الله تعالی ښه پرېمانه هستي او جایداد ورکړي اوځینې بیا په غُربت او مسکنت کې شپې ورځې تېروي. دا د الله تعالی معامله ده د چا ایمان په غربت کې ساتي اوچاته هستي اوجایداد ورکوي اوهم په هغه حالت سره یې د ایمان حفاظت کوي.

پوښتنه : دا تکالیف خو د اعمالو سزا ده، نو نېک عمله انسانانو ته بیا ولې تکلیف ورکول کېږي ؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواب په دغو تکلیفونو کې دا حکمت او ګټه وي چې ګناوې پرې ختمېږي او یایې درجې پرې پورته کېږي او دا تکالیف او ازموینې خوشې نه ضائع کېږي.

نو مسلمان چې په هر عمل کې یوځه د آخرت په لوري هم متوجه وي نو به هر حال کې ده ته ګټې فائده وي، خو به دې شرط که دی د الله تعالی لوري ته متوجه وي، او که خدای مه کړه انسان غافله و نو بیا هېڅ شی ده ته کومه ګټه نه رسوي، نو بیایې که اولاد ډېرېږي ، دنیا یې ډېرېږي، او یا قدرت ته رسیږي دا ټول دده له پاره عذاب او تکلیف ده، بیا به هرڅه کې دده له پاره استدراج ده، ورځ په ورځ به په تکالیفو کې نور پسې غرقېږي، په ظاهره به ورته د دنیا ترقي او کامیابي ښکارېږي خو په حقیقت کې به دا کار ده ته د آخرت په لحاظ له تباهي پرته بل څه نه وي

الله تعالی دې مونږ او تاسو ته ددې توفیق راکړي چې دتل له پاره خپل حقیقي خالق او مالک جل جلاله ته متوجه اوسو. که تکلیف راځي هم زمونږ باید په دې یقین وي چې دا د الله تعالی له لوري ده او هغه به یې راځخه لرې کوي ، بې صبري او شکایت باید ونه کړو. که راحت وي هم باید په دې مو یقین وي چې دا د الله تعالی له لوري یو نعمت او لورینه ده چې پر ما یې کړې او که چېرته زه بغاوت او مخالفت وکړم بېرته یې هم راځخه اخیستی شي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


# حضرت ابوبکر الصدیق رَضِیَ اللهُ عَنهُ ته دده حقیقي خالق او مالک الله جَلَّ جَلَالُهُ خپل سلام رالیږي

یووخت سیدنا حضرت ابوبکر الصدیق رَضِیَ اللهُ عَنهُ ته حضرت خاتم الانبیاء سید المرسلین حضرت نبي اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ وویل چې الله تعالی پر تا سلام وایي او دا هم وایي چې ته له ابوبکر نه پوښتنه وکړه چې مرض دې څنګه دی؟

نبي اکرم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ چې د الله تعالی سلام حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنهُ ته ورساوه، بیا یې پوښتنه ورڅخه وکړه چې ستا تکلیف څه دی؟ حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنهُ ورته وایي چې: غاښ مې خوږیږي. نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ ورته وایي چې: څومره وخت یې کیږي؟ دی رَضِیَ اللهُ عَنهُ ورته وایي چې: دوه کاله. په دې دوه کاله کې حضرت ابوبکرصدیق رَضِیَ اللهُ عَنهُ دخپل غاښ ددرد شکایت نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ ته نه دی کړی، دی په دې خبره پوهېده چې په دې صبر کې مې د آخرت ګټې دي. بیا الله تعالی ورڅخه خپل رضایت اعلان کړ، دده مقام او مرتبه یې خلکو ته وروپېژندله، ملائکه یې رالیږله چې زما سلام ورته وایه اود مرض پوښتنه یې هم وکړه، نو تاسې وګورئ چې څومره لوړ مقام یې دی؟ خودا چې سړی د آخیرت طرف ته متوجه وي نو بیا د مصیبت او راحت په دواړو حالاتو کې کار کېږي اوکه خدای مه کړه سړی غافله و، نوبیاپه یوه حالت کې هم کامیابي او ترقي نه تر لاسه کیږي.

Scanned with CamScanner

(c) ... .com: The Digital Library



# (۱۲) مجلس

## له نیکو خلکو سره مشابهت او ورته والی

نبي کريم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي ﴿ وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ﴾ [زادالطالبين بحواله سنن ابوداود ص ۲۹] يعني څوک چې خان مشابه کوي د کوم قوم سره په ورځ د قيامت به د هغه قوم په ډله کې راپورته کېږي.

د دغه حديث شريف په تشريح کې محدثين کرام ليکي: هغه نر چې خپل ځان د ښځو په شکل باندې جوړوي نو د قيامت په ورځ به دې د هغوی په ډله کې وي. او هغه ښځه چې ځان د نارينه ؤ په شکل کې جوړوي نو د قيامت په ورځ به دا ښځه د نارينه ؤ په ډله کې وي. د دې معنا دا نه ده چې د هغو مقام ته يې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رسوي، يعني دغه سزا ورکوي، سړي ته چې کوم ښايست، حُليه او د نرتوب خاصه چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورکړې ده او دی هغه پرېږدي د ښځو لباس، د هغو خبرې او کردار ځان ته خوښوي نو واجب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دا سزا ورکوي چې تا ولې خپل کوم زينت او کردار چې ما تا ته درکړی دی تا هغه پرېښود، تغير دې په خلق کې راوست او له بل چا سره دې ځان مشابه او يورنګ کړ. او کومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې چې د نرانو سره ځان مشابه کوي ، لوڅې کرځي، د ستر لحاظ نه کوي، سر نه پټوي، د کور نه د باندې ګرځي ، نو دا له نارینه وو سره مشابهت دی. نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به دېته هم سزا ورکوي چې تا هغه خلقت ولې بدل کړ؟ ته ما په کوم کیفیت او هیئت باندې پیدا کړې یې ؟ تا په هغې کې ولې تغیر راوست؟ او ځان دې د نرانو په لباس کې خلکو ته ور پیژندلو خپل ځان دې په بوه بل عنوان جوړ کړی و، نو دغه سزا درکوم. په هغه خلقت او جامه کې چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درته خوښه کړې وه تا ولې تغیر راوست؟ د هغه موافق دې ژوند ولې نه تېراوه ؟

﴿ مَنْ تَحَلَّى بِمَالَمْ يُعْطَ كَانَ كَلاَ بِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ ﴾ [ زادالطالبين بحواله جامع الترمذي ص۳۲ ]

ژباړه: نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې متقي او پرهېزګاره نه وي، ښه سړی نه وي او ځان د ښو خلکو په جامه کې معرفي کوي ، له نېکانو سره مشابهت کوي ترڅو خلکو ته دوکه ورکړي ، د عالم ، پیر په لباس کې خلکو ته ځان معرفي کوي نو دغه ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سزا ورکوي چې خلکو ته ځان ښه معرفي کوي او په تا کې هغه صفات نشته، نو دا کار داسې ده لکه د دروغو جامې يې چې اغوستې وي. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به دې کار ورته سزا ورکوي. چې ولې دې ځان په ناحقه او چل ول له دوی سره مشابه کاوه ؟ . يو خو په دې عنوان خبره وشوه . او بل ﴿ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ﴾ معنا دا چې : يو څوک د نیکي طرف ته کوشش کوي ،

Scanned with CamScanner

(c) ke... Digital Library



خپله د نېکانو په ډله کې نه دي ، خو خان دهغوی سره په خوېونو او
عادتونو کې برابروي ، هغه لمونځونه کوي، هغه ښه عادتونه چې د
نېکو خلکو صفات دي ، په ده کې نه وي خو دی کوښښ کوي چې
په دغو صفاتو کې مشابهت وکړي، معنا دا چې ددوی غوندې
عبادت وکړم. ددوی په شان کالي واغوندم. ددوی اخلاق په خان
کې پیدا کړم. نو د قیامت په ورځ به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغه انسان د
هغو نېکو خلکو په ډله کې راپورته کړي. دا د حُب دلیل دی. د چا
چې له چا سره محبت وي ، هغه اخلاق او عادات په خان کې پیدا
کوي، هغه رفتار او گُفتار په خان کې راولي، نو چې خومره وس
کوي ، که هغه په ده کې نه وي هم خو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به په ورځ د
قیامت دی په هغه ډله کې راپورته کوي کومه چې دنیکو خلکو ډله
ده، له دې وجې وايي چې: د سهار له لمانځه نه مخکې چې د الله
تعالی نېک بندګان راپورته کېږي اود تهجد لمونځونه او نفلونه
کوي په ذکر او فکر او مراقبو لګیا وي ، نو باید سړی په خان کې
تر تولو مخکې دغه صفت پیدا کړي. د سهار له لمانځه نه وروسته
تر لمر ختو پورې په ذکر او مراقبو مصروف وي . د حضرت رسول
الله اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت مبارکه داؤ چې : د سهار له لمانځه نه
وروسته تر لمر ختو پورې به دی مبارک په ذکر لګیا و. بیا به یې د
اِشراق لمونځ وکړ او خپل کورته به ولاړ.

لکه په یوه روایت کې راځي : ﴿ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مَنْ صَلى صَلوة الغَدَاةِ ( الصبح ) فِى جَمَاعَةٍ ثُمَّ جَلَسَ يَذْكُرُاللهَ حَتّٰى تَطلع

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



الشمس ثُمَّ قَامَ فَصلی رَکعَتَیْن انقَلَب بأَجر حَجةٍ وعُمرَةٍ ﴾ احقائق عن التصوف ص: ۱۸۶ / رواه الطبرانی واسناده جید کما فی مجمع الزوائد ج: ۱۰/ ص: ۱۰۴ ]

ژباړه : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وېلي :څوک چې دسهار لمونځ په جمهٔ (جماعت) سره ادا کړي بیا تر لمر ختلو پورې دالله تعالی ذکر وکړي بیا پورته شي دوه رکعته لمونځ وکړي دومره ثواب یې ده لکه یو حج اوعمره یې چې ادا کړې وي.

نو یوڅوک د اولیاوو الله وو له ډلې څخه نه ده، خو له هغوی سره په نېکو اعمالو، اخلاقو ، کردار کې مشابهت کوي ، په دې معنا چې هماغسې ذکر ، فکر او عبادت کوي نو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ به دی هم د قیامت په ورځ ددغو نېکانو او صالحانو په ډله کې خامخا راپورته کوي.

او که یو څوک ډم ته کیني او ورته وایې چې: ماته انګریزي وېښتان راجوړ کړه. او خیاط ته ورشي چې ماته انګریزي ډېزاین جامې تیارې کړه ، نو په داسې کیفیت وېښتان جوړول او جامې جوړول چې هغه د بې دینه خلکو لباس او عادت وي او دی هم په هغه باندې خوشاله وي او خوند ورکوي ، ځان له هغوی سره په لباس او صورت کې مشابه کوي ، کافر نه دی ، خو ځان ورسره مشابه کوي او خوند ورکوي نو دقیامت په ورځ به یې الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ هم دهغو بدبختانو په ډله کې راپورته کړي.

Scanned with CamScanner

(caketabton.com: The Digital Library



که د دنیا په یوه سر کې نېک کار او عمل کېږي او د دنیا په بل سر کې څوک وربانديې خبر شو او په زړه کې یې دا تمنا وکړه چې کاشکې زه هلته وای اودغه نېک کار ما هم کړی وای نو الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دغه انسان ته هم دغومره ثواب ورکوي څومره یې چې هغه بل ته ورکړی دی.

## په ښه نیت کولو باندې یو سړی د پوره عمل اجر خاوند ګرځي

په یو وخت کې په بني اسرائیلو کې یو سړی په دښته کې روان و ، په دې ځای کې غټې غټې غونډۍ وې. ددې سړي په زړه کې دا خبره ورو ګرځېده چې کاشکې دا غونډۍ ټولې د غنمو وای او ما په غریبو خلکو باندې وېشلې وای. الله تعالی د هغه وخت پېغمبر ته وحیې وکړه چې دې سړي ته زېری ورکړه چې تا ته یوازې په دې نیت باندې د دغه عمل پوره اجر درکړل شو.

له همدې امله پېغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : چې د مومن مسلمان نیت د هغه له عمل نه غوره او بهتر دی.

[مکاشفة القلوب ص:۱۰۸ / تنبیه الغافلین ص: ۲۵۹ / باب العمل بالنیة]

نو که د زړه تمنا وي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغه مقام ورکوي او که د دنیا په هغه سر کې بد عمل کیږي او څوک ورسره مینه لري چې کاشکې زه هم هلته وای دغه بد کارونه ما هم کړي وای. نو دی دلته ده او ګناه هلته کېږي نو د قیامت په ورځ به دی له هغو خلکو سره یوځای کېږي کوم چې بد کاران دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپورتني اول حديث شريف اصلي مطلب دادی چې : كه خان مشابه کوي په روا عمل کې نو بيا په دې کې ګټه ده، او په ناروا لباس کې د سړي له پاره مشابهت کول بيا تاوان دی. که په ناروا کې څوک له چاسره خان مشابه کوي نو دی هم په ناروا کې ورسره ګډ دی . يعنې ښځه د نر لباس برابروي اوياهم نر د ښځې لباس برابروي دا دواړه پرې ګناهګاريږي . اخلاق او عادات د يو او بل په خان کې پيدا کوي دا هم همدا حکم لري. له انګريزانو سره خان برابروي دا هم ناروا ده. او که په روا کار کې له چاسره خان مشابه کوي لکه: د علماوو لباس او عادات خوند ورکوي دغه دده له پاره ګټه ده. چې په آخرت کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ده ته غټ مقام ورکوي.

## د نيکانو سره پيژندګلوي په آخرت کې فائده لري

د مزارات اولياء هرات په نامه يو کتاب حديث را نقل کوي : د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت دی چې: د قيامت په ورځ باندې د يو چا سره سوال او خواب وشي بيا دده نيکي او بدي دواړه سره برابرې شي نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وايي چې: يوه نيکي راپيدا کړه نو زه به دې وبښم ، دی چې هرڅومره سوچ او فکر وکړي نو نيکي به نه شي پيدا کولای. بيا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته ووايي چې: تا زما فلانکی دوست پيژانده ؟ دی ورته وايي چې: هو ! خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ورته ووايي چې: ما يراخې په همدې پيژندګلوي

(c) Kitabton.com: The Digital Library



ښنلی یې .اودا چې سړی د ښکو خلکو په لباس خان برابروي اودهغوی عادات په ځان کې راولي نو بیا به یې خدای پاک جل جلاله ولې نه ښني؟

## د شجرې د لوستلو فائده

حضرت امام النووي رحمه الله چې دمسلم شریف شارح دی دیو راوي په حالاتوکې لیکي چې د زنکدن په وخت کې دده بچیانو ژړل ،دی تسلې ورته ورکوي چې ولې ژاړئ؟ زما امید ده چې رب تعالی جل جلاله به ماته عذاب نه راکوي . ځکه ددې کوټې په کونجونوکې ما تقریبا (۱۲۰۰۰) دولس زره واري قرانکریم ختم کړی دی . اوپه یو روایت کې راځي چې (۲۴۰۰۰) څلورویشت زره واري مې قران کریم ختم کړی دی. نو زه رب تعالی جل جلاله ته امید لرم چې هغه به ماته عذاب نه را کوي ؛نو زما مرګ دړړا اوخفګان نه دی تاسو مه ژاړئ.

دلته امام النووي رحمه الله لیکي چې څوک دې دافکر نه کوي چې دراویانو دومره احوالوته څه ضرورت دی چې ددوی تولې قصې ذکر کېږي ،چې ده دومره لمونځونه کول داسې تلاوتونه یې کول ، ختمونه یې کول ،ځکه چې دداسې خلکو په نومونویادولو سره خدای پاک جل جلاله په هغه ځای رحمتونه اوروي؛نو داولیاؤ اونیکوخلکو په واقعاتو سره داحادیثو دکتابونو څخه معلومېږي چې په هغه ځای دخدای پاک جل جلاله رحمتونه نازلېږي .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بخاري شريف کې دبدرينو صحابه کرامو رضي الله عنهم نومونه ذکر کړې او بيا شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله ور سره ليکي چې يو ځوک دبدرينوصحابه کرامو رضي الله عنهم نومونه ذکر کړي او بيا دعا وکړي خداى پاک جل جلاله هغه دعا قبلوي. صحابه کرام دي يواځې چې ددوى نومونه واخيستل شي او بيا رب تعالى ته سوال وشي نو خداى پاک جل جلاله ددغه انسان دعا قبلوي ځکه چې بدرين دخداى پاک جل جلاله دوستان دي ،رب تعالى جل جلاله له دوى نه دخپلې رضا اظهار کړى ،چې زه له دوى نه راضي يم.

په حديث شريف کې راځي چې يو صحابي ته چاڅه ويل ، نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته وايې چې ولې څه ورته وايې؟ ته نه يې خبر چې دابدري دى .اورب تعالى دوى ته مخکينى اووروستنى ټولې بښلې دي.

کوم خلک چې خداى پاک جل جلاله ته نږدې او ګران وي ،يوازې دهغوى دنومونو ديادولو په برکت خداى پاک دعا قبلوي.

له دېنه دشجرې دلوستلو ثبوت په ښکاره او څرګند ډول ثابتيږي.

دا زمونږ د طريقت شجرې چې يوڅوک يې هره ورځ وايي نو يوازې ددې په ويلو سره هم ددې طريقې له بزرګانو سره شناخت پيدا کيږي، يواځې په ويلو سره . ځکه ته په دې پوه شوې چې په دې سلسه کې له ما څخه نيولې آن تر نبي کريم صلى الله عليه وسلم پورې چې څومره نومونه دي دا ټول بزرګان دي او ستا عقيده هم ورته پيدا شوه. مينه دې ورسره پيدا شوه. لکه: خليفه صاحب دې ليدلى نه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خو چې په سلسله کې دې نوم ولیده نو مینه دې ورسره پیداشوه. حضرت صاحب دې لیدلی نه دی خو په سلسله کې دې نوم ولیده نو مینه دې ورسره پیدا شوه چې دا خو زمونږ دسلسلې یو لوی شخصیت دی، آن تر حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه او نبي کریم صلی الله علیه وسلم پورې دا سلسله ده. نو چې شناخت او پیژند ګلوي پیدا کېږي نو له دې سره مینه او محبت هم پیدا کېږي.

اویو څوک چې څوک نه پیژني نو له هغه سره به یې محبت له کومه پیدا شي؟ دا چې د چا له بل چا څخه کرکه پیدا کېږي او یایې هم مینه ورسره پیدا کېږي نودا یواځې په شناخت سره پیدا کېږي. یوڅوک ده ستا ورسره هېڅ بد نشته خو داسې دې وېږانده چې دا یو بدعمله دی نو ستا له هغه سره په زړه کې کرکه پیدا کېږي . یو سړی له تاسره هېڅ تعلق نه لري، خو که څوک یې صفت احوال درته بیان کړي نو ودې هم پېژانده چې دا ښه سړی دی نو په زړه کې دې له هغه سره مینه او محبت هم پیدا کېږي.

له چا سره چې دې مینه او محبت پیدا شو نو دهغه هم مینه او محبت درسره پیدا کېږي. بیا سړی کوښش کوي چې هغه عادات او اخلاق په خان کې راولي ، بیا نو دهغه حدیث شریف مصداق ګرځي: (اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ) د چا چې له چاسره په دنیا کې محبت وي نو په آخرت کې به هم له هغه سره یوځای کېږي.

ټول تاریخ چې وکتل شي نو د هر خلک داسې پیدا کېږي چې له هغو ښو خلکو سره یې مینه او محبت وي ، سره له دې چې لیدلي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې هم نه وي او بیا په همدې مینه او محبت باندې یې الله تعالی نول د دنیا او آخرت کارونه جوړ کړي دي.

## د یو نیک شخص په واسطه شیدې او شهد حاصلول

یو خل یوې بې بې دخپل یوه بزرګ خاوند بې ادبي وکړه نو دا بزرګ خپه شو او له کور نه روان شو ، نو په دښته کې یې یو ملنګ ولیده چې په عبادت مصروف ده، دی ورغی ، له سلام څخه وروسته یې ورسره څه مجلس وکړ ، وروسته دا ملنګ پورته شو او په یو طرف یې اووه قدمونه واخیستل ، هلته یوه تیږه وه، هغې ته بې جام ونیوه ، له هغې څخه شیدې او شات ورته پیدا شول، دی حیران شو چې دا څومره د لوی کرامت څښتن دی؟ ده ورته وویل چې: تعجب مکوه. حضرت موسی علیه السلام ته خدای پاک دا معجزه نه وه ورکړې ؟ چې هغه به تیږه په امسا ووهله او اوبه به ورڅخه روانې وې . دا خو په قرآن کریم کې ثابته ده. دغه بزرګ ورته وویل چې: هو ! بیا ملنګ ورته وویل چې: آیا حضرت محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم له حضرت موسی علیه السلام څخه لوړ مقام لري او که نه ؟ ده ورته وویل : هو ! هغه بیا ورته وویل چې: حضرت موسی علیه السلام ته خدای پاک جل جلاله له کمر(تیږې) ، څخه اوبه ورکولې نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته که شات او شیدې وبهیږي نو دا کومه د حیرانتیا وړ خبره ده ؟ اولیاء الله و ته چې کوم کرامت پیدا کیږي، هغه د نبي معجزه ده دده خپل کمال نه ده، نو دهغه په

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



متابعت ورته پیدا کېږي. وروسته بیا دغه بزرګ پوښتنه ورنه وکړه چې: تا په دغه لوري قدمونه واخیستل دا خوراک دهغو قدمونو له امله درته پیدا شو. نو ملنګ ورته وویل چې: په فلانکي ځای کې یو ولي ده چې هغه په خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډېر ګران دی. ما ته یې خلکو ډېر صفتونه کړي دي، زه په دې ځای کې ډېر وخت کېږي چې اوسېږم نو ما ته چې کله کوم مشکل پیدا کېږي نو د دغه ولي په طرف چې اووه قدمونه واخلم او دی خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وسیله کړم نو هر کار مې پوره کېږي.

(نو اوس سره له دې چې دغه ولي دغه بل بزرګ لیدلی هم نه ده خو چا یې صفت ورته کړی نو دی یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وسیله کوي او ټول کارونه یې وربانديې روان دي.)

نو دغه ملنګ دغه بزرګ ته وایي چې: هغه بزرګ چې زه یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وسیله کوم نن له خپل کور څخه مرور شوی او په سفر روان ده، نو که بېرته خپل کور ته ونه ګرځي نو دغه مقام چې الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ ده ته ورکړی چې دده په وسیله ما ته هرڅه راکوي نو له ده څخه به دا مقام الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ بېرته واخلي.نو دی هم له همدې ځای څخه بېرته کور ته وګرځېده

اوس پوهاخېږ شناخت پیدا شوی او عقیده دې برابره ده نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دې کار هم درجوړوي. کتاب لیکي چې: څوک کوم ولي ته په څومره اخلاص او محبت سره ورځي نو په هغومره اندازه ورته فیض حاصلیږي. کوم زیارت ته چې څوک په څومره اخلاص سره

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځي نو هغومره فيض او برکت پکې پيدا کيږي ، نو دشناخت پر مهال چې څومره د هغه سړي شخصيت غټ ورته ښکاريږي دغومره محبت زياتيږي نو چې څومره محبت زياتيږي دغومره فيض او برکت زياتيږي.

## د يوشخص اخلاص او د داتا صاحب شفقت

يو خليفه صاحب قصه کوله چې: زه يو وخت مرحوم انوارالمشائخ فضل الدين خليفه صاحب مبارک له ميرانشاه نه لاهور ته د داتا صاحب زيارت ته ولېږلم ، سره له دې چې هغه خای ما په ټول عمر کې نه و ليدلی ، او نابلده هم وم مازديګر سپور شوم او سهار لاهور ته ورسيدم، هلته چې په زيارت کې کښناستم نود ستړيا له وجې په وظيفه کې ويده شوم، له دې سره سم په خوب کې داتا صاحب مبارک له قبر څخه لاس راويوست او ستړي مشي يې راسره وکړه او راته وې ويل چې: راورسېدې ؟ ما ورته وويل چې : هو صاحب!

نو اوس چې دې په کوم اخلاص له ميرانشاه نه روان شوی او په کوم اخلاص ورغلی هغه ته خدای پاک جَلّجَلالُهٗ دغه علم ورکړ.

نو غرض دا چې مونږ بايد له ښکو خلکو، علماوو، طالبانو، مجاهدينو بلکې له عامو مسلمانانو سره د اسلام له وجې د زړه له تله او اخلاصه مينه او محبت ولرو، دغه مينه په دنيا او آخرت کې ګټه رسوي.

Scanned with CamScanner

(c ... .com: The Digital Library



او له چاسره که دښمني او کرکه کوو نو هلته به مو هم همدا نيت وي چې الله تعالی رضا شي. چې هغه سړی به د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ له دين سره بې پروا وي، که کافر وي، فاسق وي ، که خپل وي که پردی وي خو چې تقوا نه وي پکې او ددين له حکمونو سره بې پروايي کوي بايد له هغه سره ناسته پاسته ونه کړو ،خکه بد ملګري او بد ماحول ډير ناوړه اثرات لري ، که په لاس او خوله باندې نه شو منع کولای نو تعلقات خو بايد ورسره ختم کړو، خکه چې په دې سره خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خفه کيږي او بيا انسان ماخوذه کيږي. خکه الله تعالی فرمايي : ﴿ وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ﴾ [سورة هود آيت ۱۱۲] ژباړه : او مه مائليږئ تاسې ( په دوستي سره ) په طرف دهغو کسانو چې ظلم يې کړی دی نو وبه رسيږي تاسې ته اور ( د دوزخ ) .

خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿۱۱۹﴾ [سورة التوبه]

ژباړه : او اوسئ سره له صادقانو .

هلته وايي چې: له ظالمانو سره مينه مه کوئ ! او هلته وايي چې له صادقينو سره اوسيږئ ! هلته وايي چې له يهودو او نصاراو سره محبت مه کوئ ! هلته وايي چې : تاسې مسلمانان په خپل منځ کې محبت سره کوئ ! خکه د مسلمانانو خپل منځي خدايي مينه او محبت يوه اوبل ته ګټه رسوي، د کافر ، فاسق او ظالم محبت خو سراسر تاوان اوزيان دی .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فائده:

د نقشبندیې طریقې مطلب هم داده چې: سړی به په هره معامله کې د الله تعالی تر سره کوي او له بندګانو سره به هم د اخلاص معامله کوي. لکه په حدیث شریف کې راغلي چې: حضرت جبرائیل عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ له نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه کوي چې: (مَا الۡإِحۡسَانُ) احسان څه شی ده؟ نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ ورته په ځواب کې وایي چې: ﴿أَنۡ تَعۡبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنۡ لَمۡ تَكُنۡ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ﴾

[صحیح البخاري ج: ۱/ کتاب الایمان حدیث جبریل ص: ۲]

ژباړه: د الله تعالی عبادت به په داسې اخلاص کوې لکه ته چې الله تعالی په خپلو سترګو وینې. که ته الله پاک نه وینې نو دی خو دې وینې.

د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ له بندګانو سره به هم داسې اخلاص کوې، څکه هغه په تا باندې حق لري او په حق به یې وفا کوې، که ظلم یې درسره وکړ نو ته به ورته عفوه کوې. که هغه درسره صلهٔ رحمي نه کوله ته به یې خامخا ورسره کوې. محسن اوسه او خامخا احسان کوه. نو بیا به الله تعالی تاته په دواړو دارینو کې کامیابي درپه برخه کړي.

نو د طریقت مطلب داده چې ته په خپلو ټولو اعمالو کې اخلاص پیدا کړې، هر کار چې کوې د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له پاره به یې کوې، که له چاسره دوستي او دښمني کوې نو د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ د

Scanned with CamScanner

(c) ... .com: The Digital Library



رضا له پاره به یې کوي. په یوه حدیث شریف کې راځي: ﴿إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ تَعَالَى: اَلْحُبُّ فِي اللهِ وَ الْبُغْضُ فِي اللهِ﴾

[ زادالطالبین (رواه احمد وابوداؤد) ص: ۱۹ ) مکتبه رشیدیه ]

په ټولو اعمالو کې بهترین عمل هغه ده چې که له یو چا سره مینه کوي هم د خدای له پاره او که بُغض ورسره کوي هم د خدای له پاره. یعنې خاص په دې خاطر یې کوي چې دا د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دوست دی. او که له یو چا سره دښمني او عداوت کوي هم یواځې په دې اساس یې کوي چې دا دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دښمن دی.

هر کار چې د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره وشو نو په دې کې د دنیا او آخرت ګټه ده، او په دې سره کامیابي هم ترلاسه کېږي. او کوم کار چې په نورو اغراضو بنا وي او د الله تعالی رضا پکې مقصد نه وي ، مثلاً لمونځ کوي، روژه نیسي، صدقه ورکوي چې د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره نه وي نو دا کار ریا ده.

په قرآن کریم کې الله تعالی وایي:

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَـٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ ﴾

[ سورة البقرة آیت: ۲۶۴ ]

ژباړه : اې مؤمنانو ! مه باطلوئ تاسې خیراتونه خپل ( مه ضایع کوئ ثوابونه یې ) په احسان بارولو او ایذا ( او ضرر سولو ).

یعنې تاسې په ریا کارۍ سره خپل اعمال مه باطلوئ ! احسان په چا باندې مه باروئ ! او ضرر هم چاته مه رسوئ ، لکه هغه سړی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ريا کوي او خپل عمل باطل کړي چې اخلاص نه وي نو ريا ده، صدقه کوه په کروړونو روپۍ ورکړه خو چې نيت دې خراب وي او خلکو ته ځان ورياندې ښيې نو ديوې وريشې په اندازه ثواب هم نه لري.

نيمه خُرما صدقه کړه خو دالله تعالى درضا له پاره خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ به يې درته د اُحُد د غره په اندازه اجر درکوي، مطلب دا چې مخلص شوې نو فائده به وي او که اخلاص نه وي بيا هسې بې فاندې ځان ستړى کوي.

مقصد دادى چې طريقت ټول اخلاص ده، لکه مخکې چې په حديث شريف کې اشاره ورته وشوه. دا د طريقت مقام ده، ددې مطلب داده چې اخلاص پيدا شي.

نو لنډه داچې له خپل مور او پلار، خپل اهل او اولاد، خپلو وطنوالو بلکې له ټولو مسلمانانو سره به اخلاص ساتې. له هر چا سره چې دې کوم قِسم تعلق وي چې په هغه تعلق کې مخلص شې نو بيا اصلِ معنا د تصوف په ده کې موجودېږي. بيا دغه انسان کاميابه کېږي.

(c) kitabton.com: The Digital Library



# (۱۳) مجلس

## د باطني مرضونو د علاج لارې

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په مکاشفة القلوب نومې کتاب کې ليکي چې چاته خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ دنيکې خاتمې اراده وکړي نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې خپل عيبونو ته متوجې کړي ،نو د اصلاح کوشش شروع کړي .

او چا ته چې خداوند متعال جَلَّ جَلَالُهُ دسوء (خرابې) خاتمې اراده کړې وي هغه دخپلو عيبونو څخه ړوند شي، خپل عيب نه ويني ، او چې دعيب نه ړوند شي نو دعيب داصلاح کولو کوشش هم نه کوي ،لکه په آيت کريمه کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي : ﴿وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْمَىٰ﴾ [سورة الاسراء آيت:۷۲]

ژباړه : او هرڅوک چې وي په دغه (دنيا) کې ړوند (له پيژندلو دحقه) نو هغه به په آخرت کې هم ړوند وي (يعني دخلاصون لاره به نه مومي)

يعنې چې څوک په دنياکې ړوند وي ،خپل عيبونه ،نه ويني ،هغه په اخرت کې هم ړوند وي ،خپل عيبونه به نه ويني .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو انسان کوشش وکړي چې خپل عیبونه اصلاح کړي نو داصلاح یې کیدای شي لکه حضرت امام غزالي رَحِمَهُ اللَّهُ ددې له پاره څلور لارې بیان کړې دي.

## دامام غزالي ( قدس الله سره ) لنډه پېژندنه

حضرت امام غزالي (قدس الله سره) په سنه (۴۵۵) هجري کې پیدا شوی او په سنه (۵۰۵) هجري کې وفات شوی، ده په خپل عمر کې دومره تصنیفات کړي چې دده په عمر یې وویشو نو هرې شپې ته به یې یو څانګړی تصنیف ورسیږي.
دی په مکاشفة القلوب کې لیکي چې دعیبونو داصلاح له پاره، چې یو انسان داخیرت له عذاب نه پرې خلاص شي، څلور لارې دي:

### اوله لار: کامل شیخ ته ځان سپارل:

داچې سړی دکامل شیخ نه، دکامل پیر نه، چې په شریعت برابر وي، له هغه نه بیعت وکړي او خپل ځان خپل پیر ته وسپاري، هغه قاضي او حاکم مخکې کړي چې ده ته دڅه شي حکم کوي، دی یې تابعداري کوي، بیا هغه کامل شیخ دده عیبونه چې وینې دعیب داصلاح کوشش یې کوي نو دی به بیا په مقابل کې دلائل نه وایې، لکه طبیب او ډاکټر ته چې خوک ورشي، هغه دده دمرض تشخیص وکړي، دمرض سره موافق چې کومه نسخه ورته لیکي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومریض په ډاکتر باندې اعتراض نشي کولای چې ماته دارنګه نسخه مه لیکه.

## دوهمه لار: د نیکو او مخلصو خلکو ملګرتیا ده

دهلاکت څخه دبچ کیدلو دوهمه لار دصادقو، نیکو، ناصحو اومخلصوخلکو سره ملګرتیا کول دي چې هغوی له ده سره په دوستي اوملګرتیا کې رښتوني اوخیرخواه وي، چې دچا عیب ووینې دهغه داصلاح کوشش کوي، ورښیې یې چې ورورره په تاکې دغه عیب ده، مسلمان یې ددغې ګناه په وجه تباکېږي نوهغه یې داصلاح کوشش وکړي. ځکه یو مسلمان دبل مسلمان له پاره آینه ده، لکه په آینه کې چې یوڅوک په خپل مخ کې کوم تور داغ ووینې نوهغه سمدستې دلرې کولو کوشش کوي اولرې کوې یې؛ نونیک، صادق اوخیرخوا ملګری دبل له پاره دآینې مثال لري. مسلمان ته خپل عیب نه معلومېږي خودانیک ملګری یې ور وښیې چې په تاکې دغه عیب موجود ده ددغه ازاله وکړه، په دنیاکې هم پرې بدرنګه کېږي اوپه اخرت کې هم پرې بدرنګه کېږې. او له دې سره، سره یې داصلاح کولو طریقه هم ورته وښودله چې لکه څرنګه چې آینه یو چاته خپل عیبونه ورپه ګوته کوي خو شرموي یې نه ته هم چې دیو مسلمان دعیبونو اصلاح کوې نوپټ ورته ووایه شرموه یې مه.

څومره چې لوی لوی مشائخ اوغټ خلک تیرشوې هغو ټولودخپلو عیبونو اصلاح په همدې طریقه کړې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به ویل چې خدای پاک جل جلاله دې په هغه کس رحم وکړې چې ماته زما عیبونه را وښیې.

یو ځل یې حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ته ویل چې ته زما په رعیت کې ډېر ګرځې، خلکو زما کوم عیبونه درته بیان کړي دي؟

حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه دحیا اوشرم له امله څه نه ورته وویل؛ خو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ډېر ټینګار پرې وکړ، له ډېر ټینګار نه وروسته یې ورته وویل چې خومره زه ګرځېدلی یم؛نوخلکو ماته د تا په هکله دوه عیبونه بیان کړي دي:

۱- داچې دې تا په دسترخوان باندې دوه رنګه خواړه موجود وي.

۲- داچې ته دوه جوړه جامې اغوندې.یوه په ورځ اوبله په شپه کې.

اودا کارونه څکه دوی عیبونه بلل چې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه خو دمسلمانانو امیر اومشر ؤ دده نفقه له بیت المال څخه ورکول کیدله ،نودخلکو په ګمان ،دوه رنګه خواړه زیادت اواسراف دی. دارنګه دوه جوړه جامې هم ددوی په نزد اسراف ښکاره کیده.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ورته وویل چې نورعیبونه نوي ددغو دو له پاره زه کافي یم.

ددو قسمونو خوراکوڅخه داخواب دی چې یوقسم خوراک دتیري شپې پاتې وي اوبل قسم خوراک نوی پوخ شوی وي نوخلکو ته په یو وخت کې دوه قسمه خوراک معلومیږي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





ددو جوړو جامو اغوستلو څخه داجواب دی چې یو جوړ دشپې له پاره اغوندم اوبل جوړ دورځې اغوندم . نو دشپې جامې بدلول یومستحسن امر دی ځکه چې دشپې سرې ته ضرورت وي ؛ احتلام اوجنابت انسان ته پېښېږي ؛نوپه شریعت کې ناروا اوممنوع نه دی .

یو وخت یې حضرت حذیفه رضي الله عنه (چې درسول الله صلی الله علیه وسلم دسراووراز ملګری و) ته به یې ویل چې تاته خو رسول الله صلی الله علیه وسلم دمنافقینو علامې او نښې ښودلې دي ،په ماکې خو به دمنافقت کومه علامه او نښه نه وي ؟ ددومره غټ شخصیت سره سره بیاهم پوښتنه ورڅخه کوي چې که خامخا وي چې اصلاح یې وکړم .

څومره چې لوی اوغټ خلک تیرشوي دي ؛نودنیکو خلکو سره به ملګرتیاکې دې مرتبې ته رسیدلي دي ، نو یو بل ته به یې داصلاح له پاره دده عیبونه بیانول او هغه به یې داصلاح کوشش کاوه .
[مکاشفة القلوب عربي / ص: ۲۵۸/مکتبه دارالکتاب عربي ، پښتو ص:۴۵۴ /مکتبه فریدیه]

## حضرت داود طائي د عیبونو د نه په کوته کولو له وجې کلی پرېښود

حضرت داود طائي خپل کلی پرېښوده اوپه یو ګوښه خای کې یې ګوڅه جوړه اوعبادت یې کاوه ، چا ورته وویل چې ولې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل خپلوان کلیوال او عام مسلمانان پرېښودل او ولاړې په کوبنه ځای کې دې واړول ؟ ده ورته وویل چې له چا سره کینم ، که ځان نه کشر سره کینم ماته په دین کې ښوونه نشي کولای. او که له ځان څخه له مشر سره کینم ماته عیب نه په ګوته کوي او ماته خپل ځان تریام غټ راولي ، نوزه له خلکو سره ګډ ژوندون څه کوم.

[ تذکرة الاولیاء فارسي چاپ ایران ص:۲۵۰ ]

بیا یې داسې وویل چې دبداخلاقي مثال داسې دی لکه دې مار اولړم،که موږ اوتاسې ته یوڅوک داووایې چې مار اویا لړم درغی نو موږ ټول کوشش کوو چې ځانونه وته وساتو اوپه دوهمه مرتبه کې دهغه سرې نه زیات خوشحاله یو چې له ماسره دې ډېره ښېګنه وکړه چې زه دې دلړم او مار له ضرر اوزیان څخه خلاص کړم.

اوس یې نودغه دلړم اومار چیچل ظاهري بدن ته زیان اونقصان رسوي ،ځکه چې ظاهري بدن وچیچي نودرد یې ترنیمې ورځې یاپوره ورځې پورې وي ؛خوافسوس ! چې ځینې مسلمانان چې یوڅوک داصلاح په خاطر ،ده ته نصیحت کوي اوهغه امراض چې دهغو ضرر اوتکلیف څوچنده له مار اولړم نه زیات دی ،ځکه چې دهغو اثر په زړه باندې کېږي اوضرر یې دائمي وي تردې پورې چې ترقبره اوجهنم پورې رسیږي ؛اودی یې په غرض اوحسد باندې حمل کوي ، بالمقابل داځواب وایې چې ته ماته وایې پخپله څه شی کوې؟ خوپه تاکې هم داعیب موجود دی ؟ په فلانکې کې هم داعیب موجود ده؟ داځکه وایې چې نن سبا خلک

Scanned with CamScanner

(c) ...on.com: The Digital Library



داصلاح سره مینه اوعلاقه نه لري، مخکینیوخلکو به دعیبونو پوښتنه کوله ،که به ده پوښتنه ونکړه هغوی به دخیرخواهي په غرض عیب ورته وښود ،اوده به دهغه دعیب داصلاح کوشش کاوه؛نن سبا چې چاته نصیحت کېږي هغه یې په حسدباندې حمل کوي ،یایې ملګرتیا دخدای له پاره نه وي دابادي او رُتبې لحاظ کوي چې بیا به راڅخه خپه شي بیا به زکات او خیرات نه راکوي او یا به مې کوم کار پورې بند شي بیا یې نه راته اجراء کوي ، نوهغه عیبونه یې نه ورته په ګوته کوي.

نودوهمه داصلاح لاره داده چې دنیکواومخلصوخلکو سره ملګرتیا غوره کړي . اودهغه په لارښوونو باندې عمل وکړي اوددوی ښوونه او روزنه دځان له پاره دنجات ذریعه او وسیله وبولي.

## دریمه لار: ددښمنانو خبروته غوږ نیول دي.

په دنیاکې عادت داده چې دیوچا په منځ کې دښمني وي نودهغه په عیبونوپسې متوجې وي ،عیبونه یې بیانوي، نوکله کله دهغه مداهن چاپلوس ملګري نه دښمن سرې ته ګټه رسیږي.

نوچې څوک دتا عیب په هرځای کې بیانوي چې فلانکي په فلانکي مجلس کې دتا عیب بیانولو نوخپل ځان ته به سوچ وکړې چې که رښتیا دغه عیب په ماکې وي نواصلاح به یې وکړم ، نوهغه ده د دښمن په ذریعه هم دسړي اصلاح راځي ، خو که یو سړی دخپل ځان اصلاح ته متوجې شي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


## داصلاح څلورمه لار: دمسلمانانو سره ګډ ژوندون کول دي

څلورمه طريقه دعيبونو داصلاح داده چې سړی دمسلمانانو سره يوځای ژوند کوي اودمسلمانانو اعمالو ته ګوري ،چې يوکس ګورې غلا کوي اوعام خلک له هغه نه کرکه کوي نودی به له غلا څخه ځان ساتي. اويا يې يوڅوک وليدل چې شراب خوري اوعام مسلمانان په هغه لعنت وايي؛نودی به له شرابو څخه کرکه اونفرت کوي يعنې هربدعمل اوعيب چې په خلکو کې ګوري نودی به له هغه عيب نه دځان ساتلو کوشش کوي،څکه دی ګورې چې که زه هم داسې وکړم نوله مانه به هم خلک نفرت اوکرکه کوي.

## حضرت عيسی عليه السلام ادب له چا زده کړ؟

دحضرت عيسی عَلَيۡهِ‌السَّلَامُ نه چاپوښتنه وکړه چې تاته په څه شي آدب درکړ شوی ؟ دا اخلاق دې دچا نه زده کړي دي؟ دی مبارک په ځواب کې ورته وايې چې دغه آدب ما له جاهلانو څخه زده کړی،هغه داسې چې ما جاهل سړی وليد چې هغه به نا لايقه کار کاوه نوما داکوشش کاوه چې زه داسې کار ونه کړم.

(مکاشفة القلوب عربي ص: ۲۵۸ مکتبه دار الکتاب عربي ، پښتو ص.۴۵۴ مکتبه فريديه)

Scanned with CamScanner

(c) ...com: The Digital Library



زیاتره عیبونه چې انسان ورسره مخ کیږي هغه باطني عیبونه وي لکه په قرآکریم کې راغي الله تعالی فرمایي: ﴿ وَإِن تُبْدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ أَوۡ تُخۡفُوهُ يُحَاسِبۡكُم بِهِ ٱللَّهُۖ ﴾ [ سورة البقره آيت:۲۸۴]

ژباړه: اوکه ښکاره کړئ تاسې هغه (ارادې او بدنیتونه) چې په زړونو ستاسې کې دي یاپټ کړئ تاسې هغه، حساب به وکړي له تاسې سره په هغه باندې الله تعالی.

ددې آیت مبارکه په تشریح کې مفسرین کرام لیکي چې الله تعالی دحساب تعلق داعتقادیاتواوباطني امورو سره وکړ ،نو داهل السنة والجماعة اتفاق په دې ده چې حساب دزړه ، نفس او قالب په ګناهونو حق دی او عذاب ورکول په صغیره او کبیره ګناهونو حق دی لکن واجب نه ده بلکې دالله تعالی په اراده سره ده. یعنې هغه شیان چې دتاسې په سینوکې دي که ښکاره یې کړی اوکه پټ یې کړی خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به ددغو حساب درسره کوي. [ تفسیرمظهري ج: ۱/ ص. ۴۳۸]

نولکه مخکې موږ ووېل چې یوډول داسې عمل اوګناه ده چې ظاهره بدن ته یې ضرر رسېږي اوبل ډول داسې دي چې په زړه تور داغ لګوي،زړه ته یې اثر رسېږي دادوهم ډول انسان ته زیات تاوان رسوي ، تکبر هم دې دوهم ډول ګناهونو څخه دی خو دا دومره مهلک او زیانمن مرض دی چې شیطان دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له دربار څخه دهدې په سبب ورټل شو ،اولنی ګناه دشیطان کبر کول و،کله چې ملائکو ته دالله تعالی له خوا حکم وکړی شو چې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته سجده وکړئ نوټولې ملائکې په یوار سره حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته سرپه سجده شولې او شیطان دتکبر له وجې څخه انکار وکړ اودلیل یې دا وویلې چې دی دې له ختې نه پیدا دی اوزه دې له اور نه پیدایم ،اور بهتر دی له ختې څخه ؛نوعجب اوتکبر یې وکړ،نو ددغه تکبر اوغرور له وجې نه دی ملعون شو اوتر ابد پورې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له رحمته ورټل شواودقیامت په ورځ به د اور په ممبر ناست وي اوده ته به سزا ورکول کېږي ؛نوپه انسان کې تکبر باطني مرض ده ،دانسان په ظاهرکې نه معلومېږي.

عجب اوبد بیني هم باطني مرضونه دي ،سړي ته خپل ځان لوی معلومېږي ،خپل عمل دقبول وړ ورته معلومېږي ، خپل ځان ښایسته ورته معلومېږي ،لکه داسې زه خو طالب یم زه مجاهدیم زه صوفي یم .زه تبلیغي یم اوزه فلانکی یم نوخپل ځان غټ ورته ښکاره شي کله چې په انسان کې عجب راغی نو دغه انسان بیا دتل له پاره له تباهي سره مخ شي.

حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوله دجنت زیری ورکړل شوی و، بل طرف ته دمسلمانانو خلیفه هم و، صاحب دکشف اوکرامت هم و،دومره طاقت اوتوان خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورکړی و امام الحرمین رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب (الشامل) کې وایي: چې دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې یوځل زلزله وشوه ده حمد اوثنا وویله اوزمکه هماغسې خوځیده ، نو زمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې په دوره ووهله ورته وې ويل قراره شه ! ايا په تا دعدل نظام نه ده قائم ؟

نوترڅوپورې چې دی دمسلمانانو خليفه و بيا زلزله نه ده شوې. حضرت عمر رضي الله عنه په حقيقت کې په ظاهراوباطن کې امير المؤمنين او دالله تعالى خليفه ؤ په زمکه کې او په اوسيدونکو دزمکې کې ، نوزمکې ته يې هم تعزير او ادب ورکاوه په هغه څه چې له دې څخه صادريدل ، لکه څرنګه يې دزمکې اوسيدونکو ته د دوی دتير وتنو اوګناهونو له امله تعزير ورکولو .

﴿جامع كرامات الاولياء ج:۱/ ص: ۱۲۸ دارالكتب العلميه ،بيروت لبنان﴾

دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دبرزيات مناقب دي که يې څوک بيان کړي نوپه څو جلدونو باندې مشتمل کتاب ورنه جوړيږي ؛خو له دې ټولو صفتونو اوکراماتو سره سره ده ته خپل ځان کمزورى ليدل کيده اوله حضرت حذيفه رضي الله عنه نه پوښتنه کوي چې په ماکې خوبه دمنافقانوعلامه او نښه موجوده نه وي اوزه خو به منافق نه يم ؟ الله اکبر !

حضرت ابراهيم عليه السلام به دومره ژړل چې دژړا آواز به يې تر يو ميل پورې رسيده . يو ځل خداى پاک جل جلاله حضرت جبرائيل عليه السلام ورته را وليږه او داېي ورته وويل چې ورشه حضرت ابراهيم عليه السلام ته زما سلام ووايه اودا ورته ووايه چې دوست له دوسته دومره داريږي ؟ ته خو خليل الله يې زما دوست يې .

حضرت جبرائيل عليه السلام راغى اودخداى پاک جل جلاله سلام يې ورته ورسولو اوله سلام نه وروسته يې هغه پيغام ورته بيان کړ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابراهیم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ په خوب کې ورته وایې چې زه چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ عظمت اولویي ته ګورم اوبل طرف ته خپلو تقصیراتو ته وګورم نوزما نه داخبره هیره شي چې زه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دوستانو له جملې نه یم. [ مکاشفة القلوب ، عربي ص ۱۱۱ ]

نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دومره عبادت کاوه چې پښې مبارکې به یې وپړسیدې اوداسې به یې ژړل چې دسینې مبارکې اواز او غرقی به یې دایشیدلې کتیوې په شان ؤ اویالکه میچن چې تاویږي.

په هغوی مبارکینو کې عجب نه و، خپل خان غټ نه ورته معلومیده، سره له دې چې خپل مقام هم ورته معلوم و، لکه په یوه حدیث شریف کې چې راځي: ﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ وَلَا فَخْرَ» . وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ ﴾

[ جامع الترمذي ج ۴/ ص: ۲۰۲ / رقم الحدیث ۳۶۱۵ ]

ژباړه : له ابوسعید خدري رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: زه دآدم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ داولاد سردار او مشر یم اوپه دې فخر نه کوم .اوزما په لاس کې به لواءالحمد ( دحمد بیرغ ) وې زه فخر نه کوم ، یونبي به هم زما دبیرغ له سیورې دباندې نه وي که هغه آدم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ ده او که نور انبیاء دي .او زه به په ټولو انسانانو کې اولنی شخص یم چې له قبر څخه به راپورته کیږم زه فخر نه کوم،او په حدیث کې قصه ده.

Scanned with CamScanner

(c) ... Digital Library



دارنګه دحرص ماده ،دجاه طلبي اودقدرت پرستي ماده ،دشهوت پرستي ماده ،یعنې شپیته (۶۰) باطني امراض یوه کتاب دطریقه محمدیه په نامه ده ، ذکر کړي دي .

[طریقه محمدیه /ج ۱ /ص ۱۴۹ /مکتبه حنفیّه ]

لکه شرک اونفاق چې انسان ابدي تباهي ته بیایي دارنګه دغه مرضونه هم انسان ته تباهي ته بیایي

نو ددغو مرضونو دعلاج او اصلاح طریقې یې ښودلې وې چې مخکې مونږ بیان کړې ، ظاهري بدن دانسان له دوو شیانو نه جوړ ده روح اوجسد ، لکه څرنګه چې دظاهري بدن علاج داحادیثو په رڼا کې ثابت دی همدارنګه دباطني مرضونو علاج هم کیږي .

﴿ عَنْ جَابِرٍ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ، فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ» ﴾ [صحیح المسلم /ج: ۲، کتاب الصَّيْدِ والذَّبَائِحِ و... باب لکل داء دواء واستحباب التداوي ص: ۲۲۵ /رقم الحدیث. ۱۲۲۰۴

ژباړه : له حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي : دهر مرض له پاره دوا شته ، کله چې دمرض له پاره دواء ورسیږي هغه به دالله تعالی په اذن جوړیږي

اوس نو په دنیاکې چې دانسان سترګې وخوږیږي ،دسترګو ډاکټر ته ځي، معالج موجود دی دمعدې ډاکتر ته نه ورځي . اودچا چې دمعدې تکلیف وي نو هغه مریض ددغه جسماني مرض دعلاج له پاره هغه ډاکتر ته ورځي چې په معده کې مهارت لري یعنې هرڅوک چې په کوم مرض باندې لګیا وي دهغه مرض ماهر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورځي او علاج ورباندې کوي اوکه هغه مریض دخپل مرض پر مهال ماهر ډاکټر ته مراجعه نه کوي نوخلک یې هم ملامتوي چې مرض اوتکلیف دمعدې لرې او علاج دسترګو په ډاکټر کوي . او هر متخصص په هغه خپل فن کې ښه تجربه او مهارت لري نور اصلي کار الله تعالی کوي ، خو دغه دنیاخو دوسایلو ده لکه څرنګه چې یو دنیوي پوه او ماهر دیو چا علاج کولی شي نو دیني شیخ او پیر خویې په طریقه اولی سره ترهغه نه ښه علاج کولای شي .دانسان روح همدغسې مریضه کیږي .خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د منافقینو په هکله وایې چې:

﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا﴾ ( سورة البقره آیت:۱۰]

ژباړه : په زړونه د دوی کې مرض ( دشک اونفاق ) دی نوزیات کړ دوی لره الله تعالی مرض .

یعنې روح یې مریضه اوضعیفه دی . اودغه آیت مبارک چې نازل شو نود دوی مرضونه اومنافقت ورځ په ورځ زیاتیدل .

اوس نوددغه روحي مرض معالجین هم موجود دي ، معالعجه یې هم موجودده ، داسې نه دی چې دا مرض لاعلاجه ده اویا یې ماهر ډاکټران نشته ،نوخپل ماهرینو ته به ورځي اوهغه به ددغه مرض موافق دوایې درکوي څکه امام غزالي رَحِمَهُ اللَّهُ وایې چې ددغو مرضونو دعلاج طریقه داده چې کامل شیخ ته ورشي اوبیعت ونه وکړي، او هغه ته ځان تسلیم کړه ؛نوهغه کامل شیخ به دې تاد مرضونو علاج او درملنه وکړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



[مکاشفة القلوب عربي ص: ۲۵۹ مکتبه دارالکتاب عربي ، پښتو ص ۴۵۵ مکتبه فریدیه]

لکه مخکې دلطائفو په بیان کې موږ وویلې چې دلطائفو په ځای کې بیلابیل دیوبل صفتونه دي چې ددغو اذکارو په شروع کولو سره یې هغه صفات حمیده منځ ته راځي .

اوس که موږ دعلاج دغو څلورو طریقو ته په کلکه متوجې شو بیا به موږ دکامیابي پړاؤ ته رسیږو اوزموږ په قول اوفعل کې به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیا اثر پیدا کوي .

## کومه خبرچې دزړه له تل نه وي په زړونو بنه اثر کوي

دحضرت حسین احمدمدني (رحمه الله ) دزوی جلسه ده او په هغه جلسه کې دده زوی بهترین تقریر وکړ خوپه خلکو کې یې اثر ونکړ. حضرت مدني صاحب پورته شو یواځې دوه خبرې یې وکړې چې موږ بیګاه دخپلو ورو ماشومانوله پاره پیرنې تیاره کړې وه ،پیشو راغله هغه یې وخوړه دابچیان دغسې وږې ویده شول؛نوټولو خلکو په ژړا شروع وکړه . بیا چې خپل کورته راغلل زوی ته یې وویل چې زویه جلسه وشوه ؟ هغه ورته وویل هوا خرنګه وه ؟ هغه وویل چې ډېره بنه وه.

مدني صاحب ورته وویل چې زما اوستا دخبرو ترمنځ په فرق اوتوپیر پوه شوې ؟ تاخو ډېرښه آیتونه اوحدیثونه وویل .ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې خبرې دې وکړي ؛خوپه خلکو يې کوم اثر نه پريوتلو هغه
وويل چې هوا صاحبه ! اثر خونه پرې معلوميدلو .

مدني صاحب ورته وويل چې ګوره مايوه عادي خبره
وکړه، کوم آيت اوحديث هم نه ؤخوپه خلکو کې يې زيات اثر وکړ
چې تا هم دغه صحنه پخپلو سترګو وليدله .

زوی يې وويل هوا . پلار ورته وويل چې ددغه وجه څه ده ؟

هغه ورته وويل چې زه نه پوهيږم .

مدني صاحب ورته وويل چې ددې وجه داده چې زما خبره دزړه
له تل څخه وه اوپه نورو زړونو يې هم اثر وکړ اودې تا خبره په ژبه
ره ځکه يې هلته اثر وهم نکړ .

حضرت مدني صاحب ورته وويل چې دا اثر هلته پيداکيږي
چې دزړه تعلق له يوکامل شيخ سره پيداکړې اوله هغه نه بيعت
وکړې نودتا زړه به صفا شي اودتا دزړه اثر به بيا په نورو خلکو
کې پيداکيږي .

مونږ وينو چې ډېر وخت ډېر خلک په ډېره بليغه طريقه وعظ
اونصيحت کوي خو په مونږ آثرنه کوي اوډېر خلک په ډېره
کمزوري اوساده الفاظووعظ کوي خوډېرښه اثر کوي .

نوخپله دخپلو عيبونو داصلاح له پاره تر خپله وسه پورې چې
څومره امکان لري بايد خپل کوشش وکړو که له کوشش نه
دروسته بياهم اصلاح رانغله په اخيرت کې به بيا دعذر وړ بلل

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي ، خدای پاک جَلّجَلَالُهُ موبیا نه نیسي : ﴿ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ ﴾ . [ سورة البقره آیت: ۲۸۶ ]

ژباړه : نه کوي تکلیف الله پرهیڅ نفس باندې مګر ( په اندازه د ) طاقت د ده . نو په خپله به سعی او کوشش کوو چې څرنګه دا نکېر لرې کړو ، عجب ، جاه پرستي ، شهوت پرستي او نور باطني رزائل څرنګه لرې کړو او که ددې باطني مرضونو د معالجې له پاره منډې ، کوششونه او هڅې بالکل ونکړو بیا به مو الله تعالی د قیامت په ورځ ونیسي لکه الله تعالی چې فرمایلي دي : ﴿ وَإِن تُبْدُوا۟ مَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُم بِهِ ٱللَّهُ ۖ ﴾ [ سورة البقره آیت: ۲۸۴ ]

ژباړه : او که ښکاره کړئ تاسې هغه ( ارادې او بدنیتونه ) چې ستاسې په زړونو کې دي یا پټ کړئ تاسې هغه ، حساب به وکړي له تاسې سره په هغه باندې الله تعالی .

که موږ د دغو باطني مرضونو علاج او اصلاح ونکړو بیا به مو خدای پاک جَلّجَلَالُهُ نیسي چې تا د دغه خپل مرض علاج ولې نه کولو ، ماهرین موجود دي ، معالجین موجود دي او سره له هغه دې ور سره تعلق نه ساتلو بیا مو خدای پاک جَلّجَلَالُهُ نیسي ، عذر مو هم د قبول وړ ندی . موږ به د علاج او اصلاح کوشش کوو نو رکارونه خالق لایزال ته سپارو که هغه زموږ عملونه قبلوي او که نه جنت راکوي او که جهنم هغه فاعل مختار دی چې څه یې خوښه وي هغه معامله به کوي .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۴) مجلس

## دخدای پاک دیادونې دمجلس ( ناستې ) اهمیت او غوره والی

که یوسړی دقرآن کریم ایاتونو او نبوي احادیثو ته کره کتنه وکړي نو بیا دخدای تعالی د ذکر او دذکر دحلقې اهمیت ، غوره والی او لوړوالی دمقام یې له ورایه څرګندیږي .

## دذکرفضیلت دآیتونوپه رڼاکې

۱- الله تعالی فرمایي : ﴿ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ﴿۲۸﴾ ﴾ [ سورة رعد ]

ژباړه : ( دغه رجوع کوونکي ) هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی او زړونه یې مطمئین دي د دغو ( مؤمنانو ) په ذکر دالله تعالی سره ، واورئ خبردار شئ چې دالله تعالی په ذکر سره دمؤمنانو زړونو ته اطمنان وربښل کیږي .

کوم زړه چې په ذکر دالله تعالی بوخت وي په هغه زړه شیطان تسلط نشي راوستی بلکې دذکر دګرموالي له امله سوزي او چې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم زړه غافل شي شیطان پرې مسلط شي ، نو ځکه پکار ده چې انسان باید همیش ځان د شیطان د تسلط نه په ذکر سره وساتي او خپل رب راضي کړي، ځکه هم الله تعالی د ډیر ذکر حکم کوي.

۲-الله تعالی فرمایي: ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيرًا وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴾

[ سورة آل عمران . ]

ژباړه: او یادوه رب خپل ډیر (له پاره دشکر ) او تسبیح وایه (لمونځ کوه ) په آخر دورخي کې او په اول دورخي کې.

۳-الله تعالی فرمایي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴾

[ سورة الاحزاب . ]

ژباړه: ای مؤمنانو یادوئ الله په ډیرویادولو سره .

۴- الله تعالی فرمایي : ﴿ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ... ﴾ [ سورة النساء آیت ۱۰۲ . ]

ژباړه : بیا کله چې اداء کړی تاسې لمونځ نو یادوئ تاسې الله تعالی په ولاړي او په ناستي او پر اړخو خپلو .

په عام ډول غالباً انسان له دریو حالتونو سره مخ کیږي . یا ولاړ وي یاناست وي یا پروت وي او الله تعالی په دري واړه حالاتو کې د بنده څخه ذکر غواړي ځکه ذکر افضل د عباداتو ده .رب کریم فرمایي :

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- ﴿ وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ ﴾ ( سورة عنكبوت آيت ۴۵) اى من غيره من الطاعات ، (جلالين . ص : ۳۳۸ ) من غيره من الطاعات فالصلوة لما كان كلها مشتملاً بذكر الله تكون اكبر . [ التفسير كبير . ص : ۷۵ . جلد : ۲۵ . ]

۶- الله تعالى فرمايي: ﴿ وَاذْكُرْ رَبَّكَ إِذَا نَسِيْتَ ﴾ ( سورة كهف آيت ۲۴]

يعنې چې كله د الله تعالى د ذكر نه غافله شې بيرته د الله تعالى ذكر شروع كړه چې در په ياد شي

او دا ذكر كله په ژبه سره وي لكه يو كوچي راغى د نبى كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې پوښتنه وكړه ﴿ اَىُّ الْاَعْمَالِ اَفْضَلُ قَالَ : اَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللهِ ﴾ [ رواه احمد والترمذى . ]

يعنې پوښتنه يې وكړه چې كوم يو د اعمالو بهتر ده؟ حضور پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل : دا چې ته له دنيا څخه جدا كيږي په داسې حال كې چې ژبه دې د الله تعالى په ذكر لنده وي .

او كله په زړه سره وي لكه رب كريم فرمايي : ﴿ وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَّخِيْفَةً ﴾ ( سورة الاعراف آيت ۲۰۵) اى سراً جلالين ص: ۱۴۷ .

وَاذْكُرْ رَبَّكَ الاية . يدل على ان الذكر القلبى يجب ان يكون دائماً وان لايغفل الانسان لحظة واحدة عن استحضاره جلال الله و كبريائه بقدر الطاقة البشرية والقوة الانسانية . [التفسير كبير ص ۱۰۹ جلد ۱۵-۱۶ .]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو تفسیر جلالین د ﴿ فِيْ نَفْسِكَ ﴾ تفسیر په ( سراً ) سره کوي یعنې په پټه په زړه کې او تفسیر کبیر وایي چې ددې ایت نه معلومیږي چې د زړه ذکر به انسان همیشه کوي او یو آن به هم نه تري غافله کیږي .

## د ذکر فضیلت د نبوي حدیثو نو په رڼا کې

د ذکر په فضیلت کې ډیر احادیث راغلي خو زه به لنډ ډول یو څو حدیثونه را اخلم .

۱- ﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدِ الخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ العِبَادِ أَفْضَلُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ القِيَامَةِ؟ قَالَ: ( الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتُ ) . قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ وَمِنَ الغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ؟ قَالَ: ( لَوْ ضَرَبَ بِسَيْفِهِ فِي الكُفَّارِ وَالمُشْرِكِينَ حَتَّى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا لَكَانَ الذَّاكِرُونَ اللهَ كَثِيرًا أَفْضَلَ مِنْهُ دَرَجَةً ﴾ . ( ترمذی ج . ۲ . ابواب الدعوات )

ژباړه : له حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې له نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چا وپوښتل چې د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد څوک بهتر ده ؟ ده ورته وویل هغه څوک چې د الله تعالی ذکر ډیر کوي . ده ورته وویل چې تر مجاهد فی سبیل الله هم ؟ حضور پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې مجاهد خپله توره په کفارو باندې ماته کړي او ددوی په وینو یې ولړي بیا هم ډیر ذکر کونکی له هغه افضل او بهتر ده .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- ﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا) قَالُوا: وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: (حِلَقُ الذِّكْرِ)﴾

[ترمذی. رقم الحدیث: ۳۵۱۰]

ژباړه. له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی چې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي چې کله په باغچو د جنت تیریږئ نو څه پکې وخورئ صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! د جنت باغچې له څه شي څخه عبارات دي؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم و فرمایل چې د ذکر حلقې دي

۳- ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَسِيرُ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ فَمَرَّ عَلَى جَبَلٍ يُقَالُ لَهُ جُمْدَانُ، فَقَالَ: (سِيرُوا هَذَا جُمْدَانُ سَبَقَ الْمُفَرِّدُونَ) قَالُوا: وَمَا الْمُفَرِّدُونَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: (الْمُسْتَهْتَرُونَ فِي ذِكْرِ اللهِ، يَضَعُ الذِّكْرُ عَنْهُمْ أَثْقَالَهُمْ فَيَأْتُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِفَافًا)﴾ رواه مسلم والترمذی

ژباړه. له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وايي: چې حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مکې مکرمې په لاره کې روان و بیا په یو غره ورغی چې جمدان نومیده. نو ده و فرمایل: خئ دا جمدان ده او مختنه لاړل په رتبه کې مفردون. صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم عرض وکړ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! مفردون څوک دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هغه خلک چې په ذکر د الله تعالی بوخت وي او د اذکر به له دوی نه د ګناهونو درانه پيټي لرې

Scanned with CamScanner

(c) kitabton.com: The Digital Library



کړي نو دوی به د الله تعالی حضور ته په داسې حال کې وړاندې شي چې د ګناهونو پیټې به ورڅخه لرې شوي وي.

۴- ﴿وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَقُولُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَيَعْلَمُ أَهْلُ الْجَمْعِ مِنْ أَهْلِ الْكَرَمِ فَقِيلَ مَنْ أَهْلُ الْكَرَمِ يَا رَسُولَ اللهِ! قَالَ أَهْلُ مَجَالِسِ الذِّكْرِ فِي الْمَسَاجِدِ﴾

[رواه احمد و ابن حبان والبیهقی]

ژباړه: له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې رب کریم به د قیامت په ورځ وایي زر ده چې پوه به شي اهل د محشر چې څوک د کرم، عزت او شرافت وړ دي. صحابهٔ کرامو عرض وکړ چې یا رسول الله! د کرم وړ څوک دي؟ ده ورته وفرمایل چې د ذکر د مجالسو څښتنان په جماتونو کې.

۵- ﴿وَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا مِنْ قَوْمٍ اِجْتَمَعُوا يَذْكُرُونَ اللهَ عَزَّوَجَلَّ لَا يُرِيدُونَ بِذَالِكَ إِلَّا وَجْهَهُ إِلَّا نَادَاهُمْ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ أَنْ قُومُوا مَغْفُورًا لَكُمْ فَقَدْ بُدِّلَتْ سَيِّأَتِكُمْ حَسَنَاتٌ﴾. [رواه احمد.]

ژباړه: حضرت انس رضي الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې نه ده جمع شوی یو قوم چې ذکر د الله تعالی کوي او اراده یې یواځې د الله تعالی رضا وي، مګر اواز به وکړي دوی ته اواز کوونکی داسمان له طرفه چې پورته شئ په داسې حال کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناهونه مومعاف دي په تحقیق سره بدلې شوې دي ګناوې ستاسې په نیکیو سره.

## د ذکر فضیلت د علماوو داقوالو په رڼا کې

اَقْوَالُ عُلَمَاءِ : قَالَ عَبْدُ الله بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَمْ يَفْرِض الله على عباده عبادة فريضة الا جعل لها حدا معلوما ثم عذر اهلها فی حال العذر غير الذكر فانه لم يجعل له حدا ينتهی اليه و لم يعذر احداً فی تركه الا مغلوباً على عقله و امرهم بذكره فی الاحوال كلها فقال عز من قائل ﴿ فَاذْكُرُوا اللهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَّعَلَى جُنُوبِكُمْ ... ﴾ (النساء آیت ۱۰۳) و قال تعالى : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴾ (الاحزاب) ای بالليل والنهار فی البر و البحر و السفر والحضر- والغنى والفقر وفی الصحة والسقم والسر والعلانية و على كل حال. (نور التحقيق ص ۱۴۷)

ژباړه: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي: هر عبادت چې الله تعالى په خپلو بنده ګانو فرض کړې د هغه له پاره یې حد، (تاکلې اندازه) معلومه کړې یوازې ذکر د خدای دی چې وخت او اندازه یې معلومه نه ده، بلکې هر وخت او هر ځای یې کولای شي او بیا په ځانګړې ډول پټ او خفي ذکر. د مثال په توګه لمونځ په شواروز کې پنځه وخته او بیا یې د بنده ګانو عذر هم په وخت د عذر کې قبول کړی.

(c) ...m.com: The Digital Library



دمثال په توګه لکه سفر، مرض او فقر خو د ذکر له پاره الله تعالی حد هم نه ده معلوم کړی او د چا عذر یې هم نه ده قبول کړی، بلکې فرمایي په ولاړې هم ذکر کوئ په ناستې هم په پروتې هم او ډیر ذکر کوئ یعنې که شپه وي او که ورځ په وچه او په دریاب کې په سفر او په حضر کې په آبادي او نیستی کې په صحت او په مرض کې په پټه او په ښکاره یعنې په هر حال کې

امام فخرالدین رازی رَحِمَهُ اللهُ په تفسیر ددې ایت ﴿وَلِلهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ...﴾ (سورة الاعراف) کې فرمایي ان الموجب لدخول جهنم هو الغفلة عن ذکر الله تعالی والمخلص من عذاب جهنم هو ذکر الله تعالی الخ....)

امام رازی رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: چې د جهنم ددخول سبب او لامل غفلت یعنې دخدای ذکر نه کول دي او د جهنم څخه دخلاصې سبب او لامل بیا د الله تعالی ذکر کول دي، ځکه چې سړی د ذکر نه غافله شي نو د حرص او خواهشاتو په تورو تیاروکې ډوب شي او د هر خیر نه محروم شي او چې کله په ذکر مشغول وي زړه یې د الله تعالی په معرفت منور وي نو د هلاکت نه بچ شي.

﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: خَرَجَ مُعَاوِيَةُ، إِلَى الْمَسْجِدِ فَقَالَ: مَا يُجْلِسُكُمْ؟ قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ. قَالَ: آللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ؟ قَالُوا: وَاللهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَاكَ. قَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ، وَمَا كَانَ أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللهِ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَلَّ حَدِيثًا عَنْهُ مِنِّي، إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ: «مَا يُجْلِسُكُمْ؟» قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ وَنَحْمَدُهُ لِمَا هَدَانَا لِلإِسْلَامِ وَمَنَّ عَلَيْنَا بِهِ، فَقَالَ: «آللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذَاكَ؟» قَالُوا: آللهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذَاكَ. قَالَ: «أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ لِتُهْمَةٍ لَكُمْ، إِنَّهُ أَتَانِي جِبْرِيلُ وَأَخْبَرَنِي أَنَّ اللهَ يُبَاهِي بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ» ﴾ [جامع الترمذي ج ٢ ص ١٧٥ / ابواب الدعوات، رقم الحديث ٣٣٧٩]

ژباړه: له حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی وايي:
حضرت معاويه رضي الله عنه جومات ته راغی له خلکو څخه يې
وپوښتل دڅه له پاره ناست ياست؟
دوی ورته وويل چې موږ دخدای پاک جل جلاله ذکرکوو. نو ده
ورته وويل چې دتاسې دې په خدای قسم وي چې دبل شي له پاره
نه يې ناست؟ هغوی ورته وويل چې زموږ دې په خدای پاک
جل جلاله قسم وي چې دبل غرض له پاره نه يو ناست
حضرت معاويه رضي الله عنه ورته وايې چې ماتاسې ته قسم له دې
وجې درنکړچې زه په تاسې بدګمانه يم له بلې وجې مې قسم
درکړ ، اواول دخان په هکله داحتياط خبره کوي، چې زه رسول الله ﷺ
ﷺ ته څومره ورنږدې وم، ، د رسول الله ﷺ
اوښې دی ، دده خور ( ام حبيبه ) د رسول الله ﷺ بي بي
وه دی دهغې محرم و . )
خوواېې مااحتياطاً ډېر احاديث ندې نقل کړي ترڅو چې له
مانه تغيرپکې رانشي، لکن همدغه حضرت معاويه رضي الله عنه ددغه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر دمجلس په هکله وايي چې رسول الله ﷺ یو وخت را ووت ،صحابه کرام رضي الله عنهم دذکر په مجلس کې ناست و پوښتنه يې ورنه وکړه چې تاسې دلته څه شي کېنولي يئ ؟ دوی مبارکینو ورته وویل چې موږ دخدای پاک په یادونه سره رایوځای شوي یو . رسول الله ﷺ ورته وویل چې دتاسې دې په خدای قسم وي چې دبل غرض له پاره نه يئ ناست ؟ صحابه کرامو رضي الله عنه ورته وویل چې زموږ دې په خدای قسم وي چې دبل څه شي له پاره نه یو ناست

رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وايي چې تاسوته ماقسم ددې له پاره ندی درکړی چې زه په تاسې بدګمانه یم ،چې تاسو دروا غ وايئ ،بلکې ددې له پاره مې قسم درکړچې حضرت جبرائیل امین اوس راغی او دايي ووېل چې خداوندمتعال جل جلاله ددې مجلس په ګډونکو باندی چې دخدای پاک جل جلاله ذکر کوي، دټولو ملائکو په وړاندې فخرکوي اوملائکوته وايې چې زما بندګانو ته وګورئ (تاسې وبل چې په زمکه کې انسانان مه پیداکوه ،نن دزمکې په سر زما په کور کې ناست دي اوزما ذکر کوي )

## ایا دخدای پاک یادونه په زوره او که په پټه غوره ده ؟

امام نووي رحمه الله فرمايي هغه ذکر غوره دی چې په خوله اوزړه دواړو سره کیږي په خوله لکه وعظ اونصیحت.چې موږ کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باپه اکثروخایونوکې چې دادماذدیګرله لمانځه وروسته چې ختم خواجګان اویا نور اورادچې تر سره کېږي

اودزړه ذکر چې یواځې په زړه سره الله – الله ویل کېږي.

نوبهترین ذکر داده چې دواړه سره جمع شي اوکه هروخت د دواړو وس نه وي نوبیا پټ په زړه کې ذکر کول غوره دي

(مرقاة المفاتیح ج ٥ کتاب الدعوات ص ١٥٧

﴿قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الذِّكْرُ الْخَفِيُّ خَيْرٌ مِنْ ذِكْرِ الْجَلِيِّ (رواه الترمذي﴾ (مرقاة المفاتیح ج ٥ کتاب الدعوات ص ١٥٧

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایي چې خفي (پټ) ذکر تر جلي (ښکاره) ذکر څخه بهتراو غوره دی

﴿عن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (لفضل الذكر الخفي الذي لايسمعه الحفظة سبعون ضعفاً اذا كان يوم القيامة وجمع الله الخلائق لحسابهم وجاء ت الحفظة بماحفظوا وكتبوا قال لهم انظروا هل بقي لهم من شئ؟ فيقولون ما تركنا شيئاً مما علمناه وحفظناه الا وقد احصيناه وكتبناه، فيقول الله ان لك عندي حسناً لا تعلمه وانا اجزيك به وهو الذكر الخفي)﴾ ذكره السيوطي في البدور السافرة في احول الاخرة (مرقاة المفاتیح ج ٥ کتاب الدعوات باب ذكر الله عزوجل ص ١٥٧/٣٢

ژباړه: له حضرت عایشې رضي الله عنها نه روایت دی دامبارکه وایي چې رسول الله ﷺ ویلي دذکر خفي (پټ په زړه کې (الله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواييې ، د خولې دذکرله (۷۰) څله د ( الله ) ويلونه غوره دي او دقيامت په ورځ چې کوم انسان دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دربار ته راشي،نوهغه ملائکې چې دانسانانو عملنامه ليکي،نودهرانسان ټول اعمال حاضر کړي ،خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به پوښتنه ورڅخه وکړي چې ددغه انسان سره بل څه عمل نه دی پاتې ؟ دوی به ورته وواييې ای رب تعالی ؛ ده چې څه کړي و هغه موږ ليکلي اوياد کړي و هغه موټول راوړي دي خداوندمتعال به دغه انسان ته وواييې چې تاداسې يوډول عمل هم ترسره کړی چې هغه يواځې ماته معلوم دی او بل څوک نه دي پرې خبر چې هغه د زړه ذکر دی خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به دحشر په ورځ دزړه ذکر چې ملائکوته هم معلوم نه وي ښکاروي ځکه چې دا له ريا اوعجب څخه پاک وي .نوخدای پاک ته دزړه ذکر ډېر محبوب دی ځکه يې له ځان سره ساتې

لکه ديو سالک له قوله هم معلوميږي :

ميان عاشق ومعشوق رمز يست

کرام الکاتبين راهم خبر نيست

﴿ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ» ﴾ [ جامع الترمذي ج ۲ : ابواب الدعوات باب ماجاء ان دعوة المسلم مستجابة ص ۱۷۵ / رقم الحديث . ۳۳۸۴ ]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له حضرت عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی دامبارکه وايي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په هرحال او هر وخت کې دالله تعالى ذکر کاوه ) يعنې ذکر قلبي ( دزړه ذکر ) به يې په هر حال کې کاوه.

او حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي. ﴿ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ يَتَحَسَّرُ اَهْلُ الْجَنَّةِ اِلَّاعَلى ساعَةٍ مَرَّتْ بِهِمْ لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ فِيْهَا. ﴾ [ رواه طبراني والبيهقي. ]

ژباړه: يعنې جنتيان به افسوس نه کوي مګر په هغه ساعت باندې چې په دوی باندې له ذکر نه پرته تير شوی وي په دنيا کې. خکه په يوه، يوه ساعت د ذکر دجنت ډير نعمتونه لاس ته راځي. نو چې د هغو نعمتونو نه سړی بې برخې شي بيا ارمان کوي، خو دقيامت په ورځ ارمان ګټه نه رسوي نو بايد سړی دلته په دنيا کې په ذکرکې کوشش وکړي، ترڅو خپل قيمتي وخت په غفلت تير نکړي.

له حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی: ﴿ عن ابی هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال قال: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما من قوم يقومون من مجلس لا يذكرون فيه الله الا قاموا عن مثل جيفة حمار، كان عليهم حسرة يوم القيامة ﴾ [ رواه ابوداود وحاكم. ]

(c) ... Digital Library



ژباړه: یعنې نه پورته کیږي یو قوم د داسې مجلس نه چې په هغه کې ذکر د الله نه وي مګر داسې دي لکه چې پورته شي د مردار خر له جوسې نه او وي به په دوی باندې افسوس په ورځ د قیامت

نودهر آن، هرساعت اوهر ملت به زمونږ نه پوښتنه کیږي داچې دسړي زړه په ذکر لګیاشي بیا دانسان لطائف په ذکر لګیاشو، دانسان پوستکی په ذکر لګیاکیږي، تول بدن په ذکر لګیا کیږي، بیاکه پروت وي، ناست وي اوکه په نورو کارونو م لګیا وي دتازړه به ذکر کوي، لکه لوی اومهربان خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ چې فرمایي

﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ ﴾ [سورة النور آیت ۳۷]

ژباړه: (داسې) سړي چې نه غافلوي دوی سوداګري او نه بیع پیرودل له ذکره یاده د الله تعالی

اودا ذکرده چې ددې په سبب دسړي له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره عشق اومحبت پیداکیږي، مینه اوالفت پیداکیږي بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغه انسان عاشق ګرځوي، بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سړی غټ مقام ته رسوي، لکه دحضرت بي بي رابعې قیصه چې په تفصیل سره په دوهم توک انوار الجالس کې بیان شوې ده. [انوارالمجالس ج: ۲/ص: ۲۴۸/ ۲۵۲ په حواله تذکرة الاولیاء فارسی ازص. ۷۲ تا ۷۵ چاپ ایران]

هغې ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دهمدې ذکر په برکت سره خومره غټ مقام ورکړی و. سره له دې چې دایوه ښځه وه خو دخدای پاک

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَلَّ جَلَالُہٗ په عشق کې دومره غرقه تللي وه چې په دنیاکې خدای پاک جَلَّ جَلَالُہٗ داسې عزت ورکړې دکعبې شریفې حقیقت ددې استقبال ته راځي په اخرت کې به ددې په شفاعت سره په زرګونو خلک جنت ته داخلیږي

نوذکر په مجلسونوکې شرکیدل مستحب دي .کوم رحمتونه چې په دې مجلسوباندې خداوندمتعال نازلوي هغه په کوټنې ځای کې نه پیداکیږي نوځومره چې دمرې وس کیدای شي دذکر په داسې اجتماعي ټولیوکې باید شرکت وکړي ځکه خدای پاک جَلَّ جَلَالُہٗ په داسې ځایونو بې شمېره رحمتونه نازلوي

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ للهِ مَلَائِكَةً يَطُوفُونَ فِي الطُّرُقِ يَلْتَمِسُونَ أَهلَ الذِّكر ... الحديث ﴾

[ مشكوة المصابيح / ج ۲ كتاب الدعوات فى الذكر والتقرب اليه / ص ۲۱۴ ]

له حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ویلي دي چې دالله تعالی یوقسم ملائکې دي چې مسلمانانو په لارو کې ګرځي ددې له پاره چې داسې یوه ډله پیداکړي چې په هغه کې دخداوندمتعال ذکر اوعبادت کیږي نویوبل غږ وکړي چې راشئ ستاسې چې کوم مقصود و هغه موپیداکړ،دومره ملایکې په دغه مجلس راتاو شي چې تراسمان پورې ورسیږي بیا خداوندمتعال له دې ملائکوڅخه پوښتنه کوي چې زما بندګان په څه شي لګیاو ؟ دوی به ورته ووایې چې ستا په ذکر مشغوله ؤ . خداوندمتعال بیا ورته ووایې چې دوی

Scanned with CamScanner

(c) Rahnuma.com: The Digital Library



څه غوښتل ؟ هغوی به ورته ووایې چې جنت یې غوښت. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیا ورته ووایې چې جنت یې لیدلی و؟ هغوی به ورته ووایې چې نه جنت خویې نه و لیدلی. الله تعالی به بیا ورته ووایې چې که دوی جنت لیدلی وای نو څه به یې کول؟ هغوی به ورته وایې چې تردې به یې نوره هم کوشش کاوه.

خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیا ورته ووایې چې دوی له څه څخه پناه غوښتله ؟ هغوی به ورته ووایې چې د جهنم څخه یې پناه غوښتله. خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ بیا ورته ووایې چې جهنم یې لیدلی و؟

هغوی به ورته ووایې چې نه جهنم خویې نه و لیدلی. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ورته ووایې چې که یې لیدلی وای نودوی به څه کول ؟ هغوی به ورته ووایې چې که یې لیدلی وای نو لا به یې زیاته پناه ورنه غوښتله اوله ګناه څخه به خانونه وساتي.

اوله تا نه یې مغفرت غوښت. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ورته ووایې چې زه یې لیدلی وم ؟ دوی به ورته ووایې چې نه لیدلی خویې نه وې الله تعالی به ورته ووایې چې که ماووینې نودوی به څه کوي ؟ هغوی به ورته ووایې چې که تاووینې نوتردې به یې عشق اومحبت نورهم زیات شي .بیا به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته ووایې چې تاسې ټولې په دې شاهدې اوګواه اوسېږئ چې ددې مجلس خلکوته چې څه غوارې هغه مې ټول ورکړل اوچې له څه شي نه پناه غواړې له هغوڅخه مې پناورکره اودوی ته مې ټول ګناهونه معاف کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به ملائکې ورته ووایې چې اې خدایه! په دې خلکو کې څو یوداسې سړی هم موجود ؤ چې دخپل حاجت له پاره راغلی و،دچاسره یې شخصي کار ؤ ؛خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ورته ووایې چې دا داسې مجلس اوټولي دي چې څوک ددوی سره ناست وي هغه به هم نا امیده نشي . هغه سړي ته یې هم ددوی په ذریعه بښنه وکړه .

نوغرض دا چې موږ اوتاسې باید دداسې مجلسونو څخه غافله نشو اوپه اهمیت یې ځانونه پوه کړو .

﴿ قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: المجلس الصالح يكفر عن المؤمن ألفي ألف مجلس من مجالس السوء ﴾

[ مکاشفة القلوب، عربي / ص: ۱۷۵ / به حواله ابن عساکر في تاریخه ۱/ ۲۹۷ ]

ژباړه: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: چې دذکر یا علم یونیک مجلس د دوو زرو هغو مجلسونو ګناوې معاف کوي ،چې په هغه کې لهو اولعب ،ټوکې اومسخري وهلې شوې وي.

خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دومره رحیم ذات دی چې دیوه مجلس له رویه ددوزرو ناکارو مجلسونو ګناوې معاف کوي داهم یوازې دخدای پاک فضل ، احسان او کرم دی . اودومره دفخر ځای دی ، دومره غټ نعمت دی که موږه پوه شو ،ددې مجلسونه باید قدر وشي .

Scanned with CamScanner

(ketabton.com: The Digital Library



# (۱۵) مجلس

## د (لطائف خمسه و ) ځایونه او فائدې

د هر انسان وجود له دوو شیانو څخه عبارت دی: (۱) عالم خلق (۲) عالم امر چې هر یو پنځو، پنځو شیانو مشتمل دی.

۱ ـ عالم خلق: له خاورې، اور، اوبه، هوا، او نفس.

۲ ـ عالم امر. قلب، روح، سر، خفي او اخفی څخه عبارت دی

اوس مونږ له عالم امر څخه بیان کوو. دا پنځه لطائف چې د عالم امر پرې مشتمل دی چې هغه قلب، روح، سر، خفي او اخفی دي د دې لطائفو ځایونه کوم دي؟

ظاهراً خو اوله لطیفه: د چپ (تي) نه دوې ګوتې لاندې ده چې (قلبي) لطیفه یې بولي.

**دوهمه لطیفه:** له ښي (تي) نه دوه ګوتې لاندې ده چې (روحي) لطیفه یې بولي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریمه لطیفه:** د ښي (تي) نه دوه ګوتې برسېره (هسکه) ده چې (سري)لطیفه یې بولي.

**څلورمه لطیفه** : د چپ (تي) نه دوه ګوتې پورته لړ د سینې په طرف ده، چې (خفي) لطیفه یې بولي.

**پنځمه لطیفه** : د سینې په منځ کې ده چې (اخفی) لطیفه یې بولي.

دا خو یې مونږ یوازې ځایونه په ګوته کړل ، خو په بدن کې دننه چې زړه ده، ینه (جیګر) ده، توری ده، تریخی ده، بډوګی (پښتورګی) دي، نواوس ددې خبرې وضاحت ضروي دی چې دا وظیفې د بدن په کومو برخو کې دي؟

**قلبي لطیفه:**

لومړی قلبي لطیفه ده ،ددې ځای د بدن په یوه داسې ټوټه کې دی چې له دې ځخه د بدن ټولو برخو ته رګونه تیت (خواره) شوي دي، چې هغې ټوټې ته زړه وایي، نوددې وظیفې مرکز په دغه ځای کې ده. اوس دغه زړه د ملائکو د الهام ځای هم ده اود شیطان د وسوسې ځای هم ده.لکه په لاندې حدیث شریف کې چې اشاره ورته شوې ده .

﴿عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَتَكْذِيبٌ بِالْحَقِّ، وَأَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَإِيعَادٌ بِالْخَيْرِ وَتَصْدِيقٌ بِالْحَقِّ، فَمَنْ وَجَدَ ذَلِكَ فَلْيَعْلَمْ أَنَّهُ مِنَ اللهِ فَلْيَحْمَدِ اللهَ وَمَنْ وَجَدَ الْأُخْرَى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴾

ژباړه : له حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي چې دهرانسان په زړه کې يو وسوسه دشيطان ده اوبل دملائکې الهام دی هرڅه چې دشيطان لمه ده هغه وسوسې دشر انسان ته اچوي لکه کفرفسق او ظلم او تکذيب دحق (لکه توحيد ، نبوت بعث بعدالموت جنت او جهنم)، او لمه دملائکې چې ده هغه انسان ته الهام دخير کوي لکه لمونځ ،روژه تصديق دحق (لکه اسماني کتابونه او رسولان) چاته چې داپيداشول نوپوه دې شي چې دا دالله تعالی له لوري دي نو دالله تعالی حمد او ثنا دي ادا کړي.اوچاته چې دشيطان وسوسه پيداشي نو اعوذبالله دې ووايي.

يعنې په زړه کې دوه کوټې دي، يوه کوټه خای د شيطان د تصرف ده، يوه کوټه خای د ملائکې دتصرف ده. کله چې انسان د الله تعالی په ذکر لګيا شي، نو په دې وخت کې شيطان منډې رامنډې شروع کړي، ملائکې الهامات شروع کړي، له نيکو اعمالو سره د انسان مينه په څپو شي، اوکله چې بيا د انسان زړه غافله شي نو شيطان خپله مښوکه ددغه انسان په زړه کې کېږدي او وسوسې ورته شروع کړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه صفات

زړه د بنانست ، معرفت او محبت او صبر ځای دی، کله چې مرید په ذکر شروع وکړي، نو له دې ځایه د بدن ټولو برخو ته رګونه تللي دي، نو په واقعیت کې د ټول بدن تعلق له الله جَلَّجَلَالُهُ سره پیدا شي، اوکه زړه غافله شي نو بیا شیطان رنګارنګ وسوسې وراچوي اودغه وسوسې بیا ټول بدن ته سرایت وکړي. ځکه خو حضور پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

﴿ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ، صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ، فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ ﴾

[صحيح المسلم باب أخذ الحلال وترك الشبهات ، رقم الحديث ۱۵۹۹ ]

ژباړه: او خبر اوسئ چې ( د انسان ) په بدن کې یو ټوټه غوښه ده، کله چې هغه روغه ( مصلحه ) وي نو ټول بدن روغ وي او کله چې هغه خرابه ( فاسده ) شي نو ټول بدن خراب شي، خبر اوسئ چې هغه زړه دی.

اوس نو چې د انسان زړه په ذکر لګیا شو نو هغه بدصفتونه یې چې په زړه کې دي لکه حسد، کبر، کینه او داسې نور بېکاره صفات نو دا ټول خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ لرې کړي اوبه ځای یې بیا د معرفت او محبت صفت پیدا کېږي، له الله تعالی ، حضرت محمد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او له اولیاء الله وو سره یې مینه پیدا

(c) Kitabton.com: The Digital Library



کېږي، صبر، تواضع او حِلم پکې پیدا شي او بیا په تکلیفونو بې صبري نه کوي، تکبر نه کوي او له چا څخه انتقام اخیستلو ته هم زړه نه ښه کوي، نو (قلبي) لطیفه له غوښې څخه مراد نه ده، بلکې لطیفه قلبي خان ته یو نوراني کیفیت ده، چې په دې زړه کې پیدا کېږي. کله چې دغه کیفیت په زړه کې پیدا شو، نو په انسان کې مثبت تغیرات شروع شي، رذیله صفات ورڅخه لیرې او نېک صفات بیا پکې ځای پیدا کوي.

زړه ته په عربي ژبه کې قلب وایي، قلب لفظ په پښتو کې اړولو ته وایي، نو دا زړه هم په یوه حال باندې نه وي، اوړي را اوړي، نو له دې امله هر وخت ذکر په کار ده، څکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله دعا کوله نو دا به یې ویل ﴿: يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ ".. ﴾ [جامع الترمذي ج: ۲ ابواب الدعوات رقم الحدیث: ۳۵۲۲ ص۱۹۲]

ژباړه: ای د زړونو اړونکیه! ته زما زړه په دین ثابت او محکم کړې. زړه دچرګ د ښکې مثال لري چې په بیابیان کې پرته وي، باد یې کله په یوه او کله په بله خوا اړولې. نو کله شیطان تصرف شروع کړي او کله بیا د ملائکو تصرف شروع شي، په یوه او بل اړخ یې اړوي، نو څکه کله په زړه کې تکبر او کله بیا حسد او کله نور داسې اخلاق رذیله پیدا کېږي.

نو له دې امله به ته په خپل زړه پسې متوجه یې، ترڅو هغه غلط طرف ته وانه وړي. انسان به په دې اکتفاء نه کوي چې بس وظیفه مې واخیسته، زړه مې یوڅو ورځې ذکر وکړ، اصلاح شو، نور څه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ضرورت نشته. بلکې دا کار دائمي حضور غواړي، که په غته سلسله خبره وکړو، نو انبیاء علیهم السلام معصوم دي، یعنې الله تعالی ددوی حفاظت کړی ، دګناهونو او بدوکارونو شوق په دوی کې بالکل نشته. او اولیاء معصوم نه دي، مګر محفوظ دي، یعنې خدای جَلَّ جَلَالُهُ له دوی سره ملائکې ټاکلې دي، ترڅو زړه یې د نیکي طرف ته مائله وي، الهامات ورته شروع کړي، ګناهونه ورڅخه نه کېږي، که بالفرض ورڅخه وشي، خو سمدلاسه پښېمانه شي، ځکه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره یې تعلق جوړ وي، بیا عاجزي پکې پیدا کېږي او په ګناه باندې توبه وباسي، په ګناه باندې یې دوام نه پاتې کېږي.

**( روحي ) لطیفه:**

د انسان په بدن کې دوهمه لطیفه د ( روح ) ده، دا هغه لطیفه ده چې الله تعالی په ینه ( جیګر ) کې پیدا کړې او اصلي مرکزیې ینه ده.

دغه جیګر چې د روح معدن ده، په دغه ځای کې رحمت او شفقت دواړه دي، د محبت او خوشالي مرکز ده او له دې سره سره بلې خوا ته د صفرا او سودا مرکز هم دغه ځای ده.

اوس نو دغه روحي لطیفه چې په ینه کې ده، نو داچې په ذکر لګیا شوه بیا دا صفرا او سودا چې د ګناهونو په اثر پیدا شوي دي او انسان نورو ګناهونو ته هخوي نو ددې ذکر په شروع کېدو سره دا صفرا او سودا له منځه ځي او صفات حمیده یې ځای نیسي. بیا یې په نورو انسانانو باندې زړه سوځي، صلهٔ رحمي او شفقت پکې پیدا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، بیا په دغه ذکر سره سکون او خوشالي ورته حاصل شي، له الله تعالی سره یې تعلق پیدا شي، اطمینان یې په برخه شي، ځکه چې الله تعالی په قرآن کریم کې ویلي: ﴿ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ ﴾ [سورة الرعد]

ژباړه (دغه رجوع کوونکي) هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی او ارام نیسي زړونه د دغو (مومنانو) په ذکر د الله تعالی سره.

یعنې سوکالي او سکون، خوشالي او اطمینان له الله تعالی او دهغه له دین سره په محبت کولو پیدا کیږي.

**(سِرِي) لطیفه:**

دریمه (سِرِي) لطیفه ده، ددې لطیفي اصلي ځای توری ده، دا توری محل د مشاهدې هم ده، کله چې صفا شي نو انوار او تجلیات هم ورته معلومیږي، د خوشحالي او فرحت ځای هم ده، همدا راز د خندا، غرور او تکبر محل هم ده.

اوس نو چې د یو انسان توری په ذکر لګیا شو نو دغه ذکر په نور سره دغه بې ځایه او ناروا خنداګانې، ختمیږي او ورسره غرور او تکبر هم له مېنځه ځي، بیا دلته د مشاهدې حالت راځي. انوار او تجلیات په خپلو سترګوویني، چې له هغې سره ژړا پیدا کېږي، تواضع پیداکېږي اوپه ګناهونو باندې ندامت او پښېماتیا پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (خَفِي) لطيفه:

څلورمه (خَفِي) لطيفه ده، ددې لطيفې مرکز په ترېخې کې دی، دا ترېخی محل د غم هم ده اود ډار او ژړا هم، بلې خوا ته محل د غضب، غلظت او سختۍ هم ده.

کله چې د يو انسان دغه ترېخی په ذکر باندې شروع وکړي، نو غضب او هغه بداخلاقي او غلظت له مينځه ورسره ځي، بيا په اخلاقِ حميده سره ښائسته شي او هميش به دخدای جَلَّجَلَالُهُ او آخرت په لوري متوجه وي. د الله تعالی په نافرماني کولو سره به غمجن کېږي، مثلاً لمونځ ورځخه پاتې شو، يا روژه، يا داسې نور عبادات يې پاتې شوي وي نو دی وربانديې سخت خفه وي. اود الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ د عتاب څخه په وېره کې وي اود بدو اخلاقو په صادرېدلو سره ورته ژړا پيدا کېږي، کله چې دغه ترېخی اصلاح شي نو بيا يې د الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ لوري ته رجوع پيدا شي

## (آخْفی) لطيفه:

پنځمه د (اخفی) لطيفه ده، ددې لطيفې مرکز الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ په بډوکي کې اينبې ده، چې د سينې د برابري نه دواړو بډوکيو ته القا د ذکر کېږي. دا بډوکی د شهوت، جرئت، شجاعت او حرص ځای ده، کله چې د انسان بډوکی د الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ په ذکر لګيا شي نو د ذکر د اثر له امله حرص اوبې ځايه شهوت له منځه ولاړ شي، د مسلمان د قتلولو جرئت ورک شي، دلته داخفی ليطيفې په برکت د انسان په بدن کې دهغو بدو صفاتو په مقابل کې نېک

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفات پیدا شي، هغه داسې چې دجرأت په ځای بیا شجاعت او دشهوت په ځای عفت (پاک لمني) او دحرص په ځای زهد ځای ونیسي اوس نو انسان د لسو شیانو څخه مرکب ده، په لسو شیانو کې دا پنځه د عالم امرسره تړاو لري، چې هغه دا پنځه مرکزونه شول، ددغو مرکزونو صفات مونږ اجمالاً وبېژندل چې دواړه صفات لري، داسې صفات هم لري چې په هغې سره انسان له خدای جَلَّجَلَالُهُ څخه بېګانه(لري) کېږي اوداسې صفات هم لري چې انسان خدای جَلَّجَلَالُهُ ته ورنیږدي کېږي، د لرې کېدو منشاء او لاهل غفلت ده، چې دغه ځایونه له ذکر څخه غافله وي نو انسان به دالله تعالی نه لرې کېږي اود نزدیکت منشاء او لامل بیا ذکر ده، چې دغه ځایونه دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په ذکر اباد شي نو بیا د ملائکو له طرفه ورته الهامات کېږي، بیاتول بدن ددغو لطایفو له وجې نوراني شي، بیا دخدای تعالی رابطه تینګه شي نو بیا دغه انسان له ګناوو څخه ځان ساتي او له نیکي کولو سره یې تل مینه او محبت وي.

اوس نو چې دغه مرکزونه متضاد صفات لري، نو سړی به ورته متوجه وي، که داسې وو چې دا ځایونه هروخت په ذکر لګیا وو نوبیا به دغه انسان ورځ په ورځ په دین کې ترقي کوي، کشفیات به ورته په برخه کېږي، خکه په دغه ځایونو کې محل د مشاهدې شته یعنې مقصود خو انوار، تجلیات اوکشفیات نه دي، خوبدن د انوارو اوتجلیاتو محل ګېدلی شي، اصلي په بدن کې دغه قابلیت الله تعالی ایښی دی. ( نورالابصار ،ضیاء الافکار فارسي ) تالیف شیخ المشایخ خلیفه صاحب دادمحمد (سلمه الصمد ) ص: ۱۷۲/ ۱۸۹ )

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دارومدار د کتې په ایمان او تقوی سره دی

اوس دغه خاینه د کفارو هم شته او د مسلمانانو هم، قرآن کریم مسلمانانو او کفارو ټولو ته راغلی ده، خو په خپله الله تعالی د قرآن کریم د فائدې تخصیص تر متقیانو پورې کړی دی چې فرمايي: ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝٢﴾ [سورة البقرة] یعنې دا قرآن د متقیانو له پاره دهدایت او لار ښوونې ذریعه ده، نو ځکه دغه خلک فائده ورڅخه اخلي. تفسیر بیضاوي لیکي چې: دا قرآن خدای جَلَّجَلَالُهُ تر متقیانو پورې ولې خاص کړی دی ؟ چې دا د متقیانو له پاره هدایت ده، حال دا چې قرآن کریم خو د ټولې دنیا د انسانانو له پاره را استول شوی . وایي دا ځکه چې: قرآن ، اسلام او شریعت د قوي غذا ( طعام ) مثال لري، قوي طعام او غذا هلته بدن ته قوت ورکوي چې بدن جوړ وي، که بدن ناجوړه و، نو بیا قوي غذا ورته ضرر رسوي، که یو سړی ملاریا نیولی وي نو غوړي ورته تاوان رسوي او که ګټه ؟ د قوت او طاقت شیان به وي خو چې بدن روغ نه وي بیا هم دا د قوت او طاقت خوراکونه ورته په ضرر تمامیږي نو دا دین او قرآن چې انسان ته ګټه رسوي هغه وخت یې رسوي چې اعتقاد یې سم وي، په هغه کې تقوی او خشیت من الله وي، د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د کلام عظمت او حیثیت یې پېژني، نو بیا به فائده ترې اخلي او خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ورته د هدایت ذریعه ګرځوي همدغه قرآن کریم وو چې په ابتداء کې به نوي نوي آیاتونه نازلېدل نو کفار

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نور هم په خپل کفر کې سخت شول او مخالفتونه به یې زیاتېدل، لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴿٨٢﴾ ﴾ [سورة الاسراء]

ژباړه: اونازلوو (پرتا) له قرآنه هغه څیز چې شفاء دی (له ظاهري او باطني امراضو) او رحمت دی له پاره دمؤمنانو (چې نفع پرې اخلي) او نه زیاتوي (دغه قرآن) ظالمانو (کافرانو) ته مګر زیان (هلاکت چې ایمان پرې نه راوړي). [تفسیر بیضاوي ج:۱/ص:۴]

نود بدن اصلاح په دغو لطایفو باندې کېږي، دا بدن چې څومره اصلاح کېږي، قرآن کریم بیازیات اثر هم پرې کوي، او داهلته کېږي چې دبدن مرکزونه زیات اصلاح وي او اصلاح یوازې دخدای پاک په ذکر او یادونه راځي ددغه قرآن کریم انوار او فیوضات بدن ته رسیږي، بیانو ورځ په ورځ یې ترقي په برخه کېږي. تردې پورې چې د الله تعالی د اولیاوو په ډله کې شامل شي، چې بیا دده په یوه آیت باندې زیات کارونه جوړېږي. اونورو خلکو ته په ټول قرآن عظیم الشان دومره فائده نه رسیږي.

په قرآن کریم کې کوم نقصان نشته، بلکې نقصان په ده کې وي، نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله زمانه کې به نفس نفیس موجود و خو مشرکینو چې عقیده وربانديې نه درلوده هرڅومره معجزې یې چې ورتبکاره کړې، زړونه یې مرض وهلي وو نو هېڅ فائده یې نه ورته

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، منافقین به د نبي کریم ﷺ په مجلس کې کېناستل، خو د هغه ﷺ خوږو خبرو به په دوی کې هېڅ اثر نه کاوه.

او مونږ الحمدلله چې په څوارلسمه صدۍ کې واقع یو، او د نبي کریم ﷺ مبارک احادیث اورو نو خوند ورڅخه اخلو، دا ځکه چې الحمدلله ایمان او اسلام راسره شته، سره له دې چې خپل خوږ پیغمبر مو لیدلی هم نه دی خو خوند یې شته، نو چې بدن جوړ وي که لرې ده، که مو لیدلی نه ده بیا هم شوق شته، دا رنګه مونږ آخرت نه ده لیدلی بیامو هم ورسره شوق شته، الله تعالی مو نه ده لیدلی بیامو هم ورسره پوره پوره مینه ده، صحابه کرام رضي الله عنهم مو نه دي لیدلي خو محبت او مینه مو ورسره شته او هغوی معجزې او نور ډیر شیان په سترګو هم لیدل خو سره له هغه یې هېڅ ګټه یې ورته ونه رسوله. ولې؟ ځکه چې بدن روغ نه وو.

نو غرض داده چې: د طریقت فائده داده چې له بدن څخه اصلي او واقعي بدن جوړوي، بله دا فائده دا ده چې د دې اهل به شو چې د قرآن کریم څخه فائده راته ورسیږي، انساني بدن د دې لا نق ګرځي چې د نبوي ﷺ له احادیثو څخه خوند واخلي، د ائمۀ کرامو رحمهم الله له اقوالو څخه ګټه پورته کړو.

نو چې ذکر دائم شي نو حضور دائم موجود شي، بیا نو الله تعالی په هرڅه کې اثر پیدا کوي او خدای جل جلاله ته یې نږدېکت په برخه شي چې یو ځوک خدای پاک ته نیږدې شي او په هغه ګران شي نور به دی څه ارمان لري.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۶) مجلس

## د ذکر په واسطه الله تعالی د سړي ابدي ژوندون جوړوي

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَٱثْبُتُواْ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾ [ سورة الانفال ]

ژباړه : اې مؤمنانو کله چې مخامخ شی د دښمن له یوې ډلې سره (چې جنګ ورسره کوی) نو ثابت قدم اوسئ تاسې (او مه تښتئ) او یاد وئ تاسې الله ډیر (په خوله او زړه) بنائی چې تاسې د کامیابي پړاو ته ورسیږئ (په بري سره پر دښمن د ذکر په برکت).

دلته د ذکر دوه معناګانې دي یوه معنا یې دا چې دا مونږ مشهور ذکر ورته وایو، چې د ژبې او د زړه ذکر ده، دا تري مراد ده.

دوهم تفسیر مظهري [ج ۴ ص:۹۷] لیکي چې: په دې کې تنبیه ده په دې چې د بنده له پاره مناسب داده چې هیڅ شی دی الله تعالی له ذکر نه منعه نکړي . او په وخت د سختیو کې دده لوري ته التجاء وکړي . او رئس المفسرین حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تره زوی او د ټولو مفسرینو سردار دی او دا مرتبه یې هم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کولو موند لې ده.

Scanned with CamScanner

یو شپه د نبي کریم ﷺ کور ته، چې حضرت رسول الله ﷺ د میمونې رضي الله عنها چې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ترور وه په نوبت ؤ او هغه د حیض په حال کې وه، ورغی چې د رسول الله ﷺ د شپې د عبادت معلومات خان ته حاصل کړي.

کله چې رسول الله ﷺ د شپې بیدار شو او د ده ... د خادم له پاره ولاړ بوده دا تصور وکړ چې زه خو ښه د ده له موقع نه باید استفاده وکړم او د رسول الله ﷺ خدمت په د سرور کړم د ده د خدمت دري صورته دي.

۱ دا باید انتظار کړی وای تر څو رسول الله ﷺ راوتلی وای او اوبه یې غوښتي وای.

۲ دا چې رسول الله ﷺ په بیت الخلا کې داسې ده نه بدني، لوټه ډکه کړي وای او بیت الخلا ته ور یې وړي وای.

۳ دا چې بدني، لوټه د بیت الخلا خوا ته ورته ایښې وای او دی ورته تللی وای.

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اول صورت غوره نه کړ ځکه چې هغه اوبه وغواړي کله به تعمیل د امر کې تاخیر راشي، په عمل یې معلومه کړه چې موقع د خدمت ده، د ده ﷺ ویلو ته ارتیا او ضرورت نشته

د خدمت دویم صورت یې هم غوره نه کړ چې بیت الخلا ته یې اوبه ورووړي وای ځکه دا بې ادبي ده

(c) ...ton.com: The Digital Library



نودا دریم صورت یې غوره کړ چې دبیت الخلا خواته یې اوبه ورته کیښودې اودی ورڅخه ولاړ.

نوکله چې رسول الله ﷺ دقضاء حاجت نه فارغ شو اوبیرته راوګرځیده نوپه دې وخت کې یې اوبه ولیدلې نوپوښتنه یې وکړه چې دا اوبه دلته چا راوړي دي ؟ نوام المؤمنین میمونې رضي الله عنها ورته وویل چې دغه هلک. دنبي کریم ﷺ زړه ورته خوشاله شو اودعایې ورته وکړه ﴿اللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الكِتَابَ﴾ [صحیح البخاري ج ۱ / کتاب العلم ص:۷۵ رقم الحدیث ۷۵] ژباړه: ای خدایه پاکه! ته دده ته په قرآنکریم کې پوهه ورنصیب کړې. [ضیاء البخاري شرح صحیح البخاري ج ۲ / کتاب العلم ص:۱۶۳/ ۱۶۴ رقم الحدیث ۷۵]

نو راځو خپل اصلي مطلب ته چې: حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما د تېر شوي آیت په تفسیر او تشریح کې فرمایي چې: خدای تعالی د سخت تکلیف په حال کې چې د جنګ حالت دی، دکفارو په منځ کې راایسار دی، له دې ټولو سختیو سره سره الله تعالی خپلو اولیاؤ، دوستانو او مؤمنانو ته د ذکر کولو حکم کوي چې: ﴿وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا﴾ نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې: له دې نه دامعلومیږي چې خدای پاک جل جلاله ته انسان په ذکر کولو سره نږدې کېږي. اوبل داترې معلومیږي چې ذکر په یوه حال کې هم نه معاف کیږي، نوځکه یې په هغه د هر سخت ځای کې هم خپل دوست ته د ذکر کولو حکم وکړ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي چې: له دې نه دا معلومېږي چې که يو سړی له شرق نه روان شي او تر مغربه پورې دا خپله هستي او مال وويشي او بل طرف ته يو سړی له غرب نه راروان شي او تر مشرق پورې کفار وژني له دې نه هم ذغه د الله تعالی ذکر بهتر ده، ځکه چې اجر يې ډېر ده.

ددې خبرې دا معنا نه ده چې: دا (الحمد لله، سبحان الله، الله) چې مونږ يې تل وايو دا مستحب عمل ده او حال داچې دا تر جهاد بهتر ده، بلکې معنا يې داده چې: که سړی جهاد کوي او خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې په ياد نه وي يا سخاوت کوي او خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې په زړه نه وي دا ټول خو ښه عملونه دي خو چې د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له پاره نه وي اوپه هر آن او هر قدم کې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته متوجه نه وي نو بيا هېڅ فائده او اجر نه لري.

دا که په جهاد او سخاوت کې اجر پيدا کېږي يا په بل عبادت کې وزن او ثواب پيدا کېږي دا هغه وخت چې د انسان مطلوب يواځې او يواځې الله تعالی وي اوهغه يې په ياد وي.

دذکر خانګړتياوې خوبې شميره دي، خو لويه خبره داده چې د ذکر په سبب د انسانانو له خپل خالق سره تعلق او مينه پيدا کېږي اوپه دنيا کې هم دا قانون دی چې څوک له چاسره ډېره مينه لري نو ډېر يې يادوي، د کوم کاروبار سره چې ډېره مينه لري هغه کاروبار کې شپه ورځ مشغول وي، لنډه داچې له هر شي سره چې د چا تعلق وي نو هغه ډېر يادوي. نو اوس که د يو چا له خدای

(c) K... .com: The Digital Library



تعالى جَلَّ جَلَالُهُ سره تعلق زيات وي نو خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ به خامخا د بر يادوي.

## ذکرسلطان:

له پنځو لطائفو څخه وروسته (ذکر سُلطان) شروع کېږي چې (ذکر قالبي) هم ورته ويل کېږي، له دې ذکر سره له سر نه تر نوکانو پورې ټول بدن د خداى تعالى جَلَّ جَلَالُهُ په ذکر مشغول وي، داسې حالت چې انسان ته پيدا شي چې په بدن کې الله تعالى ته خاى ورکړ، قلب، روح، سر، خفي، اخفى او قالب د بدن. لنډه دا چې په ټول بدن کې يې الله تعالى ته خاى ورکړ نو بيا دده له الله تعالى سره واقعي عشق او محبت پيدا کېږي، بيا يې په هر عمل او قول کې اثر پيدا کېږي، که تلاوت کوي يا بل کوم عمل ترسره کوي هرڅه به د خداى تعالى د رضا له پاره وي.

اصلاً دا مقامات چې انسانانو ته پيدا کېږي مثلاً د ﴿ سبحان الله يا الحمد لله ﴾ په ويلو سره ورته دومره ثوابونه په برخه کېږي دا دهغو خلکو له پاره چې له زړه نه يې ووايي او واقعاً يې له الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ سره مينه او اخلاص وي. که داسې نه وي نو همدا قرآن کريم چې د الله تعالى کلام دى منافقينو به هم تلاوت کاوه، لمونځونه به يې هم کول خوخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددوى حال بيا داسې راته بيانوي چې: ﴿ إِنَّ ٱلْمُنَـٰفِقِينَ يُخَـٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَـٰدِعُهُمْ وَإِذَا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ
ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ [ سورة النساء ]

ژباړه: بېشکه چې منافقان ټګي کوي ( په ښکارولو داسلام او پټولو دکفر ) له الله تعالی سره او الله تعالی سزا ورکوونکی دی ( د دوټګي او دوکې په سبب ) او هرکله چې پورته کيږي دغه ( منافقان ) لمانځه ته نوپه ښه زړه نه پورته کيږي يوازې داچې دوی خلکو ته ځان ښيي چې موږ هم مسلمانان يو او نه يادوي دوی الله مګر ( ريايي يادول ) لږ.

## چې څوک دخدای تعالی تابع اوذاکرشي بيا يې ټول مخلوقات تابع شي

د چا چې له الله تعالی سره واقعي مينه پيدا شي نو بيا الله تعالی دومره عزت او شرافت ورپه برخه کړي چې: ځمکه، اسمان، حيوانات او حشرات يې ټول پيژني، بيا هغه شيان چې په ظاهره د انسان دښمنان وي هغه هم دده تابع شي اوده قدر او احترام کوي

دنبي کريم ﷺ له غلام حضرت سفينه رضي الله عنه نه روايت دی وايي: زه په کيشتۍ کې سپور شوم هغه ماته شوه، نو دلرګي په يوه تخته کيناستم، نو د ديارب غاړې ته يې ويستم، يو زمری راسره مخامخ شو ورته ومې ويل :اي ابوالحارث ؛ زه درسول الله ﷺ غلام يم! نو سربې راته ټيټ کړ اوپه څنګ راسره روان

(c) ktabton.com: The Digital Library



شو زما دفاع يې له حيواناتو کوله تردې چې عامې لاړې ته يې برابر کړم، نو له هغه نه وروسته يې ( همهم ) يعنې زګروی کاوه دامې ورنه وفهموله چې خدای پامانې رانه اخلي.

[جامع كرامات الاولياء، ج ۱ ص ۱۱۶]

سره له دې چې زمري د انسان دښمن ده ، خو ﴿ مَنْ كَانَ لله كَانَ اللهُ لَهُ ﴾ ځوک چې د الله تعالى تابع شو بيا نو الله تعالى ددغه انسان محافظ او مددګار شي، بيا يې په حشراتو او حيواناتو هم تائيد کوي، هغه يې نصرت کوي، له کومو شيانو څخه چې دغه انسان داريږي هماغه شيان يې بيا څوکيداري کوي.

## رښتيا ويل د دنيا او اخرت د نجات سبب دی

حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ د وخت مشهور بزرګ جليل القدر عالم او تابعي دی، په ده پسې حجاج بن يوسف ګرځېده، يو ځل پوليس ورپسې شول، تردې پورې چې دی د حضرت حبيب عجمي رَحِمَهُ اللهُ خای ته راغی ، حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل چې په ماپسې عسکر را روان دي نو ګوره چې ما ورته ونه ښيې، حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ د عبادت کولو له پاره کوټې ته ننوت، کله چې عسکر را ورسېدل نو له حبيب عجمي رَحِمَهُ اللهُ څخه يې وپوښتل چې حسن بصري خو به دلته نه وي، هغه ورته وويل چې: هغه په دغه کوټه کې دی، کله چې عسکر کوټې ته ورغلل نو دی يې پکې پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړ، حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ وايي اوه ځله يې لاس راباندې ولګيده خوبيايې هم ونه ليدم.

بېرته ناهيلي راووتل او حبيب عجمي ته يې وويل چې: ته په مونږ مسخرې کوې، هغه بيا ورته وويل چې: په همدې کوټه کې دی، هغوی بيا ننوتل خو بيا يې هم څه ونه ليدل او بېرته ولاړل، حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ چې کله له کوټې څخه راووت نو حبيب عجمي ته يې وويل چې: تا خو زه ورته وښودلم داستاد بې ادبي دې وکړه ؟ ده ورته وويل چې: ته زما رښتياوو خلاص کړې که درواغ مې ويلي وای دواړه به نيول شوي وو. کله چې ما رښتيا وويل نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دهغوی سترګې ړندې کړې او ته يې ونه ليدلې.

حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ ورته وايي په دې وخت کې دې څه وويل: هغه ورته وايي: لس ځله مې آية الکرسي، لس ځله امن الرسول. او لس ځله مې ( قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ) ولوستل، بيامې وويل: اې خدايه ! حسن مې په تا سپارلی ته يې وساتې.

[تذکرة الاولياء پښتو ص: ۴۶ / تذکرة الاولياء، فارسي ص: ۸۱]

په حديث مبارک کې راځي چې: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بيت الله شريفې ترڅنګ ناست و، د ابولهب د ښځې په هکله چې کله د قباحت آياتونه را نازل شول، نو دې ښځې يو غټ کاڼی را اخيستی او ويل يې چې: په دې زه په پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ګوذار کوم، راغله په حرم کې وګرځېده، سره له دې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بيت الله شريفې ترڅنګ ناست دی، خو ددې سترګې الله تعالی

Scanned with CamScanner

(c) Kitabton.com: The Digital Library



ړندې کړې او دی یې ونه لیده، بېرته ناهیلې ولاړه، صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل چې: ته خو دلته ناست وې او وېې نه لېدې؟ ده صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: خدای پاک جل جلاله یې په ما باندې سترګې ړندې کړې څکه یې نه ولیدمه.

نو چې څوک د الله تعالی سره علاقه لري ، مینه، محبت او اخلاص لري نو بیا یې د دښمنانو سترګې ورباندې ړندې شي

خو یو وخت همدا حسن بصري رحمه الله د حجاج عسکرو ونیوه او د حجاج دربار ته یې بوتلو. حجاج له ده مبارک سره په سخته لهجه خبرې او بحث شروع کړ، ده هم په ډېره زړورتیا د پوښتنو ځوابونه ورکول، حجاج ورته وایي: ته نه یې خبر چې ته ما د څه له پاره راغوښتی یې هغه ورته وایي نه ا حجاج ورته وایي:ته مې ددې له پاره راغوښتی یې چې ځان در څخه خلاص کړم او مړ دې کړم ، ده ورته وویل چې: د حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه یوه دُعا منقوله ده چې که یوڅوک یې سهار ووایي نو تر ماښام پورې به له ټولو آفتونو څخه محفوظ وي او که بیګا یې ووایي نو بیا تر سهاره پورې به په امن کې وي، نو ما هغه دُعا ویلې ده، ته ما ته هیڅ ضرر نه شې رسولې.

له دې خبرې وروسته حجاج دی پرېښود اودی په خپله مخه ولاړ، دپولیسو یوه مشر حجاج ته وویل چې: دادومره شپې او ورځې دې مونږ پسې سترې او سرګردانه کړو ، بیا مو ونیوه او له ناسره

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې دومره تېزې خبرې هم وکړې او له دې ټولو سره سره دې اوس دومره په آسانۍ سره پرېښود او هېڅ دې هم ورته ونه ويل. دا ولې؟

حجاج د خپل فوځي افسر په ځواب کې وايي چې: وژل خو لا په خپل ځای پرېږده، يواځې چې په زړه کې به مې دا خبره راوګرځېده چې زه ورشم او ويې وهم نو له دې سوچ سره به له ده څخه زمريان او ښاماران چار چاپېره ودرېدل، زه وېرېدم چې که ورپورته شم نو له منځه به مې يوسي.

حجاج بن يوسف سره له دې چې دومره ظالم هم و، کتابونه ليکي چې: يو لک شل زره صحابهٔ کرام رضي الله عنهم او تابعين ده په بنديخانو کې شهيدان شوي، خو بيا يې هم حضرت حسن بصري رحمه الله ته څه ونه شول ويلای. [البداية والنهاية ج ۹، ص ۱۷۹]

نو په هر قول او عمل کې هغه وخت اثر پيدا کېږي چې د انسان معامله له خدای پاک جل جلاله سره صادقه او مخلصانه وي او هرڅه يې د هغه د رضا له پاره وي او خدای جل جلاله د رضا لوی اثر او نښه داده چې خدای پاک جل جلاله ورته د ذکر او عبادت توفيق ورکړي.

يو بزرګ ليکي چې: کله ما خدای جل جلاله يادوي نو زه ورباندې پوهېږم، په مجلس کې ناستو کسانو تعجب وکړ چې دا څه خبره کوې؟ ده وويل چې: زه کله د خدای جل جلاله په ذکر لګيا شم نو زما يقين شي چې الله تعالی هم ما يادوي، ځکه چې دی جل جلاله په خپله فرمايي ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ ... ﴿١٥٢﴾ ﴾ [سورة البقرة]

Scanned with CamScanner

(c) ... : The Digital Library



ژباړه نو یاد کړئ (تاسې) ما (په قلبي او بدني طاعت سره) نو زه به هم یاد کړم تاسي (په ثواب سره)

نو په ذکر کې اصل مقصود حضور مع الله، اخلاص او محبت ده کله چې په هر کار کې اخلاص پیدا شي نو له ریا څخه خلاص شو او له خدای تعالی جل جلاله او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې مینه پیدا شوه دغه انسان بیا په دنیا او آخرت کې کامیاب ده. بیا دخدای پاک جل جلاله په وعدو کې دمخالفت شائبه هم نشته نو مطلب دا چې د خدای جل جلاله ذکر تر کوم ځای او کوم وخت پورې منحصر او تړلی نه دی. څکه چې په خپله خداوند متعال جل جلاله فرمایي: ﴿ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَوٰةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ﴾ (سورة النساء آیت ۱۰۳)

ژباړه بیا کله چې اداء کړئ تاسي لمونځ (لمونځ یو عبادت ده،) نو چې لمونځ مو ادا کړ له هغې نه وروسته بیا خدای پاک جل جلاله یادوئ په ولاړه، په ناسته، په ملاسته په هر حال کې یې یادوئ. څکه چې الله تعالی جل جلاله امر کوي چې ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ﴾ (سورة الاحزاب)

ژباړه اې مؤمنانو یادوئ الله په ډیرو یادولو سره

له دې څخه مطلب دا ده چې دائمي حضور پیدا شي او په دا کې چې دائمي حضور پیدا شي نو هغه ته چې حقیقي حیات (ژوند)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړ په برخه کېږي، بیا که دی ویده وي هم خو لطائف یې تول په ذکر لګیا وي، حتی که مړ شي هم په ذکر به لګیا وي، ځکه د انبیاوو عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ او اولیاء کرامو واقعات او حالات چې سړی مطالعه کوي لکه: نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ چې ولیدل چې حضرت موسی عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ په قبر کې په لمانځه لګیا دی، دا ځکه چې هغوی ته حقیقي حیات (ژوند) ور په برخه شوی، په دغسې اشخاصو باندې بیا مرګ نه راځي بلکې یواځې له یوه دار څخه بل دار د انتقال مرحله وي.

نو حضرت عباس رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُ لکه چې مخکې هم تېر شو چې فرمایي: د جنګ په سخت حالت کې هم الله تعالی د ذکر کولو امر کوي، ځکه چې د خدای جَلَّ جَلَالُهُ په ذکر کولو سره زړونو ته اطمینان پیدا کېږي، بیا تکلیفونه پرې اسانه شي، هغه پخوانۍ سختۍ نه بیا محسوسوي، ځکه خو خدای پاک وایي: ﴿ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ۝﴾ [سورة الرعد]

ژباړه (دغه رجوع کوونکي) هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی او زړونه یې مطمئن وي د (دغو مومنانو) په ذکر د الله تعالی سره

یعني الله تعالی وایي چې په سخت حالت کې ته ما یادوه زه به په تا باندې سختۍ آسانې کړم او هغه مصیبتونه او کړاوونه به در باندې آسانه کړم.

Scanned with CamScanner

(c) ...m.com: The Digital Library



خو په دې لاره کې بُنیادي شرط داده چې دغه یادول او ذکر کول به په مینه او اخلاص سره وي، یواځې د خولې په ویلو اونه هم داسې د زړه په ویلو چې په زړه سره ذکر کوي خو فکر او سوچ یې بل ځای وي، باید سړی دا کوشش وکړي ترڅو خپل زړه ته پوره متوجه شي، چې له دې سره بیا په زړه کې خوند پیدا کېږي، داچې زمونږ په ذکرونو کې ظاهري کوم اثر نه لیدل کېږي وجه یې داده چې یو خو سمه توجه نه کوو، مجلسونه مو بې باکه او په لهو او لعب مشتمل وي، په خوراکونو کې مو هم زیاتې او کمی وي، که داسې نه وي نو دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په نوم کې دومره اثر ده چې یو وار څوک په اخلاص سره (الله) ووایي نو له ځمکې څخه به یې عرش ته ورسوي خو بنیادي شرط اخلاص او دوام علی الذکر ده.

## د نېکو خلکو سره کېناستل هم توجه ده

زمونږ د اکثرو ملګرو دا فکر وي چې بس خانقاه ته راغلو او همدلته مو ذکر وکړ نو خبره خلاصه شوه. یاداچې تنده، په تنده کېښودل شوه نو کار جوړ شو او که توجه ونه شوه نو کار نه کېږي.

ګورئ وروڼو! مونږ خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په ذکر باندې مامور کړی یو، هغه هم علی الدوام دتل له پاره، دا مجلس په حقیقت کې ټوله توجه توجه ده، باید خپل دین ته په هروخت کې متوجه اوسو. خدای

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک جَلَّ جَلَالُهُ راته امر کړی چې: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾﴾ سورة التوبه»

ژباړه :اې هغو کسانو چې ایمان ئې راوړی دی ( یعنې اې مومنانو ) وویریږئ تاسې له الله ( اوهسې مخالفت مه کوئ! ) او اوسئ سره له صادقانو.

یعني له نېکانو سره ملګرتیا کوئ . نو مونږ مجبوره یو چې خامخا به له عالم ، طالب او بل کوم نېک شخص سره کېنو، ځکه چې امر راته شوی، نو کله چې مونږ د خپل خالق جَلَّ جَلَالُهُ په امر باندې عمل وکړو نو بیا به په اعمالو کې هغه جَلَّ جَلَالُهُ په خپله اثر پیدا کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ...ton.com: The Digital Library



# (۱۷) مجلس

## د نفس مراتب او د اخلاص او صدق فائدې

﴿قَالَتْ إِنَّ ٱلْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا۟ قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوٓا۟ أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾﴾ [سورة النمل]

د دې آيت شان نزول د بلقيس او حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام واقعه ده.

ژباړه نو وويل (بلقيس چې په جنګ کې خير نشته) بېشکه باچايان هرکله چې ننوځي په کوم کلي (ښار) کې (په غلبه او قهر) خرابوي دوی هغه (ښار) او ګرځوي دغه (باچايان) عزيزان (مشران) د اهل د هغه ذليلان (سپک بنديان) او هم داسې (چې ومې ويل) دوی کوي.

پورتنی معنا خو يې ظاهري شوه. او باطني معنا يې داده چې د انسان په باطن کې د نفسِ اماره يو حکومت ده، د نفس په اصل کې سرکشي پرته ده، نو دا نفس د انسان په وجود باندې حکومت کوي، او د خپل حاکميت د تقاضا له امله په هغه روح باندې چې هغه په اصل کې پاک شی ده او له الله تعالی سره يې تعلق ده، دغه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس په هغه روح باندې غالبه شوی وي، نو ددې له امله بیا د انسان په سینه کې غلط او بې ځایه حکومت جوړ شي حسد، کبر، قدرت پرستي، جاه طلبي، شهوت پرستي داټول د انسان په وجود کې شته. خو کله چې یې له مشائخ کرامو سره علاقه او واسطه پیدا شي، د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ مبارک اسم یې سینې ته داخل شي، نو بیا ددغه مبارک نوم په برکت بیاهغه د سینې حاکم ( نفسِ اماره ) ذلیله شي. څکه له قرآن کریم څخه دا خبره ثابته ده، الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةٌۢ بِٱلسُّوٓءِ ﴾ ( سورة یوسف آیت ۵۳ ) همدا نفس دی چې انسان یې د بدۍ په لوري روان کړی، خو کله چې په ظاهر کې حکومت بدل شو اود نفسِ اماره په ځای روح غالب شو، له الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره یې علاقه پیدا شوه، نو بیا په هغه ځای کې نفس محکوم او روح حاکم شي او بیاچې کله له انسان څخه کومه ګناه صادره شي نو بیا دغه نفس دومره اصلاح شوی وي چې بیا انسان ددغې ګناه د کولو له امله ملامتوي چې ته خو د ګناه له پاره نه بلکې د نیک عمل د کولو له پاره پیدا شوی یې. اود نفس دغه حالت ته ( نفسِ لوامة ) وایي. بیایې چې څه نوره اصلاح په برخه شي نو بیا ( نفسِ مطمئنه ) وګرځي، مطلب داچې د الله تعالی په ذکر، د نیو کارونو په کولو یې بدن ته سکون او راحت په برخه کیږي، بیا په فقر، مسکنت، لنډه داچې په هر مصیبت او سختۍ باندې صبر کوي، شکایت نه کوي. او کله چې د نفس مجاهده نوره هم پسې قوي اوزیاته شي نو بیا ( نفسِ راضیه ) شي، معنا داچې د الله تعالی په قضا او فیصلو باندې راضي وي.

Scanned with CamScanner

(c) ...on.com: The Digital Library



انسانان په دوه ډلو وېشل شوېدي ، يوې ډلې ته محبوبين ويل کېږي او بلې ته يې مُحِبين . د اهل تصوف او طريقت په اصطلاح په مشربونو کې فرق ده. څوک چې محبوبين دي، دهغو له پاره ددغو مقاماتو د طی کولو له پاره حاجت نشته، دهغوی ابتداء توبه ده او انتهاء يې رضا بالقضاء ده، صبر ده، حلم ده، قناعت ده، بلکې نور مقامات هم په دې منځ کې شته، خو دا نفس داسي مقام ته ورسېږي چې که د خدای جَلَّ جَلَالُهُ له لوري هرڅه ورته رسيږي دی ورباندې راضي وي.

اکثره مشائخ کرام چې د زحمت په وخت کې کوم راحت محسوسوي ددغه راحت خوند بيا په عامو حالتونو کې نه وي او کله چې نفس له الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ څخه راضي شو نو بيا دغه (نفس مرضيه ) کرځي. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ده څخه راضي وي. څکه محبت د دواړو طرفونو څخه وي. او رضا هم له دواړو طرفونو څخه وي. څوک چې له الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ سره مينه او محبت لري الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې هم ورسره لري، څوک چې له اولياء کرامو سره مينه اومحبت لري هغوی يې هم ورسره لري. دا يو نسبت ده چې له دواړو طرفونو څخه موجود وي.

څوک چې له الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ څخه راضي وي هغه جَلَّ جَلَالُهُ هم ورڅخه راضي وي، چې په دې سره نفس ( نفسِ مرضيه ) کرځي، خودا هلته کېږي چې په هره خبره کې صادق وي، هر قدم چې دی اخلي هر کار چې کوي د زړه له صدقه يې کوي، نوبيابه دغه مقامات ترلاسه کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترم خلیفه صاحب داد محمد (سلمه الله الصمد) الغزنوی وايي: په مخکې وخت کې به ډېر خلک د صحابهٔ کرامو، اولیاء کرامو د عمل، ګفتار او ښو اخلاقو له وجې نه له ګمراهي څخه راګرځېدل او په همدغه سمه لاره به روان وو، کله به چې خلکو د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم غوره او ښه اخلاق ولیدل نو په هغوی به یې دومره زیات اثر وکړ چې معه نیل بدعملونه به یې له یامه بدشول او سمدستي به یې توبه وبستله، ترڅو چې کافرانو به دهغوی اخلاق او ښه عملونه ولیدل نو په اسلام به مشرف شول، اوس خو چې خلک زموږ دا کمزوري عملونه ویني نو خدای مکړه له دین څخه یې زړه تور شي زیاتره وخت چې کافران د مسلمانانو عملونو او ظلمونو ته وګوري نو داشک ورسره پیدا شي چې دا دین به په حقه وي او که نه؟

## د حضرت علي رضي الله عنه او قاضي شُریح واقعه

دامیر المومنین حضرت علي رضي الله عنه په دخلافت پرمهال چې کله دی مبارک د مسلمانانو خلیفه ؤ، دده د بدن زغره ورکه شوه، څه وخت پس یې دغه خپله زغره د یوه یهودي په لاس کې ولیده، وبې پېژندله نو په دغه یهودي یې دعوه وکړه چې دا زغره زما ده، هغه ورڅخه انکار وکړ، د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت پر مهال قاضي حضرت شریح رحمه الله ؤ، نو حضرت علي رضي الله عنه او یهودي دواړه د قاضي حضور ته ورغلل او حضرت علي رضي الله عنه عریضه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ورانديې کړه چې زما دغه زغره يهودي رانه وړې ده، يهودي منکر شو، حضرت شُريح حضرت علي رضي الله عنه ته مخ راوګرځاوه چې ته په دې خبره شاهدان لرې چې دا زغره ستا ده ؟ حضرت علي رضي الله عنه خپل زوی حضرت حُسين رضي الله عنه او خپل غلام حضرت قمبر رضي الله عنه د شاهدي له پاره راوستل، د حضرت علي رضي الله عنه رايه داوه چې دخپل قريب شاهدي د سړي له پاره دقبول وړ ده، که د ګټې په ځای کې وي اوکه د تاوان ، اما د عامو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم لکه چې د احنافو هم همداسې مسلک دی چې د ګټې په ځای کې د قريب شاهدي د قريب له پاره صحيح نه ده اوکه په ضرر دده وي لکه د يو چا په پلار بل چا دعوه وکړه ، دغه سړي په خپل پلار شاهدي ورکړه چې رښتيا په تا باندې يې حق شته ، دغه شاهدي يې منظوره ده، خو که ددغه شخص پلار په بل چا دعوه وکړي او دی يې شاهدي ورکړي نو دغه شاهدي يې نه منظورېږي.

په هر حال ! حضرت شُريح رحمه الله حضرت علي رضي الله عنه ته وايي چې: اې اميرالمؤمنينه ! حضرت حُسين ستا زوی ده او ستا په ګټه يې شاهدي ورکړه، اود عامو صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم او زما رايه داده چې د ګټې شاهدي نه منظورېږي، بل څوک شاهد راوړاندې کړه ! حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل چې بل څوک شاهد نه لرم، ده ورته وويل : نو بيا خو زغره د يهودي ده، کله چې دوی بېرته د قاضي له مجلس څخه ووتل نو دغه يهودي د حضرت علي رضي الله عنه په شا پسې روان و، اوپه زوره يې نارې وهلې چې وګورئ[1]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اميرالمؤمنين ته سره له دې چې د مسلمانانو خليفه او مشر هم له ما سره د قاضي حضور ته وړاندې شو . دې خبرې ډېر زيات اثر وړباندې وکړ چې که دا د دوی دين حق نه وی نو بيا له ما سره د مسلمانانو مشر د قاضي حضور ته کله تلو ، نو معلومه شوه چې دغه د دوی دين په حقه دی . په يوه ديني اوشرعي حکم کې بادشاه او يو غريب عسکر مال‌دار او شتمن سره برابر دي ، سمدستي يې کلمه طيبه وويله او په اسلام مشرف شو

دا د حضرت علي رضي الله عنه د عمل اثر و، يهودي له اسلام قبلولو وروسته دا وويل چې دا زغره په رښتيا سره ستا ده او ورته تسليم يې کړه، نو دده د ښه عمل دوه ګټې شوې، خپل حق هم ورته ورسېده او ورسره هغه مقابل يهودي هم مسلمان شو

[ البداية والنهاية ج: ۸ ص: ۸ ]

## له عبدالقادر جيلاني رحمه الله سره ښناور خبرې کوې او دده په يوه خبره عمل کولو څومره خلک توبه ګار کيږي

عبدالقادر جيلاني رحمه الله چې په پيران پيرصاحب باندې مشهور دی ،د حج په شپو ورځو کې حاجيان د عرفات په غونډۍ ولاړ دي، هغه وخت دی هلک و، غوا يې روانه کړې او پيايي يې، کله چې دشتې ته ووت، دې غوا ناڅاپه مخ ورته راواړاوه او ورته وې ويل: ﴿يا عبدالقادر ! ما لهذا خُلِقتَ ولا بِهذا أُمِرتَ ﴾ اې عبدالقادره ! ته الله تعالی دغواګانو د پوولو او ساتلو له پاره نه يې پيدا کړی،

Scanned with CamScanner

(c) ...on.com: The Digital Library



اونه په دې مامور يې ، ته يې د خپل معرفت او بندګۍ له پاره پيدا کړي يې، دی وويريده ، چې غوا او بيا دهغې خبرې کول ؟ دی کوچنی هم و، نو ډېر ته راوګرځېد، خپلې مور ته راغی، پلار يې هم مړ دی، نو مور ته يې وويل: چې ماته اجازه وکړه چې زه د الله تعالی دين زده کړم، معرفت حاصل کړم، بغداد ته ولاړ شم، ترڅو د نېکانو زيارتونه وکړم او هلته علم حاصل کړم. مور ورته وويل چې ولې څه پېښه ده ؟ ده مبارک ورته هغه د غوا واقعه ذکر کړه چې غوا داسې راته وويل: له دې سره بام ته وخوت او ويل يې چې هغه دې ټول خلک په عرفات ولاړ دي، دخدای جَلَّ جَلَالُهُ عبادت کوي اوزه غوا پيايم، کله چې دده پلار مړ و نو په ميراث کې ورڅخه اتيا دينار پاتې ونو مور يې څکه شوه (۴۰) روپۍ يې دده بل ورور نه ورکړې او څلوېښت يې ده ته په لستوڼي کې ور وګنډلې او مور مبارکه يې خدای پاماني ته ورته راووتله، ورته يې وويل چې: زويه! ما نور ته له خپل ځان څخه بېل کړې، تر قيامت پورې به بيا زه او ته سره ونه وينو. ما دين ته وقف کړې اود خدای جَلَّ جَلَالُهُ د رضا له پاره د دين علم حاصلوه، چې ترڅو دې علم پوره نه وي حاصل کړی نو بېرته به نه راځې ! خو دا يوه خبره به مې هر وخت په ياد ساتې چې هروخت به رښتونی اوسې او رښتيا خبره به کوې ، په طالبي او خدمت کولو کې به صادق اوسې ، هر کار به دې رښتونی وي

حضرت پيران پير صاحب کشر هلک ده، کله چې له کور څخه روان شو، نو له يوې قافلې سره ملګری شو چې هغوی هم د بغداد په لور روان وو، يو ځای ته چې ورسېدل نو په آسانو سپاره غله

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته رامخې ته شول، ټوله قافله یې ودروله، غلو شروع وکړه او د قافلې له خلکو سره چې څومره مالونه وو هغه یې ورڅخه واخیستل، پیران پیر صاحب وایي چې کله غله ماته راورسېدل ماته یې راپام نه شو، یو غل راغی او ناڅاپه یې راته وویل چې: له تاسره څه شی شته ؟ ما ورته وویل: هو ! هغه راته وویل چې څومره شی درسره دي ؟ ما ورته وویل چې: څلوېښت دیناره، هغه راته وویل چې په کوم ځای کې دې ایښي دي ؟ ما ورته وویل چې: په دغه کمیس کې مې ګنډلي دي، دا خبره د غله زړه ته ونه لوېده چې دا ماشوم هلک هسې په ما باندې مسخرې کوي، خوار او غریب هلک دی، له ده سره دومره دنیا له کومه شوه ؟ دا غل هم راڅخه تېر شو، بل غل راغی او هغه ته مې هم دغسې خبره وکړه ، هغه هم راڅخه تېر شو، کله چې دا غله خپل هغه مشر ته ورغلل چې ټوله قافله یې چور کړې وه او اوس یې په خپل منځ کې سامانونه سره تقسیمول، نو هغه مشر له دې نورو څخه پوښتنه وکړه چې له چاسره خو به مو څه پرېښې نه وي ؟ دغو دوه کسانو ورته وویل چې: یو غریب هلک مونږ ته وویل چې: له ماسره څلوېښت دینار شته.خو مونږ دهغه دغربت له وجې دهغه په خوله باور ونکړ نو هسې مو پرېښودلو، مشر ورته وویل چې: راویې غواړئ! کله چې دی ورغی نو د غلو مشر ورڅخه پوښتنه وکړه چې: له تاسره څه شی شته ؟ ده ورته وویل : بلې ! هغه ورته وویل چېرې دي ؟ ده ورته وویل چې: په لستوڼي کې مې ګنډلي دي. کله چې یې دده لستوڼی وشکاوه نو روپۍ یې ورڅخه را ووتې، نو د غلو دغه مشر پیران پیر صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وايي چې: څه وجه او باعث و چې دغه پټې روبې دې مونږ ته رابنکاره کړې ؛ استا دغه لستوني ته خو زمونږ پام نه و، دی ورته وايي چې: زما مور له ماڅخه وعده اخيستې وه چې زويه په پخپله خبره کې به ريښتونی اوسې .نو زه به په خپله هره خبره کې ريښتونی اوسم ، زه له خپلې مور سره کړې وعده نه ماتوم. د پيران پير صاحب د صداقت دا اثر وو چې د غلو د مشر په زړه خدای جَلَّجَلَالُهُ دا اثر کښښود، په ژړا يې شروع وکړه چې مونږ خو د الله تعالی سره وعده کړې، خو بيا هم په دې وعده کې ريښتوني نه يو، څو کاله پرله پسې دا وعده مونږ ماته کړې ده، مسلمانان خوروو، وژنو يې او مالونه يې چور کوو، او په ايمان کې خو وعده داده چې مسلمان به مسلمان ته ضرر نه رسوي. نو دحضرت شيخ عبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ په واسطه د غلو مشر له خپل دغه بد عمل څخه توبه ووېسته، کله چې ده توبه ووېسته نو عامو غلو ورته ووېل چې: ته په غلا کې زمونږ مشر وې ! نو نن په توبه کې هم زمونږ مشر يې ! که تا له خپلې ګناه څخه توبه ووېسته نو مونږ ټول هم توبه وباسو. ټولو توبه ووېسته، د ټولې قافلې خلکو ته يې خپل خپل مالونه وسپارل.

[نفحات الانس ج: ۲/ ص- ۶۸۰/ ۶۸۱ ]

نو پيران پير صاحب په خپله خبره کې ريښتونی و، دده د ريښتينولی دومره اثر و چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ هغه د غلو ډله دده د يوه عمل په واسطه توبې ته برابره کړه، له خپل بد عمل څخه يې راوګرځول.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مخکني اسلاف مبارکان که هغه صحابهٔ کرام رضي الله عنهم دي او که اولياء کرام دي، که مشائخ دي او که علماء کرام وو، دوی ټول داسې وو چې د دين نمونې وې، هغوی ته به چې چا وکتل نو د دوی د عمل او قول څخه به متاثر کېدل، بيا به خود به خود ورواوښتل، خپلو ګناهونو ته به متوجه شول، چې زه څرنګه بې ځايه او په ګناه کې لګيا يم.

نن چې له مونږ څخه خلک ورځ په ورځ نفرت کوي، له طالب، ملا، حاجي او مجاهد څخه نفرت کوي نو دهغې وجه داده چې زمونږ په خپلو ويناوو او اعمالوکې توافق نشته، په دواړو کې مو د اصلاح کوشش نه دی کړی، صداقت نشته، که داسې نه وي نو که مونږ له الله تعالی سره په وعده کې رښتوني شو، په خپلو اعمالو کې رښتوني شو، مخلصين او صادقين شو، بيا به الله تعالی خامخا دا اثر پيدا کوي چې هغه بدبخته خلک به هم تابع کېږي. د هر وخت بدماشان وي، خو خليفه صاحبانو ته ورشي چې صاحبه! که ماته څه خدمت وي، د نورو خلکو د خورولو له پاره کوشش کوي، خلک وژني او پيسې، مال او دولت ورڅخه اخلي، خو په خانقاه او دربار کې خان بيا غلام ورانديې کړي، چې که ماته څه خدمت وي. ددې وجه داده چې دا خلک الله تعالی ته تابع او منقاد دي، نو ځکه نور مخلوق دوی ته تابع دی نور خو وخت دغسې ده، کوم اخلاص او صداقت چې مخکې و، هغه خو اوس بالکل محال ده چې موجود شي، خو بيا هم که انسان خپل وس سره سم د الله تعالی سره په خپل قول او عمل کې مخلص شو بيا به طالب، ملا،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي، شيخ، صوفي او مجاهد ته هم هرسړی لاس په نام ولاړ وي، ددې مطلب دا نه دی چې مونږ دا فکر وکړو چې ماته دې څوک لاس په نامه ولاړ وي، بلکې معنا يې داده چې الله تعالی به دهغوی په زړه اثر غورځوي، کشر به يې هم ادب کوي او مشر هم، څوک چې الله تعالی ته تابع شي، بيا نو الله تعالی ورته خپل مخلوق او ملائکې تابع کوي. په حديثو کې ثابته ده چې: د طالب د پښو لاندې ملائکې وزرې غوړوي، هغه پاک مخلوق،انسانان، حشرات اونور حيوانات يې ټول تابع شي، لکه چې د ډېرو اولياء کرامو په حالاتو کې داسې راغلي دي.

## څوک چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ تابع شي مخلوق به دده تابع شي

د مالک ابن دينار رَحِمَهُ اللهُ په هکله راغلي چې: د ګرمي وخت و، دی له يوې ونې لاندې ويده و او مار پانه په خوله کې ورته نيولې او پکی (پنهکی) وربانډې وهي. [تذکرة الاولياء فارسي چاپ ايران ص: ۶۸]

امام قشيري رَحِمَهُ اللهُ وايي: چې يوسړي راته قصه کوله ويل يې: يوځل حضرت ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ د يوباغ ساتنه (پيره) کوله زه ورغلم چې ګورم دی ويده ده او مار دنرګس ښکه را اخيستې اوپه ده باندې (پنهکی) وهي. [جامع کرامات الاولياء، ج: ۱، ص: ۳۱۳]

سره له دې چې مار د انسان دښمن ده، هغه ورته تابع او پکی وربانډې وهي. څوک چې الله تعالی اودهغه له دين سره مخلص شي، نو بيا الله تعالی ورته هرڅه مُسخر کړي، دده په خزانو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود هېڅ شی کمی نشته، نو بیا وګورئ ! چې زمونږ ستاسې په قول او عمل کې څومره اثر پیدا کوي، خو خبره په مونږ کې ده، چې که مونږ مخلص شو ، د الله تعالی رضا مو مطلب شي، که یوه خبره په صداقت وي، نو په دې یوه خبره کې به دومره اثر وي چې د جنت بنګلې به په لاس ورځي.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د بدر په میدان کې و، د جهاد مشوره یې عملي کوله، هلته ډېر تکلیف و، خینو خلکو څه کمزوري وښودله، د انصارو کرامو څه خلک ورته رامخ ته شول، او ویې ویل چې: مونږ د بني اسرائیلو په شان نه یو، چې هغوی خپل پیغمبر حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وویل: ﴿ فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴾ [سورة المائدة]

ژباړه : پس څه ته او(ځې دي ) رب ستا ( یاته اومشر ورور اومربي ستا چې هارون دی ) نوجنګ وکړئ تاسې دواړه بېشکه مونږ دلته ناست یو ( له جنګه ، په انتظار دبري ستا )

نه ! مونږ داسې نه یو، بلکې مونږ به له تاته مخکې، شاته، ښي طرف او چپ طرف ته به هم جنګېږو، په دې یوه خبره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومره خوشاله شو چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې: زما د ټول وخت عمل دې نه وای خو دا یوه خبره چې ما کړې وای.

(c) Kitabton.com: The Digital Library



نو په یوه خبره د خدای جَلَّجَلَالُهٗ رضا پیدا کېږي، په یوه خبره د رسول اللهﷺ رضا پیدا کېږي، په یوه خبره د الله تعالی دیدار پیدا کېږي. دا یوه کلمهٔ طیبه چې څوک په اخلاص ووايي سره له دې چې اویا یا اتیا کاله یې په کُفر کې تېر کړي وي،بیا هم ددغې یوې کلمې په برکت چې په اخلاص یې ووايي خداي پاک دومره لویه او درنه ګناه ورته ببښي او ددغې یوې کلمې په ویلو سره یې خپل دوست کړي، په یوه کلمه سره خپل دیدار ورکړي

که یو کافر یواځې کلمه ووايي او له دې سره متصل وفات شي، نور لمونځ اودس، زکات ، روژه ، حج او نور اعمال صالحه یې نه وي کړي، نو بیابه هم الله تعالی جنت ورته ورکوي. خپل دیدار او هغه نعمتونه به ورکوي کوم چې نورو جنتیانو ته یې ورکوي، خو شرط یې دادی چې دغه کلمه یې په رښتیا سره ویلې وي، که رښتوني نه وي په زرګونو تسبیحات چې ووایي، په زرګونو رکعته نفلونه وکړي، صدقات او خیراتونه وکړي له دې تولو سره سره انسان ته دیوې ذرې په اندازه خیرهم نه شي تر لاسه کېدلی ، ځکه چې هلته نیت خراب ده، اخلاص نشته

ضروري او مُهمه خبره داده چې ملګري یو بل ته متوجه وي ، که کوم وخت د شریعت مخالفت پکې لیدل کېږي باید چې ورته یې ووايي. ملګری هم باید دغه نصیحت په خان بوج ونه ګني، که مونږ د شریعت په چوکاټ کې یو بل ته عیبونه په ګوته کړو نو په خپله اصلاح منځ ته راځي. اوکه چیرې خپل عیب راته نه معلومېږي او دبل خبره هم راباندې بده لګیږي. غوږ نه ورته نیسو. په خان یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوج ګڼو نو بیا خو اصلاح کېدل محال (ناشوني) دي، کله چې مونږ له خدای جَلَّ جَلَالُهُ سره مخلص شو نو بیا به نصیحت هم اثر راباندې کوي، که مونږ یو بل چا ته څه خبره کوو په هغې کې به هم اثر وي او الله تعالی به ښه اثر ورباندې مرتب کړي

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ وَنُورِ عَرْشِهِ مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ. (آمين)

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**